
# زما ژوند او ژوندون

## (لومړے توک)



بابای پښتون

خان شهید اودرل سمد خان اڅکزے

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# زما ژوند او ژوندون

## (لومړی ټوک)

باباي پښتون

خان شهيد او ورور سمد خان اڅکزی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د پاڼې د بیا چاپ واک د وړاندې کوونکي څخه خوندي دی

د پاڼي نوم ــــــــــــ زماڅوند او ژوندون (لومړی ټوک)

لیکوال ــــــــــــ بابای پښتون

خان شهید او دول سمد خان اڅکزی

وړاندې کوونکی ــــــــــــ پروپیسر او دول غنی خان غنو

د چاپ کال ــــــــــــ ۱۳۸۳ یونیخ لمریز (۲۰۰۴ زییخ)

بیه ــــــــــــ ۴۰۰ کلداری

چاپ ځی ــــــــــــ

کمپیوټر کمپوزنګ ــــــــــــ العابد کمپیوټر ګراپیکس کوټه

دوست ځورونه ــــــــــــ (پښتونخوا ځورونی)

پښتونخوا ادبی ټانګه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ترون

باباے پښتون د . خپل ژوند پښتو پا رکے د. خپل د. 

ژوند د. ملګری په نامه کړی دی .

خله اؤ خنګه ؟ هال بے په پا رکی کی یو ځاے و لولیٔ !

(غنو)

باباے پښتون چې داپاړ کے لیکل پېل کړی دی نو په په سر کې دغه لاندینې د۔پاړسی اؤ اوردو څو بیتونه لیکلی دی. اؤ د۔ هغو پښتو ژباړی یه کړے اؤ وورسره لیکلے ده، که څه هم دغه بالا یاد سوی بیتونه یه د۔ کاپی پور کته لیکلی دی خوزہ دلته راوړم۔ (غنوٓ)

---

کم لذتم وقیمتم افزون زشمار است

گوئی ثمرے پیشتر ازباغ وجودم

---

په خوند کم په بیه ډیریم تر اندازه

ګوا تروخت وړاندی مېوه وم د. پیدا

وم بے خونده خوارزون می ډیرزیات ومونت

په دے باغ کښی ګوا تروخت وړاندی مېوه وم

---

خارها ازاثرے گرمئے رفتارم سوخت

منتے برقدم راهروان است مرا

---

دعائیں دیں مرے بعد آنے والے میرے وحشت کو

بہت کانٹے نکل آئے میرے ہمراہ منزل سے

---

ډېراغزی می خپل په تلو پوری یوړل

نور بهیر به لاندی څکه وی تر سبنو زما

کتابتون پښتو (WWW.KITABTOON.COM)

# پښتو ژبه او لیک دود

۱ د- ډېره وخته مې دا ارزو ده چې د- پښتو ژبې ژبوړا او پوهان یو ځای غونډ سي او وروسره د- ژبې، د- هغې د- ودې او سبا (مستقبل) په هکله خبرې وکړو چې په کومه توګه يې ودې ته راسي. هغه وخت مو درته ګواښ کړي ... داغونه ...

(نوټ: متن د لاسي ليک په بڼه دی)

که تازي ژبه هر کوره ښه ده

پارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چا په پلو دجمال وانه خیست

پښتو لاهسې بیکره تړلې ده

او په کوم ارمان کې چې رحمان بابا، ښاغلي حمید، الی خان او په سو ونو روښانو او وسنو پوهانو خپل په وخت کې ډېرې سوځنده پوهېتي ویلي او لیکونې لیکلي دي.

کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خوږ ـ پښتو پوهه جمال لا ښه ښکاري. بلوڅ پوهانو روټ ده
سړ کال می دا هیله پیدا شوله چې د ـ رحمان بابا د ـ تلین د ـ
پاره د ـ هغوی پر ځلی (قبر) چې کمه غونډه کېږي وبکې
ده هغې ته به ځان ورسوو او هلته به دا خبری د ـ
راغونډ شوو پوهانو په مخ کې کښېږدم ـ دغه په هکله
می په پېښور کی د ـ ښاغلي ولي محمد توفان، او ښاغلی کوسر سره
هم خبری کړی وې ـ خو دا سې ښکاري چې د ـ هغوی
تلوار وو او د ومره وخت نه مونت چې موږ وړاندی خبرکی
ځکه دا خبری چاپ نه او د ـ پاڼکوټی (پمفلټ) په راز چې
د ـ پښتو پوهانو په مخ کې ږدم او د ـ پاک خوږ دا سې ښه منه
چې دا وار می و مونت چې کمی خبرې د ـ ډېره وخته په زړه
کی کرېږېدې او ځان ځان له می د ـ بېلو پوهانو سره
خبری پورکولې نښې پوځای سټاسی و مخ ته وړاندی
کم ـ کوندی په تاسی کې ځینې دا سې شاځلمي او
پوهان پیدا اسی چې د ـ ژبی د ـ ودې تردې نوری زیاتی
او کټه بېړه لا ری پیدا کی ـ

(۲) ځما په گومان په دې وخت کی د ـ ژبې ودّه خالی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د هغې په خوږ والي او ودانۍ نه سي کېدای او نه په
دې کېږي چي د هغې ژبې ويلو والا خلک او اولس
څومره مينه وورسره لري. اوس د هغه کام ژبه
وده کولای سي چي کوم کام د خپل واک او ازاد وي او
خپله ژبه د خپلې ټولنې د سرکار ژبه د بازار ژبه او
خپل د بچوړ لوستو، زدکړې، او ښوونځي ژبه
جوړه کي خود اکار د دې غونډي وس کار نه دی د دې
دپاره به هر پښتون ځان له او په نوړ و ولسي ډلو کي کار کوي
زيار به کاږي نو هله به وسرته رسيږي د لته موږ خالي
دا کولای سو چي خپله ژبه داسي سپيڅلې او ساتو
جوړه کوچي هر کله چي هغه وخت راسي نو ژبه د هری
خوا د دې ور وي چي هغه د يو خپل واکه اولس
د سرکار، اخبار، بازار، ښوونځو (سکولز) پوهنځو
(کالجز) او پوهنتون ژبه سي.

د دې دپاره په ژبه کي د هر راز د هر پارکي (کتابونه)
پارکوټي (رسائل) او خبر پاڼې په کار دي چي پيدا سي
او دا هله کېدای سي چي زموږ ژبه او د ژبې ليک دود

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دومره ونښځلي اوّ اسانه وي چې په هغه کې دليک
چاپ (ليتهو) ټاپي (پرنټنګ) او ټاپ (ټايپ رايټر)
هغه ټولې اسانۍ وي چې هغه د نن روزې ديوه اولس
اوّسرکار د کارونو دپاره په کار وي، په دې هکله لومړی
خبره داده چې موږ له په ليک چاپ (ليتهو) اوّ ټاپه
(پرنټنګ) کې يو ځت سنبول په کار دی چې هغه په دې
دوو کې ديو سره ورو وي:-

۲ - ګومان مې دی چې د ټيپ (ټايپ) او ليک چاپ
(ليتهو) په هکله به دوې لارې د هڅا په زړه کې ته
وي ولې دا خرکنده خبره ده چې د نن سبا د لوستو او ليکلو
کار بې ټيپې په يل ځه پوره کېدلای نه سي. اوّ د پښتو
خت اوس هم و ټېپه ته ډېر نېژدې دی. نو ومور ته به
دا څېرنا يلده هم نه ايسي هسې هم د کابل پښتو ټولنې
په تير وخو کلو کې د پښتو يوه لوی برخه د ټيپې د لوستو
سره ولده کړې ده. ځکه د ډېر ورنهو دا ګومان بې ځا
دی چې پښتانه به زياته ښځې د ټيپې سرنا بلد ه دی.

۳ - دوهمه خبره دليک دود ده، اوّ هغه بياد - ژبې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سره ترلي کاردی ځکه بنه به داوي چې په سرکې موږ دژبې په هکله څه خبرې وکوچې په هغوسره پوره سو نوبه دانورتیوسونه اسانه سي هغه داچي :-

(۱) که موږ د لوستواولیک د ااوسنی ژبه اوډوو ساتوچې موږ د نورو ژبوپه ژیاته بیاد « اوردو » په پیروی کی روانه کړے ده، دهري ژبې تورکه چې خوږے ته راغي هغه په پښتوکې وایواوکار ځني باسو که د هغه مراد د پاره پښتو تورکه (لفظ) وي که نه وي ، تردمے چې د ښځې ، ماندینے ، تبر ارتیے ، زړکے په ځایے موږ « وایف » یا اهلیه محترمه « وایواولیکواوداهم چې موږ به هرېردے توري هم هغه شانته لیکوچې هغه په هغه پردي ژبه کې لیکل کیږي که په ویلوکے موږ ویلاے سواوکه نه - لکه « وایف » به په « ف » ، او « قرض » به په « ق » او « ض » لیکوکه څه هم لولو یه « وایپ » او « کرز »

که موږ دااوسنے د - پارسی ، اواوردو ژبوڅخه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اخیستي څوی ساتوړي دي. دغه خلکو د مریتوب په وخت خپل د تازي او ایراني بادارانو خوشالولو او نږدېکت د پاره اخستي وو. نوموړ به دا سې او سني ټکي (حروف) تول ساتو او څه نوریه لاهم دي. اوردو او سیندي ژبو د پاره اخلولکه دي. اوردو کډو ټکي

ﭙﮫ، ﭘﮫ، ﺟﮫ، ﭼﮫ او د سندي ﭴ، ﭺ.

ب، که موږ د تازي، انګرېزي او سنسکرت شانته بخو (مستقل) اوازادو ژبو په څېر د ابا، ژبې توري بې سمتي اړې (مجبوري) نه اخلو او هر څېل د ژبې توري به په کار راولو لکه دي. «قرض» په ځای «پور» د «قصاب» په ځای «کوتار» او د «قمیص» په ځای «خت»، کنده، ریبون، او که چېرې په سمخته اړې ځینې توري یا نوموړنه واخلو نو هغه د انګرېزي او تازي په شان هغه رنګه و لیکو لکه څنګه چې په اسانه لوستلای سو. تازي خلک «پ» نه سي لوستلای نو هغوی زموږ د ملک نوم پاکستان په ځای باکستان لیکي. سیکارته سیجار وایي

اؤلیکی یه۔ څکه چې "ک" نه سی لوستلای بلوچ، بلوس لیکی دانه کوی چې خپل په ژبه کی نور ټکی پ "ک" اوچ زیات کړی هم داشان که موږ عرب، اؤعراق" ارب اؤ ایراک ولیکو یا لکه په انګریزی کی چې ستار اؤصمد ډواړه په یوه ایس (S) یا "س" لیکل کیږی که موږ هم "عبدالستار" اؤ "عبدالصمد" ډواړه اؤدل ستار اؤ اؤدل سمد ولیکو څنګه چې یه لوّلونو زموږ د ټکوټو نه به ټول هغه تازی ټکی کم سی چې موږ یه نسو لوستلای لکه "ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق، ء"، داشان به زموږ زدکړه (تعلیم)، لوست لیک اؤ ټایپ (ټایپ)، ټپ (پرنټنګ) ډیر اسانه سی۔

ترکمه چې زه خبریم پوردې خبره اوسنی پوهان دریې نیوکی (اعتراضات) لری۔ یوه داچې په دې شان لیکلو د توری هغه مراد نه پاتیږی کم چې په هغه پړدی ژبه کی وی چې موږ څینی اخیستی وی۔ بله داچې د تازی ژبی سره زموږ د۔ دین تړون دی اؤد۔ دین

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

له کبله موږ ځینې ټکي نمونه او خبرې ځینې را اخیستې دي او که موږ دا توري د تازي خط او ټکو ځنې چپ بل راز ولیکو نو موږ به د دینه ووزو.

ذریمه دا چې ډېر پرتوري د «معرب» په شان موږ «مفغن» کړي دي او لګیا یو کوو او به په دې شان زموږ ژبه وده کوي او د دې په پرنسیپو پابند ولو به ژبه لنډه تنګه سي او دا کار یوازې موږ نه دی کړی د نړۍ نورې ودانې ژبې لکه تازي او انګریزي هم دا کوي او هم په دې چار ودانې سوې دي. زه لاندې د دې نیوکو لنډ شانته جواب لیکم:

۱، دیوه توري مراد په بله ژبه کې د هغې په خپل خط لیکلو سره نه بدلیږي. که په تازي کې د پاکستان په ځای باکستان یاد. بلوچ په ځای بلوش لیکل سي د دې ټکو مراد نه بدلیږي نو د «عراق» په ځای «ایراک» یاد «عرب» په ځای «ارب» لیکلو به ولې بدلیږي. که د الکیمیا یا الکیمي په ځای کیمستري په انګریزي کې خپلېدلای سي او د اټوموبایل په ځای په پارسي کې «اوتوموبیل» جوړېدلای سي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نو په پښتو کې دې ولې خپل په ټکو توري بدل نه سي.

«ب»، تر کومه چې د دین اړې ده او هغه توري د دین
سره اړه لري د هغو که د تازي څخه په بل ټول لوستلو
مو زد. دېته نه وزو چې د زیاتره پښتنو سره اړه لري نو
زه نه پوهېږم چې یو شو کسه لوستي خلک که هغه
داشان ولیکي لکه چې لولي یه نو به ولې له دینه
په وزي. که د لکونو پښتنو د «الحمد» په ځای
«الهمد» لوستل یاد «الصمد» په ځای «سمد» لوستل
او هم په لمانځه کې ګوناه نه بلله کېږي او هغوی
ناچاره منل کېږي نو د «الصمد» په ځای په سمد
لیکلو به یو شو کسه لوستي خلک ولې د دینه وزي.
که زه په انګرېزي ژبه په لکونو واره خپل د نامه په
«ایس S» سره په لیکلو نه ګوناهکاره کېږم چې نبه
په پوهېږم چې د تازي «ص» څخه بل خالي «س» دی
نو که دغه کار زه په پښتو وکړم نو څنګه د دینه
وزم. که په کوروړو پښتانه د «محمد» په ځای
خپل په نمونو کې «مامد» یا خالي «ماد» ویلو نه کاپیران

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کېنی نوپه لیکلو ښې ولّی کا پیران سی ـ پاته سو
دـدې شان تکوډـمـّراد بد لېدل نالّوستی پښتانه
خوډـ„ عبدل „ اوْ „الصمد„ یا „ المصور „ الرحمٰن یا
غوات، اوْ فصیح „ په مّراد نه اوس رسېږی اونه
هله چی „اوْدول ، سمد ، موسوّیر، رهمان، غواس ،اوْ
پیسه „ولیکل سی ـ په لّوستو خنکوکی هم په سلوکی
لس یه دـ داسی نوروپه مّراد رسېږی نو رنه په رسی
نوکه په زر وکی دـ نه سوه نیوی کسوډ پـاره
دا بدلی هیڅ بلتوږ، نه پیدا کوی نو دـدې لسوډ پاره
دـکرډوپه زاوال اخته کول کم سنه کارد که ـ

ج ، زه هم دـپرّدوتوروډـاخیسلوډ ـ ارکه اوْ کتهی څه
ناکاره نه یم ـ زه خوښې ارکه اخیستّل اوْ ورسره دـهغو
ژبوډـ تکوډـهغوپه خت لیکل کتمیره نه منم تاوانی
کارې کنم ـ دامنم چی تازی، انګریزی لادـنړی هری
ژبی دـنورو ژبوڅخه توری اخیستی دی اوْ همې
اوس اخلی خودا شان هیڅ یخې ژبی نه دی کړی چی
ښې ارکه دـې دـبل توری اخیستی وی ـ تازی دـ „والد„

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

یا «ابا» په ځای «فادر» «پدر» «پلار» یابل توری نه اخیستی او نه چیری انګریزی د «مدر» په ځای «مادر» «مور» یا «اُم» اخیستی دی، لکه مونږ چی د پلار، ابا بابا، یا کوم تکوړ سره «والد ماجد» یا «فادر» وایو او لیکو په تازی د پارسی «آبریز» او «چراغ» ابریق او سراج کړل نو په واخیستل او «معرب» یه وبلل، هم ځکه چی داشیان او د هغوی نومونه د وی نه در لود او مونږ خپل زور، زیاتی، ناوړیق، او داټول ...... پریښوول ظلم مو واخیست او ورسره ظالم مظلوم، مظلمه، ظالمین، مظلومین او مظالم پوره لښکر او د هغوی لاری (ګرمر) هم اخلو او خپل تکی کی مو «ظ» تکی هم زیات کی چی مونږ یې لوستلای سو کنه. زمونږ تازی باداران یه داسی لیکی. چی په دې ناخواله کار زمونږ لیک او لوست ډیر ګران سو. که مونږ د هغه مارغه نوم نه لرو چی په پارسی او اورد و یه «طوطی» لیکی نو مونږ دی هغه یې شکه واخلو خو هغه شان دې ولیکو چی مونږ یه لوستلای سو «توتی» دا کم کار دی که چی لیکو یې

هغه شیان چې په لکونو پښتنو کې یو لوستلای نه سي - ډېرو زیږو ته هغه توری ښې شکه اخیستل په کار دي چې زموږ څخه هغه نه وي، دا نه چې زموږ څخه د- هغه مړ دي نه خو څو توری وي او موږ دي پردې توري واخلو- چې ستاینه، پاسنه او پاسوالی راسره وي نو "حمد وثنا او شکر" ته کومه اړې ده چې "زغم، کالل" وي نو، صبر، ولې اخلو؟ چې ناجوړي ناروغي، رنځ، دوک، خوږ، خوږ کي او نور توري راسره ستنه نو و "مرض" ته څه اړې ده؟ چې توره لرو نو "سیف" ولې لیکو؟ چې سترګي، لیمه او نور وي نو "چشمان" او "عینان" څه کوو؟

دا هم ویل کېږي چې د دې خت په دود کو لو به موږ د خپلو پخوانو کیتابو او د- زړو پوهیتانو د- پوهیتو څخه بې برخي پاته سو زما په گومان دا نیوکه څکه د رنه نه ده چې یو څو موږ او پس دومري سنه کیتابو نه لرو نه چې هغه دي موږ بېرته په نوي خت دستي یا په څو کاله کي نه کو چاپ او بیله دا چې د- نوي خت پوهان د- پخوانی خت

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

څــــــه یودم بیے برخی کیږی هم نه
اؤپه اوسـتوکیتابوکی کوم کیتاب چی د۔پاتو وروی
هغه به هرومرو وبیابیا اوژر ژرچاپیږی اؤپه کال
ډوه ډرے کی به هغه د۔سره نوی سی ۔ د۔ انګریزی
ژبی په پخوانی ایزګی (هیچے) اؤ اوسنوپیزو (تهجی)
کی دیر توپیرښته دی، خو اوس هم چی کم د۔ ژړو پیزو
کیتابونه میندل کیږی اؤد ۔کاربلل کیږی هغه اوسنی
پوهان لوستلاے سی اؤزیاتره خو په نوے ایزګی
چاپ سوی دی ۔ نو ژموږ داهم داشان کیدلاے سی
اؤکه څه خرڅ یاخواری پوردے بدلی باندی راهم
سی نوکمه کټه چی په سم اؤاسانه لیک دود د۔
پښتو وزده کړه، لوستولیک اؤچاپ ته رسیږی اؤ
هغه کټه چی د۔ اسانه ټاپ په جوړید لوکیږی
داخرڅ اؤخواری د هغه په مخ کی هیڅ هم نه دی ۔
(۵) دخت مراد هم دادی چی یوسرے دبل سری د۔ زړه
په مراد د۔ وینا په ځاے په لیک پوے سی چی د۔ هغه د۔ پاره
نزدیکت اؤمخامخ کیده نه وی په کار اؤد ۔ لیری ځایه اؤ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پسی شا هم کېدلای سی. ځکه نو لیک دوړ داشان په کاردی چې د. هغه هر توری په اسانه اوډ شکه وتلی ولوستل سی نو کم لیک دوړ چې دا مراد ځوړه پوره کوی هغوړه ښه وی د. بدی مرغه د. پښتو دا اوسنی لیک دوړ چې د. نوړ و ژبو څخه اخیست سوی دی، پوره اوډ. شکه وتلی نسی لوستل کېدای لکه «لور» یو توری دی چې هغه څوړ رازه لوستل کېدای سی چې ډوه ډېری رازه څوپیه ښه کی دوړ اوبیل مراد ونه هم لری دا ځکه چې په اوسنی خت کی د. نوړ و ژبې (تهجی) د. تکو (حروف) سره سمی نه لیکل کېږی لکه د نوړ و ایرین ژبو انگرېزی، سنسکرت اوداچې په هغوړ. تکوږغ وېژاند سی اوهر تکی ځپل په بیله اینزکی (تهجی) ولوستل سی. د. اوسنی خت د. دې ښمکرتیا داسی چاره په کارده چې هرتوری د. شکه وتلی ولوستل سی یاداشان ولیکل سی لکه څنکه چې لوستل کیږی. د. دې دپاره د. تازی ژبې، پېژېنې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زور (فتحه) زېر (کسره) پېښ (ضمه) غږ ونډے (جزم) مد، شد، که د- ټکو سره ولګول سي نو پتربوځایه کار کوی خو هم پوره کار نه کوي ولي چي د- ایرنیو ژبو ځیني زغږونه په تازی ژبه کی نشته- بله دا چي د- تازی خت پېژے د- ټکو څخه، بیلی لګیزی ځکه په لیکلو کی هغه ګرانی وی او په ټایپ یا چاپ کی چي زموږ د- دیے پلټنی یو مراد دی. یو تازی پیژو ډیر وخت هم لګی او ځایے هم ډیر اخلی، نو په کار دی چي موږ خالی و تازی پیژوته و- نه دریږو او که کېدایے سي نو د اسی نخښنی نوښایے جوړي کو چي هغه زموږ د- اوسنی خت سره چي و- تازی ته نیژدے دی هم ولګیږی او د- هغه تاوانو څخه پاک هم وی چي په تازی پیژو کی نشته دی لکه په لیک او ټایپ کی د- زیات وخت او ځایے خرڅ -

زما په ګومان دا د- پښتو د- پاره نیک مرغه خبره ده چي په لږ پام او زیار د- پښتو د اسی خت جوړیدایے سی چي هم وا و سنی تازی خت ته نیژدیے او وړته

وی هم زیاته یږي د تکو سره سمی ولیکلی سی
او هم تاپ او ټاپ په آسانه جوړ سی ـ خو دا هله چی
موږ دا ماده ومنو چي موږ به پیې سمتي اړي د پرده
ژبو توري په پښتو نه راکړه وو او هر توري که
ځیل وی که پردی هغه شان پیې لیکو چي نالوستی
او زیات پښتانه یه په اسانه لوستلای سي ـ

په پښتو ژبه کی دوه زغونه د ـ سره نسته یو
هغه چي په اردو او پارسي ژبو کے څرګند ه یے (یا
یی معروف) بولی لکه په پیر ، امیر او وزیر کی چی «ی»
ده او بل هغه زغ چی څرګند واو (واو معروف) یه بولی
لکه په بود ، نمود او سود کی «و» په پښتو کی دا دواړه
زغونه د ـ زبر (کسره) او پیښ (ضمه) په ډول اداکیږی
لکه پیر ، وزیر ، امیر چی (پِر ، وزِر او امِر) لوستل

کیږی او شوډ .بوډ .نوډ .سوډ او لوډ چی شُد.بُد.نُر.سُور.او لُور لوستل

کیږی خو د پیښ پوړ ځای «واو» ورسره لیکل کیږی
خو تاوان دادی چی موږ هر ځای د غه «ی» او «و» د ـ
زبر (کسره) او پیښ (ضمه) په ځای نه لیکو ، ځکه
موهم توري اوږده سی او هم د ـ شکه وتلی نه سی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

ټوستلّ کېږي لکه ګلستان او ملتان که موږ هرڅېرې د زیر (کسره) او پېښ (ضمه) د پاره «ی» او «و» ولیکو نو د زیر او پېښ ټکي به په اسانه د ـ شکّه ووزي لکه ـ ګولیستان، مولتان، تیلتک، پیشواود «واو» له کبله به موږ توري هم د اره وارولسی، خوږا «واو» چې د پېښ په ځای لیکو او خالی د زغ کار ورکوي دابه د ـ روغ «واو» څخه چې هغه خپله زغ لري لکه د ـ «ټوران» پېښور، او د ـ «وور» لومړی «واو» څخه بېلتون غواړي، چې که داسې ولیکل سي لکه چې ما په دې څیري (PAPER) کې لیکلي د که «و» نو په لیکلو او تاپه ډوا ړو کې به اسانه وي چې د اشان د زیر او پېښ بیلتون په «ی» او «و» وسي لکه ځی، می، دی، بیده، پتیر، خمیر ځم، مو، نوم، زوم، لرو، خوړ، نوینبو، زور (فتحه)، به پاته سي چې هغه که موږ د ـ اوس په شان بې نوښانه پرېږدو نو هم کار چلېږي او په لیک او تاپه کې به اساني جوړه سي خوږ ـ اوس په شان د توري په پای کې به زور په کاروي چې هغه په

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پښتو کې «ه» لیکله کېږي چې د اخرګند سي چې د توري (لفظ) د پای تکی (حرف) وچ (ساکن) یا ترلی (مجزوم) خو نه دي لکه به، په، مه - څرګند ه - چاره چې د څرګند و څخه بېلنوت وسي:

مانځ کې هم د اخرګنده کړی ده چې موږ اوس هم په خت کې د پېښن په ځای «و» د زېر په ځای «ی» لیکو لکه «لوړ» «سوړ» راځي، کوي اوداسې نور توري، خو ځکه چې موږ دا «و» او «ی» د پېښن او زېر په ځای نه دي ایښي اونه موږ څه بېله نخښه وړ ته ایښې ده - نو هر وېر و یه نه لیکو کله یه ولیکو او کله یه پرېږدو لکه په ګلستان، ملتان اونورو کې لاځيني خلک داسې هم کړي چې، مي - دي - چې - وي اوداسې نور توري په ایکړ و یا یلفو خو ټکولیکي او د تازي زېر وورسره لګوي لکه مِ - دِ - چِه - وِ - که دا دوړ بند نه سي نو پښتو به د یلغو ز و ټکو خت سي ولې زموږ په ژبه کې د - سنه مرغه دد ې کبله چې زور، زېر او پېښ د - ټکو سره د روغ ټاکی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

په رنګ کې لګېږي. زمونږ توری ډېر اوږده نه دی
که مونږ د. خپلو سپینو ږو (حرکات) پوره ځای د. تازی
داولګه و و (ولګوو) یاد. پارسي په شان یې ئې له
پرېږدو نو زمونږ ضخت به د. اګر تکوا ؤ لولو تورو
خت سی لکه تَ، مَ راځُ، زَبَ د رسم، زمُږ پخبر کې
مَ رالوینَ. چې د هیڅ ابه خوښ نه وی.

د. ږور، زېرا ؤ پیښه پس دوه ږغونه نو ړ پاتیږي
چې هغه اوس هم په تکو (حرف) اداکیږي خود.
نورو روغو تکو سره بېلتون نه لري چې هغه دی
اوږد «ے» (یاے مجهول) لکه په «ته ځے» «دوے
وے» «داپنے» «کاسے» «وېره» ډېر اوتېر «داے چې
کله د. توري په میان کې راسي نو د کابل د پېښتو
تولنې په کوښښ د. هغې بېلتون په لاندې باندې
تکو کېږي. اؤچې په پاے کې وی. د. هغې بېلتون نسته. بل دګه
اوږد واو (واو مجهول) لکه تول (وزن) تول (ګرد) چول
کهول........ زماپه پام دادواره که داسی ولیکو ے»
اؤ «و» ځکه چې ماپه دے خبرکه (PAPER) کې لیکلی دی

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نو بېلتون یې هم وسی اولیکل او تاپه یې اسانه هم وکړ. په پښتو ژبه کې د ټولونورو ایرینو ژبو په څېر و ځ تکی څورا ډېر راځی چې هغه په ځینو ځایو کې نښتنه غواړی په ځیاته په ځینوپوهنو کې لکه ژب پوهنه (علم لغات) چې په هغه کې هر توری او د هر توری ټول تکی پوره لوستل غواړی ځکه په ای سنو ژب تو نو (کتب اللغات) کې د هر توري د پېژ و او پېژاند و د پاره د توري پس یوا و زد بیان یاد نښتنو یو اوږ دلار و و رکاوه لیږی لکه د کابل د ادبی ټولنی د پښتو کاموس په لومړی ټوک کی پوړنځ (۱۲۰) یو توریه داسی لیکل سوی دی.

پخلا توب :- (ض س ف س ض ج س) یاندی ضمه، سکون، فتحه، سکون، ضمه، مجهول او سکون که دا توریه داسی ولیکل سی - ,, پوخلا توب ،،— نو و هغه ور وستو نښتوته هیڅ اړ چی نه پاتیږی او توری پوره او د - شکه وتلی لوستل کید ای سی یا لکه د دغه پاړ کی (کیتاب) پوړنځ (۸۸) یو توری

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

برالـــبېدل (س ف س س ک ج ز س) لیک دي یا ندې (ساکن، فتحه، ساکن، ساکن، کسره، مجهول، زوَر کې ساکن) کـه دا توري «برالبېدهٔ» ولیکل سي نـو وهغه اوږ دو ښبنو ته هیڅ اړې نه پاتیږي.

پورتني ځای ته داخبره هم ځیرل غواړم چي زما په پام په پښتو کي د ـ زور، زیر اوپیښ نه سېوابل ځلوړم سور (حرکت) نسته چي وهغه ته د پر ځواني پوهان زورکی (فتحه خفیفه) وایي ـ زه دغه د ـ ز و ر وال (مفتوح) تکي پس وچ (ساکن) تکي بولم ـ لکه د ـ تلْ (همېش) لام ولي چي هرکله موږ اوستري تکي ته سور (حرکت) ورکو لکه «تل ترتلله» نو خبره یاکه سي اوډ اسبکاره سي چي دغه تکي د ـ لومړي تکي سره هیڅ اړې نه درلوده، همسي هم کډم ږغ چي په تالْ، بال اوکام تورو کي اوستري تکي وچ (ساکن) دي کـه هغه موږ د ـ الیپ په اچولو ـ لومړي تکي په زورېسي ادا کو ـ تَلْ، بَ لْ، کَ مْ، نو به تلْ (همېش) بلْ (دیگر) اوکمْ (کدام) جیني جوړسي ـ دا ږغ په ټولو ایرینو ژبو کي

دی ـ په چاکې ډېر اؤ په چاکې لږ خو په پښتو، سنسکرت اؤ هیندي کې ډېر دي ـ د سنسکرت اؤ هیندي په لیک دود کې ښوداتکې نیم لیکل کیده ـ اوس مې اوربدلي دي چې هغو په څه بله نخښه ایښې ده ـ خبر نه یم چې څه ده ـ په پارسي اؤ اوردو کې هم داشان تکې راځي لکه د ـ پکړنا "ړ" اؤ د "حسن" "ن" خو هغوی په لیک دود کې څه بېلتون نه وو رکوي په پښتو کې داسې وچ (ساکن) تکې ډېر راځي اؤ د ـ ډېرو تعرج مراد ډېر په بدلېږي لکه کم (لږ) کم (کونسا ـ کدام) ـ بل (دوسرا) ځکه زمو ږ په لیک دود کې داتکې بېلتون غواړي اؤ ځکه چې تول تکې داشان را تلاے سي نو که مو ږ هم لکه د ـ هیندي څه بېل راز وو رته ایږدو نو تکې به موږ ډېر ژیات سي اؤتا پڅ به موږ کرانه سي نو ژما په کومان دا به ښه وي چې یوه بېله نخښه وو رته وټاکو چې هر ځاے هغه لګېږي ـ که په سر کې وي لکه د ـ ژران "واو" که په میان کې وي لکه د ـ "براَلبېده" "لام" اؤ که په پاے کې وي لکه د ـ "لیدے" "ے" "چپه غږونده"

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

(الټاجزم) داکار په اسانه کولای سی.

په پښتو کی او زد الپ (الف ممدوده) هم ښته لکه آب - آن آس چی اوس دتازی خت په شان مد وړ کاوه کیږی خو مد په لیک دود کی په دویم وار لیکل غواړی که موږ د - دی دپاره "ا" دانخښنه کو نو دا به ځکه ښه وی چی په یو کلم لیکل کېدای سی.

هم دا شان په پښتو کی ځینی تکی برغ (مشدد) لکه، پرته، برغه هم وی. دا تکی هم بېلتون غواړی چی هغه په دوی توکی کېدلای سی. یودا چی دتازی په شان بېله نخښنه برغی (س) شد ووړ ته کښېږدو او بل دا چی د - انګریزی په شان برغ تکی دوه واره ولیکو لکه تککه، پرتته، برغغه زما په کوما برغ (شد) بېل به ښه وی که څه هم په دی شان یوه نخښنه زیاتیږی.

په پښتو لیک دود کی یوه بله وړانی ښته چی سمول غواړی او هغه ده د - "ه" بېل رازونه اوس موږ ه، ه، ة، ته او مهربان پنځه رازه "ه" لیکو چی خوښی او ګران کار دی په کار دی چی دد ی خالی یو راز موږ واخلو

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې د ـ تو ړ ی په سر کي، پاے اوٌمټيات هر ځاے په کا ر
داسي اواز ےے بدل نه سي چې ټکي لرا اوّ تاپه موا سانه
سي ژما په کومان چير کي «ه» هر ځاے يوشانته کار
کولاے سي لکه هر، ميهربان، پاره ـ

پاته سوٗله «ة» هغه په پښتو کي د ـ توړي په پاے
کي د ـ ژور (فتحه) دپاره په کار ده اوّ بس اوس خلک
دغه «ة»، د «ه» پو ر ځاے ليکي چې ډيرٌ ورانی تر ےے پيدا
کيږي ـ لکه دا چې اوس خلک ليکي «چا کوٌ تيره کة» اوٌ «چاړه
تيره که» په کار دي چې «چاړه تيره که» وي لکــــــے
ځنګه چې لوٌ لو ـ

«ڼ» يونوی ټکه دی چې د ـ کابل ادبي ټولنی د هغه
ږغ دپاره دوډ کړی دی چې پخوا نر لیکل کېده که دا ټکي
ساتو نو په تاپه «کي به موږ يوه کيلي (KEY) زياته سي
اوٌ کے وبا سو نو ځه ژيات تاوان نه لري «نړ» د دے کا ر
کولاے سي :

ښاغلي مشرا وٌ پياوړي پوه ما مد ګول خان موٌمند
چې د «ياے تانيث» په نامه کوم ټکي «ئه» پيل کړې دکه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اؤ او پسے د کابل پښتو ټولنه اؤنور لیکوال لیکی که څه هم زمایه کومات هغه وچه (ساکن) "ے" د ه چې ه د زور زورسته راځی اؤد نورو داشان وچو ټکوپه رازچیپه غږ وندے ,, ,, غواړی خوځکه چې داټکی ډیر راځی اؤد موږ سره د ټاپ په اته ویشتو کیلیو (KEYS) کی ځاے هم نشته نوکه موږ داټکی هم واخلو نو بیاخو به موږ په لیک کی غږ وندے کم سی چی بېل لکه ول غواړی اؤبل به داد دغه بنا غلی اؤخ کښنه پوه یوه نخښه زموږ په لیک دود کی تل ترتله د دوے د هغو ډیرو زیار وچی د پښتو د پارہ کښلی دی راپاته سی۔

د لیک دود په اسانولوکی پوړ دے خبره هم پام په کاردی چې د پښتو کوم بېل ټکی ډوے ډوے نخښی لری لکه (ټ، ږ، ښ) د دے پوړ ځاے یوه نخښه په کارده که (ښ) موږ نه اخلو نود (ټ) دپاره خالی لاتدی کړی ټ اؤ ,, ټ ,, بس ده هم داشان ,, ښ ,, دپاره هم دانخښه کېدلاے سی ,, ږ ,, د ,, ږ ,, دپاره خالی دښا

تکی بس دی «ړ»

په دې شان به د پښتو په خط کی دالاندینی تکی CONSONENTS ، زغورې Vowels ، او نخښې SIGNS په کار وی - (۲۸)

| تکی CONSONENT | نوم NAME | تکی CONSONENT | نوم NAME | تکی CONSONENT | نوم NAME | تکی CONSONENT | نوم NAME |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | اَ | ج | جَ | ډ | ډَ | ز | زَ |
| ب | بَ | چ | چَ | ر | رَ | س | سَ |
| پ | پَ | څ | څَ | ړ | ړَ | ش | شَ |
| ت | تَ | خ | خَ | ږ | ږَ | ښ | ښَ |
| ټ | ټَ | د | دَ | ژ | ژَ | غ | غَ |
| ک | کَ | ل | لَ | ن | نَ | ه | هَ |
| ګ | ګَ | م | مَ | و | وَ | ے | ےَ |

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

ږغوړي (VOWELS) ا و و ے ی ی

نوم (NAME) آ: ا او او ې ای ای

نخښې (SINGS) ʊ ʌ ɯ ə

نوم (NAME) وېښ ، غړوندے بړغے زور

که موږ د تازی سیخ خت په ډول خالی د ب

پ ،ت ،ټ ،ج ،چ ،ځ ،څ ،خ ،س ،ش ،ښ ،غ،ک

ګ ،ل ،م ،ن ،ے ،ې او ی د وه ، ډوه را زه کښېږدو

او د انو ریکی هر ځاے پوره ولیکو نو ژموږ د تاپے ټولی

د ټکو کیلی (KEYS) «۲۹» په کار دی او د نخښو سره دیرش

په کار دی - د انګریزی د لویو او ورو ټکو د اهم «۲۶» دی

خالی ځلور کیلے زموږ د ا زیاتیږی چی په اسانه د انګریزی

تاپے پوړخ (KEY BOARD) ځاید لاے سی یا موږ د

انګریزی ځینی نخښی لکه پوړل ستاپ (FULLSTOP)

پرېښو ولاے سو -

د ژبی د پاره د لیک د و د پس ډویم په کار شے د هغے

«لاری چاری» ګرامردی - د - بډه مرغه تراوسه په

دے کار کی هر څه زیارچی ختلی دی او کیتابونه جوړ

سوی دی هغه توک دتازی پورلاردی اؤ دومره په تازی پسی تللی دی چی دکار واؤ نمونخبنی اؤ وېښېي هم کټ مټ دتازی په شان کړی دی چی د ـ پښتو سره ورته دی ولی پښتو اؤ تازی په جوړښت ، راز اؤ وزم کی سره بیلی ژبی دی ـ تازی وکارته «فعل» وایی اؤ دتازی توک بونیادی (صحیح ثلاثی) ، کارونه هم پوردې وزم دی ځکه دانوم د ـ هغو لپاره ډیر ښه اؤ د ـ کاردی، خو زموږ دپاره دا دهیڅ ښې نه دی ـ هم دا شان «فاعل ومفعول» دی ـ د ـ تازی داتوک هم پوردې وزم وی اؤ هم یه مراد دغه وی لکه ضارب ، کاتب ، جاهل ، مضروب ، مکتوب اؤ مجهول ، نو موږ له خپل نمونه بدلول په کار دی چی که پوروزم برابرنه وی شاګردان خو یه په مراد رسیږی لکه د «فعل» په کار ، چار ، کړه یا بل یونوم هم دا شان «اسم» «صفت» «ضمیر» اؤ دا توک په تازی ژبه کی خپل مراد لری ، په پښتو کی داد ـ شاګردانو (زده که وونکو) دپاره هیڅ داسی مراد نه لری ، چی په هغه دد وی پام پورمراد سم سی ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

لکه نوم، نومکی (اسم تصغیر) ښتاینه (صفت) یاخوږی، راز، دول او نور ټازی ځینی داسی نمونه لری چی هغه پوربېل وزم وی ځکه هغه یه دنومونو بېل راز (قسم) مثلی دی لکه "اسم ظرف" "اسم آله" چی هرچیری یوشانته په اسانه جوړیږی لکه مقتل، مشرب مصدر، مذبح، او مضراب، مقراض، مکیال چی په پښتو کی ناسته نوموږ ولی د- پښتو ښاگردانو ماغزه په داسی خوشی وېش وخوږو چی هغه په پښتو کی نه وی — موږ وورته وایو، باغ، چمن، بازار "اسم ظرف" دی او چاکو، بیاتی، اره، ..... "اسم آله" دی چی هیڅ مراد او کته نه لری، په کاردی چی د الار پاته سی او داسی پښتانه پوهان چی د- ایرینو ژبو انگریزی، سنسکرت او نورو په لیارو (گرامر) سره بلد وی. د-نوی سره د. پښتو اسانه لیاری (گرامر) جوړی کی.

ژب توږنی (لغت) پښتو ژبه چی د- پښتونخوا په کلو او غرو کی تراوسه لاویله کیږی دومره ودانه او ویره ژبه ده چی که یوځل داسره راټوله سی بیا به موږ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خالي د . نورو ژبو د . اړي وتل خو پرېږده د دپر وشيانو اؤمرادو دپاره د . يوه په ځلے خوځو تورى ولروخوډا هلهچي موږ د . بېلوتپو رته اؤسوچو ژبه پښتو اؤښه پښتو ومنو اؤ خپل تورى په هره توکه ترپړدو ښه وبولو اؤچي خپل پښتنو تورى راپيدا سي پرده وانه خلو اؤ داګومان د . ښتړه وباسو چي د . يوه يتيے ژبه د . بلى ترهغے ښه ده ياهغه ژبه . خوږ ه چي په هغه کى پردى تورى په زياته د . تازى ،پارسى اؤ انګرېزى ژبوتورى دپر وويل سى ، اؤ هر هغه سړے يا پوهيت (شاعر) دېر لوډ دى چي پردى تورى اؤتولونه (رديف) ........ (قافيه) په خپل ليک ياپوهيتوکى راوړى .

د . تازى ژبى په کمه پوهيته (شعر) کى چي د . بلى ژبى تورى راسى هغه ،، ذوالغتين ،، يا ،، ذو الغات ،، بولى اؤ د تازى يه نه منى . زموږ زياتره اوسنى پوهيتي د ډے جمه دى لا زياتره خو د تازى ژبانى اؤ د پښتوکمى دى لکه داچي :-

ای صاحبه هم د سیف هم د قلم
لاثانی هستي راغلې له عدم

په دې پوهیته کې د پښتو څه دی؟ که
موږ اوس هم د پردو توړو په ځای د پښتو خپل توري
راغونډ کو نو موږ هر څه لرو او بېخي ډېرې لرو، د پښتو
د توکو په بېلتون او ځله لیرې کېدو کې بله کته یا تاوان
هر څه چې وي دا کتېې څرګنده ده چې په دې بیلتون
ژبه ډېره ورانه سوې ده. د روزانه ژوند او رواجي
ښیانو پاره د یوه په ځای ډېر نمونه دي چې په ډېرو
ورانو ژبو کې تریوه بالا نوم نه لري. مارا ومېنکو پرد.
یوه او ښارساه کتبه نمونه دي. خوا، پلو، لته، تره
غاړه، ځای، څنډه د. ضلع، طرف، ناحیه او نورو
دپاره بېل نمونه دي چې د هغو څخه "صوبه"، ضلع
تحصیل، ډویژن، مساوی الاضلاع او نور په اسانه
جوړېدا سي په کار دي چې د بیلو تیو پوهان
د خپلې، خپلې ژبې تورې راغونډ کې او بیا د هغو څخه
یو ځای یو لوی ژب توړنی (جامع اللغات) تیار سي

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې تل ترتله د پښتو ژبې د پاره يو تړ ا زو (معيار) سي چې کم توري پښتو دي او کم نه دي؟

د پوهنې د بېلو څانګو بېل نمونه چې وموږ ته ډېر نوي او داسي ښکاري چې د موږ څخه ښته زموږ خپل توري دي چې لږ ډېر يې را زبدل سوي وي موږ له دغه توري هم روغ ري نه دي اخيستل په کار چې تل موږ ته پردي ايسي او زموږ د پوهني شاګرداني په مراد نه رسي موږ له يه کاردي چې د داسي تورو د ژب پوهنې (فيلالوجي) په هغه را زخيراوني (تجزيه) وکو کم چې ښاغلی هوسين بخش کوسرا وس اوس خپل په خوډ اے وو ر کړے يوهه د پښتو پوهانو ميان ته را ايستے دا چې په هغه موږ ته دا راڅرګندېږي چې "جيو مينټري" چې دا وڅاري پوهني نوم دي زموږ خپل توري "ځاے مېچي" يا "ځاے مېچرې" دي چې مراد يې د ځاے مېچل يا ناپول دي - جيرلوجي او جيو ګرفي چې د مزکي د پوهني (علم طبقات الارض) ذوېبې بېلې څانګې دي پښتو توري "ځاے ناميې" او "ځاے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کوښې، «دی اؤ «مشین» چې اوس هم «مچین» لیکل کیږي د پښتو اؤ اینسان ذات هغه لومړي مشین دی چې موږ یې اوس هم «مچن» یا «مېچن» بولو. د لاتیني اؤ خارتورکه «پړ وپیکتها»، د پښتو «پړې پیړانده» په بل چا خیل مراد یا خبره پیژاندل دی اؤ داشان «میلومیتر»، «بیرومیتر»، «تهرمامیتر» مېل میچ بره میچ اؤ غاړه یا کرمی میچړ دی. «جغرافیه» (جیاګرافي) ځای کوپوهي، لکه زرګرپوهي (علم زرګری) اؤ «فوتوګرافي» (پیتاؤ کرپوهي) (علم پیتاؤ یار و ناکری) دی د تازي (قلم)، زموږ د کیلي یا کیلي تخته د پارسی کلک یا کیلم دی اؤ «جائز»، زموږ «ځایځ»، د ځای په ځای دی. که پښتانه پوهان په دې شان د بنا غلی هوسین بخش کوسر د بنوولي سره سم د پوهنې د نوو نمونو (اصطلاحات) خیراوي وکي اؤ د ځینو نورو پښتو جوړ کي لکه «زاویه»، کونج یا ګوټ اؤ غوږ که، ستیج (Stage) د ریځ نوښتنو به داسي پوره ژبه سي چې هرڅه به ښیل لري. کېدای سي

چې څوک دا ووايي چې دومره زيار ولې وخېژي؟ چې
هيڅ به هيڅه د جوميټرۍ په ځای «ځای هيچ»
او د «پروپګنډا» په ځای «پړې پېژاندلو» جوړېږي؟
دا زيار ځکه په کار دی چې د بل په ژبه دا نمونه
زموږ د پاره هيڅ مراد نه لري او چې پخپله ژبه سي
نو مراد به لري او کم شاګردان چې هغه پوهنې
زده کوي هغوته به ډېره اساني وي «زاويه» به هم
يو شاګرد زده کي او جوړه به يې کي خو په خواري او که
د دې نوم کونج يا ګوټ سي نو به ورته اسانه وي.

ځيني ورونه دا ګومان هم کوي چې که موږ د نورو
ژبو توري وانه خلو نو خالي په پښتو توري زموږ کار
نه کيږي زما په ګومان خبره داسي نه ده که موږ وغواړو
چې د نورو ژبو توري نه اخلو نو په رښته اوس چه
پښتو هم کار چليداي سي چې زما دا خبرې
( Paper ) د دې ګواه دی. دا هم يوه د پوهنې او
کرکېچنه خبره نه ده چې ما خپل د ځای په رواجي
پښتو اوسم د لاسه (قلم برداشته) ليکلې ده. په

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

تاسی کی به وڅینو خلکو ته دا ژبه یوڅه نوې ایسی
خو دا ځکه نه ده ـــــ د ـ دې پیلامـــه (سبب)
داده چې زموږ تولې تپې اؤ دهری تپې پوهان
یو دي ـ بل د ـ ژبی سره نابلـــده یولا د ـ ټده مرغــــه موږ
د ـ بل ژبه خرابه کنو ـ خالی کنو یه نه پورې خاندو
لاهم ـ چې ترڅو زموږ داخو ې ېدل ته سی نو موږ
به څنګه یو د ـ بل په ژبه ولد سوا ؤ په وبه پوهیږو؟
چې څنګه داخو ې پاته سی اؤ د ـ تولو پښتنو پیوه
ژبه وکنله سی لکه څنګه چې د ـ پخوا څخه زموږ د ـ
پلرونیکو نو دو د راغلی دی چې غته نخښنه یې داده
چې د ـ پښتنو څلور ریبل تکی ځ، څ، ږ، ښ چې لویری
لوې تپې لکه ایسپ زی هغه د ـ سره نه سی
لوستلای ښ اؤ ږ د ـ خ اؤ ک په شان لولی خو
په لیک دوړ دکی هغه هر ومرو لیکی ـ دا زموږ د ـ
یووالی نیږدیکت اؤ کامولی لوپیه نخښنه ده چې موږ
ته د ـ خپلو هغو نیکونو څخه راپاته سوې ده چې د ـ
هغو د ـ پوهنی، توری، ننګ اؤ مړانی له مخې پښتون

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کام د. نړیه په کاموکی اوچت ځای درلوډ نوچي د ا
خبرپه (بحث) په رتیه اوسوچه پښتوکیدلای
سي نو نوري دا شان د. پوهنی خبري به ولی ونه سي؟
اوس زه دا څو لاندیني تیري (تجاویز) ستاسي
په مخ کي ږدم. ځیني خلک دا هم وایي چي د. پښتو
خت په ځای که مورږ دا اوسنۍ اوردوخت دوډ
کو نو ښه به وي زما په گومان دا د. هغو خلکو خبره
ده چي د. انگریزانو په وخت کي بیا اوس ځکه د. اوردو
ستاره (رعب) باندي پریوتلي ده چي هغه د. ښوونی
او سرکار ژبه ده پښتو نه وه. په دا سي خبر وکی داځیز
ترازونه سي کیدلای چي که ژبه سرکاري ده او کمه نه
ده په دي کي خو ترازو خالي پوهنه (علم) او کته کیدلای
سي دا کتل په کار دي چي کوم خت گټ میره او اسانه
دي که اوردوخت اسانه وي بیشکه موږ له اخیستل په
کار دي او که نه پښتو خت اسانه وي نو په کار خو
دا دي چي اوردو ږموږ دا واخلی او که هغوی نه اخلی
نو موږ له خو خپل ښه د. بل په بدا و خپل اسانه

د بل په ګران ګرسره نه دي بدلول په کار.

ځما په ګومان د پښتو (ټ، ډ، ړ، ګ) ځکه د اوردو تر ډېره اسانه دي چي هغه په ليک کي په يوه وار ليکل کېدلای سي چپ د "ټ" او د پښتو ټاپې "زور" ه، خو زيات د کتني ټکي دي چي په هغه ځموږ د توري د پاسه ټکي د ترلي (مجزوم) ټکي ځکه بېلتون کوي هم موږ يکړ ټکي د ښکته په وزي لکه "که مه، په، به" او هم موږ توري ولوېدو ته نه پرېږدي لکه د اوردو "نکړ" او د پارسي "بخور"، "مکن"

ځيني خلک دا خبره هم کوي چي پښتو دي د سره په روغو ټکو ليکله کېږي لکه دا چي ځلوردي داسي ليکل کېږي "څلور" ځما په ګومان دا تيريه (تجويز) ځکه وړاندي کېږي چي ځموږ ټاپ (ټايپ)، اسانه سي ولي چي اوس ځموږ ټکي ډېر دي که د هر يوه ډوه ډوه رازه هم سي نو د ټاپ په مخ (KEYBOARD) کي نه ځايږي يا ګرانېږي خو که تازي ټکي چي موږ يې سلا بلا ليکو او لوستلای يې نه سو و با سو نو دا کار

اسانه کیږی لکه چی ماوراءندی لیکلی دی نو پیاودی ته اړی نه پاتیږی -

په دی راز لیک دوډ کی لوی تاوان دادی چی معرزبه د - تولو هغه زیو سره نخ له نابللّه سو کمی چی په تازی خت لیکلی کیږی لکه پارسی، او اردو سیندی او خپله تازی، که څه هم داهیله کیدای سی چی که پښتو ډالیک دوډ واخلی نو ورو به پارسی اوردو او سیندی هم داشان سی یو خو دا هیله ډیره تینګه هیله نه ده چی دا نوری ژبی دی تازی خت پریږدی او دا نوی پښتو لیک دوډ دی واخلی او تازی خو گر سره پرینږو ولاړ نه سی ولی چی د خوداټی وزرک یارکی (قرآن مجید) په تازی خت لیکل سوی دی او هیځ موسلمان دانه سی منلای چی د - دی وزرک کیتاب خت دی بدل سی او داشان دی ود ی کیتاب ته هم د. نو ر ورخودا یی کیتابونو شان د بد لید نولار وسی.

په پای کی زه خپل د - ورونو او پښتوپوهانو پام دی خبری ته راارول غوارم چی د لیک دوډ او ژبی سمول

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اسانه که ول، اسانه چاپ، تیپیے او ټاپ جوړ ړه ول
او دهغوړ پاره په ژبه او لیک دوړ دکی بدلی که ول داسی
کارنه دی چی یوازی زما یا زموږ پښتنوورته پام سوی
دی او لنګیا یوځل د ـ کام پام ود یے ځواته را اړ و وړد ا
تکل وده ږو هغه کاموته وو ړیبن دکه چی ځیلی ژبی
یے پوره وّدانی کړي اوُ د ـ وّدی ترهسیکیے (اسمان) رسه
ولی دی، زړیے لاندی یوځو نمونیے لیکمه :-

ا ـ تاسی به ځود خبر یاست چی پارسی ژبه په
تولوا پر ښو اوُ د ـ نړئ په ژبو کی د ـ هری ځوا ډېره اسانه
او ځو ږه ژبه ده، ځکیے دېر کمۍ دی په لیار و (کرامر) کی
په کارو (افعال)، نځښنو (ضمائر) نوښانو (علامات)
او تړون (اضافت) کی د ـ نړاوبنځی هغه بېلتون نه
لری چی دا نوړ ری ژبلی یے ځو را ګرانی کړي دی ـ په تیرو
ځوکلو کی د ـ ایران پوهانو د ـ ځیلی دغی اسانه ژبی
د ـ لا اسانه که ولو دپاره ځو په مراد رسید لی زیار کښلی
دی چی د ـ هغو له نځی هغو یے په کتّه ه د ـ پارسی ژبی
ځڼه ذوه ږغو ړی تکی او ږ د واو (واو مجهول) او

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اوږد ی ے (یائے مجهول) نخ له وابسته اوَد۔ تکو
تېپې چې بخوا هم د۔ ټ، ډ، ړ د۔ نیشت والی له مخې
د پرلهنډ کنده وو۔ ډوه یه نو ږهم پکښې کمَ کړل
اوس هغه ټول اولس وژو ځی ته د بخوا په شان
"روژ" نه وایي او پنے لیکي "یکی او میرود" یه تړے ساز کړل۔
د خپلو لیار و اکرامس څخه د۔ جم (جمع) هغه ټول
بېل بېل راژونه وابسته چی دوی دتازی څخه اخیستی
وو یا یه خپله د رلوډ لکه دخان څخه خوانین یا خانان
د۔ باغ څخه باغات، دملک څخه ممالک، اوَد اسی نور
اوس هغوی خالی د۔ یلغو زتوری په پایے کی "ها" د۔
جم ښخسنه اینیی ده لکه باغها، ملکها، زن ها،
مرد ها، مارها، کتابها، داشا ننے خپله ژبه ډېره اسانه
کړله اوَلا لکیا دی خوا ری کاژی۔
ب:۔ د هیند د۔ ازادی سره سم د۔ هغه ځائے
د۔ اولس پو هانو یوه لویه غونډه وکړله چی په هغه
کی ټول سرکاری اوَ اولسی پوهان چی په سوونو،
وزیران، غټ غټ نوکران، د۔ پوهنځو اوَ پوهنتونو

نولوي اوستادان، نور پوهان او پوهيتان راغونده سول او څو ورزې خپل د ژبې ليک دود، تاپې او ټاپ پور اسانه ولو څبرې کو پلې (که وپلې) او ډيري کتميره پريکړي (فيصلې)، وکړې چې دوهې يه دا وې چې هغه نيم ټکي يه د ليک دوده وايستل چې پخوا بې د وچ (ساکن) د پاره ليکل او هغه او ډزده کړينه يه پريښو وه چې د خت د هرې ليکې (سطر) پور سربې وور کوله چې په دې د دوې ليک دود ډېر اسانه سو ولې چې د ټکو ټاپې يه سم نيمې سو نورې هم ډېرې ډرېټې پريکړې (فيصلې) کړي دي -

ج :- په تاسې کې به ډېرو ورو ته خبروې چې د امريکې اولس د تير و څو کالو څخه لګيا دی د انګريزې ژبې ابزګي به ژياته د ژغورو (VOWELS) کارچې اوس څه ترلې او پوخ دود نه لرې پور ريوه ترپلې او پيڅ لار جوړه وې، که څه هم انګريزان او نور هغه خلک چې انګريزې ژبه وايي د هغوې سره مرسته نه کوې خو دوې بيا هم لګيا دی خپل ليک دود چې سنه او

اسانه دی چلېږي.

د: ـ څو کاله پخوا د. انګلستان اوڅار زب پوه (ادیب) جارج برنارډ شاچي د. خپلو انګرېزي کیتابو او ناټکو په خرڅه ځـ لوپیه پېـ اندازې دولتـ ګټلي ـــ اوټول کړې وو، دا بنا غلي پوه چي مړکیده نو د. خپل دولت لوپیه برخه چي په لکونو پونډ (پونډونـ) وو پیه د. دې دپاره د ږوز (وقف) کړله چي په دې دي د. انګرېزي ژبې ایزکي سمه او اسانه جوړه سي او اوس هم د. پوهان د. دغه بناغلي په خرڅ لګیادي پلټنې او ګربېزني (تحقیق او تشخیص) کوي. چي دا کار به څنګه وسرته ورسیږي، ولي د. هغو په مخ کي دا دوې لوېي بندې پروتې دي چي د. دې اوس لوستي اولس چي په سلوکي اتیاته رسي به څه کیږي چي زړه ایزکي یه لوستې ده او پیږې زده کول به ډېر وو رته ګران وي او بل دا چي دا په کورورونو کیتابونه به څه سي او پو ږیر ته چاپه ولو (چاپولو) پېـ څومره خرڅ لګي. سره د.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دے نښکہ هیله ده چې د انګريزانو پوهانو دغه
ټولې به د خپل اولس او سرکار په مرسته پوره ښه
او ګټمېره لار را وباسي - د پښتون اولس په مخ کې اوس
لا دا بندې نښتې او کې ښتنه نوې ډېرې لږ دي -
د ډرنوا او ډوانو کاموډ - پوهانو د اخوړ کارونه په
کارډی چې زموږ د لارې لیت (مشعل) سی او موږ په
بیره او خورا زور رود هے کارته ملا وتړو، کم تا وانونه
چې په پښتو لیک دوډ کې ښته دغه ټول لا تر ډي
هم زیات په اورد ولیک دوډ کې هم ښته کړه د اوړ
دو پوهان وغواړي هغو هم د دے خبرې خمه
اخیسته کولا ے سی - ما داشان یوخت څوکاله بخوا ت
هری پوړد ستر جبله ځمه چیرې چې زه هے تړونبدي
(نظربند) ساتلی سوی ومه و - ښاغلی مولوی او دوړ
هک بابا ے اورد وته لیکلی وو چې هغو ے یه خپل
په جواب کې ډېره ښتاینه هم کړے وه او دا یه هم
لیکلی وو چې موږ هم د دے کار تکل کو وخوښیا په خبر
نه ښوم چې ولې هغو ے لا دا ډروېند ا و ګټمیره

کارنه دی پیل کړی -

خدای پاک دی زموږ ملاتړ سی -

اوډول سمد اڅکزی

۱۹۵۴

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# لاړ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | زوکړه او زیږ | ٦٧ |
| ۲ | کورنی | ٦٨ |
| ۳ | کور | ۹۸ |
| ٤ | وړوکوالی | ۱۰۸ |
| ٥ | د.پلار مرګ | ۱۲۳ |
| ٦ | پښتوپولوست | ۱۲٥ |
| ۷ | ښوونځې | ۱۲۸ |
| ۸ | ناجوړی | ۱۲۹ |
| ۹ | ازموینه | ۱۳۲ |
| ۱۰ | کامی لیوالی | ۱۳۳ |
| ۱۱ | د.اوغانیستان د.آزادی جنګ | ۱۳٥ |
| ۱۲ | توخک. کاختی او وبا | ۱٤۰ |
| ۱۳ | کاختی | ۱٤۱ |
| ۱٤ | وبا(هیضه) | ۱٤۲ |
| ۱٥ | بول | ۱٥۳ |
| ۱٦ | ښوونځې | ۱٥۸ |
| ۱۷ | د.ښوونځی اوستادان | ۱٦۱ |
| ۱۸ | زموږ ښوونځې | ۱٦۸ |
| ۱۹ | کتی او اخیستې | ۱۷٤ |
| ۲۰ | ښکار | ۱۷۷ |
| ۲۱ | د.شپې ښکار | ۱۸۲ |
| ۲۲ | د.ښکار کتی | ۱۸۸ |
| ۲۳ | آزادی د .بدو مل کری او د.خودایے پاک کومک | ۱۹۲ |
| ۲٤ | مرانه (بلوغ) | ۲۰۰ |
| ۲٥ | بچه بازی | ۲۰٤ |
| ۲٦ | د.بچه بازی ډولونه | ۲۰۹ |


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# لاړ


| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | تنګ تکور | ۲۱۳ |
| ۲۸ | ناټک | ۲۱٦ |
| ۲۹ | ورانډی لوست او زماناکاری | ۲۱۹ |
| ۳۰ | زمینداری او د.مېږے سوداګری | ۲۲۳ |
| ۳۱ | کښېوغ یا بزګری | ۲۲٤ |
| ۳۲ | ایدارابات(حیدرآباد) | ۲۲۸ |
| ۳۳ | سرسیدامد خان او مولانا شبلي | ۲٤۲ |
| ۳٤ | د.پېریانانو از مودہ | ۲۵۳ |
| ۳۵ | د.پیرانو او د.هغوډ. ایجنټانو ذروغونه | ۲۷٤ |
| ۳٦ | سرکاری دوترونه او واک والان | ۲۹۷ |
| ۳۷ | د.هېواد مینه او پښتنی پت | ۳۰۲ |
| ۳۸ | غازی امانولاخان | ۳۰۵ |
| ۳۹ | د.غازی امانولا خان د.یورپ دوره | ۳۰۸ |
| ٤۰ | واده | ۳۱۳ |
| ٤۱ | یادګار | ۳۳۰ |
| ٤۲ | د.پښتنو سادګی | ۳۳۱ |
| ٤۳ | د.غازی امانولاخان جنګ اوزما لومړے بند | ۳۳٤ |
| ٤٤ | د.پولټیکل شپک کار | ۳۳۹ |
| ٤۵ | د.غازی مامد نادرخان جنګ | ۳٤٤ |
| ٤٦ | د.بلوچیستان شان | ۳٤٦ |
| ٤۷ | جرګه | ۳٤۸ |
| ٤۸ | د.جرګے غړی او ملکان | ۳۵٦ |
| ٤۹ | د.مالداری بےغوری | ۳۷۰ |
| ۵۰ | سوداګری او نوکری | ۳۷٤ |
| ۵۱ | د.انګریزانو او نوروواک والانو | ۳۸۱ |
| ۵۲ | د.کامی کار او لوړی او کم خرچی ترون | ۳۸۷ |


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# زماژوند او ژوندون

## زوږ کړه او زيږي

دمشرانو د. خولې چې د. کال ۱۹۰۷ د. جولای په اوومه
پيدا سوی يم. په ختهٔ اڅکزی. هميدزی. جلبزی او د برخوردار خان د. کاله
يم. د کوټې په پلو (ضلع) کې د. ګولستان د. تړې په ناتولا کاريز نومي کلي
کې زېږېدلی يم اولوی سوی يم تر ننه چې د. کال ۱۹۵۹ د. جولای دويمه دده
اوزه د. مولتان په پلو (دستر کټ) جېل کې دا کړښې ليکم هورې اوسم.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# کوړنۍ

د.موړنوم مې «دلبره» وو د.پلار مې نورمامد خان دې.نیکه مې سولتان مامد خان وو. د هغوے پلار ناتولا خان وو چې ژموږ کلې یه په نامه دیې. د.هغوے پلار بوستان خان د.برخوردار خان زوے وو چې ژموږ کهول یا تبرد. هغوے په نامه یادېږی. پلار مې ډوهٔ وروڼه نوړده، لوړ دیو مشر سکنے میرامد خان اوبل کشر میرے غولامے ین خان ډوا ړ. د.هغوی په ژوند او ژما ترپیدا وبنت وړاندی مړه دی او هیڅ بچی یه نه دی پاته سوی. د.پلاره ډوهٔ وروڼه .زه او مشر ورور خان او دول سلام خان او ډومے خوندی پاته سوچی تر ننه ژوندی یو.

مورمې د.پلار د.سکنی توړیره لور وه پلارے مامد هسن خان او نیکه یه پټے مامد خان نومیده. مورمې یو سکنے وروړ درلوړ.مامد الی خان چې یو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زوے یه ژوندے دی. مامد ازم خان اوس په کامی «سیاسی» کارپسی اوغانیستان له تللی دی. هلته په کندهار کی اوسی اوخپل کامی «سیاسی» کار کوی ـــــ .

ژمور د. کورنی خلگ که څه هم د. برخوردار خان د. وخته راهیسی د . پښتنو د. کامی سر کار اوُ دربار سره تړلی راغلی دی. اوُلوستی خلگ تېر سوی دی ـــــ خوړ ژوندا و مېنه یه د. باچهانو اوُ باچهیو سره بدله سوے ده اوُ داسی ښکاری چی تل په جنگو اوُ اتل پتل «انقلاب» کی راغلی دی. د. ژوند څه لیکلی څېزے په کورنی کی پاته سوی نه دی . اوُنے دا ښکاری چی په سر کی له کمه ځایه راغلی دی اوُ ځنګه ؟ خو څکه چی د. اڅکزو همیدزو پښنه جلیزی اوس هم په توبه کی په ډېنومی ځاے کی اوسی نو اندازه ده چی دوے به هم د. هغه ځایه راغلی وی د. دربار اوُ سرکار سرے اړیکے په سر کی ځنګه راغی دا ښه روښه نه ده. وایی چی برخوردار خان د. امد شا بابا په شپو کی وواوُ د. نورو کارو سره د. کندهار ښار کلا د هغوے تر لاس لاندی جوړه سوے ده .

د. تور کیستان په جنگوکے هم نوم یادېږی دا هم ویل کېږی چی یونیکه مو په کشمیر کی هم گورنر پاته سوی دی د. کندهار د. ښاره د باندی په زړه ادیره کی اوس هم یو ځلی «قبر» پاته دی چی د. هغه پور شنخته «خازه» لیکلی دی «بوستان خان اڅکزے فاتح ترکیستان » داخلی د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

برخوردار خان د.زوے دی.

اڅکزی او د.ښبين اؤ کندهار نور خلک تر ننه د.برخوردار خان اؤ ارزبېګی کهول یا کورنی.ډرمنے اؤ ارزمنی منی.دغه ازبېګی نیکه د.برخوردار خان ورارہ یا دوی.دانه ده جوته چی ارزبېګی په خانی نوم وو که څه درباری ځاے (منصب) د.دغه ارزبیګی یو لمسے ښاغلی اؤ دولا خان نیکه وو چی د. اؤغانیستان د.لومړی جنګه پس د.نیولی سوی اؤغانیستان بیرته وه انګرېز ته د.یاغی کېدو.وسره جنګېدو اود. هیواده څه د.بیرته ایستلو د.پاره د. پښتنو د.ویښولو.پاڅولو.غونډولو اؤ جنګولو پېلامه اؤ مشروو.غازی او دولا خان نیکه په ځپل سر.د.هغوے یو ؤرور ډوهزامن په دغه جنګ کی شهیدان سول چو هله چی ټول پښتون کام وه انګرېز ته ودرېدی اؤ غازی مامد اکبر خان د.غازی اؤ دولا خان د.پاڅولی اؤ جوړ کړی لښکر د.مشری لپاره کابل ته ورسېدی لا رډ برنس اؤ میکناټن انګرېزی مشران ووژل سول

داسی ښکاری چی د.دے کورنی مشران له توپے نه کندهار اؤ کابل له په سر کاری دربار پسی تللی وو.خو چی وس یه پیدا کی نو یه ځپلی مېنی د .کندهار اؤ کابل په ځاے بیرته هم د.توپے د.غره په ځواکی د.لوړ ښبین په اباتونا وو کی جوړی کړے.ناتو لا خان نیکه هغه کار ېزانیو چی تراوســـه. د.دوے په نامه اؤ ژموږ مېنه ده.له دغه ځایه د.کوټب (شمال) پدی ته د. سړک په لاری لس میله اؤ نېغ په غړه وړته شپږ میله.دیل سورهـ.اوژ نومی

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون پـولـنـه

کارېزونه د. اودولا خان کلا په نامه يادېږي اؤ د هغوے کورنئ پکښي اوسي .اؤ يونيم ميل سوهېل غاړی ته. ګوليستان کارېز پروت دے چې د. ارزېګی نيکه د. کاله نورغړی پکښي اوسي. دا ويل کېږي چې ګوليستان د. خاناتو نوکروو. اؤخکه چې خانانے دلے نه وونکلي دده په نامه سو. خو کېږو پرنګے خپل په انګرېزي کيتاب "پښتانه" دی پټان کی ليکلی دی. چې دغه ګوليستان د. شاه شوجا په وخت کی د. پېښور ګورنر وو. کېږو خــــپل د. انګرېزي کيتاب « دی پټـان» پوړ مخ نمبر ۲۷۱ ليکي د ـ اخګزو دورانو ملک ګوليستان خان د. چا په نوم چي د. خواجمران په لمن کی د. ګوليستان کلی يادېږي د. شاه زمان او شاه شوجا لپاره جنګېده چې سرمے ورکې. دغه ګوليستان خان خپل د. پوهي. بهادوري اؤبت (وفاداري) لپاره ډېر اوخار وو. او په پښور کی يو وخت د. شاه شوجا ګورنر وو. هلتے خلګ ترا وسه يادوی. دا خبره راته خکه روښتيا ښکاري چې د. مامد زو په پا چهی کی هيچري هم د. ګوليستان د کاله سرے په دربار کی پوړ غتہ نوکري نه ښکاري. د. دوے پوړ خاے د. برخوردار د. کاله اؤد غازي اودولاخان د کاله سړي په وده کی وو. دا به هم خکه وی چې د. دوے نيکه د. سدوزو. پوپل زو له خوا د. مامد زو اؤ. بارک زو. سره جنګېدلی. ووا اؤد. مامد زو له لا سه مړوو. دوے تر دمے انده. د. مامد زو له درباره شرلی سوی وو چې يو وخت د. کورنی په خه جګړه کی وای چې د. کرک (مرز) پوړ جنګ باندی د. دوے يوه سړی د غازی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اودوړلا خان نیکه وړرور مړ کی. نو غازی اودوړلا خان له کابله چیرته چې نوکری وه. راسپوړ سوا و سهار په تېره غومنې نبغ د. دوړے کلی ته ورغی اوځ څلورتنه یه په دوړےکی مړه کړل. اوبیرته خپلی نوکری لهوړلاړ. دوړے نه پښتنی سرکار لهوړلاړ. نه هغوړے اوځدوړلا خان نیکه ته څه وویل. دوړے ته اوځدوړلا خان نیکه پهنېکه کی خپل د. کاله هغهتوړل پړ ښنوړوکوم چی هغوړےد- دوړےپه کارېز کی لاره. اوهم له دهےمخی چی څه وخت انګرېزان راغله نوړد. برخوړدارد. کاله اوځ اودوړلا خان نیکه د. کاله. د. لاری چپ چی د. انګرېز سره په سراوځمال جنګېده. د. ګوړلیستان د. کاله خلګ تل د انګرېزانو مل ګری وړ. که دلته ووړ که په کندهار کی. یو څل خو چی کاکړو اوځ بلوړڅوانګریزان په کوټه کی کلابند کړی ووړ. اونېتر دمے وه چی ماړتے وکی اوځ بلوړچستان اوځاوځغانیستان تړمےبج سی. د. دغه ګوړلیستان د. کاله سردار سالوړخان ته انګرېزانوړ شل زره روپی ورکړهے. اوځ هغه د. اڅکزوړاوځ نوړروړپښتنوړد. لښکر سره پوړر کاکړواوځ بلوړڅوړد. شاپاله د شپهےیرغل وکیړد. هغوړ څه کلابندی پا ته سوله اوځ خواره سوړ. داد. اوځغانیستان د. دویم جنګ خبره ده. اوځهم دا پېلامه بهوی. چی دوړے د. شاشوړجاد. ډلی سړی وړاوشاشوجا پهپاےکی د. انګرېزانوړ تر لاس لاندی ووړ. چی انګرېزانوړ د. کوټی اوځ پښین په توړلودورانوړ. ترینانوړ اوځ اڅکزوړ کی. له دوړے سره ډېربنه کړی دی د. اڅکزوړ سرداری یه د. ډوهنیم زره کلداری د. میاشتی تنخا سره

وه. اودوړل همید خان کاکا او دهغه وړوڼو ته وورکړے وه. چې هغه یه لیرې کې. نوبیا یه وغوړلام هیدرخان کاکا ته د. پنځوسوو تنخا سرهٔ ورکړله. د. کارېز غمے د. تل دپاره وورېخښلي دي. اوپه چمن اوگولیستان مکے د. لیویز ونوکرې هم ورکړي دي اوتنخاګانې هم. کیروړاندې پورمخ ۲۷۳ لیکې چې په کال ۱۸۰۲ کې شاشوجاد. وزیر پتے خان نه د. ډېرو ماتو خوړ لو پس د. تیراخه د. ړوب په لارې شال کوټ ﴿کوټې﴾ ته ولاړ. اوهلتے د. ملک گولیستان اونوړو په مرسته له چا سودا گرنه ډیرې پیسے پور کړے. اوکابل ته ورسیده. هلته خلک دمخه لا وماموت شاته یاغې سوې وو اوشا شو حــــایه باچا کې. ده شاماموډ ونوبندې یه کې اوبیا یه هرات له ولیږه شپږ کاله شاشوجا ببغمه باچا وو. چې بیا شا ماموت د. وزیرپتے خان په کومک مـــات کې اوله هیوادے ویوست. نوگولیستان خان به هم په دغه او ستریو جنګو کې تر کال ۱۸۰۸ وروسته وژل سوی وی. ښاغلی مامد ایوب خان اڅکزے چې د. دغه گولیستان د. کاله دی. د. دغه کلي خه د. مامد ازم خان اونوړو ملګرو سره. اوغانیستان له په کال ۱۹۵۰ کې په کامې کارپسې تللي دي چې تراوسه هورے. او د. دغه ولي مشر دې، دغه هولکه پخوا . د. اوغانیستان برخه وه اواوس د. پاکیستان

[۲] د. انګرېزانو او اوغانیستان ترمیان

د. ګنډمک د. لوزنامے پس داخاے د. سیوې. پښین اوتل چوتیالي سره د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اوْغانیستان رابېل اوپه هیند ګډ سو. د. ګندمک لوزنامه د. پرنګیانو سره امیر مامد یاکوب خان کړې وه چی بیا وْروسته امیر ادرامان خان هم ومنل اوْ ژموږ د. کوړنی خلک دلته راغله ابات سو. د. ګندمک تر لوزنامه وْ پې اندی ژما نیکه سرهد د. خپلو زامنو کوره او د. کوړنی د. ډېرونورو مشرانو سره خپل د. وْروړ اوْ ژما د. بوړدنیکه مپتې خان سره په کندهار کی اوسېده. دغه مپتې مامد خان د. امیر شېرالی خان اوْ د. هغوے د. بناغلو زامنو امیر مامد یاکوب خان اوْ امیر مامد ایوپ خان په وخت کی د. کندهار ګورنر ﴿نائب الحکومت﴾ وو. د. اوْغانیستان دویم جنګ هم په دغه وخت کی سوی دی اوْ کندهار انګرېزانو نیولی وو. خو بیا هم مپتې خان نیکه ګورنر پاته وو. څرګنده نه ده چی د. انګرېزانو له خوا ګورېزو واوْ که نه انګرېزانو په اولسی سرکار ﴿سول حکومت﴾ لاکارنه وولرلی د. یوه زاړه خت څه بنکاری چی انګرېزانو یو وار هغوے بندی کړی وو او ټول مالے هم جینی سرکاری کړی وو. خو بیرمتے د. امیر ادرامان خان په سپاربنت پرې ایبنی وو. د. امیر ادرامان خان د. دغه سپاربنتی خت سوت ﴿نقل﴾ اوس هم د. موږ سره ستّه دی اوْ لکه د. هغه وخت دود چی وو هغوے به خپل نوړ خپلوان د. ولات پوړ نوړو لو یو اوْوړو واک والو لګول. ګوا په کندهار ولات باندی د. دوے د. خپلوانو او کوړنی راج وو. خو ژما نیکه ملنګ وزمه اوْ خو داے پاری سړے وو. که څه هم په ټولو وْرونو کی د. ده او د. دغه مپتې مامد خان وېش شریک وو خودے اوْ د. ده زامن د

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

.سر کاری کاره بېزاره او په زړ کړه لوستو د.پوهنی او اولس په کارواخته وو.
ځکه زما پلار او مشراکا (یا تره) پوره لوستی او خبر خلگ وو.

داسی ښکاری چی د.اوغانیستان د.دویم جنګه پس چی انګریزانو
د.اوغانیستان باچهی د .امیر شېرالی خان د. کورنی څخه واخیستله او
امیر ادرامان خان ته ورکړله او د.امیر مامد ایوپ خان او امیر ادرامان خان او
انګرېزانو ترمیان په کندهار کی جنګ وونو زموږ د. کورنی خلګ د.هغه
وخت تر.چالو دوږ لاندی ډومه ډلی سوه چی مامد خان ګورنر د - امیر ادرامان
خان خواته وو.زما پلار اکا نیکه او د.مېتے خان زوے ښاغلی مامد هسن
خان زما دموږ پلار د.امیر مامد ایوپ خان ملګری سو.او د .انګرېزانو
سره د.میوند په او څارپښتنی جنګ او د. کندهار په نورو جنګو کی
جنګېدل.چی زما او د.ټولی کورنی دپاره د.ویاړ خبره ده.دا خبره څرګنده
نه ده چی په نیژدمه خپلوانو کی دا ښلتون چی څوک د.یوه امیر ملګری وو یا
د.پخوا په شان په سر کاری کارو ګورنر واو واک والو کی لګیاو او څوک د.
بل مل ګری او په غزا کی د.انګرېز ســره جنګېده یو د.بل په خوښه او د .
دمے لپاره وو چی مه کوه د . هر چا برے چی سو . زموږ برخه به په ګټے وی
او کـــــه نـــه په ناخوښه او د.هر سړی خپل په انده وو.یا داوه چی
ښاغلی مېتے خان چی د.ګورنر په توګه یے څود د.انګرېزانو سره لار درلوده
او د.امیر ادرامان خان سرمے هم ښه پیژانده په دمے پوه وو چی برے به

کمی خواته وی ځکه د امیرادرامان خان ملګری وو. اؤ دانوړ خوانان .ناخبره.
د .کامولی اؤدین په نشه کی په غزا کی جنګېدل.

چی امیر مامد ایوپ خان په جنګ کی مات سو اؤد. هیرات په لار ایران ته لاړ.زما د. مور پلار مامد هسن خان نیکه هم له هغوی سره ؤلاړ اؤ شپېـــــږ کالـه پـس بیـاد .هغوی سره بېرته هندله راغی.امیر مامد ایو پ خان انګریزانو په لاهور کی کښېنا وه اؤ مامد هسن خان د.هغوی دنوړ و مللوپه شان خپل کورته راغی.امیر مامد ایوپ خان تر دېره خپل د. پینشین څخه سل روپی د. میاشتی هغوی ته وور کولی زما پلار مشرا کا یا تره اؤنیکه په رېګ کی د.شمشوزو اخکزو د.یاسین کاله د.مشر مولا بارا ن سره شرونی (پناه ګزین) سول.چی هغوی اؤنوړو اخکزو په دېره مړانه اؤبنه تو ګه د.
امیرادرامان خان نه بچ وساتل اؤبنه مېلمستیا یه ور کړله.

امیرادرامان خان د.

باچهی پس پټی مامد خان ګورنر ونیو بندی یه کابل ته بوتی اؤ وورته یه وویل چی زوی .ؤروړ ؤرېرونه اؤ نوړ خپلوان چی د. ماسره جنګېدلی اؤ تښتېدلی دی راولـه .ښکاره نه چی هغوی نه دا کولای سو اوپی کول غوښت .ځکه امیر د. دوی تولی مځکی .ودانی اؤد .کوړ سامان .سرکاری کړل .چی د. کروړ ونوړو پوهو. اؤدوی یه په جېل کی وساتل.داهم نه ده څر ګنده چی د. هغوی د. بندراز څنګه وو. په جېل کی وو که په کوړ کی ولی هغوی د. بندیه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښېږ کې په کابل کې بل واده هم کړی وو. او ددغه ښځې يو زوی او يوه لور هم سوي وو چې د. ده له مرګه پس امير ادرامان خان ېښنين له را ولېږل. خو کاله هلته په جېل کې وو او په جېل کې مړ سو. دانه ده جوته چې په خپل مرګ وو که باچا وواژه. د. کورنۍ ځينې مشرانو به ويل چې په زهرو مړ کی خوزه خکه نه سم ويلای چې پخوانی پښتانه دېربند ګومانه خلګ وو. او دروغې هم خکه نه سم بللای چې امير ادرامان خان بې شماره دېر نور پښتانه مشران مړه کړی دی.

د. امير ادرامان خان د. باچهۍ سره سمه د. ګندمک لوز نامه چې امير يا کوب خان لا کړې وه خولا کارله دوباندی پېل بیا ومنل سوله او زموږ د. نيکه مېنه پښنين او ګولیستان د. اوغانيستان رابېله او دهيند برخه سوله. نو زما نيکه پلار او نور خپلوان د. رېګه دلته راغله خو دبه د. انګرېز سرکار په خوښه وی-

انګرېز سرکار يوازی دانه چې د. هغوی ښځې د. اوغانيستان د. کارو څه تپوس ونه کی د. هغوی د مځکې غم (ماليه) يه هم تر ژونده وو روبخښلی (معافی) خو که څه هم د. کورنۍ زياتره خلګ لوستی او د. پښتو. پارسو او تازی ښه پوهان وو. او هغه وخت داسی خلګ د. انګرېز سرکار دېر په کار وو او ښې ښې نوکرۍ يې وور کوملې خو د. ميوند د. جنګ برکت وو چې زموږ خلګ د. انګرېز د. نوکرۍ نه بېزار او يومې ددې ته ا رسيده.

تر دمې چې که څه هم د. دېره وخته به اخکزو د. برخوردار او ارزبېګی

کهول ځپل مشران اؤ سرداران منل اؤ انګریزانو هم دلته د. اخکزو سردارۍ دوړے ته ور کړله خوچې سردار اؤدوړل همید خان د۔ سردارۍ سره د۔ کوټی د۔ انګریز پولټیکل ایجنټ له کیمپه څخه د۔ توپکو د۔ ډاکے اؤ د. سپاهیانو د. مرګ په تورکی ونیو سو اؤ سرکاری توپکے د. کوره وهم خاته نوړ د. هغوے په ځاے بل نامتو سړے انګریز ته پیدا نه سو. څکه چی د. سر خلګو ترانګریز لاندی سرداری د. خان شرم اؤ د. انګریز نوکری اؤتنخا یه ناروا ګڼله که څه هم انګریزانو ډیر شے وروکاوه. تر دمے چی د. غازی اؤدوړلاخان لمسے ښاغلی تاج مامد خان کاکا چی انګریزانو ډیر ناچاره کیړ چی د. پنځه سوه روپیۍ د. میاشتی تنخا اونورو ډیر وګټو سره سرداری واخله. نو وایی چی هغوے په ډک دربار کی انګریز لاټ ته وویل چی "زما اؤستاسی دوستی اؤ باور نه سی کیداے نه به تاسی برنس اؤمیکناټن هیر کیړ اؤ نه زه غازی او دوړلاخان هیرولاے سم". هغوے په دمه هکله د. یوه مار اؤسړی د. دوستیړ او ځاره بودهٔ هم وورته تیره کړے وه چی د. دوستیړ سره د. سړی زوے مارتیی کړیړ وو اؤمارد. سړی زوے وهلیړ وو خو بیا هم د۔ سړی ځوښه و د چی دوستی دی وی نو مار وورته ومے چی" نه زه ځپل پوړهار هیرولاے سم نه ته ځپل د. زوے مرګ. څکه مو دوستی نه سره کیږی. د. دمے وینا پس انګریزانو تاج مامد خان کاکا بندیوان کراچی له بوتیړ اؤ د. شپږو میاشتو بیپے راپریښوو. څکه انګریزانو په ناچاری یو د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

ښېښوله ځوا سړے سردار کي چي په کام کې ډېر مخ اۉزوړنه لاره.تش د.نامه سردار وو.تنخامې اخيستله اۉ په کوټه کي به اوسېده.دغه اوستري سردار بچي نه درلوده ځکه د.هغه له مرګه پس انګرېزانو بل سردار نه کي جوړ اۉ د. بلوچيستان په ټولو خلګو کي يوازي اڅکزي د.انګرېزانو.باچهي د.دغه ناځوالي اۉ زيانۍ څه بچ پاته سوه چي سرداري اۉ نوابي يه بولي اۉ نور کاموڼه د. ښېښو واچول.وروسته ښيا ډېرو خلګو د.دغي سرداري لپاره ډېر کوښښونه وکړه چي يو پکښې ښاغلي مامد انور خان کاکا هم وو خو دغه وخت په کام کي داسې خلګ پيدا سوي وو چي په دمه پوړے وو چي سرداري د. کام د. بيخ خانه دی.ځکه دوے ځپل مراد ته وه نه رسېده.دغه مامد انور خان کاکا د. اژبېکي نيکه د.کاله مشر سړے او د.ښاغلي مامد ايوب خان سکڼے اکا وو چي په کندهار کي د.بچه سکاو پور سرکار د.اڅکزو د کامي يرغل مشر وو.اوس هم ژوندے دی په کندهار کي اوسي مولکي نايب سالار دی اۉ باچا ډېره مخکه وور کړے ده.خو ځکه چي ازادي اۉ اولس واکي(جمهوريت) يه په خته اخېلي دی لوستي اۉ پوه سړے دی نو هلته سۉګه ناست نه دی.د.هغه ځاے د.اولس واکه (جمهوري) ډلي ويښ زلمي د.مشري په توره کي خو کاله د. مخه سره د.زوړيه مامد الم خان بخري اۉ ډېرو ملګرو سرکارونو ځو کاله بندي وو ناجوړه سونو سرکار پرېښوو.که څه هم زموږ د.کورني په خلګو کي هم د.نورو پښتنو شانته د.توربورګلوي.پرواۉ دلو بد بختي وه .خو د.لوستو اۉ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سرکاري درباروکي د استوګې له مخې يو خولږوه او بل هر څه چې وه هم په هغه کې دمخامخ يا پسې شا يو بل ته بدوبل لاس لګول. ژوبله او مرګ کول. يا په پردو خلکو نوکرانو ياد بارې په تنخوا نو يو بل ته تاوان رسول مخ له نه وو. که څه هم په شاا ؤ خوا کلو کې به تل تورتر ويود. بل سره د. لاس او سوپتې جنګونه کول خو زموږ په کورنۍ (برخوردار کهول) کې دا کار ډېر کم وو. يو خل زما تر زوکيدو لا هم ډېرورا ندې زما و نيکه ته د. هغه يو وراره يو ځاے په هديره کې ګوابنيدلى وو. چې دومره ناپښه خبره وه چې خلکو بدلى پورى جوړې کړېلے. او بل خل زه لا وړوکى وم چې په دوو کورونو کې څه د. لاس لګېدو جنګ وسو. درېم خل زما يو ماما په خپل ورور لاس لګولى وو. چې يو د. بله به خوابدى سونوېے تله را تله او غم ښادى سره بند کړل. يا چې مېے څه بنده سره پېښه سوله نوېے نالښت (دعوه) وکړله. خوو پښتانه ځکه يه يو وخت پورنالښتونو دومرى زورلګولى وو چې ډېرخرځ ېے باندى کېده. او تول وخت به په لګيا وو. په سرکې ېے نالښتونه پور خوشي خبرو سره پېښې سويا د. شريکى مځکې وېش ياد. څه شاړى ځمکې نيوکه (قبضه) ياڅه لارکوڅه او د. انګرېز په مياندکړ و کى خوبه خبره راغو ځيدله نه او لا ېے زړه سره بدسونو د. يوه څه به بل نالښت پېښن سو. او زياتره به يو د. بله خوابدى او مرورووتڼک راتک او غم ښادى ېے سره بند ه وه. په دمے لړکې يو وخت د. ماجت پور مشرى (تولا) سره ولوېده. دومے دلى سوا او نالښتونه پېل کړل.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ترده چې د. کلي لوی شریکې ماجت د. سرکار له خوا شپږ کاله بند وو. نه به
مولا پکښې وو. نه بانګ وایه کېده اؤ نه چا لمونځ پکښې کاوه. چې په دین اؤ
پښتو ډواړو ډېره بده خبره وه خو دوی پښتو نیولې وو. ډواړو ډلو خان له
مولایان ساتل او په بېل ځای کې یې مونځونه پسې کول. مالو مړی خل په دغه
شپو کې لوست په دغه خان له جومات کې پېل کړل. چې موږ رالوېدو لا دغه
خوی څه څه پاته وو. یو وار بیا یوه داسې شخړه پېښه شوله چې موږ ټول په
نالبنتو اخته شولو خو د. دغې پس موږ خوټنو خوانانو یوازې دا نه چې دغه
نالبنتونه موبند کړل. په خپلو کې مو ډېره خوږه ورور ګلوي جوړه کړله چې
که څه هم په میان کې مو ډېرې ډرمې خبرې راغلې خو خپله خوږه وروري
مو په وړانه نه کړله د. نیژدې دبرشو کالو راسې زموږ څه نالبنت سرکار له نه
دی تللې. چې دیوه یا ډوو چې هغه ته هم موږ د. ډلې یا پرمې رنګ نه دی ورکړی
نه مو خوابدی اؤ خواشینی ترمې سازه کړې ده. که څه خبره بنده پېښه هم
سی خپله د. کورنۍ خلګ سره کښېنو غو څه یه کو اؤ دا کار ډېر اسانه هم
دی خو چې په غونډه کلي کې خوټنه هم داسې وي چې په روښتیاد. شره بېزاره
وي اؤ د. کورنۍ په پروا اؤ ډلو نه ګډ ېږي نو بیا هغه نو هم نه سی کولای. زه په
خپله خو داسې یم چې که نور خو پرېږده په سرمې د. مشره ورور سره چې
زما د پلار په ځای هم دی اؤ خانې دومره راباندې ګران اؤ راته خوږ دی اؤ
دومرې بنه یه هم راسره کړې دی اؤ لا لګیادی راسره کوي یه چې د. هغو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هیڅ اندازه نه‌سي کیدای. دچا جګړه یانالښت وي زه‌نه‌په‌شریکېږم اؤ نه د.هغه سړي‌سره ځوابدوم.نه ښه بدخو پېژېږ. دډېر پکړون جیني کوم.که‌مي د.وسه کېږي د.ښخوا په‌شان ښه هم‌و ږ رسره کوم. اوس دستي هم د.هغوی د. یوه تربور سره د. ازم جان پور ملکي او د. بل سره د. ازم جان پور مڅکه نا لښت چلیږي. اؤزه د.ډواړو سره دانه چې کښېنم پاڅم په روښتیا یه په زړه کي هم ښه غواړم د. کلي اؤ کور په خبرو مکې پوښتم کومک جیني اخلم اؤ کومک وور سره کوم. ترننه مي په‌هیڅ توکه د.دوی په جګړه کي هیڅ ډوله نه لاس اچولی دی، اؤنه‌مي کار په لرلی دی، اؤهم داشان مي مشر ورور دی. دانه چې یوازي په کلي کي مو ښپلوان خانان د. چا سره زورزیاتې کول غواړي دوی نه په وور کېږي. ښپله چې د. چا سره بنده پښه سي تروسه دا کوښښ کوي چې په کور کې غوښه کي. ما ښپل په‌ژوندښپله‌کاریا مال ده‌پاره پورچانا لښت نه دی کړی اؤنه د. دوی پسي هم د. کولو باړ لرم. نه‌مي د. چا سره لاس لګولی دی. اؤنه مي چا ته څوک پارولي دي. لابه مي ښپل په ژوند کي ډېر خلک اؤمله د. شره اؤ پښتانه کښلي وي. یوخل خوپه غره‌کړد. اؤغانیستان ملک دارو خان‌راسره جګړه‌وکړله ومې وهلم. سرې‌رامات کي‌خوما دا هرڅه وزغمل نه‌مي لاس وورواچاوه اؤنه‌مي بیاناڼس وکی. پوره بیان یې راسي.

زمونږ د. کورني په‌ډېرو ښو خویو کي چې تر اوسه هم د. شا اؤ ښوا د. نورو

خلکو څخه ښېل او ښکارندوې دي. تر ټولو لوې او اوچت هغه سرېښته ده چې
پر هغه باندې دوې خپل شریک کاریز چلوي ـ دا کاریز د ـ اوبو یوه
واله ده چې د ـ درو کلو مځکې په آبادېږي د ـ شلو لکو روپو لا زیاته بهالري
سو و نوکسان په شریکان دي د چا برخه لږ او د چا ډېره وي څوک ماړه
او زورور دي او څوک خوار او کمزوري. څوک لا کونډې ښځې او یتیمان
هلکان وي. څوک پور کوروي او څوک په خواري مزدوري پسې په کلو
تللي او ناکوره وي خو وه هر چاته خپله برخه پوره پوره رسېږي او
داسرېښته د. نېږدې سلو کالو راسې هم دا شان چلېږي. هیڅ کله هم نه د.
چا برخه زیان سوې ده نه دې شریک ټول ته چا تاوان رسولی دی او نه څه شر
او جنجال پکښې راغلی دی د. شا او خوا په نورو کاریزو
کې تل شر او جنجال وي. کمزوري شریک ته خپله برخه نه رسېږي زورور
او چالاک خلک د. ټولو برخه خوري. کله لا څوک خپل د برخې «حقیت»
نه زیاتي او سېوا پکښې خرڅي کي. پاې به داوي چې د ـ خلکو او نالښتو د.
خرڅ او کړاو نه سېوا پور وخت باندې د. اوبو نه رسېدو له مخې یې کښتونه او
باغونه وران او وچ سي کټه یې کمه وي او بها یې ولوېږي. چې کله کاریز
بندسي یا ونړېږي نو یې پور کار او خرڅ نه سره جوړېږي. په کلو یې او به بندې او
مځکې شاړې پروتې وي. زموږ په کاریز کې بندېږ او نړېده خو پرېږده زما په
ژوند کې د. دوو لکو روپو نه سېوا خاوندانو په خرڅي کړي او نوي آباتی

كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اۏکاروڼه په کړی دی. پاے یه داچی هر چا ته خپل پور رخت خپلی او به رسی. کښت او باغے ودان وی لوګټه او بهایه زیاته وی د. خلکو یو په بل دومره ټینګه بروسه پیدا سومے ده چی هر کال د. لکونو روپو راکړه ورکړه کروی. اۏسوداګانی په ساده کاغزانو باندی کېږی اۏ تر ننه څه ګړبړ نه دی پکښی راغلی. اۏ دا ټول د هغے سریښتے ﴿انتظام﴾ ګټه ده پورکمه چی کاریز چلېږی. دا سریښته چی یومے خواته د شلولکو روپو یوه لویه کمپنی یا شریکی کار ﴿کوآپریټیوسوسائټی﴾ ده اۏبلی غاړی ته د خلکو یوه ږ کوټی بیل سرکار هم دی ځکه د. کلونو راسی دومره سمه چلیږی چی پوره اولس واکه (جمهوری) سریښته ده هغه داچی که څه هم د. انګریزانو د سرکار رڼګناتو لا کاریز لیکلی دود ﴿آئین﴾ نه لری. خو د خپل دود اۏتوریز نه ﴿تعزیرات﴾ لری چی یومے خواته ټول شریکان په خبروی اۏبلی خواتے هر سړے دومره پالی اۏ باندی خی چی تراوسه یه چا د. ماتولو کوښښ نه دی کړی اۏ کے کړی دی نو یه سرته نه دی رسولی اۏ نه د. سزانه بچ سوی دی. کله څوک یا په ناپوهی اۏ یا په هسکار ﴿قصداً﴾ څه غلا وکی اۏ تر خپله برخه زیاتی او به ولګوی نو ژر یا پس هرومرو بیرته ښکاره کېږی اۏ هر وخت چی ښکاره سی که لس کاله پس وی هم هغه ټوله غلا بیرته یوځاے جینی اخیسته کېږی اۏ هیڅوک د. دمے څه نه ناکاری ﴿انکار﴾ کوی اۏمے کولاے سی. کے وکی نو ټول نور شریکانے په کله په زور جینی اخلی. داسی کار په دمے ټول وخت کی یو ځل پیښ سوی دی چی ټول

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

شریکان په کړه ورغله اوُ د.یوه سړی څې په زوړ د. کلونو د. پوړا وبه راایله کړې. په کال کی دوه خله یو وار په سپرلی (ربیع) بیا په منی (خریف) ټول شریکان د نن زمانې په ژبه کاریز یو میراو (صدر یا سیکرټری) لری چی کله په تنخاوی اوُ کله بې تنخا دامیراوُ د. کاریز ټول شریکان په یوه غونډه کی خوښوی اوُ دروی اوُ بیا تر هغو وی چی د. شریکانو باور په وی. اوُچی کلې باور پاته نه سی نو هغه لری کی اوُبل ودروی خو داسی هم لغړیږوارسوی دی کنی نو میراوُ تر ژوندوی یا چی هغه یه خپله پرېږدی. میراوُ. د. کاریز د شریکانو برخی (حقیت) لیکی اوُ هر څه بدلی وېشی (تقسیم کړوی) (ګاڼه) یا رانیول خرڅول هم د. خاوندانو په ښوونه اوُ خوښه لیکی اوُ د. یوه څې یل ته وورکوی. څکه هر وخت د. هر چا برخه وورخر ګنده وی اوُ څوک غلانه سی کولاې د. برخو ویش پخوا په شوارو زونو (۲۴ ګاڼتې) وختونو (۱۲ ګاڼتې) نیمکی (۶ ګاڼتې) چاریاک (۳ ګانتې) ماخیګر (۱½ یونیمه ګانټه) سبر (۱۸ مینټه) پاو (۴½ مینټه) اوُ اباسی (۶ مینټه) ووېدومری خاوندان به شریکان سو چی اوبه بې لږ وخت سوې نو هغو به په یو دور کی چی نیژ دمې ۱۵ روزی ووېبې یو خل یو وخت یا شواروز اوبه لګولې چی د. چابه د. وخت نه لږ زیاتی یا کمی وې نو هغه بې شمار لې چی وخت به ترمې جوړ سو نو زیاتوب والا به یو وخت زیات ولګاوه اوُ د. کاریز بې خپل پوړ روکیښ اوُ کموو الا به وخت کم ولګاوه اوُ کاریز ته بې خپل پوړ روکی. داشان به د. زیاتره خلګو به کښتو نه په زیاته وچ بر

﴿خریف﴾ کښتو نه شریك کول چې نن ورته کوآپریټو فارمنګ (Co-operative Forming) وایی ـ اوپه دیرو اوږ چتو او پوهه هیوادو کې چالو دی. پرېوتی خلکې نه سی کولای اواوس په زیاته په دوړی (ربیع) کې هرچا که یوازې وی که. د بل سره شریک وی برخه په ګړی وور کوله کېږی. د. کاریز سره پوره کېږی اوپه ژمی ﴿خریف﴾ لا هغه شان وختو نه اوشوا روزونه وک او د. کاریز سره پور کېږی. خودا پوره په کال کې پخوا دوه واره او اوس یو ځل. هرومرو په ګړی ترمینتونو پوری اداکېږی. داشان هر سړی ته په ټول کال کې دا څرګنده وی چې په پلانی پلانی روز زما دومره اوبه دی او هغه هغو مره کښت ورته کوی. وروسته وړاندی چې د. چاروشتومنے اړی پېښېږی د. هغو لپاره هم داسی لاری چاری جوړی سوی دی چې دهغه ارسړی کار په خپله برخه کې وهم چلېږی او نورو شریکانو ته تاوان هم نه وی. د میراو ﴿سکرټری﴾ په غاړه دا کار هم وی چې په کال کې دوه ځله په سپرلی او منی به ټول شریکان خبر وی چې په پلانکی روز پلانی وخت د کاریز غونډه (اسمبلی یا مجلس حصه داران) دی دا غونډه زموږ د. کلی په لوے ماجت کې د. توت د. ونو په سیوری کېږی. د دے غونډې له هر شریک راتلاے سی او تروسه د هر شریکان راځی هم. دلته کېږی. مثلاً د. اوسنو اسمبلو په شان میراو ﴿سکرټری﴾ د. کاریز د. پیسو، خرچ، او کاروټولی خبری پېښوی. څومره خرچ سوی دی او پورخه کار؟ څومره

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پنکه پاته ده او چېرې ده ؟ پورمخ څه کارکول غواړي. څومره پیسې پکار دي ؟ مګر دالته داپړبکړه کېږي چې پیسې به څنګه غونډېږي چې د .هغې ډېرې لارې وي.

۱. شـــــلاو ن ـ لکه داچې څوک ګانټه او به لري هغه به یوه روپۍ یا لس روپۍ وورکوي.

۲. میراوته واک ورکې چې په دوّر کې دومرې او به په دمه نرخ پوراړو (ضرورتمند) خاوندانو خرڅې که.

۳. کله لږیاډېرې او به ګرو (ګانه) کې پیسوو ال. خلګے واخلی. او تر هغو یه خوري چې کارېز بیرته د. دوے پیسے وورسوی.

هم په دمے غونډه کې شریکان یو د .بل څه ځپلی ګیلے .او لانچے وړاندې کوی د. میراونه تپوسونه کوی چې هغه پلانکے کارولی داسی وسو ؟ او هغه جواب وورکوی او بیا غونډه پام باندې کوی چې پوردوړ سم دی که نه ؟ او که سم هم دی نو په هغه دوډچا شریک ته خو تاوان نه دی رسېدلی که رسېدلی دی نو یه چاره وکی هغه دودبدل کی او یا څه لاروورله کښېږدي. هم دلته واړه شریکان خپلی بندی پېښوی او په ډېره ځوا خوږی د. هغو چارو ابنبوولو کېږی زه چې به کله دغی غونډی له ورغلم نو ماته به د .سویتهرزلینډ کامی غونډه دایاده شوله ـ هلته هم هر سړے راتلا ے سی او یو برابر ووېټ لری. هغه غونډه هم په یو ټاکلی ځاے ترونو لاندی کېږی او چې

دخپلو خلکو دې کار ته به مې وکاته اؤ بیا د دوښمنانو اؤ دوستانو هغه خوشې خبرې به مې وکتلې چې پښتانه اولس واکې (جمهوریت) نه سې چلولاے نو به ډېر چورت واخیستم. دا غونډه په کال کې دوه ځله خوهرو مرو کېږې نو رنو کله میراؤته څه نوې کار ښکاره سې میراؤته یا شریکانو ته څه نومے بنده پېښنه سې چې د. هغې لپاره څه لارنه وې جوړه نو هم به غونډه را غواړې د. دے څه موږ ډیرې ګټې اخیستې دی اؤ ډېر نوې اؤ درانه کارونه مو کړې دی چې یو پکښې داوو چې یو وخت کلونه وچ وو اؤ د. کارېز اوبه لږ سومے. کښتونه خوپړ ېږده پاخه باغونه هم نه په نوډېده. دا یره وه چې د. شریکانو ډېر باغونه به وچ سی اؤ د. کلو خواری بے برباد سی د. کارېز په غونډه کې دا خبرد وړاندې سوله چې خیر دی که د سږ کال مېوه څه یا منځ له وړانه سی د. ونو د. بچ کولو د پاره به د. کارېز سر یا دور څه زیات کوچې خومره زیات باغونه کېدا ے سی په نوډېږې نو د. کارېز دور مو یوه پنځمه برخه (⅕) زیات کې اؤ هر چا ته مو په ونډه کې پنځمه زیاتې او به ورکړ ے چې هغه کال ازموده وسوله چې زیاتره ونې په دے اوږد دور کې خپل ځان اؤ مېوه ښه رسولاے سی۔ نو مو دغه زیاتوب پسې پوخ کې او هیڅ بے هیڅه د کارېز کروندہ یوه پنځمه زیاته سوله هم دخاوندانو ګټه سوله هم د مزدورانو کار زیات سو. زما په وخت کې د امیراوان سوی دی۔ زما پلار تر ژونده وو. بیا مې ماما وو دا دواړه بے تنخا کار کاوه په دے پسې مې یو تربور ښاغلی مامد تاهیر خان وو. څه

و مخته پې تنخا کار کاوه بیا یې تنخا وغوښتله او کارېز ډېرې سوه د. کاله ورکړه. بیا مې مشر وروړ او ـــ اوس ښاغلی اوډول کودوس جان دی د. میراوخاے تل ارزمن بلل کېږی. میراوته کارېز یوه ښه ګهرېږه هم وورکوی.

زه لا ډېر وورکے وم چی د مشری خوړ د مرغرو «خنازیر» د کښلو «اپریشن» د پاره د. موړد پلار او کوره سره یو ځل ډېرے خلور میاشتی د. کوټی په اوخار زنانه میشن درمانتون کی اوسېدم. د. درمانتون او خاره درمانی میس ستوورټ چی ډېره بوډی ښځه وه او د هغې نوری انګرېزانی مسل ګړی به تل خپل په کار لګیا وے په درمانتون کی نور هم پښتانه واړه ووچی ژیاتره به د. دغو انګرېزانو ښځو څه ببریده نیژدے به نه وورتله. موړو پلار او نورو پښتنو به هم ببرول چی دوے واړه غلا کوی او بیا یې کرېشتانان کوی خو زما د. هغی بوډی سره ډېر زړه لګېده. او د هغې د. مل ګرو سره هم. هر چېری چی به دوے وے که مې نا جوړان کتل. که بې درمان کاوه یا خیرل «اپریشن» که بې لمونځ کاوه که بې ناجوړانو ته خپل د. دین پړمے پېژانده «پروپیګنډه» کوله. زه به وورته نیژدے ولاړ وم. وروړو د. بوډی راته پام سو. ګوره چی خنګه ګوندی زما د. دمے هیڅ مې هیڅه نیژدېکت له مخی د. هغې هم را سره مینه پیدا سوله اوژره یې را سره ولګېده. هر ځاے چی بې وليدم د. ځان سره بې روان کړم. دې به کار کاوه زه به وور سره وم. ووړی ووړی بې کله کورته هم بوتلم او چی مانځیګربه

دباندې ټله د. اتوار په ورځ کېرجې له نوږمبې د. ځان سره په بګۍ کې بیوم. بوختې ماښام ډوډۍ له هم کوږته وګرزولم. ډېرې دړمې ومې یو زه وم ډوډۍ مې یو ځلې وخوړله. چې کوږته راغلم مور مې ډېره خوابدې شوله ټپلار ته مې وویل چې ده خوږن ډوډۍ هم د. پرنګیانو سره خوړلې ده ـ د. هغه هم دا کار خوښ نه سو اوړاته یه وویل چې ښیا ډوډۍ وو رسره خوره. ـ چې ماتپوس ترمې وکې چې ولې ؟ ومې چې هغوې موږدارشیان خوري د. سر کوزې «سوږ» غوښه خوري او شراب چینبې (څکې) زما ډېره خوابده شوله چې دا دوې ولې دروغ خبرې کوې اوږ وورته مې وویل "ما خوږنه دا شیان خوړلي دي اوږ نه مې هلته لیدلي دي. نه دوې خوړلي یا چیبنلي دي" «ومې» "ېه څه پېژنې ؟ ما وې" دا شیان خوږنه پېژنم خو هلته څه ناولده شیزووږنه کوم شیان چې ووهغه ګرد ما پېژاندل د. چرګ غوښه وه. سبزي «ساګ» وو. پټاټې «الوګان» وو. مېوه وه دا او به ومې بل شې نه وو" دغه وخت خوږه د. هغوږ په کار اوږ ښیګرمې لا نه رسېدم هسې مې خوښې ومې خوږ زما اوږ د. بوږۍ د دغه مینه تر ډېره وه. څوځو ځله موږ د. کوږ د. ناجوړانو د. داروږ درمل لپاره راغلو اوږ په درمانتوږن کې وور...رد وا پسېدلو. اوږ هسې هم چې به زه کوټې له راغلم د. دمې لیدوږله به وو رغلم. یو ځل دوه داهم د. نجل کار یا درمان د پاره ګولیستان له زموږ کوږله راغله. اوږ څنګه چې زه لوږېدم اوږ د. دمې د. خوارو زیارو اوږد. پرد وږ خلکو پښتنو. بلو څوا وږ هیندکیانو ناجوړان د. دمې خسمانې اوږ پوږ هغوږ باندې د. دمې خرڅ ټول راته ښکارېده هوږ مره مې مینه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

وورسره زیاتېدله اؤ چی بیا په دمے پوے شوم چی دا هر څه دوے خپل د. دین د. خوروني اؤ پرمے پېژاندمے لپاره کوی. نومی یومے خوا ته د. دوے سره مینه زیاتېدله او بلی خواته می پور خان اؤ خپل کام په زیاته پور مولا یانونیت بدېده چی دوے ولی دا کارنه کوی اؤ دامی تر زړه ایستی وو چی زه رالوے سم نو دغه شان به خپل ځان اؤ مال د. دین او کام په لاز کی لګوم. د. دمے بوډی پښتو ډېره ښه زده وه ما به دا مور بلله او دمے به ماته زوے ویل. تر ډېره دمے وه بیا یه خپل ځاے درمانتون اؤ تول «جایداد» چی د. لکونو روپو وو ټول د. ډاکټر هالینډ وه میشن ته پرېښوول او لندن له ولاړه څه وخت پس بیا د. هغه ځایه په هغه خپل کار پسی اپریکے له ولاړه. اوس په خبر نه یم چی مړه ده که ژوندی په کال ۱۹۳۰ کی چی انګرېزانو مورږ دواړه وروڼه بندیان کړو اؤ د. دوو انګرېزانو اؤ سرانو اؤ یومے میمی د. تښتولو د. جوړی «سازش» تورمے په دروغو راباندی ولګاوه چی بیان مې وړاندی راسی دالا دمے وه. اؤ خبره سومے وه. زمورږ د. مور سرمے ډېر د غمرازی کړمے وه اؤ ډېر ډا دمے وور کړی وو چی ژر به بیرته راسی پروا یه مه کوه. کال پس چی زه د. جبله راغلم لیدومے ورغلم ډېره خوشاله شوله. انګرېزی اخبارمے لوست په هغه کی یو خبر وو چی د. رېګ اخګزود. ګولیستانه څه د. ریل نوکران هینکیان تښتولی وو اؤ خپل د. څه بندی د. غوښولو لپارمے یرغمال اؤ بندیان ساتلی وو. اخبارمے ماته راکی. ومے دا خبر دی لوستی دی ؟ چی ما ولوستی نویه ومے چی دا ستاسی خلګ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ولی سرکاری نوکران تښتوی ؟ زه په هغه ټوله خبره خبروم چی دے ته می وکړله او ټیا می ورته وویل چی تاخو هر وخت دلته تېر کیږی تاته به دا خبره ښه څرګنده سوی وی چی د.دے ځای پښتانه نه خو زلندهٔ «خونخوار» دی اونه شری او شرا باتیان. خو څکه چی یو خو د. هیند د. انګریز سرکار او د. پښتنو دوداو تورېزونه «تعزیرات» ډیر بېلتون سره لری او بل ټیا دلته چی انګریز سرکار د جرمګے په نامه چی د. مّیانځګری کمه سرینښته روانه کړے ده او د. پولی د. تورو کمه تورېزونه «قانون جرائم سرحدی» چی چالو کړے ده د. هغو له مخی زیاتره و پښتنو ته مّیانځ «انصاف» نه رسی او نه بره د. اپیل او پرياد څه لار لری نو داده د. اپیل او مّیانځ «انصاف» پیدا کولو یوه بله لار رایستلے ده چی دا سړی بوزی چی زموږ په ټلانی خبره کی مّیانځ «انصاف» راسره وکی نو به دا سړی درپرېږدو او زیاتره د. داسی کاره پس سرکار د. هغو خبره وهم منی او مّیانځ وورسره وکی. ته پسی ګوره په دے خبره کی به هم سرکار مّیانځ وورسره وکی دا په خبره پوهه سوله ټیا یه ماته ویل چی زه د. څو ورزو د پاره ستا کوږته درځم. خو د. مېجر پارمے د. هغه د ښخی او کپتان پرسر. د. تښتے پس په کمه کی چی موږ بندیان سوی وو. پولیټیکل ایجنټ د. چمن غاړی ته د. انګرېزانو ښځوګی بندکړی دی. د. پولیټکل نه تپوس غواړی خو هیله می ده چی ما به نه بندوی. څو ورزی پس چی ما ټیا تپوس جینی وکاوه وے خو ښه یه نه ده. په زیاته ټیا ستاسی کره. وے چی ما

ډېر وورته وویل چې هغه زما زوے دی زه د. هغه نه هیڅ بېره نه کوم اؤ که ته اؤستا جرګه هر څه وواياست چې ده د. انګرېزانو په تنبتولو کې لاس لاره خو زما زړه ته نه لوېږی زه یه د. وړوک والی راسی پېژنم هغه داشان سړے نه دی۔ نو هغه وېے نبه دی! که هر ومرو ځے نو به د. پولیسو کارد درسره خی" وېے ماوورتـــه وویل چې" دا خوزه هیچېری نه کوم ولې دا زما هم سپکه ده اؤ د. چاکره چې زه خم د. هغو هم سپکه ده."

زمونږ د. کورنی خلک د. ټولو پښتنو رنګه ډېر زیات مېلمه دوسته وو. اؤ په دې لړ کی د. ځایی پښتنو پرته بے وه سرکاری نوکرانو اؤ واک والا نو ته هم ډېری ډرنے دوډی وور کولے۔ چونچ (Standerd of Life) یـــه هـــم د۔ کـــوتـــی پـــه ټـــول پـلـو کـــی ډېـرا وچـــت د۔ کابل اؤ کندهارد. خا نانو رازه وو چې یو خل مے د. چا سره د. مېلمستیا اؤتک راتک لار جوړه شوله نو بیا بے تل هغه رؤپاله. تر دمے چې ځوبه د ګولیستان ټولو سرکاری نوکرانو ته بے د. مېلمستیا سبوا خپل د. باغو په هره مېوه کی هم برخه وور کوله اؤ چې کله به هغو بے د. ګولیستانه بدل هم شول

نو بے هم خپله یا د. هغو په غوښتو دا برخه پښبین اؤ کوټی له هم وورسوله اؤ چاله خوبے پنجاب له هم لېږله. په سر کی هم اؤ زما په وخت کی هم مونږ دا کارد. مېلمستیا اؤ بنه خوانی په تو ګه کاوه خو هغو خلکو زیاتره دا یوه خوشامنده یا موک (رشوت) ګاڼه ولې چې دوے به دمے خیزته خه تول نه

ایښوول او نه یې څه ډېره پروا په کوله. نوزه په کوړنۍ کې لومړے سړے وم چې داکار مې بند کې اؤد. دے راکړی ورکړی بونیاد مې پوردوستۍ کښښښوو. دو د مې نه ګانه اؤنه داسې په بندوم چې که ته پروا په کومے که نه زه یې کوم ولې چې ژموږ دوددی .

په دے لړ کې د. ډېره وخته دا رؤرا چلېده چې. د. پښین اؤ چمن مجستهریټانو به په میاشت کې یو ځل ګډه «جائنټ» جرګه په ګولیستان کې کوله او خپل خپل د. تری د. ځینو غټو غټو جرګه بازانو سره به راغله. څلور پنځه ژوزی به په ګولیستان کې ډېره وو اؤ ژموږ خلګو به سهار اؤ مابنام ډېری ډرنے ډوډی اؤ مېلمستیاوی وورکولے. دیوه یوه وخت په ډوډی مې په سوو نورو پې خرڅېدمے او کړاو به لا بل وو. چې زه لږ غټ شوم نو مې دے خبری ته پام سو چې زه یا ژموږ مشران هم چې کله ګوټی، پښین یا چمن له پیښ سونو دغه جیرګه بازان اؤ واک والان موږ ته کله یو وخت هم مېلمستیانه را کوی نو موږ یې ولې وورکوو دا خو دړے بنه ځوانی یا مېلمستیا نه ګنې خو شامنده اؤ موړ ے «رشوت» ګڼی. کنی نو پېښتنی مېلمستیا خو دا وی چې ته پېښ شوے زه به ډوډی درکوم اؤ چې زه پیښ شوم ته یې کومے ورووړو مې په کوړنۍ کې د مشرانو اؤ کشرانو سره دا خبره پېل کړله اؤ ژرمې ټول د. خان ملګری کړل. چې دا دو دبه پرېږ. دو اؤ داخل به واک والانو اؤ جرګه بازانو له مېلمستیا وی نه کوو. چې د جرګے ژوز راغله واک والان اؤ جرګه بازان د.

پخوا په شان راغله خو دوے ژموږ په دمے نومے جهړه خبر نه وو اؤ خان لے څه بندوبست هم نه وو کړی. بیا وروسته د. هغه ځاے واک والا نو راته ویل چی ترما خیګره یه هیڅ بندوبست نه وکی او تپوس مے کاوه چی چاموډوډی نه ده کړمے؟ چی مے هیلی سړ اؤ ځایی واک والانو خبر کړل چی داخل ډوډی ګانی نسته نو یه څلور مړونه رانیول شپه مو په تېره کړله اؤ سهار وختی واپس ولاړل. هغه روز اؤنن روز بیا په ګولیستان کی دغه جرګه نه ده سومے. چی د. دمے نه ښکاری چی دوے جرګے له نه راتله ډوډو اؤ مېلوله راتله. چی ډوډی بندی شومے بیا چا جرګے څه کومے د هغه وخته ژموږ اؤ د. دغه سرکاری خلکو مېلمستیا داشان شوله چی چاډوډی راکوله هغه له موږ کوله او چی چانه راکوله د. هغه تپوس مونه کاوه.

ماخپل د کورنی خبری څکه څه اوږد مے کړمے چی په سرکی دا خبری زما د ژوند اؤ د. بلوچیستان د. کامی (سیاسی) ژوند سره د شاګی (پس منظر) په توګه ډیره اړه (تعلق) لری - ژموږ د کورنی د انګریزانو له باچهی د هغو د نیزدېکته - نوکری اؤ خسمانے له دغی بېزاری له مخی که څه هم زیاتره غړی یه لوستی اؤ ځینی، پکښی زیات پوهه او بیا د. ګولیستان میانځی ښوونځے (مډل سکول) د. ولات د. لومړنو سکولو څخه یو وو چی په هغه کی ژموږ د. کورنی ځوانانو لوست کول. په دغه لومړی وخت کی چی په ټول هند کی موسلمانان له انګریزی. ښوونځو

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بېزاره اؤلري وو . ژموږ مشرانو خپل په وړو وړو يوازي په ګوليستان کي لا نه په کوټه کي انګرېزي ويله . خو هم په دمې وخت کي چي ډېرو خلکو به د. انګرېز نوکري د. ژوند پيلامه اؤمرادکېله دوے نه خپله سرکاري نوکري کوله اؤ نے خپل په بچو کوله .دغه وخت چي هسي لوستي خو مخور کسان به انګرېزانو په ښه نوکري کي اخيستل ژموږ په کورني کي ډېر لوستي کسان وو خو د.يوه يا دوو کورو چپ هيچا به نوکري نه کوله د.لېويزو نوکري چي د. سر رابرټ سنډيمين د. دام ترټولو مبے ختا زيندي ﴿تيزندي﴾ وه اؤ د. بلوچيستان زياتره د.کامو مشران په کښي راټېر سو ژموږ خلکو ونه کړله . سېواله يوه يا دوو کسانو.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه



غازی عبدالله خان اخګرے شهید

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# کوړ

په کوړنۍ کې په ځانګړي ډول زموږ خپل کوړ اکاګان، پلار او نیکه مې د پوهنې او دین سره ځانګړې اړه لرله. لکه چې مې مخ کې وویل په کندهار کې لا هم چې د کوړنۍ نور کسان په واک والي او کته لګیاوو زموږ د کوړ خلکو لوست ژد کړه. او پوهنه نیولې وو. ځکه مې پلار د تازي پارسي او پښتو ښه پوه لوستې وو.

که څه هم د کندهار د تول د سرکاري کېدلو پسه دوې د ناتولا کارېز ډېر لږ تول پاته وو. او په سرکې ډېره تنګه ګوزاره کړې وه خو ځورونو ورو یه ګوزاره سمه سوې وه چې زما یادېږي دومره ځکه او باغونه یې درلود چې ساده پښتني ګوزاره یې کېدله. موږ سړې نه وو خو ځکه چې خپل ژوندې ساده وو او د هغه وخت د بد خرڅو نشو مشو او د خانۍ د خینو خرڅو تنګ تکور. ښکارو مېلو دوې څه بچ وو. نو سو که ژوند یه کولاې سو او د هولکې د ډېرو خلکو. په ځانګړه، مولایان، شاګردان «طلباء» او د کلي او کام د خوارو کسانو کونډانو، یتیمانو سره یې ډېر لاس کاوه. څه د کتې کارې نه کاوه د ژوزي ډوې ډرې کانې یې د کښت او باغ کار زېرمه کاوه. نوږ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وخت مې ټول .په کور کی زنانو ته .مور ډواړو ورونو اؤ خینی شاګردانو ته
لوست راکول. اؤیا مې د. کلی د. خلګو د. خسماني کارونه جوړی جاړی. مړیه
رنځوراؤ تامنی تاسیل کارونه کول. ډېر زیات مېلمانه مې لرل چی خینی خویه
هغه پردېس اؤلا ررویان ووچی پېښ به سواو خینی د. هولکے مخوراؤ
مشران خلګ چی خپل په کاروپسی به راتلل. خینی به د. هولکے مولایان
اؤپوه خلګ ووچی دوے به راغوښتل یا مې هغوے لیدوله راتله. په میاشت
ډوے کی مې د. ګولیستان ۀتاسیل ټولو واک والانو له مېلمستیا کوله اؤ ومې ې دا
خلګ پردیس (مسافر) دی د.دوے زړه ساتل په کاردی ځکه په هولکه کی ډېر
زیات مخوروو هر دول خلګو مې ارزکاوه. دکلی او هولکے خوارو خلګو به ډېر باوری په کاوه
خپلی ماتی ګوډی مې وورله راوړمے. اؤ زیاتر وبه خپلی پیسے د. دوے سره
اینبو ومے. د. نیکه د. وختو راسی به زمور کره خوتنه یتیمان روزل کېده. د.
کور د. بچو سره مې سمه روزنه کېدله چی لوے به سو واده مې وورو کی نومې
ببل کړل. پلار می خپل د. ژوزی وخت هم وېشلی وو. سهار مې وختی لمونځ
په ماجت کی د. مولا سره کاوه. د. هغه پسی مې چاي د. مېلمنو سره دباندی
چیښلے اؤ بیا مې مور ته او نورو شاګردانو ته لوست کول. ترنیژدمے لسو بجو به
د. کلی د. خلګو سره ناست وو. بیا به د. باغو اؤ مځکی زېرمی له وه وتی.
دوولسو بجو له به بیرته راغی او د. کوروه زنانو مور. اؤ خوندو ته مې پښتو
کیتابونه لولول. چی مېلمانه به نه وو د. غرمے ډوډی مې کور خوړله د. هغے

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پس مې لږ ارام کاوه اوبیا به مانځه له ماجت له ته. ماپښین بیا هغه ژموږ لوست د. کلي د. خلکو اومخکی کارونه وو. مخونه مې په زیاتره ماجت کی کول.

په ټوله کوړنی کی زیاتره په زیاته ژموږ په کوړ کی د. وروړ د. روژني کار ډېر په پام اوښه کېده. تروسه به واړه تل مشرانو خپل ترسترګو لاندې روژل د. ځانه مې لیری کول نه. تر دمې چی پلارمې یو وخت په کوټه کی لغړ دمې له سرکاری نوکری کړمې وه چی کشر وروړمې هلته د. سنډیمین سکول په لومړی ډله کی انګرېزی لوستله اودوے نه غوښتل چی هغه د. دوے څخه لیری وی. دوے مې هغه وخت د. تاسیلدار ځاے وړ کړی وو د. بلوچیستان د. لاټ په دوتر کی مې پارسی کاغزان اوردو کول. خو چی کله یه وروړ. چی په لسم ټولګی کی وو په کال ۱۹۰۵م کی د. خوداے په کار سو. نو دوے هم نوکری ایله کړله. د. انګرېز سرکار سرمې مخ له نه لګېدله. او دایه خوښه وه چی هیڅ کار وړ سره ونه لری خوارمان چی په کوړنی مې خینی خپلوان ووچی هغوے تر ده زیات ماړه وو د. هغوے سره په ځینو نالښتونو (دعویات) اخته وو. نو د. سرکاره مې غمه کېداے نه سو. او د. واک والانو سره مې راشه درشه اوتله راتله وو هم له دغه مخی د. جیرګې غړی وو او د. لاټ درباری هم جیرګې له به ډېر او په مینه نه ته په ناچاری ماته خوا او خپل د. کارو لپاره به ته.

او هلته مې دا وس کاوه چی د. جیرګې غړی په داسی پرېکړه (فیصله) خوین کی

چې د. خوداے پوړ لا ر ﴿شریعت﴾ برا بره وی. چې به دانه وه سوله نومې
ښپله رایه ېبله اؤ د. خوداے پوړ لا ر ﴿شریعت﴾ برابره لیکله .په درباروړ کی
چې مې ښه ورکړل هغه مې واخیستل خوښکه چې روا اؤبنه یه نه بلل نومې
کوړته راوړل اؤبل چا ته مې ورکړل ژیاتره یه یو مشر تر بوړ وو چې په ګوزراه
کی هم ښه تنګ وو هغه ته مې ورکړل د کندهـارهد. راتلوپې تزدېره دا خوے
نیولی وو چې په ژمی بهژومے ډرمے مېاشتی هیندوستان له په سېل پسی ته. په
دهلړکے ژیاتره هیند لیدلی وو. په پاے کی داسې ترمه پا ته سو. ژموږ د. روزمنے
ډېره ښه سریښته کړمے وه اؤلا یه کوله خو په نابوده کی د. سړی ټول مرادونه
نه پوره کېږی. په کال ۱۹۱۷ نږی ترمے پا ته سوله چې زه د. لسو اؤ مشر
ورورمی د. دیار لسو کالو وو که ښه هم ژما د. ښلار سره ښه د. پوهی ښپے-تېری
نه سو ڵے خو خلګے تر اوسه ډېر پوه اؤبنه سړے یادوی. زمے ښپله ډوه
کاوړنه تر اوسه ناپېښنه د. پوهی ګنم چې د. هغه وخث د. پښتنو ښخه مخ له
بېل اؤ ډېر ژیات اوچت ښکاری. یو داچې کله امیر ادرامان خان هزارګان
ووهل اؤ د. هغه وخت مولایانو د. هغو مړیان دا کړل اؤ د. هزارګانو نر اؤ ښځی به
د. چېر اؤ سوریتی کولو لپاره په ډېر لږه بیه خرڅېدل اؤ په ټول کندهار اؤ ښنین
کی کم داسی بس وال سړے اؤ کوړ پاته وو. چې دا د. خوداے بندګان یې نه وی رانیولی
اؤ نه یې وی مړیان کړی. خو ژما ښلار نکه چې یوازی سړے وو چې دا کار یې نه دی
کړئ اؤ نې روا یا ښه باله.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډویم دا چی سره د ـ دې چی ورونبې دواړه مړه وو او نیژدې دوولس کاله یه نارینه بچے نه درلوډ یو سر پاته وو د ـ هولکے ډېرو خلګو خپلوانو د ـ کوړنی مشرانو ډېر وورته ویل چی ډویم واده وکه ـ خوداے به زامن جینئ درکی خو دوے دا کار ونه کی ـ ډویم واده یه بنه نه باله ـ وے یے چی که ناروا نه وی او نوړ تاوان نه ولری هم ځکه چی د ـ دوو مندو بچی سره خواړه نه وی نو بنه کار نه دی ـ دا دواړی خبری چی زه نن هم د ـ پښتنو خانانو د ـ ژوند د ـ لاری سره پرتله کوم نو د ـ هغوے پوهه او پام راته ډېر اوچت ښکاری او ډېر کار زمونږ د ـ روړنی لار او رڼو چی هغوے غوره کړی، وو ـ راته ډېر اوچت ښکاری ـ د ـ هغوے د ـ پوهی غټه نخښه چی په هغه وخت کی چی د ـ پښتونخوا په هر کلی کی د ـ پیر په نامه یو ټګ یا موړلا ناست وو او ټول خلګ د ـ یوه نه یوه په دام کی ګیر او موږېدان وو د ـ رنځ دارو درمل د ـ دغو باباګانو د ـ ګوړ خاوری وې ـ یا د ـ کمی ګتیی او ونی زیارت یا د ـ چا موړلا تاویز ـ پښتانه لا موسلمانان هسی هم خوداے ډېر کم یادوی ـ کله کله یه ننګوی یا دروغ او روښتیا لوړوی د ـ خوداے په نامه کوی ـ خو په دغه وخت کی زمونږ د ـ خلګو څه دغه هم پاته وو ـ زمونږ په خپل کلی کی یو پیر وو چی بابك یے باله ـ بس خلګو به هغه ننګاوه ـ د ـ هغه په بیره په نغری یا کمبله یے لووړی کولے یوه د ـ توت ونه وه ـ د ـ پکیر توت یه باله ـ واړه لرکی یے خلګو په مزی کی تړل او په غاړه کول یے ـ دایه د ـ ژړی تبی (ملیریا ) درمان وو چی پیاز یے په ژرمزی وپیودی او هغه یے رنځوړ ته په غاړه کاوه ـ د ـ هر شی بېله مزدوری وه چی شوکرانه یے بلله ـ په هره هدیره کی به جنډے او شنختی (خازے) ولاړی وے ـ د ـ هر رنځ دپاره بېل بېل ځلی او باباګان وو ـ چی خلګ به زیاته زنانه به وورتلے ـ د ـ کلی او هولکے هر کار به په چا بابا ملنګ ـ پیر یا ځلی پوری تړل کېده یا به نو د ـ پېریانانو کار باله کېده ـ تر دې چی

د ـ انګریز دې هېواد له راتګ اؤ باچهي نیول د ـ پښتنو د ـ سپېتانې ناخبرۍ اؤ د ـ انګریز د ـ لښکرو وسلو اؤ بېړو په ځاے د ـ لال شاباز کلندر کار باله کېده اؤ وې.یې چي دا باچهي انګریز ته کلندر ورکړې ده ـ د ـ خلکو څخه خوداے حو پرېږده ځان هم ورك وو ـ دوے هیڅ نه وو هر څه چي وو دغه باباګان وو ـ اؤ هر څه چي کېده دوے کول یا خینو مړو اؤ د ـ هغو ځلو ـ انګرېزانو چي د ـ اوغانیستان پولې له اوسنی چمن ته رېل بوته زموږ د ـ کلی څه پور نیم میل باندی اؤ د ـ کلي د ـ ایدرې په خوا کي لار وه ـ چي د ـ سپېنې تیږۍ اؤ غوړۍ په لار به په درو درو کي تر غره وتله اؤ بیا به چمن ته تله ـ هغوے تر دغه ځایه را رسولي وو چي اینجنیرانو دا لار اوږده وګڼله اؤ تر دې یه د ـ کوړك تنډېل چي دري میله اوږد دی اسانه وباله ځکه دا لار پرېښوولہ ـ اؤ پور اوسنی لارې روان کي ـ هغه زوړ سرك زوړ تپسن پاته سو ـ دا د ـ نولسمي پېړۍ د ـ پاے خبره وه ـ خو چي زما یادېږي تر کال ۱۹۱۴م پورې زموږ د ـ کلي اؤ د ـ شاوو خواخلکو دا باور وو چي دا لار انګرېزانو ځکه بدله کړله چي زموږ په ادیرې کي د ـ پلانکي ملنګ تر ځلي ګاډی نه سوه تېرېدلاے ـ چا به ویل چي د ـ هغه بل کلي پیر نېونی ساو زادې ( صاحب زاده ) نه پرېښوده اؤ چا به ویل چي نه بابك ساب (صاحب) بنده کړله ـ اؤ د ـ هري خبرې لپاره دروغ جن نر اؤ ښځي وو چي وې یې چي موږ خپله ولیده چي اینجن به راروانه وه چي پور دغه ځلي به راغله یا پور هغه پیر چي په مخ کي وورته ناست وو نو بیرته به په شا روانه سوله ـ په دې وخت کي زما پلار یوازې سړے وو چي نه دے د ـ چا مورید وو نه څه پیر ګوړ ځلي اؤ کاني یا ونه په خودایي منله "حنیفا مسلما وماکان من المشرکین" نه څه داسي پیریان منل چي خلك ناجوړه کوي اؤ یا د ـ نري پور کارو واك لري ـ نه څه تاویز ماویز یا د ـ ګوړ خاورې د ـ څه رنځ درمان ګڼلې ـ یوازې دا لا نه چي کني خپلې نه

منلې په ډاګه پې خلک ترّې بندول اوّ پوهول د ـ مولايانو اوّ پيرانو سره پې څېړنې باندې کولې ـ په دغه وخت کې ګوّا د ـ نولسمې پېړۍ په پاے کې په کندهار کې څېړ د ـ دغې لارې پوهان خلک وو خو وو به کنې چې زه خبر يم د ـ کندهاره تر کوّټې اوروبه توله پښتون خوّا د ـ باباګانو پيرانو اوّ څلو په رنګ اخته ولهـ ـ ورو ورو ښّيا دا رنګ کمېده ـ د ـ پښين د ـ کاکړو په سنتيا تپه کې څينې خلک پيدا سوّل چې يو خو پکښې په سر د ـ هيجاز د ـ اودول وهاب شاګرد اوسېدلی وو ـ نو اوس دا رنګ د ـ دې ځاے په پښتنو کې څه کم سوی دی خو لا ستّه دی د ـ پلار مې د ـ تازې اوّ پارسی د ـ لوستو د ـ چالو کيتابنو يوه ډېره ښه پنګه (ذخيره) اېښې وه چې ډېر ګران اوّ بهاګور کيتابونه پکښې وو ـ دا کيتابونه پې د ـ لوستو اوّ کتو دپاره و مولايانو اوّ شاګردانو (طلباء) ته ووركول ـ لکه د ـ اوس وخت لايبرېرې خو ارمان چې څه کيتابونه د ـ دوے په ژوند مولايانو غلا کړل اوّ څه د ـ دوے له مرګه پس ـ اوس ډېر لږ پاته دی ـ په کار خو دی چې د ـ کور د ـ نورو خلکو سره مې دلته خپل د ـ مشر وررور پوړ ژوند هم څه ليکلی واے چې زما د ـ ژوند په زياته د ـ کامې ژوند پخه پېلامه ـ شاګے اوّ ډاډوو اوّ دی که دے نه واے يا دومره کومک نه راسره کولاے لکه چې کړی يې دی اوّ لا يې کوی نو د ـ بلوچيستان خو نه سم ويلاے زما کامې ژوند به هيڅيری دا شان نه وو ـ خو هغه لا ژوندے اوّ زما سم ملګری دی ـ د ـ هغوے ژوند زما د ـ ژوند سره خپله بيان سی ـ د ـ لوستو د ـ چالو کيتابو يوه ډېره

ښه پنګه «ذخيره» اېښې وه چې ډېر ګران اوّ بهاګور کيتابونه پکښې وو .دا کيتابونه پې د ـ لوستو او کتو دپاره د مولايانو اوّ شاګردانو «طلباء» ته ووركول لکه د ـ اوس وخت لائبرېرې .خو ارمان چې څه کيتابونه د ـ دوے په

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

~~اۆخمد دوے لہ مرگہ پس اوس ہبر لیا تہ دی~~ - ٚپلارمی د. مرگ پہ وخت خپل پس مرگی کالخواے ﴿وصی﴾ ٚزما ماما بناغلی مامدالی خان وټاکہ. خو د. کوړ اۆ دباندی ټوله سریښته می موږژر پہ خپل لاس کی واخیستله اۆ د.مېره مخی پښتنے پہ شانے یوازی دانہ چی ٚزموږ روزنہ د.پخوا پہ شان وکړله.ټول کوراۆتول ﴿جایداد﴾ یہ هم خوندی کی اۆخه پیسے یہ هم بچت کړی وے اۆ پہ هغو یہ خه نوری او بہ اخیستے وے ٚزموږ پخوا بها د. ٚمځکی پہ ځاے د.اوپلو دی مشۀ خوړمو وادہ ٚکړله اۆ مشر ٚروړله مے وادہ وکی .موږمی لکہ دمخه چی می ویلی دی پښتو لوستے وله.پہ کندهار کی زوکړمے وہ اۆ پلار مے چی ٚزموږ د.پلار مشر تر بوږ وو مے «ولوره» ٚزما ٚپلار تہ وادہ کړمے وہ.چی گومان می دی چی پہ پښتنو کی کہ نہ وی ٚزموږ پہ کوړنی کی لومړمے مے ولوره وادہ وو.هغه وخت د.دمے تہمے ٚپہ پښتنو کی هغه سړمے ٚدروند اۆ ارزمن بالہ کېدہ چی لورمے پہ ډېر ولور ودېدله اۆنن هم نالوستی اۆنا پوهہ پښتانہ دا کار ډېر ښہ گڼی. اۆ ډېر پہ ویاړی نن هم ناپامہ خلگ د.پینځو زرو خه تر پنځویشت زرو کلدارو پوړی د.لور خوږ ولور اخلی خو پوهہ خلگ پہ ٚزیاتہ ٚزموږ د.کوړنی خلگ دا کار بد گڼی اۆ تروسه ځان جینی گوری.د. ٚپلار پہ شان می موږ هم ډېره دین دوسته وہ د.ٚپلار پہ ژوند اۆ ٚبیا د.هغوے د. مرگہ پس مے کوړتہ واړہ یتیمان ساتل کلہ مے د.خلکو یورتی مے موږہ واړہ ووړله ر وړنل د.یوراۆدو ٚدمځوسیوامے کله کله ځینی ناپېښبہ زیاتوب ﴿نفل﴾ ٚنمځونہ کول چی ځینی پکښی پہ اوکرہ شپہ ایله پوره کېدہ پہ دغه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

منځو کی مې ځیاتره زه مل ګړی وم. ولی هغه وخت می دین هم دغه باله. خو که نوړنه وی دا ګټه خوړا رسېدمې ده چی په خوږ کی می سختی پیدا سوله ډېره سختی ځغملاے سم اؤ د. سختی ېېرېږم نه. موړمی د. پوهنی سره دومره مینه درلوده چی تراویا کالو پوری مې د. لوستو سره سره خه نه خه نوی ځیز زده کاوه. دومری بهادره ښځه وه چی کامی کار اؤ د. انګرېز سرکاره سره جنګ اؤ جېل له تله که خه هم هغه وخت ډېر نوی کار وو. ځیاتره پوهـ اؤ اوچت نارینه به نه په رسېده اؤ موږ مې بندولو خو چی خه وخت موږ دارؤ ونیو اؤ جېلو له به تلو نو که خه هم په دمې کی به کله هغوے ته د. زامنو یا زوے د. بېلتونه سهوا هم ډېر کړاو پېښ سو. یو خل خو داسی، هم وسوله چی موږ دواړه روڼه جېل ته لاړو اؤ د. کوړ اؤتول ټوله زېرمه زخمه یو وار ټیا هغې ته یوازی پاته سوله خو هغوے تر پایه کله هم زموږ په مخ کی خه خندنه پیدا کاوه تل مې په ښه زړه جېل ته د. تګ پور وخت خوداے په امانی راته ویله اؤ د. راتلو پور وخت هر کلے. تر دمې چی د. پاکیستان د. جوړېدو پس چی زه په کوړ کی بندیوان وم اؤ ټیا یه ناسا په اګست کال ۱۹٤۸م کی جېل له روان کړم نیولو له می بلا پولیس سپایان اؤ اؤسران د. پښین ای، اے، سی اؤ ډېر لیویز راغلی وو چی زه خه وخت خوداے په امانی له ورغلم نو د. شپږ اؤیا کالو دمې بهادری پښتنې راته ومې ((زویه پور خوداے دی سپارم که خه هم باور می دی چی ځمانو اوس ډېر ژوند پاته نه دی. چی ته رامځې زه به نه یم اؤ زه

به دې ښیا ونه وینم خو دا د. کوړند ماته څه زنانه غونډې کار ښکارېده تر دې
ځېل ښه دې بیا یه ښکل کړم اوزه مې لا ړم او روشتیا مو ښیانه سره ولیدل. زه په
مځ ځېل کې وم چې دامېړه محمد پښتنه په کال ۱۹٤۹ ع کې مړه شوله. د. مرګ
په وخت زما خپلوانو د. سرکاره زما دپاره د. بنده چوټي «پیرول» غوښتې
وو چې څه ناپیښنه خبره نه وه ډېر وبندیانو له وړکوله کېده او س هم وړ کول
کېږي خو چې اسلامي سرکارانه کې له چې تر ننه د. کوړنی د. ډېرو خلکو د.
زړه داغ دی. زمونږ په کوړ کی د. کوړنی د. زیاتره نوړو کوړوشانته د. کندهار د.
او چتو کوړنو به رنګ ژوند ناسته پاسته خواړه. جامې. مشر کشر اوډېر
شیان د. پښنین او چمن د. ټولو شاا وخوا خلکو څخه څه بېل شانته وو.
په زیاته پوړو ړو باندی څه ډېر بند بنګړندوو. لکه دا چې مشر به ناست وو
کشران که به ډرسته شپه هم ناست وو ټول او چمتو به ناست وو پښنه هومره
بې غږوله نه بې سوله واړه مې نه په کلي کې خان له ګرزېده نه به څوا کی بازار له تلای
سو. نه به د. مابنامه پس د. کوره واته او نه به چاد. نوړو پښتنو رازه پو چې
خبری یا کنځلی کومې. هم دا شان د. زنانو ژوند وو پرده خووه چې وه په
کوړ کی دننه هم ټول ژوند څه مشینی ډوله او پوړتا کلې لا روو.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# وړوکوالی

په ډېر وړوک والي کې مې بله خبره ناپېښه نه وه چې

له دې چې یاد مې دومره تېز وو چې د. ډېر زیات وړوک والي خبرې به مې
یادې وې تر دې چې روستو به مې د. مور سره هغه خبرې کولې چې به نه
منل او ویل به یې چې ته خو هغه وخت دیونیم یا دوو کالو وې دا خبره به دې بیا د.
بل چا نه اورېدلې وي او یاد به دې پاتې شوې وي زه لا د. څلورو کالو پوره نه
وم چې مشر وروړ مې د. کلي د. ماجت مولا له د. لوستو له پاره ولېږل شو. زه به
هم د. هغوی سره تلم او لوست به مې کول خو که څه هم زه د. لوستو ډېر لېواله
وم او په مینه به مې لوست کول او ښه به مې زده کړه کول خو مولا کاکا چې نوم یې
مولا مامد ازیم وو. پلار او مور مې دا زما تګ راتګ هسې لوبې بللې او کله کله
یې خپلو کې ویل به شه دي خي راځي دي په ماجت کې یې وخت هم تېرېږي
او خوږې یې هم سي خو زما به دا خبرې ښې نه لګېدې او نه پوهېدم چې دا
ولې دوی ته زما لوست لوبې ښکاري او د. وړوړدا مې سم کار بولي ځکه ما هم
تله راتله پرېښول.

چې د. پنځو کالو شوم نو سم لوستو له ولېږل شوم. د. ماجت مولا بیا بل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

څوک وو. مولوی مامد یاکوب نومېده .د. اډرامان زوړ د. کلی د. اوڅار پیر
وړوړوو .خو ده خپله پیری موریدی نه کوله. دغه مولا ښیا زما لوست خپل د.
کشر وروړ پوړ غاړه واچول چی ایوب شانومېده. د. روړ سره به اوسېده اوډ.
هغه څه مې کیتابو نه لوست. دا سړی که څه هم د. پیرانو د. کورنی وو خو
پیری موریدی یې نه کوله په شااوڅوا کلو کی یې مولاي. ایمامتی کوله. ښه
جوړ سړی وو په کال ۱۹۳۰م. کی چی موږ کامی کارپېل کاوه دے په ګولیستان
کی مولا وو. اوډ. شااوڅوا ټولو کلو په مولایانو کی یوازی اوتنها مولا وو چی
زموږ مل ګری سو. څه وخت می د. هغو څه اے «الف» یې اوسیپاره
لوستله ښیا مو پلار. مولا آغا مامد نومېده بل سړے پیدا کی اوپه کوږ کی به
راسره اوسېده زه. وړوړ می اوپیو همزولی ماما. مامدایسا خان یې لولولو لوست
خو به زیاتره پلار راته کول خو هغه مولا به راسره ناست وو چی موږ به زده
کړه نو به لا ړو.

په دغه وخت کی می څه ناپېښه خبری یادی نه دی. سېوا له دې چی
پوړ پلار دېر ګران وو. په زیاته زه زما ګومان وو چی ترنوړو وړوڼو خوندو زیات
باندی ګران وم. موږ پلار د. کورنی ترنوړو هلکانو زیات ښه اوسولو. جامې به
مو هم ترنوړو هلکانو ښې وې. د. لوبو شیان ، پنډوس ښتی مردکی ، او بډی یې
ډېری راله راوړلې. اوهره جومه یې څه پیسې د. خرڅ لپاره هم راکولې. خو
بازار ته یې نه پرېښولو وه یې هر څه چی غواړی نوکر به لېږی. که به څه دارو

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

درمل له درمانتون له تلو یا څه بل کار له. اوُ دول کادرلا لا یو سپین ږیری نوکر به راسره ته که څه هم څه څرګند بندبښت راباندی نه وو خو سهار اوُ ماپښین دوه لوست چی څه وخت به باندی لګېده اوُ بیا لوبی ومے یاد. ماما کور اوُ خپل کور. نور چېری به نه تلو داسی راته ښکاری چی مشرانو مو موږ ته نه ویل خو لاری چاری یه داسی ساتلے چی موږ نور چیرته نه تلو یا نه سو تلاے.

په لوستو کی مونوی کارداوو چی نورو هلکانو به د. سپپارے پس د. خوداے کیتاب په تورو لوست خو موږ تے هغه نه لولا وه پلار می ومے چی څه په جوړه نه ده چی نور لوست وکی. سپین کلام مے خپله زده سی. پارسی کیتابونه. «پنج کیتاب» دوے مو په تورو ویل. ورو ورو مو لوست زیاتېدل بیا یه خت هم را ښوو. ګولیستان ، بوستان می وویل زلېخا می په تورو ویله چی د. بده مرغه می پلار یو سړے پیدا کی مولا ادرامان نومېده. ډېر ښه خټے وو اوُ انځورګر (. نقاش یا «آرتیسټ» هم وو هغه وخت ښه خت ډېر ښه بلل کېده اوُ ګوندی په دے ګومان چی موږ به ښه خت تړے زده کو داسړے می پلار په لس رو پیه د. ښا شتی ځاے - دو دی اوُ جامو را له اوستاد که په خټه امدخېل کاکړ د. بر ښاره. خو سړے ډېر خښم جن. مے زړسویه اوُ بدخویه اینسان وو موږ واړه و وپلار مونا اوزګاره وو اوُ مولا مود ډېر ناترسه وو. خوشی اوُمے ښه مے ډېر زیات وهلو ټکولو. سوک څپېړه

خوږېږده غتې لښتې مې راوړې اوږد. ځينا وروشانته يې ټکولو ښځمې په واک نه وو چې يو وار مې وهل پېيل کړل نو د. ځيناور په شان مې ټکولو ښځم؟ وار په وار زياتېده تر دې چې يوه ږوزمې په وهلو وهلو ډوه ځله زه مې هوښه کړم. چې پېرمتې زړه کړي وود. وهلو، ټنګولو اوږاوا لوډ ناپېښه اوښاروا چلومنې زړه وواوپوړ موږ مې کاته. يو دا وو چې ده ځپله ډرمې ميله لري د. لا جور په کلي کې له يو بل موږلا څه لوست کول. موږ ته مې سهار لوست وکړل نو مې کيتاب ته کښېښولو سرونه به موږ ټيټ کړل اوږدغه ځيناور به په مغزي کي د. خاوري چوڼډۍ راوا چوله. ومې يې زه خم اوچې زه بيرته راخم تاسي به هم داشان ناست ياست که ښوږېدلي واست اوږدا خاوره توړې سومې اوږيا ځوځېدلې وه نوږيازه پوهېږم د. ده ډرمې ميله تګ راتګ ـــــ اوږهلته لوست ډرمې ځلوږ ګامنټې وخت وواو موږ واړم وواوسخت ترمې ډارېدو هم نو هغه شان به تر هغو ناست وو چې دانا ځواله به راته.

بل يو چل وو چې پلکه مې وورته ويله د. يوه پړکې يا پوڼډۍ يا ډوارۍ ږښې مې د. دوولر ګوږ ترمنيان وتړلې اوږهغه لرګي مې به په پړي د. خوږني په چت پوري ځوړند کړل اوږد. هلک ډوارې ږښې به جوخت برهسومې اوږدمې ځيناوربه په تلو په غنو واه.

دمې ږلنده د. وهلو ټکولو نه سېوا داچل هم جوړ کي چې موږ به سهار وختي لمونځ د. ده په مخ کي کوږ: نو چې مانځه له به راغلو ښيا به سم دستي د.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چاېو وخت سو اوُبیا د.لوستو وورپېښې د.خت اوُبیا د.غرمې د.ډوډۍ بیا د. خوب اوُهم داشان دما خوستن ترمانځه پورې ګواچې سهار به په پټ لمر د. کوردرا ووتلو نوما خوستن خوب له بهٔ ايله کوړته تلو اوُدرسته ژوز به مود.دمې جيناور سره ګوزاره وه چې هم د.زلندهٔ ځيناور شانته جينې ببرېدو اوُهم مود.بدلبوه رنګه کړکه ترمې کېدله.د.جومې ژوزی ته به مو کان سو چې ځپل کور.مور.خوندې ووینو اوُد.دمې ناوړینه بچ سو.دومرمې ببرولي وو چې داهرڅه مو ګالل خونه موپلار ته ويلاے سو اوُنه موریا خوندوته.وړور اوُمامامی لږ بنبه وو ګوزاره یه کوله خو زما تنکی زړه دا ژوند نه سو زغملاے داشان وم چې د.هرڅه نه ببزاره ټوله ژوزبه ځان لهناست وم اوُدا چورت به می واهه چې دالوست اوُزدکړه دی څه بلا ؟ داتوری کړبنی اوُد.هغو لوستل که د.سړی زدهٔ سی اوُکه نه نو څه په جوړه ده ؟ اوُدا پلارمی چی زه دومری باندی ګران هم یم د ومری می نازوی خود.دمې خوشی کار د پارمې وه دمې بدسړی ته په لاس وور کړی یم چې دومری می کړوی .کیتاب به می مخ ته پروت وو اوُزه به په دمې چورت کی ووړک وم.پاے یه دا چې هیڅ به می زدهٔ نه ووا اوُبیا به مولا وو اوُبیا ټکول.پلار به می کله کله کیتاب رانه پوښته خو زما به څه زدهٔ کېدهٔ نه تر دمې مولا وړاندی به می د.زلېخا ډوهٔ څه په وخت لوستل خواوس به یوهٔ میسری یا نیم بیت پلار په ایزګی ﴿پېزو﴾ راسره وایه اونه به می زدهٔ کېده.هغه هم ډېر پریشانه وو چې دا څه پېښه سوله.د.مولا اوُ

نوروٚ خپلوانو سره مې ویل چې د.د مې هلک به پاے څه وی ؟ خو د.ښه مرغه یوه ږوز د. جوړې په ږوز می مشری خوړ جامې رابدلومې اوزه هغه بله ږوز مولا ټکولی وم ټول خان می ښپے لښتی او پولې وو .هغې ومې دا څه دی ؟ ماومې مولا وهلی یم ؟ د.هغې خو دا ګومان وو چې دا یوه ږوزمے وهلی دی خوښیا هم په ژړا شوله. زمے مورله بوټلم هغه هم ډېره پرېشانه شوله خو دا باور مے لکه چې نه وو چې پلار به می کنی د.دمې په خوله د.مولا چارهه وکی ولی هغه وخت به ټولو اوستادانو شاګردان وهل او دا پې ښه کار باله تر دمے چې شیخ سادی لا هم واي.

د.بابا تر نیاز بین ښه اوستا تر تلی ع « جور اوستاد به زمهر پدر »

څکه هغې امه د.پلار خوړ.له بوتلم . چې تر پلار می مشره زړه ښځه وه کونډه سومے وه زوے یه نه وو نو د.پلار سره می اوسېدله د.هغې خبره می پلار نه شوه غوږ څولاے .هغې چې ولیدم پلار مے دا وغوښت ډېرمے وکانځه ومے ستر ګی نه لرمے دغه ډوه واړه زامن لرمے او هغه دی د. دمے لنډهر په لاس وو رکړی دی چې دا سے وهی د.غم لوست په ومکے په اوردی پسے سی داسی لوست دا شان موړ د.دمے بلا څه بچ سولو.دغه مولا ادرامان تر اوسه لا ژوندے دی. زموږ د.کوره د.تلوپس لکه چې د.انګرېزانو په موخبیری اخته وو.په کال ۱۹۳۷م کی زه په کوټه کی د.کامی کار لپاره اوسېدم دے سپین ږیری سوی وو څاے له راغی مېلمه می سو.ډېری ږوزی راسره اوسېده. خلګو

به راته ومے * چې موخبیری له راغلی دی خو مارے نه پکښې واصه
میاشت دومے .وېنیا ولاړ. کله کله یه اوس هم وینم .په موخبیری لا لکه چې
اخته وی له دمے مولا پس می پلاریوبل مولاراووست مولا شبر مامد ساګرے
ښه لوستی هم وو او د ورو په روزنه ډیر ښه پوهېده. د.وهلو په خاطے په
نازستایلو اوباتو راته لوست کول .اوبل یه دا خوے وو چی په لوستهې
پوهولو. هغه داشان چی تر لوستو دمخه یے لکه د.نن زمانے د.پوهنځو (
کالیج ) اوستادان (پروفیسرز) یولس مینته په پښتو د.هغے روزی د.
لوست (سبق) مراد او ګرانی خبری راته بیان کړلے .په پورے یے کړلو بیایے
پارسی یاتازی توری راته وویل .پاے به دا سو چې یوازی دا، چې لوست به
می ښه زده کېده د.لوستو او کیتابونو سره می مینه پیدا شوله تردے چې د.
جومے او اختر په روز به هم ما خپل لوست نه پرېښوو. په ښپږ اووه کاله کی
می د.هغه وخت د.لوستو تول پارسی او تازی کیتابونه ولوستل او څه پښتو
هم د.دے مولا بل دا ښه کارووچی د.ښاغلی ایمام غزالی پارسی او تازی
کیتابونه یه هم زده وو او هے خوښ وو. ماتے د.دوډ (فقه) ویناوو
(حدیث) توسیرو (تفاسیر) سره د.غیزالی دغه. کیتابونه هم تول ولوستل
په وړوک والی کی می د. مولا ادرامان د. ناروا زیاتی د.شپوچپ بله
خواری نه ده لیدلے. پور پلار ډیر ګران وو او ډېرے ښه اوسولو. جامے یے
دومره ښې او ګرانی راکولے اوپیسے او د.لوبو شیان هم چی یو وخت یه یوه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مشر تربور شېر مامد خان کاکا وورته وویل چې" دا زامن دومره ښه اوسوے بدخرڅه اؤسرزوره به اموخته سی اؤلکه د. کندهار ایغبال خان د.دوے د. لا سه به مرېږے" د. خوږو په هکله هسی هم زموږ د. کور ژوند ډېر ښه وو اؤ ښیا مې پلار ډېر مېلمانه درلود اؤ پښتانه مېلمنو له هرو مرو ډېر خرڅ کوی.له دے سبوا یه د.کور د. پخلی واک ماته راکړی وو هره روز به مې موږ اؤ خوندو رانه تپوس کاوه چې څه پاخه کو.زه وړوکی خووم اود.هر وړوکی ښه خواړه خوښ وی په خرڅ .ژیان اؤ کړاو یه خبر نه وی نو ما به ډېر څه پر مایل ځکه چې د. کورنی تر دوړلاندی د.کور ټول پخلے به مې موږ اؤ خوندو خپله کاوه. تراوسه هم زموږ د. کورنی دغه دوددی.نو هغوے ته به دا کړاو ګران وو اؤ زما بے ډېری خوشامندی کولے چې ډېر شیان نه غواړم اؤ کله به راسره په جنګ سوملے زه په رنګ د. کورتر نورو خلکو سکنی ﴿گندم گون﴾ وم نو خوندو به په خبنم کی زه توریا تور کے بللم.موږ به مې ومے چې"تور رنګ خولا ښه وی تور د. تورو اؤ ژیړ د.نجونو وی" د.موږ دغی ویے شانته ستاینی اؤ د.پلار دے ناز چې د .پخلی واکے راکړیه وو زما پور ژوند ډېر بړید کړی دی په کال کی د.اپریل اؤ ستمبر په میان کی ډرمے خلور واره به پلار د.خان سره کوټی له د.سیل اؤ مېلے لپاره بیولو کله مے د.مولا سره ولېږلو.په اپریل کی د.پالودے مېله وه.اؤ د.ګولا پو.په جون کی د.ګرمه ختیکو.په ژراندو ﴿عشره محرم﴾ کی د.تکیو ﴿تعزیه﴾ مېله وه اؤ داشان نوری. که څه هم د.لوستو له کبله اؤ د.کورنی د.دود

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

له مخې د ستړه زوړ زموږ. ډېرې تر خپله کوټه (مهمان خانه) اوباغ نه وتواونه وتاې سوې خوتنګ نه وونه دا بند بنت را باندې باروو په کوټه کې به موږ د. پلار په شپو کې هم د. خلکو ګټه ګوښه وه او د. پلاره پس به د. ملا شهر سره هم نوزموږ به هم سات پکښې تېر وو.

د. وړوک والي یو کړاوې داوو چې پلارمې اوتولې کوړنې موږ د. یونانې درمانیانو (اطباء) درمان مانه د. کوټې هکیم ګوپالداس او د. هغه پلار تولارام د کندهار د. شپو خخه زموږ د. کوړنې درمانیان وو. تولارام زمانه دې یا د. خو ګوپالداس مې لېدلې وو شپینه غته ږیره یه وه. ښه لوستې د. پارسې اوتازې مولا وو د. پلار سره به مې د. خوداې په کیتاب او د. ایمام غیزالې پوړ لا ښه پوهـ (فیلاسفې) باندې خبرې کولې. دغه ګوپالداس به زموږ وه تول کوړته په کال کې یو وار د. سپرلې په سر کې ډېرې زوزې جوشاندې را کولې چې د. ډېرو دارو ګانو سره به سنا او ګولاپ پکښې وې ځکه ډېرې بد خونده او بدبویه وې او بل به ډېر شې وونیژدې ډېرې باوه سېراوه به وې بیابې ډېر دستونه او دردونه د رلود او بیا یوهـ هوته ډېر سخت پرهېز. ځکه دا یو ډېر لوې کړاوو چې په کال کې یو وار موږ تر تېرېدو بله خوارې داوه چې د. کوړنې خلکو په کال کې یو ځل د. منې په سر کې وینه ایستل ډېر ښه کنېل. ځکه په کلي کې د. وین کښانو ډوهـ ډېرې کوره پراته وو او په کال کې یو وار هرو مرو د. اوږو د. میانه او د لکلمې د. چاربندوینې کندهارې ترورراخخه

ایستلےداهم دکال سخته ړوز وه.پلار به مو کله کله د.ړاندی روزنی په هکله راسره خبری هم کولے چی څه داشان به ومے چی څه پارسی اؤتازی لوست وکاندی اؤ څه غټ سی نو به بائیسکلان دروا خلم . بائیسکل هغه وخت د. موټر شانته وو. زموږ په کلی کی ډوو ډرو کسانو درلود خلکو به سیل کاوه.نو به سر کاری ښوونځی «سکول» له ځی. اوردو به وا یاست بیا به مو ګوټی له لیږم چی انګریزی زده کی.

په وړوک والی می لا روغ واله ډېر ښه وو. مشر وروړ می څه کرندے «لرناجوړه» وو ځکه.په لوېوزه تر هغوے پاری وم .

چی پلار می ژوندے وو زه بے خپل په خوا کی بیدولم اؤ راته به نکلونه اؤ بودمے کولے کله بے له ما اروېدلے .تر دغه وخته لا زموږ د. کاله کلی اؤ هولکے په پښتنو کی د.نکلو اؤ بودوږ ډېر دودوو خینی خلګ وو چی هغوے به په ډېره ښه توګه اؤخوږ ووینا نکلونه کول اؤ نور خلګ به ډېر ګڼ وورته ناست وو.یو هیوه بودو یا کله به د. یومے بودے بو ښناخ د.ژمی په ډرسته اوږده شپه کبدی.

داشان غونډی به زیاتره په ژمی د.چا خان یا بل ژوندی سړی پوړخاے کېدلے ډېر خلګ به وورته راتله اؤ د.کوړ خاوند به چاي اؤ چیلم وورساوه. دا بودمے به زیاتره د.پښتنو هغه کامی بودے ومے چی د.کابل پښتو ټولنی په "ملی هینداره" نومی کیتاب کی چاپ کړی دی. خو چی زما یاددی د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دغو نکلچیانو ﴿قصه کو﴾ ژبه د. کیتاب تر دمې ډېره خوږه اؤ سوچه پښتو وه.
داشان غونډې به د. ښځو هم کېدلې دومره بړیدېې درلود چې ژیاتره به نرو اؤ
ښځو ژړل اؤ چا به مې واکه د تکل کارینده ﴿کردار﴾ له د. خایه سره سمی
په زوره درهاوی اؤ ښراوی کولې. هم داشان هغه وخت خینی لوبی ومې چې
خلګو به د. ژمی په شپو کی د. کور دننه په جمه کولې یوه پکښی خلیخی.
خلیخکی یا کچه وه چې د. یومې ډلی یوه سړی به یووړوکی خیز ژیاتره به
ګوتمی وه په موټه کی پټه کړله اؤ د. هغې ډلی ټولو خلګو به ډواړه لاسونه یو
شانته موټ کړل اؤوړاندی مې کړه د. هغې بلی ډلی یوه یا ډوو کسانو به په
دغو ټولو لاسونو کی هغه ګوتمی لټوله ژیاتره مې د. سړی د. رنګه. وینا اؤ کتېدلو
﴿حرکت﴾ څخه د. خان پوهی ﴿علم النفس﴾ په زور پیدا کړله. بیا به هغه
بلی ډلی پټوله اؤ دمې لومړی ډلی به پیدا کوله. هم داشان د. روزی لوبی ومې د.
کال د. هر وخت بېلی بېلی خو ژیاتره به په ژمی. ښځی یا مردکی اؤ بډی ومې
اؤ په پسرلی به جنګی کامی لوبی ومې لکه. هښډه ﴿ګول کبډی﴾ خوسې
(Cock Fighting) چې سړې په یوه لاس د. هغه بلی خوا څپله پښه
ترشاونیسی پوریوه اوزګاره پښه منډی وهی اؤ په یوه اوزګار لاس جنګ
کوی. کاکی ﴿ګولی ډنډه﴾ اؤ نوری. داسی لوبو اؤ غونډو له به پلار کله کله
د. اوډول کا در لالا سره لېږلو.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"هے توبه د. بده ملّه څه هے توبه"

پلار می تمباکو نه کول نه نسوار نه چیلم .نو موږ هم چی لا واړه وو دا شے مونه پېژاند. خو د. بده مرغه یوه شپه می پلار کشره خوږ په غبر کی کوټې ته راوړله هغه مولوبوله چی هغے ناساپه د. پلار له جېبه د. پیسو کبڅۍ. پته کیدانه یا بتوه را وایستله اؤ په زوږمے وبنوروله. روپۍ اؤ ماتی پیسے یه په خونه کی وپاشلے چی موږ بیرته راټولی کړلے. سهار چی موږ لوستلو له وختی راغلو په یوه کونج کی یو څلور اینځ پروت وو. دا موږ واخیست که څه هم نه په غلا پوهیدو اؤ نه د. غلا په توګه وو خو په دمے نه رسېدو چی څنګه یے لګوو ولی سودا خو به راله مشر نوکر راوړله اؤ دا تپوس به کېده چی له کمه موږ. په دمے کی مو یو بل نوکر چی دا دن نومېده هسن زے وو راغی روے ماتے راکی زه به خوږمے درله راوړم موږ ورکی اؤ هغه د. دوه اینځ خوږمے راوړے اؤ اته ډبی یه د. لیمپ سیګریټ راوړل . اؤ د. سیګریټ چلے رازده کی اؤ داهم چی دابه په باغ کی پټ خاے پروت وی اؤ تاسی به په اوزګار وخت کی وورڅی څکوی ہے. بس هغه روز اؤ نن ورز دابد خوے داسی راسره ولګېدی چی بیا پاته نه سو. په میاشتو اؤ کلومی په جبل کی اؤ باهر پرمے اینبی دی خو بیا څه نه څه پلمه راپیدا سی اؤ بیرته پېیل کم هم داشان می مشر روږدی.

خبر نه یم چی کوزته می لږ ورانی اؤ شرارتونه کول که ډېر خو دومره می

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

یاددی چی د.چا بده ښکه خبره یا ژباتے می نه ژغامه. تر دمے چی د.پلار داهم اوُنه د.پلاره پس د.ماما داچی زموږ کالنځواےوو.دا دومے خبر ی می یاددی اوُده کوږ مشران نراوُ ښځی یه تراوسه یادوی.

د.اتوُنو کالوبه وم چی پلار مو دومے مشهدی لونگی رالهراکړمے چی هغه وخت ډیری گرانی ومے په پینځوس ټیسته روپی ومے چی د.نن سبا ذرمے سوه روپی جوړیږی.نوموږ به د.تورکی خولی په ځاے لونگی تړلے.یو وخت گرمی وه پلار می مشر وروړ ته ویلی وو چی گرمی ده ته ولی پټکے په سرومے ټوپی په سر که.هغه ووړته ویلی وو چی خودے هم پټکے په سروی.

پلار می ووړته ویلی وو چی "هغه خونادیده" دی گوا مخ کے لونگی نه لرله اوس چے پیدا کړله نو تل یه تړلے وی دا خبره می وروړ راته وکړله .زه دومره خوابدی اوُ زهیر شوم چی هغه لونگی می موږته ورکړه اوُ ووړته می وویل چی د.دمےلپاره زه پلار نادیده بللی یم زه بیا دانه تړم هیڅے هر څه راته وویل چی دا بده خبر د نه ده.اوُ که وی هم نو پلار دی کړے ده خو بیامی هغه لونگی ونه تړله .خبر نه یم چی موږ می پلار ته ریلی وو که نه اوُ پوږ هغه به دا خبره څنگه لگېدلے وی ؟خو د.ماڅے نه تپوس وکی اوُنے په خوابدی پوه سوی یم

د.پلار د.مرگه پس به د.دوولسو ډیارلسو کالو وم د.سروښته می لوړے کړل اوُ د.پښتو خلمو شانته می څوښی ټپے ډیرښوډے خو لا پوره سوی نه ومے چی ماما می ولیدلے او زما په ښته خبر سو.ځکه چی په کورنی کی د.ودو لپاره

ډول ( زینت وآرایش ) بند وو او ښوبني د. ډول ښیز ګټلي کېدې نو هغوی راته
ویل دا وخریه. خوما خان ناګومانه واچاوه دربېښلور زوزی پس چې هغوی
ولیدلې نو په زوره اوږمامې ښوبنی به راوخرپلې ماد. هغوی داکارد. خان سره ژیامتې
وګانه ښوزوزی دبر زهیروم ټیامی په زره کی داجوړه کړله چی بدله به ټومې
اخلم او هغه داچی د. هغوی یوه وړه لوږ وه د. ډوډرو کالو ډېره ساتېرې
ټجیلي وه اوس هم ژوندۍ ده ډېر ښکلي سره سره وښتان یې وو. دا ټجیلي مې
له کوره په غیږ کې د باندې راوایستله او یو ځای مې هغه وښتان په ټیاتی
پاك وورو کتېیل. نو مې ښېرته کورته وورایله کړله. د. کوربنځنو ډېره ښوابده
کړله خوماما مې هیڅ راته ونه ویل په ټوکمې ترډېره رایادوله خوځه بدمې
په وړی نه دی. ژما ښوروا. د. ښتنو او ځار کتغ یا پخکړی خوبن نه وو. او د.
کورد. نورو خلکو لا څه د. تولو. پښتنو خوپړېړده د. کردو
آرین کامو هغه کامی خواږه دی. هغوی دانه پړښوو. او
ژیاتره مې پخوله. نوچې کله به کورته دغه کتخ وړما به
څه ویل نه خو په لږ. ډوډی. پوری به وځ. ښوروا غوښی ( یخنی ) څه وخوړلې او
بس ګواشوم به پاته سوم داکار ترډېره وچلېدی. او په پاې کې د. کور مشرانو
وویل چې "غل نه اوړی مل دی واوړی" او ژموږ په کورکې چې زه به کوروم داکتخ
به نه پخېده. داګوا ژمالو مېرې د. ژغم جنګ ( ستیاګرهه ) وه چې سرته مې
ورسوله.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه



د. بابای پښتون د. ارزمن پلار شبیه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د. پلار مرګ

ژوند ښه په مزه روان وو چې پلار مې په کال ۱۹۱۸ کې

چې د. یورپ لومړۍ لویه جګړه پوره تمامه شوې وه. د. پیچ په رنځ ناجوړه شو. هر څه درمان چې کېدای شو وشوه کې. ګوه پالاس یونانی درمانی د. کوټې او یو کریشتان ډاکټر له چمن څه راغله خورنځ ښه نه شو او شل ورځې پس هغوی خپل خدای ته ورسېده.

زه د. لسو کالو وم د. پلار د. مرګ په نور تاوان نه رسېدم او نه د. سره په مرګ پوه وم چې څه وی خو دا مې لیده چې د. چا به پلار مړ وو هغه به خلکو یتیم باله. او هره مړوې نتلې (مظلوم) او بې وزلې ګڼه هر چا به داسې خوا خوږې وو رسره کوله چې ماته به هغه وړو کې شیک او بې چارې ښکارېده نو ځکه چې سهار خلور بجې د. کور د. زنانو او لویو وړو په ژړا د. خوبه راویښ او پوه شوم چې پلار مې مړ سو نو ځان راته یتیم نتلې (مظلوم) بې چاره وه هر چا ته اړاوړ د. هر چاد. خواخوږې وړ ښکاره سو نو په ژړا شوم. د. یتیم

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

والي د اکهانده مي په زړه کې دومرې ټينګه وه چې سهار د. پلار د. پتارۍ ﴿جنازه﴾ سره روان وم که څه هم د. شا او خوا کلو په سوونو خلک روان وو چې د. کلي خلک وايي چې د. بل چا د. پتارۍ سره دومرې خلک هيچېرې نه دي راغونډ سوي. خوزه په هسکار د. يوه يتيم هلک سره روان وم چې مامد رهيم نومېده ساګزے وو ګواوه مي چې. "د. يتيم مې يتيمانو غم خوړ خوک دي"؟ هم د. دمے اندېښنے له مخې چې چا به هم داسې خواخوږي راسره ښکاره کوله لکه چې خلګے د. يتيمانو سره کوي او ښه کارے ګڼي نوزما به بد راتله ځکه خپله مي نه چېرې يتيم. يتيم بللي دي او نه مي چېرې داسې څرګنده خواخوږي وسره کړے ده. زه چې وام په دمے به دوے هم داسې زهير پړې لکه زه چې زهير بدم.

د. پلار د. مرګ زموږ پور ژوند څه خرګند بدلون نه سو ولې موږ او ماما موږ زموږ ژوند. لوست. خوراک پوښاک او خرڅ مخ له هغه شان وساته لکه چې د. پلار په وخت کې وو.

چې زه څومره د. لوستو لېواله کېدم هومره لوست راته اسانه کېده د. جوړاون ﴿ګرامر يا صرف او نحو﴾ سبوامې د. تازې ټول د. لوستو چلاند ﴿مروج﴾ کيتابونه ولوستل. د. کيتاب د. کتلو په چل او خوند پوے سوم. او لوست مي داشان سو چې خان له به مې کيتاب کوت چې چېرې به نه سوم پوے نو هغه ځاے به مي د. مولا شير مامد ساګزي څخه پوښته.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# پښتو لوست

پښتو لوست. ښه مې يادنه دي چې کله څو د.پلار د.مرګه پس يو وخت ځمونږ مولا او د.پلار د.وختو هغه مشرنوکر او دول کادر لالا . سره ګايده او پوردمے خبره يه ارمان کاوه چې خلک اوس پښتو نه لولي.د. اوستازمی دا خبره يات ده چې وے « ښه پښتو ډېره ګرانه وي د.هر چا نه وي ځده . په ډرست کندهار کې پښتو ياد.ملا کوتب اخوند تو خي ځده وه يا د.ښاغلي پتمے خان اڅکزي ( ځما د.پلار تره چې د. کندهار ګورنر وو ) نو که څه هم پخوا هم ځمونږ په کور کې پښتو لوسته کېدله پلار به مې مور او خوندو ته پښتو کيتابونه لوستل. خو خلکو دا ګڼل چې پښتو د.زنانو د.لوستو شے دے نو ما هم داسې ګڼله او کله مې هم دمے ته نه وو پام سوی چې پښتو دې ولولم خو چې دا خبره مې واورېده چې پښتو ګرانه ده د. هر چا نه وي ځده د.چا چا ځده وي نو مې په زړه کې د.پښتو د.لوستو او ځده کړې ليوالي پيدا سوله څکه چې زياتره واړه ګران کار او داسې کار خوښوي چې هر څوک يے نه سي کولاے. يا ځما خوے داسې وو. نو مې په ډېر زور او ستاز دمے ته ناچاره کې چې څه پښتو کيتابونه راته ولولې .خو هغه نور ډېر راته اسانه وو ژړمي وکتل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

څه ګړانه او د. پوهنې خبرې پکښې راته نه سوې ښکاره څکه مې ډېر خوښ نه سو. يادينې خبرې وې چې ما پخوالا په تازي كيتابو كې لوستې وې ياد. ملنګي (تصوف) خبرې وې او هغه هم وهاپيز[١] رومي او غيزالي ته نيمګرې ښکارېدې. په خوشال خان ځکه نه پوهېدم چې لا په پښتو نکامولی نه رسېدم. خو يو كيتاب مې ډېر خوښ وو. چې ښيا مې نه دی لېدلی څپل مې چارا څخه پټ کې او بل مې لا نه دی مونتی. هغه وو د. ميرزاد. دېوان يو چونګ انتخاب چې د. کندهار چاسوداګر په بمبي کې چاپ کړی وو. مولا مې د. کندهاره راته راغوښتې وو. لومړې سرې دا يا څه دا شانته وو.

---

[١] هـاپيز (حافظ شيرازي) ماځکه د ـ ملنګي (تصوف) په پوهيتانو کې بللي دی چې هغه وخت د ـ کندهار مولايانو به په زوره د ـ ده پوهيتې پور ملنګي (تصوف) برابروله لکه دا چې "مې" دو ساله و معشوق چارده سالهٔ کې بې مئې دو ساله مراد د. خو داې كيتاب (قرآن) اخيست چې په دوه ښاره. مکه او مدينه کې راغلې دی. په دوې زمانې کې او د. يو وينا (حديث) له مخې دوه واره يو خل وړو وړو آيات او بل خل يو ځايي راغلي دي او د. "معشوق چارده سالهٔ" څه بې مراد نې او مبارک اخيست خو د. هيجرته پس چې په دين کې جهاد او جزا هم راغلې وه ګوا ديارلس کاله د. مکې ژوند او څورلسم د. مدينې

ما چې وکوت په خیر خیر د.معنی ولی+ د.وحدت پورکنکن میشت د.کشرکلي داشانے د.اټکل ﴿منطق﴾ گراني خبری ډېری راوړی وې. خوله دې پسی می د.پښتو سره دومری مینه پیدا شوله چې بیا مې هیڅ پښتو لیکلې شی نه دی لیدلی چی په ډېره مینه مې نه وی لوستی. اؤ نه مې د.پښتو څه نوی توری متل یا پوهیسته اروېدلې ده چې نه مې دی وی زده کړې تر دې چې اوس خو د.ژوند مراد هم پښتو ده.اؤبا ورلرم چې که پښتانه نور هیڅ هم ونه کی خالي پښتو خپله کی اؤ خپل ټول سر کاری او ځانی کارونه په پښتو کوی .پښتو لولی لیکی اؤ پښتو وایی نو به د.دوې په سل کی که نور نه اتیا برخی کاروسی . هم بې خپله وروری خوږه سی اؤ هم به د.نورو خلکو د.هیلی اؤ جنجاله وخېژی او د.هغو سره بې وروری پخه سی .

# ښووونځي

«سکول» په کال ۱۹۲۰م کې زه د. دیارلسو کالو وم خپل د.
مشر وروړ سره د. ګولیستان میانځي «مډل» سکول ته ولېږل شوم. اوږخکه
چې مور پوره ګوستی وونو یه په دریم ټولګی کی واخیستلو. که څه هم
ازموینه «امتحان» ته لږ وخت پاته وو اوپه میان کی د. ژمی چوټی هم وې
خوبیا هم مور ښه وختلو. په چوټو کی څوروخته د. کلی یوه ماستر. مولوی
اودول کبیر. خو دا دمې وبخښي کورته لوست راته کول

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ناجوړي

چې زه ډېر سخت ناجوړه شولم. پوهه نه یم چې څه رنځ وو. یو ووکه ډېر پله ګډ وو. ژماد. ژوندتر ټولو سخت څورووو چې څنګه مې لوموړي روز ته شوله. پر کاله اوږې هو ښه ولوېدم او بیا درې دېرش روزي پس هله را په خود شوم چې ته مې درې روزي مخ کې لا شلېدلې وه. خو دومرې تپ سوی وم چې نیږدې لس روزي پس مې د. مور سره پورد ې جنګ وو چې زه و ږ ېی یم نو رخواړه را کې او هغې را ته ومې چې ته کمزوري یې ډېر خوراک در له ښه نه دی. ما نه منل په دې کې مې ماما راغی هغه را ته ومې چې ښه دی که ته خپله د. بل ټوکومکه را پورته شو ې نو هر څه چې ته غواړې در ې کو. زما د پاره هغه وخت دا ډېر لوی کشیش وو خو چې هر څه وس مې و کې او زوړمی ولګاوه او روښتیا هم داده چې ډېر زوړمی ولګاوه خو را پورته نه شولم. نو هله مې زړه ته ولوېدل چې روښتیا ډېر تپ سوی یم. په دې رنځ کې ډو ې خبري ډېري ناپېښه ومې چې بیا مانه خپله لیدلي دي او نه د. بل چا یو هه دا چې په ټول رنځ کې زاوال او کړاو خوږ ډېر. ده ډېر په مزه وم ولي پر کاله دیماغ مې د. خوشالي. بړم او مزې په چورتو سروو. پور جوړو خپلوانو مې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ډېرې خواري تېرې سوې وې.ډېر کړاو اؤ خرخونه خوزه په ډېرو مزو سره وم. اؤ ډويمه داچې دومره تېښ سوې وم چې د. جوړېدو پس هم نيژدې ترشلو شپو پوره په ښه کې نه وم پرته به ويدم. اؤ بې هوښه به ګايدم خو کله کله.په ښوونځي کې ډېر خوشاله وم.يو خو لوست راته اسانه وو اؤ بل څکه چې زه په پارسي اؤ تازې کې پوره لوستې اؤ پوه وم تر دې چې د. خوداې د. کيتاب مراد مې روان په پښتو پارسي اؤ څه وخت پس په اوردو هم بيانولاې سو.نو د.ښوونځي اوستادانو ته چې زياتره پنجاپيان وو دا خبره ډېره ناپيښه ښکارېدله اؤ زه بې ډېر نازولم .ښوونځي له چې به څوک انګرېز يا هينکې واکوال راغې،نو مشر اوستاد ﴿هيډماسټر﴾ مولوي پزل دين چې د.پنجاب د.کپورتلې په رياست کې د مخسود پور نومې ځاې .ښه پوه .دين دوسته .خواخوږې،اؤ خواري کښ اوستاد وو به زه وړ وړاندې کولم چې داوړ کې دومره لوستې دی اؤ هغوې به کله پارسي اؤ کله تازې رانه پوښتله اؤ ډېر به خوشالېده د.دې کار داپاې سو چې په لږ وخت کې د. ښوونې ﴿تعليم﴾ د.ځانګې سره د. پښين د تېرې ﴿تحصيل﴾ د. کويټې د. پلو ﴿ضلع﴾ اؤ ولات ﴿صوبه﴾ واکوالان ټول په ما خبر سو زه بې پېژاندم زما په لوستو اؤ ژوند کې بې راسره خبرې اترې کولې زه په څلرم ټولګي کې وم چې د.پښين يو پنچاپي تاسيلدار کازي اؤ دول ازيز خوداې دې وبخښي به تل د.ګوليستان د.نايب تاسيلدار په بالاېي ډاک کې ماله د.لاهور هومايون اؤ

شباب پاړکوټی ﴿رسایل﴾ رالږل .د.دغه تاسیلدار زوی ښاغلی، کازی ایغبال مسوړ ﴿اقبال مسعود﴾ نږساد. کارخانوړ.ځانګی کشرډایرکټراوّده ښاغلی شاه‌زمان د.دغی ځانګی د.سکټرزوم دی.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ازموینه

هغه وخت څلرم ټولگی د. لومړی ښوونی «پرایمری تعلیم»
اوستری کال وو. د. هغه پس به هلکان میانځی «مډل» ښوونځو له تله ځکه
د. ټول ولات «صوبې» د. هلکانو یوځایه ازموینه کېدله اوډ دروتنو لومړی
ډویم، ډریم هلک ته به سرکار د. څلورو کالو اړه «وظیفه» وورکوله. زه هم
دغی ازموینی له کوټي ته ولېږل شوم. د. بېلو ښوونځو نیژدې شپېته هلکان
راغلی وو. ښاغلی مولوی نجم دین اینسپېکټر ازموینه اخیستله. ورو ورو
هلکان پاتېده پاتېده چی ډریمه زوز. زه. ښاغلی مامدازیم خان چی اوس د.
بندوبست اوٚ سردی. اوٚ یو سیگ سردار مان سینگ اوٚ د. هغه کشر وزوږ
څلوږ کسه پاته شولو. گومان می دی چی یوه هوته دا ازموینه روانه وه چی
لومړی ډویم اوٚ ډریم تر راووزی د. ټولو خانگو ترد ې چی د. رکوم هیندسو
«پکی رقوم» لا هم وسوله زه. لومړی، ښاغلی ازیم خان ډویم اوٚ مان سینگ
ډریم وو. په دمې خوشالی کی زموږ په ښوونځی کی لو په غونډه وسوله اوٚ یوه
زوز چوټي هم.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# کامې لېوالې

: د. کوړنۍ .کوړ اؤ لوستو پازه ووکه څه بل ښیز په
ووروک والې مې لا د.کامې کارو سره زړه وو خو دومره چې یو خو به مې تروسه
د.خوارانو خسمانه کوله.د. خوارو وړوپه لوستو کې به مې لاس کاوه .د.
خوارلسو کالو وم چې د.دغې بره!زموینې له مخه سرکار راله ډوولس روپې د
.میاشتي اړه «وظیفه» راکړله.ما به دا پیسې مشراوستاته ورکړلې چې د.
خوارانو هلکانو کیتابونه کاپۍ ، کلمان په واخلی یا به مې ځپله
وورواخیستل زموږ د.کلی خیر مامد ،تور ،سالې مامد ،مهرے اؤ نور داسی
هلکان وو چې ما به وورسره لاس کاوه هغوے لوست وکړل اؤ اوس خیر
مامد.کانونکورے دی اؤ سالې مامد ځپل کارکوی د-دمے څه سهوا مې نوکامولی
د.دین سره تړلې ګڼله اؤ یا د.نړۍ د .موسلمانانو د.باچهیو اؤ باچهانو سره.
لکه د.هغه وخت زیاتره پښتو اؤ د.هیند موسلمانانو چې ګڼله ځپل وه هیواد
هوبکه اؤ شااؤ خوا خلکو ته مې لا پام نه وواؤ نه مې څه په جوړه بلله د.کابل
د.باچا سلامتی اؤ تورکانو آزادي مې د.ایسلام ودانی اؤ ځپل د.ژوند مراد
باله .خکه په دغه وړوک والې مې هم.د. انګورمے په پنګه کی چې زموږ د-

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښووونځي مشرا وستا په غلاتولوله په ځوښنه خه پیسې ورکړې اوّ د.یونان د.ماتي په خوشالي کې مې د. ځونورو هلکانو جرګه ﴿ډپیوټیشن﴾ مشر اوستا له بوتي، اوّ چوتي موجيني وغوښتله په دمې لا پوې نه وم چې د. انګریز سرکار ښووونځې دی ه خوشالي څنګه کواے سی. خو مشرا وستاز مو ډیر خوشاله سو اوّ ډیرې وستایلو دایه راته وویل چې سرکاري ښووونځې په دمې خوشالي کې څنګه بندولاے سم .اوّبیا یه د.نورو اوستادانو سره مرکه وکړله اوّ د.سیل ﴿ایکس کرشن﴾ په پلمه یه ښووونځې بند کی. اوچوتي یه راکړله .

کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

# د. اوغانیستان د. آزادی جنګ

که څه هم زه ډېر کم وم خو دغه جنګ

زما پور ژوند ډېر بړیدوکی. دا جنګ ډېر لږ وخت لغړ خو میاشتی وو خو
خکه چی موږ ته نیژدې لا زموږ په کور کی وو. خکه یه هر څه موږ ته څرګند
وو. کوم ژوند اوښور چی د. دې غاړی په ټولو پښتو کی پیدا سو هغه د. پټی
شي نه وو. زموږ د. شا اوخوا کلو څخه به هره ږوز خلګ تله. خو یو یو یا لږ لږ. او
هغه هم زیاتره خوار خلګ، ماړه خلګ، مخور، خانان، پیران او مولایان یو هم
ولاړ نه نه چا په ډاګه سروا خیست خو د. خولې خوا خوږی د. ټولو د. پښتون
سرکار سره وله. د. غرو اخګزی او کاکړ زیاتره یاغی سول. اخګزی د.
جنګ وه ډګرته نیژدې وو. زیاتره ولاړ او په اوغانیستان کی د. لښکر سره د.
ایله جاری (رضا کار) په توګه ګډ سول. خو دلته هم د. مخ کسان مخور. ماړه
او ملکان ودنه ښوړیدد چپ له ډروناستو کسانو یو مولا ولو د. توړبې د. همیدزو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ملک اؤبل ګوډنز مامد او ښار ملېزے غازی اؤ ښکاری دریه‌م خیرو جان بادین زے۔

ڈموږ د کلی دوغو مشران، خانان به ڈموږ په ښاے کی د ټپے تولېده اؤ ڈموږ د. اوستامو لاشېر اخوند سره بے سلاوی اؤ مرکے کولے د. نوو خبرو د. اؤېدو پس بے دا خبره چی څه کول پکار دی؟ پښتون لښکر د. پولی څخه پور اووه اته میله اؤ ڈموږ له ښایه په ځره واته نیږدے شل پنځه یشت میله وو. د. دے ښاے زیاتره خلکو د. کامی لښکر د. مشرانو ښاغلی سردار او دول کودوس خان. ستر وزیر «صدر اعظم» اؤ ښاغلی جرنېل غولام نبی خان سره خبرد ر لود. یو خود. هغوے هم لکه چی دانه وه ځوښه چی ګڼ خلک دی راکړه سی اؤبل وخت هم د. لولور وو. خلکو دے ته هم کاته چی غلے اؤ مېوے په زیاته غلے واخلی اؤ پور ښاے یه کی نوښیا به ښی اؤ لاس به اچوی کوم خلک چی ټللی وو هغه به راتله اؤ دلته بے پور سرکاری تانو اؤ ښایو ډاکے اچولے، تارونه. د. ریل سړک او پولان بے وړانول ښو ښه یه د. پوج ګاډی چپه کړے اؤ ډېر تاوانے واړاوه. په هولکه کی روغه جوړه وړکه سوله. ډاکے، شوکی اؤ غلا غولتی ډېری وے. انګرېز سرکار به هم څه کوے نه په خوږ. تر دے چی کله کله بے په هسکار خلک پور ډاکے ماری ګومارل. چی د. سرکاری تاوان په ښاے خپل د. خلکو یا سودا ګرو تاوان وکی. په دغو ښپو کی د. ګولیستان بازار ولوټل سو اؤ په ناپوهی یا په هسکار و هم سېخل سو. د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سوداګرو په زیاته د. هیندوانو دوکاندارانو ډېر مالونه زیان ښول.دا ځکه د.
سرکار یا سرکاری خلکو په خوښه ووهله شوله. د. رعب او بورۍ ګاګران د.
لړی د.میدانه لری وونو په هغو کی ژوندو خلګو په هولکه کی لاس وا چاوه.
اوډ. وزیرو په مل ګری یه د. انګرېزی لښکرو سره خوښه دغری ووهلی
اوډېر تاوانونه وور واړول. یو وار خو اپوزی «فورټ سنډیمن» چی د.
بلوچیستان دویم لوی ښار دی.هم ونیو سرکاری خلګی کلابند کړل. او وه
روزی پورښار د. پښتنو باچهی وه. خو خکه چی د. دی جوش او ښورپه
شاکی څه کامی تړون «تنظیم» یا المبه «جذبه» نه وه. خان خانی کاروو نو
خبری څه پوخ رنګ نه سوا خیستلای. جنګ بی وکی. په جنګ کی بی ګټه
هم وکړله خو خپله ګټه یه ټینګولای نه شوله په پای کی به بیرته ځکه اولوټ
جینی جوړ شو. خو ښیا هم زما باور دی چی که جنګ څه اوږدسوی وای د.
دی خای کار د. انګرېز د. لاسه ووت. د. دی کامی جوشه سره سره هم د.
خپلی ناخبرتیا ساومی «حرص» غولی هیلی او د. پیسو د. بخایه مینی له
مخی چی تلی د. پښتنو.نوم ګټی تردی چی جوړی باچهی په خاورو لړلی
دی. داخل هم د. انګرېز ټول ښکومی «مخبران» هم پښتانه وو. او په لږ
پیسی بی" هغه کړلو چی یه کړای نه سی خناس او کامی ننګ دومری جینی
تللی وو چی د. جنګه پس بی هم خپل په دغه بی ننګی ویاړ کاوه. د. انګرېز
لږلږ تنخاوی او خلاتونه بی اخیستل یا بی غوښت او وبی بی موږد. سرکار

خسمانې ﴿خدمات﴾ کړي دي. خو په دغه ډله کې هم ځینې داسې خلک وو چې په ځپله پوهاوّ تروسه مې روښتیا کارنه کاوه انګرېزان مې ختایاسته. چا به هم په دغه جامه اوړنګ کې د. خان لپاره د. تګ راتګ لاره جوړه کړله اوّ د. اوغانیستان لپاره مې کارکاوه. څوک لا داسې هم وو چې د ښکومې ﴿مخبر﴾ په توګه به وّلاړ څه لړ. ډېرې پیسې مې هم یوّړې او هلته به غازي سو. په دمې اوسترې ډله کې زما یو ماما. ښاغلی مامد یوسپ خان وو. خو د. بده مرغه ښاغلی جرنېل غولام نبي خان چې زموږ سرې څه د. پایڅې رګې هم درلوډ. باورنه په وکې سزا خوورنه کړله خو بیرته راوارا وه انګرېزتې په لاس ورکې. دلته یه انګرېزانو ټول مال سرکاري کې او د. ډېرو ځواروزارو پس یه بیرته وباخښه. مشر ماما مې ښاغلی مامد الي خان. د ښاغلي مامد ازم جان پّلار. چې د. کلي ملک هم وو د. ګولیستان کارېز د. ملک ښاغلي اودول واهید خان په مل ګرې کې سرکار اڅکزوله پور دوره توبې له ولېږه. خو هغوې د. پښتني سرلښکرو سره خبر کړې وو اوّ هغو وورته ویلي وو چې زموږ دغ ته به ګورې ترهغو به هیڅ نه کوې. داسې خلک هم وو چې ڎواړې غاړې پوولې اوّ دادرګې نه لګېدٔ چې په روښتیا د. چامل وو. خو داسې ڎوه مخي خلک تل تېروزې د. دوې په ګومان خو دوې د. یوه سره روښتوني اوّ د. بل سره په چل کې وي. خو په سر کې هغه چل والا هم په خبروي اوّ له دوې نه ځپل پوره کارا خلي. کله یه په ڀوه کار پسې ولېږي

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چې هغه یه مّرادنه وی. خو چې راسی په چل داسی خبر جینی واخلی چې د
.هغو مّراداوّد. کاروی .لکه داچې ومے لېږی په دمے پسی چې پورّپلانکی
خاے د. دوښمن لښکر څومره دی. خو چې راسی تپوس ټرمے وکی چې
هغه ّپلانکے خان دی ولید ؟ څے کول ؟ دربار له ته راته که نه ؟ کّوا دے یه
پورهغه .باندی ښکومی (مخبر) لیږلی وی .اوّ کله داسی وی چې د.خینو
خلکو لپاره پیسے اوّ ختونه ورکی .چې داګوّا زّموږ سړی دی.اوّ هغه وی نه
دوے په دمے پوے وی چې دا سړے دا ختونه اوّ روپی رسوی نه دے مے د.هغه
خاے وه‌سر کارته وور کوی اوّ ښکاره کوی .نو هغه سر کار به پوړ هغه خّپلو
خلکو بدګومانه سی.اوّ داسی نور خکه سړی له پکاردی چې په هر کارکی
نبخ وی .داګومان نه کوی چې زه به بل تېرباسم اوّ خّپل کاربه وکم هیڅ کله نه
دی پکار چې د.پیسو دپاره سړے داسی کاروکی.

"خّپله خاوره د.دوښمن په زرووړنه کے پښتونه"

مه‌فروش خـاک ملت به‌طـلائے ملک غیــرے

د-داسی کاروپوتاوان داهم وی.چې داسی خلک د.دوښمن په‌نوکری اوّ
خسمانه کی ووینی نوړ هم په‌دمے لومه کّښېوزی که څه هم دایو سړے په‌چل
کی وی خو هر سړے خو داسی نه‌سی کېدامے په‌داسی کاروکی سړی له نبخ
روپه کاروی که‌دوښمن ته نبخ نه‌سی درېدالے نو که‌نوړنه وی ټرمے بېل اوّ
خان له‌دی کّښېنی .کاردی نه‌په‌لری پټ یاښکاره چے څه د.لا سه کېږی
خپل کام له‌دمے کوی .

# تبرخک. کاختی اؤ وبا

په دغو کلو کی د. جنګه روستو ؤړاندی ژموږ پورتېره ډرمے زوروری خواری تېری سولے. یوهـ خو پوړډرسته نړیوه توخک (اینفلوئنزا) خو پوړ پښتنو یه خکه ژیات زوروکی اؤ بیشماره خلگ په مړه سول چی دوے مے کسه پے وسه ناپوهـ اؤ خله شلبدلی (منتشر) وو ژموږ خپل په واړه شانته کلی کی چی ډوهـ سوه کوره به وو یو سل یو ولس کسه په مړه دی اؤ په سلو کی اتیا کسان لا ژیات په ناجوړ سو. سرهـ هم له دمے چی ژموږ کلی خولا بختوروو. خلګے لوستی اؤ ترنوږ وژیات یو د-بل غم شریکه وو یو سرکاری درمانتون (هسپتال) یه هم درلوډ. د. غرو اؤ ریکوڅه به خبروڼه راتله چی کلی کلی په سپېره سو. اؤ یو کس یه هم ژوندے پاته نه سو خو نه په خلګو کی ژوند وو اؤ نه سرکار پروا په لرله څه خرګنده زوروره اؤ په ګهه چاره. د. رنځورانو خسمانه تردمے چی د. مړو کارهم چاونه کی ژموږ په خپل کور کی چپ د. موږه می موږ تول ناجوړه پراته وو اؤ دغی سپین سری پښتنے به شپه اؤ ړوز د. تولو خسمانه کوله. په دغه رنځ کی د. ماسره خانی دانا پېښه کاروسو چی د. جوړ بدو پس می لس

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پینځلس ږوزی چپ د. کباب غوښې هیڅ شے نه سو خوړ لاے اؤنه ی په
خوله کې نودېده ه. په کلي کې هر څوک په ځان اخته وو. مزدور نه پیدا کېده.
ټول خلک ځپل په مړو اؤ رنځورانو اخته وو. زموږ د زمینداری اؤشید وډېر
بوده «خاروے» وو چې ږخوا به ډوو غښتلو مزدورانو په متي ساتل. نو موږ
ځپله اؤاوستاد مودمے ته ناچاره ښولو چې دغه بوډ ګان موډومے میاشتې
ساتل.

کاختي: په کاختی کې زموږ په کلي کې د. شااؤخوا په سوو نوو ږی اؤ
مې وزلی خلک راغونډ سوی وو. څکه چې د. سرکاریا د. خلکو له خوا د.
دغه خلکو د. مرستی څه ګډه سرلیښته نه وه نو هر چا به که نروو که ښځه که
لوے که وړو. د. کلي په کوړو باندی سهار اؤ مابنام چړ کاوه. اؤ خلکو به تروسه
لږ یا ډېره ګوله وورکوله کاختی پوره ټوله پښتونخوا وه. اؤ د. هر شی کاختی وه
. کښتونه اؤوا ښه خو څکه نه وو ښه چې باران نه وسو. اؤ هم له دغه مخی د.
کاریزوا ؤ چینوا و به کمی وے د. مېوے ونی یخ ووهلے خو ښیا هم د. اوبو کښتو
لږلږ غله وکړله اؤ څه نری نری مېوه هم په دغه کال زموږ ځپل غنم اؤ مېوه
خولږ سوی وو. د. کوړ ډوډی اؤ خرڅ هم نه په کېده. خو د. ښه مرغه په دغه
کال موږ او ریشی ډېری هم کرلی وے اؤ هغه ښے ودانی هم ښولے. موږ به می
ټوله ږوز د. دغو او ریشو څخه وهمے اؤ غتي ټیکی پخولے اؤ هر څوک چې به
راته. واړه ته وږها و لوے ته غټه مے وور کوله. خو د. خو داے په وږو څوک رسی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژیاتره ناوخته مابنام چې موږ به ډوډې خوړله چاوډې به ږغ وکې، او موږ هریوه به خپل د. ډوډې ښخه خه خه وور کوله. ګوا زیاتره به موږ هم ماړه نه شولو.

وبا : «هیضه» یوازې په ګولیستان کارېز کې پېښه شوله او دومرې زوروره وه چې په لږ شپې کې په دغه واړه کلي کې یونیم سل کسه جینی مړه شول. ډېر کم خلګ جینی جوړېده. په هغو لږو کسانو کې چې جینی جوړ شول یو ښاغلی ایوب خان وو. ده به تل په مسخروویل چې زه د. مرګه پوخ یم په اسانه نه مرم وبالاهم نه کړم مړېل به لاخه وی چې ما به وژنی د. دې رنځ په وار سرکار څه نه څه د. درمان او د. خوړېدلو ښخه د. بندبښت سرېښته کړې وه. خو ښیا پښتنو مرسته او مل ګرې نه وورسره کوله څکه چې د. هغوې دا خوشې ګومان ډېر ټینګ وو چې سرکارې درمانیان د. نوړو د. بچاود پاره . د. رنځور درمان نه کوی هرو مرو او ژرترژر یې وژنی. نو هغوې به ناجوړان پټول او د. سرکارې درمانې یا درمانتون په لاس نه وورکول او نې د. هغوې درمان په کاوه. خپل یې څه بوټي موټي او شربتان وورکول. یا د. مولایانو او پیرانو. دم. چو او تویټکې. مولایانو او پیرانو هم خپل د. خوا په چل ول کې څه کمې نه کاوه لکه چې ښرېده چې خلګ ژمور د. دم چو دا یې وسی او یې ښې روز ووینی باور یې راتخه واخیست سی. یو اوخار چلې داوو چې دزسته روزا او ښپه یې په کلي کې بانګونه ویل. او بل چل یه داوو چې

د.شپې مې په کلي کې وړاوي (جلوسونه) ګرزول چې وورته مې « سدره »
ويله .څه خلګ به روان وو او په زوره به ناري وهلې په پښتو او تازي مې څه
درهاوي (ادعيه) هم ويلې .زه تر اوسه هم په دې نه يم پوه چې دا شيان دوی
له کمه اخيستي دي ما خو په کوم کيتاب کې هم نه دي ليدلي. خو دا کار په
ټوله پښتونخوا کې کېږي ګومان مي دی چې دا هم د.باران لپاره د لا د ګاډ سپين ږيري[۱]

---

له دبنځو ټوټو نوبو د رامه ده چې هغه وختې کوي چې باران وخنډېږي .يوه
لوڅکه جوړه کې جونه يه واخلي په کوړ په ګه رزوي ټاکلي (مخصوص)
سوندري وو رسره وايي او د. خيرات لپاره.دانې .اوړه او پيسې ټولوي . خو
هر کوړ له چې ورسي د. کوړ ښځې له ږيا ډېر او په باندې ټوني داشان چې کوم
څيزونه ټول کي په هغو د .خيرات لپاره په يوه کوړ کې او ګرځه (دليا) پخه
کي.او ډېرې ښځې سره راغونډې سي د.خلګو دا باور وو او س به هم دچاوي
چې په دې چل باران کېږي .هـم داشان "سپين ږيری" د.نارينو ډرامه ده.
يو سړي د.سپينو ږيرو لکه د. کريسميس سنتا کروز او په لرد.تورو او ژغونو توره
ږيره کښېږ دي د. کلي ډېر ځوانان وو سره وي او د.شپې د. خلګو خايو
له وورځي .څه د.مسخرو ټاکلي پيشاړي کوي.او د.خيرات له پاره شلا ونه
ترمې غواړي دا ډرامه ته لرد.ژمي په مّيان کې وي چې د.خلګو باران ته اړي وي
د.هرچا ځاے له چې وورځي هغوے هرو مرو له ږډېري او په باندې اچوي او

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"د.لا ډوا وسپین ږیری" د.ډرامو شانته د.پښتنو څه ځپله پخوانی ډرامه یا تر ایسلام وړاندی څه دینی دوړ دی .هیندوان — هم تر اوسه د.کوی د. رنځوریا رنځورانو داسی وراباسی .زه په دې هم نه یم پوړے چی د.دے خوشی لاتاوانی کار ګټه به څه وی چی دومری دوسوی دی.تاوان خو ځر ګند دی چی خلګ سره کېږی.څوک جوړ څوک ناجوړه څوک د.پاک کوړ څوک د. رنځور د.کوړ اوڅوک د.مو ترپ اوخچن کوړ.نو به ځودیو د.بله رنځ واخلی کېداے سی چی په دے په خلګو کی یو رنګی اوڅه ډاډ پیدا کېږی سر کار نه د.دغه کلی خلګ دباندی تلورا تلو ته پرهېښوو اونے د.با هر خلګ دوے ته پرهېښو دمے بند بست یا هارته پښتانه کرم تېل وایی چی د.انګرېزی « کوارنټین » پښتو ده خو د.پښتنو د.ځپلوی مینه او د.وینی اړېکے ﴿تعلق﴾ تر دمے بند بست بالا وو.که څه هم مے اړی خو ډېر نه تله راتله خو د.اړی پور وخت نه کرزېده زموږ د.موږ امه ﴿د.پلار خوږ﴾ د.بناغلی پتے مامد خان

چی د.یوه کوړه به ل ته خی تول په زوړه ناری وهی بارا ن او باران او داشان ډېری شپے په کلی وګه رزی.پیسے غنم تول کی اوبیا یوه زوز اوکرهـ ﴿دلیا﴾ پخه کی تول کلی راغوند سی.ځوا کی د.اولونا ورو داوی یا څه واله ماله وی نو هر سړے چی راخی څه نه څه او به هرو مرو باندی اچوی خینی خلګه په زیاته څوانان خو په اوبو کی غو په هډم کی او دایه باوروی چی به دے تو که خودا ے باران کوی-)

ګورنر لوړ په دغه کلي کې واده وه. وبا وهلې وه او نې په خپل کور کې څوک د.
خسمانې ښځه وه نه په نېژدې کوروکې. هر څوک خپل په ځورانو اخته وو.
هغې ژموږ وه مورته خبر را وکې، چې راسه. او هغه تیاره شوله ډېرو خلکو
وورته وویل چې مه څه هسې نه چې رنځ را وړې او دا خپل بچې دې په مړه
سي. خوږ. هغې میني ننګ او د. یې چارې امّ خسمانې لېوالي، د اونه منله. ومې
زما او د. بچو مرګ او ژوند د. خوداې په لاس دی هغه ته یې سپارمه. ولاړه او
ډرې روزې پس چې هغه مړه شوله بیرته راغله. جامې مامې یې وسېځلې
او ځان تې د. سپلنولوګې ورکې. نه هغه نا جوړه شوله نه موږ. او نه په کلي
کې بل څوک. بل کلي، د. پیرالي زو په دمې وبا اخته وو.

زه چې ښوونځي له تلم

که څه هم د. تازي او پارسي پوره رسېدلې پوه وم خو د. نړۍ د. ژوند په یوه
خوا هم نه رسېدم د. کورنۍ، کورا او لوستو د. بند بنتوله مخې خپل په شا او خوا
هم نا خبره او نابلده وم. چې ښوونځي ته ولاړم هم به مې سهار تر ښوونځي
وړاندې او بیا د. ښوونځي څه د. راتګه پس تازي کیتابونه لوست.

د. ښوونځي لوست دومره راته اسانه وو چې چپ د. یو واره چې مشر
وروړ مې تر ما څه نمبرونه زیات اخیستي وو. او ماته دومري زور راکې چې
دومې روزي مې ژړل بیا په هیڅ ازموینه کې نه چا تر ما زیات نمبر ونه
واخیستل او نه مې کله هم په سل کې تر نیوي کم نمبرونه په هیڅ شي کې

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

واخیستل. اوردو ژبه خو ښکه راته اسانه وه چې پارسي او تازي مې زده وې. یادا ښت مې ډېر ښه وو ښکه د. یادو شیان، ځاے ګے پوهې «جغرافیه» او تواریخ راته اسانه وو. نا پېښه خو داوه چې شمار یا ګینتي «حساب» مې ډېر ښه زده کېده خو ښه مې یاددي چې د. پردي ژبې او نیمګړي ښوونې «ناقص تعلیم» له مخه د. پټونو «پهاړو» په مراد په شپږم ټولګي کې پوے سوم او هغه هم د. خودو ناست ناست مې په زړه کې راولوېده چې ۵ ×۵ پنځه پنځه پينځه واره پينځه ته وايي او داسې نور. هغه خوند او خوشالي مې تر اوسه نه ده هېره چې په دے مراد ورسېدم. او په وروسته ژوند کې چې مې دا ولو ستل چې یو پوه سړے په چړ چوبي «غسل خانه» کې ناست وو چې د. شمار په یوه کړ کېچنه بنده پوے سو دومرې خوشاله سو چې ځانې هېر سو او لخ پخ د باندې راووت او په بازار کې روان وو ویلے زده مې سو زده مې سو نو زما دسنې وز په نه ولوېده چې دا روښتیا ده پوهنه دومرې خوندلرې چې د. سړې ځان هېرسي او زما هم هغه وخت دغه شان وو چې د. پټونو «پهاړه» په مراد ورسېدم. بل وار دومره خوند او خوشالي مې هغه وه چې سایکل چلول مې زده کړل او لومړے ځل مې پور سړک روان کې. خو په دے تر ننه هم نه یم پوه چې د. پټو «پهاړو» په مراد نه رسېدم نو مې شماره ښکه زده کېده او ګراني او دے بندې «سوالات» مې ښکه کول او نه د. دے اندازه کولاے سم چې که په لومړي سر کې لا د. پټونو په

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

مراد چا پوره کړی وا ے نوږ زما د. زړ کړی خواری به څومره اسانه سوي وا ے که زموږ ښوونه په موږ نی. ژبه وی نو دا سی نا خوالی او کړاني شاگردانو ته نه سی پېښېدلا ے.

د. ښوونخی په شپوږ کی می کورته کار مخ له نه کاوه. زیاتره کار خو به می هورې لا وکی. چی نو رو ملو به می لوستی زده کول ما به د. کور کار کاوه ولی له مالوستو بیا لوستل نه غوښتل. خو یوا سه «جواب مضمون» دا سی شے وو چی ما کورته لیکه. او خوندې هم را کاوه. لیکه می هم دا سی چی هره سریخه «سرخی یا مضمون» چی به وو ما به یو بشپړه کاپی څلوېښت پینځوس مخه باندی لیکل. یوه ورځ چی زه په شپږم ټولگی کی وم مشر اوستا ښاغلی مولوی برکت الی. پوږ «تجارت» سودا گری اسه را کړله. خو ما ورته وویل چی "دا سریخه ماچیری لوستے نه ده که تاسو څه کیتاب را وښیاست چی زه ے ولوم. وړے د. کیتاب خی «لائبریری» نه. "گولدستهٔ مضامین" واله په هغه کی ستهٔ ما هغه کیتاب واخیست او هلته په ښوونخی کی می ولوست چی کورته را غلم ما ښام می د. پخوا په شان یوه کاپی باندی ولیکله. سهار می اوستاته ورکړله. چی هغوے وکتله لاس لیک یه کړله او بیرته ے کښېښووله. سات پس مارا واخیستله باندی لیکلے وو «سراسر نقل هے» گوا د. کیتابه دی لیکلے ده. ما له ډېر خښم راغی. ولاړ سوم او تپوس می تره وکی چی دادی څله لیکلی دی وړے". څکه چی هیڅ پښتوږ

اوردو داسې نه سي ليکلای چې د. نرښځې ﴿تذکير تانيث﴾ ورانی دی نه وی پکښې اوداا ستسه ماهر چپر مې وکتله دا ورانی نسته پکښې ،چې د. دمې نخښه ده چې له کيتابه دی ليکلې ده".زه هک پک شوم او نور هم خښم راغی.ومې مې کېدای سی چې د. کيتاب توری زما په ياد پاته سوی وی". وېې داهم نه منم"ماويې" ښه که اوس ښيا د. کاپی ليک په ياد درته ووايم «وېې» هو هله به منم" هغوې کاپی واخيستله اوما په يادهغه خيری ﴿مضمون يا پيپر﴾ لوست چې لس پينځلس مخه مې وورته تېر کړل زړه يې ولويدل.هغه خپل ليکلی يه خراب کړل او ومې ليکل « آفرين »

په ښوونځی کی ماته ترټولو ګران پرېښ ﴿پريډ﴾ وو که څه هم څه د. ستړيا يا زاوال کارنه وو خو هسی د.بل په خوله دا کوږ او کيږ کېده راته ګران وو او هيڅ خوندمې نه راکاوه. نوزياتره به پرېښ له نه تلم کله به مې د. ماستره تپوس وکی او کله هسی خو کورمې ودان دومې هم څه نه راته ويل . نوری لوبی مې خوښی ومې او هم مې کولې خو دا پرېښ مې نه کاوه بل په وخت هم ډېر بندنه وم سهار به په ښوونځی کی لومړی.نيمه ګانټه دينی لوست کېده نو روورو به سپارمې او شپين پارکې ﴿قرآن مجيد﴾ لوست چې زما وورته اړی نه وه.نو څکه به زه ناوخته راتلم .او چا څه نه راته ويل .د. ماپښين د. لمانځه د پاره به هم زه د. سکوله باهر د. کارېز وياله له تلم. که به څه وخندېدم پروامې نه کوله .خو وروورو دا زما خومې د. ښوونځی نورو غټو

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هلکانو هم واخیست اؤ زمونږ یو هڅله شانته جوړه شوله چې دغه اؤ ښینې نوري وړمې وړمې ورانی به مونږ کولې.

خبر نه یم چې څنګه خو ګومان مې دی ده. بناغلی ایمام غیزالی د.

پاړکو د. لوستو له مخې دا خوې راکې وو چې لوست مې د. کولو (عمل) د پاره بلل. خالی لوست مې هیڅ هم نه ګڼل. هم له دې خوې له مخې ښینې ښه خویونه راکې پیدا سو اؤ د. ډېرو ډانو بچ شوم لکه د. دروغو بېزاری. د بدو ویلو. پوچو خبرو نشو اؤ نورو بدو کارو اؤګوناهو څخه کرکه. یو وخت خو مې د.

---

له پهٔ دې لړکې مې یو هنا پېښه ازموده داسې وکړله چې یو وخت مې څه ناخواله اؤ سپک توری پورخوله کښېناسته یو ځاې ډو هم مې ناپامه په مرکه کې د. خوملې نه وواته اؤ یو هـ سړی ډوو هغه د - ځان په هکله وګڼل اؤ خوابدی شول. زه ډېر شهید شوم. یو وخت مې سمایل جان ته وویل چې دا خوې به څنګه پاته سي

هغوې په تورکو راته وویل چې کوښه دی وی چې بیا ته په ناپامې سپکه خبره د. خولې نه وباسې زه به دې یو هـ چپلاخه (چپیړه) وهم. ماومې بنه ډومې ډرمې روزی پس ناسا په سمایل جان پوړ مخ باندی دومره سخته چاپېړه راکړله چې د. سترګو نه مې څرو ولاړه شوله. زه کښېناستم اؤ دې څه لری ولاړ او دېرمې خندل ژما هغه څپړه هېره وه تپوس مې ترې وکې چې و لی اؤ داڅه چل دروسو ؟ هغه په خندا وې چې ولی تانه وړاته ویلی چې که ما سپکه خبره د. خولې نه وایستله نو ته به مې په چماټه وهې. ژما یاد سواژ. داهم چې هغه وخت ژما د. خولې نه سپکه خبرد و متې وه -)!

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښاغلي غیزالي په کیتابو کی لیکلی ګرانی خواری .زیاتوب ( نفل ) مونځونه .یادونه ( ذکر افکار ) اؤ درهاوی هم کولے . خوښیا پورے سوم چی دا خوښی کار دی د .نیکی ژوند لا څه بل شے دی.
د .خودایے کیتاب می هغه وخت هم داسی لوست لکه
خپله ماته چی رالیږل سوی وی اؤ اوسے هم داشان لولم .چی د یرمی په ښه راخی اؤ د .ډیره کړاوه په بچ یم . تردیے چی داخل هم چی د .مارشل لا میانځګرانو هیڅ مه یے هیڅه خورلس کاله بندی کړم اؤ د .سرکاری شاهیدانو اؤ نوکرانو دروږغونه می واروېدل اؤ په ځینو اخبارو کی می د .سرکار تسپکه سپوره پرے پېژانده ( پروپیګنډه ) ولوستله نو می هغه وخت زړه خورابد سو خو چی جپل ته ورسېدم اؤ د .ماخیګر پور لمانځه ودرېدم په لومړی رکات کی می خوړلے له د .پیل سورت ﴿ سورة الفیل ﴾ راغی پښتانه "یه الم تره کے" بولی چی خودایے پاک وایی" څه تاونه لیدل چی ستا ساتندویے د .پیل په خاوندانو څه وکړل څه د .دویے چل یه وّرک نه کی . اؤ پورد ویے یه د .ابابیل بلا راولېږله .چی دویے یه په دوږخی ﴿ تودو ﴾ دانو ویشتل .اؤ د .پوولوونو شانته یه کړه .دا لوست وو اؤ زړه می مے یے غمه سو .اؤ ترننه چی داتوری لیکمه یے غمه یم .اؤ باور می دی چی د .خبری پاے به ښه خبرژی .زما دا باور د .نوی زمانے خلک څه بولی اؤ مخے نه بولی خودا به هر څوک راسره منی چی زه د .پرېشانی .زاوا له اؤ کړاوه په بچ سوم اؤ د .بند اؤ کړاو داژوند می یے غمه تېر ېری نو دغه هم څه لږ ګټه خو نه ده. په ښوونځی کی اؤ د .هغه ځاے په کیتابو کی خو زیاتره داسی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خبری ومے چی ،، پلار ناست دی چیلم څکوی .چرګه دانے ټولوی .د.برکت وزهراغله ډېر داسی شیان پکښې نه وو چی .د.سړی په ژوند کی په ښه ورسی .خو ډوو شیانو زما پور ژوند ډېر بریدو کاوه یو خود .ښاغلی پوهـ ﴿علامه﴾ ایغبال.د.وړو درها .چی سرمے دا وو :-

لب پــه آتی هے دعا بن کے تمـــنا میــری

نن می خولے له ده راغلے د.وړو کی زړګی څله

زندګــــی شمــع کی صــورت هو خدایا میری

خو دایه داسی ژوندون راکے لکه وی چی شمه بله

داسوندره می یاد کړمے وه اؤ تر ډېرو کلو به می د.ژوزی یو ډوه واره هرو مرو ویله اؤ د.دے لپاره می ویله چی په ژوند کی دغه مراد پوره کم .

بل شے می یادنه دی چی د.چاوو .خوځکه چی په ښوونځی کی زموږ خلرم ټولګے زما اؤ د.مشر وروړ له کبله په لوستو کی ښه وو. نو مشراوښا ښاغلی مولوی پزل دین به کله کله د.اوچتو ټولګو .شپږم اووم اتم سره یو ځاے زموږ وټولګی ته کاراکی .کله لیک ﴿اِملا﴾ کله پاړسو اؤ کله شمارهـ ﴿حیساب﴾ چی زیاتره به زموږ ټولګے تر نورو ښه سونو هغوے به هغه غټ هلکان وشرمول چی ګوا تاسی په اوچتو ټولګو کی یاست خو داد.خلرم واره له تاسی نه ښه دی .په داشان یوه ازموینه کی هغوے د.اووم ټولګی له کیتابه لیک ﴿املا﴾ راته ووایه چی یو ځاے پکښی داشان وو-

«نامی سپیکر ہونے کے لئے نیک چلن ہونا ایسا ہی ضروری ہے جیسا آئینہ کے لئے صفائی» د اوښار مشر یاویان جوړېدو لپاره پاک ژوند هم دا شانی په کاردی لکه د اینداری لپاره پاکی یارونیا. اوپوړ مخ د دغه مراد څه نوری خبری وی چی بد سړی که څه وینا کوی نوخلګ یو وه بل ته سترګی وهی چی وګوره وایی څه او کوی څه ؟ زما باوردی چی که دا دوه بړه شیان زما مخی له نه وای راغلی زه هر څه چی وای خو دا به نه وای چه اوس یم.

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# بوړل

ماهغه وخت هم لکه چې د.خپل دیني بنوونې له مخې د. بوړل (وعده) پوره کول دیني پوړ (فرض) اوُ د.سړیتوب نخښنه بلله اوُ.او یې هم ګڼم زما په پام که د.نړۍ خه یاد.سړي د.ژوند د.بوړل (وعده) پوره کول ووزې نوړنه خوړ د.نړي ژوند چلېدا ے سې او نه د.سړي ژوند د.سړي پاتېږي .د. خیناور به وي.بوړل ماتل یوازې د .بل سړي سره نه ګناه د.خان سره د. خوداے پاک سره بوړل هم مابوړل ګڼلې دی او هم ګڼم خکه چې په ژوند کې مې یو واریو کار نیولې یامې یوه لار خوبنه کړے ده بیا مې ډېره کمه پړمے اینښے یا بدله کړے ده.چپ له هغه وخته چې خپلے په تاوان پوه سوی یم یا بل په پوه کړی یم که نوړنه وي د.چاد . بېرې د.چا د.شرمه د.چاد. هیلې یا د.خان د.اسانی لپاره خومې ګرسره نه ده بدله کړمے

نه مې خان کله خرخ کړی دی پور خو داے
په جنت نه په سّره سپین پور چابداے.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لومړی ازموده خومې یاد نه ده چې کله وه. خو په څلرم یا پينځم ټولګی کې وم. د ښوونځي مشر اوستا مولوي پزل دین یو وخت ټول راغونډ کړلو اؤ راته یه وویل "چې ما اروېدلي دي چې په تاسي کې زیاتره هلکان سیګریټ څکوي" دا روشتیا هم وه ټولو غټو هلکانو به سیګریټ څکول. نو هغوی ومې چې "تمباکو په هر راز چې وي ښه نه دي. بد خرڅ هم ده اؤ د. سړي روغواله هم ورانوي خو سیګریټ په زیاته بدوي اؤ بیا د. موسلمان د پاره څکه چې زه خبریم چې د. سیګریټو تمباکو یو وار په شرابو نودوي اؤ د. شرابو کارول رانیول اؤ خرڅول موسلمان ته روانه وي. نو تاسي ټولو له په کاردي چې تمباکو پرېږدي مې څکوي اؤ کې نه سي پرېښوالې نو څه بل شې چیلم یا څه کوي خو سیګریټ مه څکوي اؤ د. دمې خبرې له موږ ه لوز وا خیست. څه وخت خو ټولو هلکانو خپل خپل خوې بدل کې چا به چیلم کیښ چانسوار پېل کړل خو وروورو ټول بیرته بدل سول خو ک ټینګ نه سول خوما چې هغه روز سیګریټ پرېښوول تر ننه مې بیا نه دي څکلي بېړی څکوم. که څه هم د. هر هار اؤ بندښت رنګه په دمې کې هم ماته زیاتره کړاو پېښ سوي دي. کله بیړی یو ځای نه پیدا کېږي اؤ کله هغه بېړی چې زه په اموخته سم بیا بل ځای نه پیدا کېږي اؤ سیګریټ هر ځای وي خو ما خپل هغه بول لانه دی مات کړی ډېر خله مل ګرو اؤ خینو نورو خلګو زور هم را باندې کړی دی. ولی نن سبا بېړی د. خوارو اؤ پرېوتو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خلکو دڅلورخیزګڼل کېږی اوډ. مړو اوغټو خلکو په ټولی کې ځکول ښه کارنه بلل کېږی خو ماته لا هغه کړی بوږ پنډل دی مې سم ماتولاے. ډېر ځله ځینی غټ خلک په زیاته سرکاری اوسران اوواک والان پوردمې راځه خوابدی سوی دی کرنل برېمنر د. کوټی یوانګرېزپولټیکل ایجنټ یو وخت زمونږ کلی ته راغلی وو خپلے سیګریټ لګاوه نوماته هم ونیو. چی هغه وخت ډېره میهربانی اوډ. وپاړ خبره ګڼله کېدله. خوما وانه خیست. اوډ. هغوے ګومان سو چی تمباکو نه ځکوی. څه وخت پس ما ځپله ببړی لګولې ده اوډ. ده راته پام سوی دی. ډېره یه خوابده سومے وه چی ده زما سیګریټ نه اخیست زما سپکه یه وکړله یاله ما کړکه کوی. خوانګرېزان دومری ښه خلک وو چی خبره مې سپینوله. څه وخت پس چی مو بیا چېری سره ولیدل. نو یه راته وویل چی ډېر درڅه خوابدی یم هغه روز دی زما داسی سپکه وکړله چی بیا ما پوه کی چی ماستا سپکه نه کوله خو ما په ځان داسی بندبښت لګولی دی اوڅکه می لګولی دی. نو ډېر خوشاله سو. په دمے تراوسه هم پوے نه یم چی ښاغلی مولوی پزل دین څله د. مورږه دالوزوا خیست هغه د. شرابو خبره خوراته روشتیانه ښکاری که وی هم نو به د. ډېرو اوچتو او ګرانو سیګریټو په هکله وی. په هر سیګریټ کی به نه وی. یا به دوے هم تېروتلی وی چا به وورته ویلی وی. یا به داوو چی سیګریټ هغه وخت د. انګرېزانو د. کمپنو مال اوډ. انګرېزانو دودو نو دوے به دانه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

غوښتل چې په خلکو کې دوډسي اؤ د. انګرېزانو ګټه وسي. هغوې ښېله هم پنجابي چیلم څکاوه.

په دغه وخت کې مې بل بول د. خان سره داوکې، چې د. انګرېز سرکار نوکري به نه کوم. هغه داسې چې لا په ډريم ټولګي کې وم چې مشرورو ړ به مې د. ډيلي (دهلي) څه د. مولانا مامد الي اخبار «همدرد» راغوښت اؤ ما به لوست دغه وخت ''خيلاپت'' اؤ د. انګرېزانو سره ماته (کوټي) عدم تعاون په زور کې وو هغوې به هم په دې باندې زيات ليکل اؤ دا نوکري مې ناروا ګڼله. څه د. ''همدرد'' پاڅه څه زما د. ښېلي کورنی انګرېز دوښمني اؤ دينداري. نو ما هم هغه وخت دا ترزړه وکښله چې نوکري به نه کوم. په روستو ژوند کې بيا په دې لار کې ډېر ازموېښتونه راباندې راغله. اؤ ډېر خله لمسي (ترغيبات) اؤ څلي (تحريحات) راوړاندې سوولي هغه وخت خوترنن لا هم زيات په نوکري کې هم مزې وې اؤ هم پيسې. اؤ موږ څه زيات ماړه خلګ نه وو ايله ګوزارې هومره تول موووړوډي. تل به تنګ او پوروړي وو اؤ ترا وسه هم داشان يو. بلي خواته چې خلګ به په وړووړو نوکروپسي ګرزېده. منښتونه. زاري اؤ خوشامندې مې کولې په ما پسې به ښېله غتې غتې نوکري ګرزېدې تردې چې که څه هم په ډرست بلوچيستان کې انګرېزانو چاته په لومړي څل تر ووړه تاسيلداري (نائب تحصيداري) زياته نوکري نه وه ورکړې که به د. نواب زوې وو که د لسبيلې د. جام د. کلات د. خان. ياد- بوګټې زوی که لوستی وو که

نه نالوّستی .خو ماته په کال ۱۹۳٦.۳۷م کی چی کرنل پارسنز د. گورنر جنرل ایجنټ اؤ کیپټن اوس کرنل شاد. کوټی پولټیکل وو دغه کرنل شا په ډېر زوروویل چی میّاں نسیر دین د. چمن .ای .اے .سی لری کوو .ته ولاړ سه د. هغه په ځاے اؤ ځپل د. کام اخکړو خسمانه کوه خود. خوداے په میهربانی زما پښّے ونه ښّویدلے .اؤتر پایه می ځپل بول وساته کنی نو خوداے خبر چی که د .وّرانی په دمے کندهٔ کی لوّېدلی واے چی ځه ځه به می کول اؤ څه به رانه جوړېدل .

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# ښوونځي

زموږ ښوونځي اوږدو مياني ښوونځي ( ورنيکولر مډل
سکول ) وو او لکه څنګه چې مامخ کې ويلي دي ماته د ښوونځي لوست
ډېر اسانه وو تر څلرمه څوما په يو کال او دريمي مياشتي کې وو ايه. او پاته مياني
څلور ( مډل کلاسز ) مې هم که په يو کال کې نه وای نو په دوه کې په اسانه
لوستلای سو خو د استادانو مې دا خوښه وه چې زه تلوار ونه کم او د.
نورو شانته په کال يو ټولګی وايم. څکه ما پينځم او شپږم په دوه کاله وويل
خو چې اووم ته راغلم ښوونځي له يو نوی مشر اوستا ( هيډماسټر ) راغی
هم د پنجاب وو سيد مير مامد شا. د دې سړي يو څو د پخوانو اوستادانو.
مولوي پزل دين او مولوي برکت الې په شان چلاوا او ګوزاره زده نه وه. او بل
څه پير شانته سړی وو او په دې لار کې بې د. ماسره څېړني کولې او په څېړنه
کې به يې ځيني داسي خاني ازمودي بيانولي چې هغه به ما نه سومي منلای. لکه
دا چې وي يې کله کله پېريانان د. ماسره لوبي ټوکې کوي زما څه شی پټ کې چې
زه پسي وګرځم او نه يې کم پيدا نو بيا يې راوړي او څرګند څای بې وا چوي
او داسي نوري ناشودي خبري چې ما به دا نه منلي او وې به مې چې تاسي به

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

تېروتي ياست هغه شے به هم هلته پروت وواؤ تاسي به هغه وخت نه وي ليدلي نوپې خوابدوله. لنډه دا چي ورمونه سره ووت خکه ما وے څه کړاوبه کوے دالانجه لنډه که نومې دهته وويل چي زه سړ د. اووم په څاے د. اتم ازمونه ﴿امتحان﴾ وورکوم. ازمونه ته لا. څلور پينځه مياشتي پاته وے چي ډوے پکښې د. ژمي چوټي وے اؤ چوټيانو ته يوه نيمه مياشت پاته وه. اوستادمي راته وے چي که داکوے چي ته به د. ښوونځي د. وخته پس هم له ماڅخه يوه ګانټه لوست کوے اؤ د. هغه به ماته څلوېښت روپۍ د. مياشتي تنخا د. خانه راکوے نوزه به د. ښوونې د. څانګې څه تپوس درله وکم. ما د. دوے خبره ومنله او د. ښوونې څانګې هم خوښه کړله. د. اوستاد سره مي دا جوړه کړله چي نور لوست خو مي زده دي ستاسي ښوول نه غواړي خو شماره ﴿حساب﴾ څاے مېچي ﴿جيومېټري﴾ اؤ اټکلي شمېر ﴿الجبرا﴾ د. اتم ټولګی دانوي دي هغه به ته راښيې - د. هغوے لکه څي کومان وو چي که څېږدي په دے څلورپينځه مياشتي کي به ډوه ډرے سوه روپۍ کټمه نو داسي بندوبست يه وکي چي په ژمي هم کورته ولاړ نه سي اؤ په ښوونځي کي چي به يو اوستاد پاتېږده هغه به دے وي خو چي ماتے لوست پېل کړل نوپوے سو چي د. دوے اندازه سمه نه وه ولي ما به هره ورځ د. شمارے ﴿حساب﴾ په ډرو څانګو کي د. يوے يوه کړه يالار ﴿قاعده﴾ ترے زده کړله دا ؤ ما ښام به مي د. هغے کړي ټولي بندي ﴿سوالات﴾ وکړلے. سهار به مي بيا بله زده کوله.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اوْد. شمارے خووی هم دغه لس اته کړي. چې په مّیاشت کی پوره سولي اوْد. ده سره زما نور کار پاته نه سو. داشان ما داورم اوْ اتم ټولګی نه په یو کال خان اوزګارکي. ازمویته مود کویتي په سرکاری ښووځیکووه او په دغه ښپوکی د .پنجاب د. پوهنتون «یونیورستي» د. لسم ازموینه هم کېدله نو خاے تنګ وو ځکه یه مور پهیوه یوه ډیسک باندی دوه دوه کښېنولو خو. د. بېلو بېلو ښوونځو. زما د. ډیسک مل ښاغلي کازی مامد موسا وو. د. انګرېزی چپ نوره ټوله ازموینه هغوے زما په کومک ورکړله. هغه داشان چې ما به څه لیکل نو هغه به مې د. دوے په وړاندې ایښوول. اوْدوے به ترمے لیکل. که څه هم تر دمے د مخه ما اوْد ه نه سره پېژاندو خو دلته موسره وپېژانده اوْ داشان هغه دوستي بیا تازه سوله چې زما د. پلار اوْد. دوے د. پلار ښاغلي کازی جلال دین تر میان وه زما اوْد. ده دغه اشنایي د. ده تر مرګه وله که څه هم په وروسته ژوند کی زمور سیاسی لاری خلهبېلي وے خو اشنایي موتر پایه وه.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د ښوونځي اوستادان

د ښوونځي اوستادان- زموږ تر وخته لا د ښوونځي اوستادان ډېر ښه خلک وو په ځانګړې توګه مشران اوستادان ښاغلي مولوي پزل دين او ښاغلي مولوي بركت الې. د دواړه نه یوازې خپل په کار ډېر ښه پوهېدل او ډېر زیار به یې کښل او شاګردان به یې ښه پوهول په روښتیا خپل د شاګردانو ډېر زیات خواخوږي هم وو د. لوستو سبوا به یې د هلكانو روزنه هم كوله. تر وسه به یې داکوښښ کاوه چې شاګردان یې بدخویه نه سي. زموږ ښوونځی د بازار په خوا کې وو. او دوی موږ بازار ته نه پرېښودو زیاتره به د ساتېرۍ ﴿تفريح﴾ په وخت کې هم او د چوټي پس په څه پلمه د موږ سره راووتل او تر هغو به باهر ولاړ وو چې هلكان به تر بازار تېر سو نو به دوی ولاړ څکه یې موږ هم ډېر ار ز کاوه. دغه دواړه چې تر څو ژوندي وو ماته د پلار په شان ښکارېده. د مولوي بركت الې زوی ښاغلي سيد چې اوس د ښوونځو ازمودګر ﴿انسپكټر﴾ دی می تر اوسه د پلار له مخه ښه اپسی او ډېر پام وور سره کوم که څه هم دی نه خپل په نوكرۍ کې سم دی او نه په ژوند کې. څه سیاسي رنګې اخیستي دي د. پښتنو په تاوان خوښ وی خوزه ډېر پام وور سره کوم بد می خولې له نه راځي

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مېنې په تاوان خوښ یم .زموږ په وخت کې په سکول کې وهل ټکول اؤ ښکنځل یا پوچ ویل هم نه وو.خو په ورستو کلو کې د.پنجاب ځینی نوی ځوانان ناپوهـ بدخویه اؤبدکاره ماستران هم راغله خو یوې خواته مشران اوستادان ښه خلک وو اؤبلې خواته موږ یو څوتنه غټ غټ شاګردان وو نو دوې څه کښ نه سوکولاې . اوس هغه لاری چاری اؤهغه اوستادان نسته ځیاتره شپاړښتیان اؤ د.ښوونځو نوی راوتلی د. پینځلسو شپاړسو کالو هلکان ماستران وی.مېنې څه زړه وی نه څه زیار کاږی .هسی د. خپلی تنخا سرمې کاروی لوړ واک والان هم خالی لوې لوې سکیمونه جوړوی اؤ په ښارو کی ناست وی په زیاته ښیاد. آزادی پس خو خبره ډېره ورانه سوې ده. زموږ په وخت کی به لوې واک وال یو انګرېز یا هندوستانې. سپرنټینډنټ وو.اؤیو ازمودګر ﴿ انسپکټر﴾ چی پور آسو به د.ټول بلوچیستان په کلو غرو اؤ شبلو ګرزېده .نوی ښوونځی مې پرانستل اؤ د.زړو کارمې کوت اؤ اوس یو درځن نرا وښځی واک والان دی ځینی په کوټه کی اؤ ځینی په بېلو پلووښو ﴿اضلاع﴾ کی خو هلته هم نه سی رسېدلاې چی چیرته موټر ځی . لری ځایونه لاد.چا په یاددی .

سرکار پیسې لګوی خلک د.لوستو دومره لېواله دی چی یوازی دالانه چی د.ښوونځی مخکه اؤ ځاې خپل له خواوورکوی ډېر خله په کلو خپل په خرڅ کله میانځئ ﴿مډل﴾ اؤ کله اوچت ﴿هائی﴾ ټولګی په سرکاری

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښوونځی کی چلوی .خو بندوبست دومره وران ویجاړ دی چی زما په گومان د
نن د.دمے زیات خرڅ اؤ ډیرو ښوونځو به دومره گټه نه وی لکه د.انګریز د.
ښپو د.هغه لړو ښوونځو ولی د.گټی سره سره ډیر زیات تاوان هم روان دی
کیږی د.سوونو هلکانو ژوند لګیادی تباه کیږی چی په کلونو ښوونځو ته
ځی راځی خرڅ کوی د.کاره وتلی وی اؤ پورمخ هم نه لوست وکی نه د.کار
وی نه دلے شوے نه دورے شوے ترمیان خاروی ایرمے سومے د. ښوونځی
سریښته ځنګه روانه ده د.گولیستان اؤ د.شا اؤ ځوا کلو د.ښوونځو دا دَرے
څلور نمونے زما په خپله ازموده کی دی .

﴿۱﴾ دیوه لومړنی ښوونځی ﴿پرائمری سکول﴾ مشر اوستا ﴿هیډ
ماسټر﴾ د.پنجاب د.ډیره غازیخان د.پلو(ضلع) یو داسی سړے وو چی هغه به
کله ځپل کورته خت یا منی آرډر لیږه نو خپلے نه سو لیکلاے په بل به یے لیکه.
وایی چی دا سړے یومے سره بیکاره اؤ بد کاره هلک وو.د.یو پنجابی ماسټر
ډوډی یے پخوله اؤ هغه به ډوډی وورکوله-رو.
روږغه ماسټر څه نه څه لوست اؤ لیک وورزده کړل اؤ د.لومړنی ښوونځی
ازموینه چی د.کور اؤ ځپل د.لاس خبره وی.هغه ورکړله اؤ ماسټر وخیژاوه
پورمخ په میانځنی ښوونځی کی ختاے خو نه سو خو د.پاته ﴿مډل فیل﴾ په ډله
کی شمار سو اؤ د.اوستادی په ښوونځی ﴿نارمل سکول﴾ کی داسی
هلکان چی په میانځنی ښوونځی کی پاته سی ﴿مډل فیل﴾ هغه اخلی اؤ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اوستادی وورښیی. خو دوی به ډوه کاله لوست کوی. دا شان ده د. اوستادی لاس نیوکه «سند» واخیست اوپوخ «ټرېنډ» اوستاد سو. د. دمې سری د. لوستو داشان وواو خویونه یه تردمې لاهم ډېر بدا او پرېوتی وو. خو د دېرشو څلوېښتو پښتنو هلکانو ژوندی په لاس وو. ما ځپله د. ښاغلی سید آزمودګر «انسپکټر» سره خبره وکړله چی داڅه دی ؟ هغه راته وویل چی هغه پوخ اوستا «ټرېنډ ماسټر» دی لاس نیوکه «سند» لری داخبره د. سره نه پیدا کېږی چی څې زده دی که نه ؟ پاوې یه داچی خلګو ځپل هلکان د. ښوونځی بند کړل. اوهغه ښوونځه بنده سوله. خو د. ده هیڅ تاوان ونه سودی بل ښوونځی ته بدل سو.

«۲» په لندن کی د. پاکیستان د. یوه هایی کمشنر څوک لیری یا نیژدې ځپل په کوټه کی اوسېده. د. هغه یو زوی ډوه ځله د. ډوولسم ټولګی په ډاکټری ډله کی پاته راغی. پلارمې د. خرڅه اوخویه تنګ سو. نو یه د. بلوچیستان د. ښوونی وه ستر واک وال «ډائریکټر» ته وویې چی ده ته څه نوکری ورکه خو چی دې. د. کوټی په پوهنځی (کالج) کی ځپل لوست هم کړی. هغه دا هلک د. یوه لومړنی ښوونځی «پرائمری سکول» اوستاد ولګاوه. خو کار بې د. کوټی په دوترکی کاوه. هغه هم هله چی په پوهنځی کی به ځپل د. لوستو اوزګار سو. هلک په دغه کال بیا په ازمېینه کی پاته سونو څه وخت پسې بیا پلار کوښښ وکاوه چی د. هلک تنخا سل روپی میاشت لږ ده

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پکاردي چې څه اوچت ځلې ورکول سي دے به سر. کال لا یو وار بیا ازموینه ورکي که وخوت خوړا کتېرې به وایي کني نو به د.ښوونې په ځانګه کې پورِ هغه اوچت ځاے نوکرِي کوي نو یه هلک د. ګولیستان په ښوونځي کې د. انګرېزي ژبې شتر اوستا ﴿سینئر انګلش ټیچر﴾ ولګاوه په یونیم سل روپي د.میاشتې خو خالي د.دوه میاشتو لپاره چې دهله د.کوټې په دوتر کې ځاے پیدا کول سي زه په خبر شوم اوښاغلې سردار بهادر خان دګورنر جنرل ایجنټ مې په خبر کي هغوے هغه واکوال هم لری کې اوماستر هم ولاړ بیا خبر نه یم چې څه سو ؟

﴿۳﴾ زموږ د.کلي په لومړني ښوونځي ﴿پرائمري سکول﴾ کې چې لغړ دوه ټولګي.لومړے او دویم پکښې وو.ټېټه هلکان او دوه اوستادان وو خو.ښوونځي ته به زیاتره یو راته هغه بل به چېرې په میاشت نیمه کې روزې دووله راغي .چې تپوس موو کاوه سړے د.یوه ازمودګر ﴿انسپکټر﴾ سړے وو. په کوټه کې اوسېده ځپل کارمے کاوه.دلته هسې نوم وو او تنخا یه اخیستله.اوتل به کله پور چوټې وو او کله بې چوټې زموږ په رپوټو دومرې و سو چې سړمے یه د.ګولیستانه بدل کې بلې ځواړے ولېږه.

﴿٤﴾ د.روغاني د.کلي د- ښوونځي ودانې د.ژمې په چوټو کې ونړېدله. دچوټو پس چې ماستر ورغې نو هغه رپورټ وکې چې ودانې نړېدلې ده او ټول سامان تر هغې لاندې دي په کلي کې بل ځاے د.ښوونځي او زما د.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اوسېدلو هم نسته زه چمن ښارته ځم چې شپاړس ميله لرې دی . جواب هلته راکې چې څه وکم . اته مياشتې تېرې شوې خو دادرک ونه لګېده چې د. ښوونځی به څه کېږی اؤ ماسټر به څه کوی. هله بيا دا وسوچې ښوونځے يه بند کی اؤماسټرے بل ځاے له ولېږه .د. ښوونې واک والان ﴿ افسران تعليم ﴾ وايی چې دا خندد.پولټيکل اېجنټ کويټه له خوا وو .

﴿ ۵ ﴾ د. کوچلاغ په زنانه ښوونځی کی نجونی کمی وې لغړی ډرې څلوره زنانه ازموډګری ﴿ انسپکټرس ﴾ وې چې ښوونځے دی بندسی. خو ښتر واک وال وے نه وی دی.يو د .بل خبرے نه منله په پاے کی ازموډګری ماسټره چې د.دمے ته رواک لاندی وه ترے بل ځاے بدله کړله. خو سکول بند نه سو هم هغه شان چلېده .اؤ نورو نوکرانو .چپړاسی دوے خپله تنخا اخيستله .

زه په پينځم ټولګی کی وم اؤ کوړته مې د. اوستا څخه تازی کيتابونه لوستل چې اوستادمې وَلاړ کندهار ته.نوماد . کلی د ملا ښاغلی مولوی باران کاکوړی څخه لوستل پيل کړل. اوستری هيدايه اؤ مشکات مې جينی لوستل .بيا هغوے راته وويل چې څه تازی جوړاون ﴿ ګرامر ﴾ ولوله نو ما اويو بل د. اکاڑوے ښاغلی مامد ايسمايل جان جوړاون ﴿ صرف ونحو ﴾ پيل کړل. تر ښوونځی وړاندی به وورتلو لوست به مو کول بيا به ښوونځی له تلو.ډېر کيتابونه پکښی د.يادولو وو هغه به مو ياد کړل اؤ بيا به مو ټول کيتاب و مولاته داسی تېر کی چې مولا به کيتاب ته کاته اؤ يو ټوک به ماتيراوه اؤ بل به

سمایل جان.خوږما په ګومان څکه چې په ازموده ﴿عملاً﴾ یه نه رابنول څه ژباته ګته موجینی وانه خیستله .

دغه بره مولوی باران اڅکزے هم یو غازی سړے اوبنه پوهه وو.د. اوغانیستان د.خپل واکی د.جنګ په شپږ کی دے په ډیلی ﴿دهلی﴾ کی وولوستے کول خو چی جنګ پیل سو نو د.هغه خایه راغی اوغزاله ولاړ.بیا چی څه وخت بناغلی نادر خان اود.هغوے بناغلو وروڼو د.بچه سکاوڅخه د.هیواد د.آزادی جنګ پیل کی او د.اڅکزو لښکر پور کندهار یرغل وکی نو د.لښکر په مشرانو کی یو دغه مولوی هم وو د.کندهار د.جنګه پس دے څه وخت د.بنار کازی وو او بیا یه په کابل کی د.مولایانو د ټولګی ﴿جمعیت العلماء﴾ غړی و لګاوه تر ننه ژوندے او په هغه کار لګیادی۔

د.لوستو د.دے بره مل ګری مامد سمایل جان سره می په ټولو څپلوانو کی په وړوک والی لا خودا ے پاری مینه وه.دے تر موږ کال دوه په بنوونځی کی وروسته وو خو په شپو تر ما مشر وو.بنوونځی له به یو خاے تلو راتلو او هلته به مونیږ دمے نیږ دمے ټول وخت یو خاے تیراوه.او چی به واپس رالوهم داشان . وروسته مو بیا د.ژوند لاری سره بیلی سولے خو ږما لا هغه شان مینه وو رسره سته.د.ژوند په یانه کی په دوے خبر نه یم ماته خو د.دغی مینی څخه ډیری ژباتی ګتی رسیدلی دی .چی یوه اولویه پکښی دا وه چی د.بدو خلکو د. ناستی پاستی په راګرزیدلی وم.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# زموږ ښوونځي

د. ګولیستان میانځني ښوونځی ﴿مډل سکول﴾ په بلوچیستان کې د انګرېزي راج د تواریخي نخښو څخه یو وو. ترټولو لومړی اؤناپېښنه خبره داوه چې د انګرېزانو د دوه چپ دا ښوونځي د ښار په ځای په کلي کې وو ډویمه دا چې څه وختونه په سر کې دا ښوونځي پړانستي ووزماد. څوړوزو اوستا زموږ د. کلي مولوي اودول کبیر. خوداے دمے وبخښي به را ته خبري کوله چې هره ورځ هر هلک ته ما پښین د. چړمي په وخت نیم پاو وچه مېوه. خورما یا کیشمیش وورکوله. څکه به ډېر زیات واړه وورته راتلل.

درېمه دا چې د. سکول د. لګېدو پس به لومړے نیمه ګانټه دیني لوست. سیپارهٔ اؤ سپین پارکے ﴿قرآن مجید﴾ په تورو ﴿لفظاً یا ناظره﴾ وایه کېده.

څلورم دا چې. د. میانځني ﴿مډل﴾ ټولګو وه هلکانو ته به د. میاشتي لس روپي اړه ﴿وظیفه﴾ وورکوله خو هله چې هلک اؤ د. هغه مشرانو به داومنل چې د. میانځني ﴿مډل﴾ لوستونه پس به هلک ډرمے کاله سرکاري نوکري کوي کني د. اړے ټولي پیسے به بیرته یو ځاے سرکار ته وورکوي. څکه به د.

ولات ﴿صوبه﴾ د.هری غاړی شاګردان دلته راتله .

پنځم داچی.د. ښوونځی سره د.اوستادانو ښوونځے ﴿نارمل سکول﴾ هم وو خکه د.ولات ټول زاړه اوستادان یو مخ د.ګولیستان لوستی وو.

خودا ښوونځے لغړاوردو وو.انګریزی پکښی نه ښوول کېدله خکه د. دے ځاے لوستی خلګو چی ډېر زیات وو پوره مخ لوست نه سو کولاے اوځی څه ښې نوکری میندلاے سوے .لغړ د. لومړیو ښوونځو ﴿پرائمری سکولز﴾ ماسټری د.بوډګانو ډاکټری یا کله کله د.پټوار کار به وور پیدا کېده ما خو په دے هکله څه لیکلی نه دی لیدلی خو ویل کېږی اوښاغلی مامد سمایل جان په ټینګه وایی چی دا کمے د.هغو وخت لوستو پنجاپیانو په ژباته د. ښوونځی د.ځانګی واک والانو په هسکارد.دے ځاے د.پښتنو د.تاوان لپاره ایښی وو.هغوے لیده چی د.دے ځاے خلګ د.لوستو ډېر لېواله وو.اوڅ دا ښوونځے وو هم په کلی کی چی لغړ پښتانه وبلوخ هلکان پکښی راتلاے سو.نو دوے به پرنګیانو ته ویل چی دا خلګ انګریزی ځخه بدوړی مځ وایی اوردو لا دومره بده نه بولی .اوڅروشتیا داوه چی ژمور د.کوړنی خلګ چی د. دغی تړی مشران وو لوستی اوډ. لوستو په ښېګړے پوه وو.کے څه هم نو کری نه کولے خو هغه وختے هم ځپل واړه د.انګریزی لوستو لپاره کوټی ته لېږل.ژما یو اکا.ډوه ماماګان یو تربور ښاغلی ادرامان خان.د. کوټی د. انګرېزی ښوونځی په لومړنو شاګردانو کی وو خو چی په ګولیستان کی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښوونځے جوړسونو د.اساني اوٌد.خرڅ دبچت لپاره به خلکو واړه کوټې ته نه لېږل دلے مېے اوردو په لوسته اوٌ داشان که څه هم د.دمے ښوونځي ډېرې ګټې خلکو ته ورسېدلے خو دغه غټ تاوانے هم پښتنو ته واوښت چې په سوونو وس وال اوٌ د.زدکړې لېواله خلک د.زياتې زدکړې په زياته د. انګرېزي د.زدکړې بې برخې پاته شول.

دغه سمايل جان داهم وايي چې ځکه چې د.جالندراوٌ کپورتلے د. مخسودپور نومي کلي ځينو خلکو داوردو ميانځني ښوونځي ﴿ورنيکلر مډل سکول﴾ ﴿ايس ايمے اى﴾ کېمے وه اوٌهم د.دغه ځائے يو سړے تر ډېره د. بلوچيستان د.ښوني د.څانګې ښتروا ک وال ﴿سپرنټنډنټ محکمه تعليم بلوچيستان﴾ وو دغه ښتروا ک وال ښاغلي شيخ اوٌدول سمد خان ځاني ډېر ښه نيغ (مخلص) روښتوني اوٌ خواخوږې سړے وو خوډېر ښپين زړ کے (Credulous) وو د- هر چا خبره بې منلے په زياته ځپل د.ځپلوانو.کلي والو اوٌد نيژدمے خلکو اوٌ په دغو خلکو کې ځينې ډېرمے ښے اوٌ ځپل چاري خلک وو چې په ده مې ډېر ناکاره کارونه کول چې يو پکښې د.کوليستان دښوونځي دراندهم وو اوٌد.دغې کورنۍ يو بل سړے به دلته مشر اوستاد وو نو هغوے هم ځپل د.ګټې اوٌ مشرې د.پاره دانه غوښت چې دلته دې انګرېزي لوست کېږي.خلکو چې څه وخت داوليدل چې اوردو لوست ډېر د.ښې نه دې اوٌد.ښووني څانګه ښوونځے انګرېزي ميانځنے ﴿اينګلوورنيکولر

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

مډل﴾ کوی نه نوړ هغوړے به ښوونځی ته نه ټله تردړےچی په پاړے کی د. دړے
میانځنی ښوونځی په اتوړسروړ ټوړلګوړ کی لغړاته[28] ویښت شاګردان پاته ښول
نوړبیا هم دوړے ښوونځے خوړ دلته بدل نه کی .دلږتے میانځنی ټوړلګی ﴿مډل
کلاسز﴾ بند کړل پښین ږتے ولیږل اوٌ هلتے انګریزی لوست د. وړوړ په
ښوبنه ﴿اختیاری﴾ کړل د. هغے په ځاړے یه د. کروندړے ﴿زراعت﴾ ښوونه
هم پیل کړله. چی د. مخسوړد پوړرد. خلګوړ مشری هم پاته سی اوٌ پښتانه هم
هغه شان اوړردوړ لوړلی .ځوړ کاله د. پښین ښوونځے هم داشان ووړ چی په کال
۱۹۳۵ کی د. کوټی زمک ښوړر ﴿زلزله﴾ وسوړ اوٌ سرکار ناچاره سوړ د. کوټی
ښوونځے یه پښین ته راوړ. اوٌ هم په دغه وخت کی د. ښوونی د. ځانګی ښتر
واک وال چی پنجاړے ووړ بدل اوٌ بیا مړسوړ په ځاړے یه ویلسن پرنګے راغی.
اوٌ د پښین ښوونځے سم انګریزی سوړ.

چی اوړردوړ میانځے ټوړلګی د. ګوړلیستانه پښین ته ولاړ .نوړما د. خینوړ
نوړروړ خپلوانوړ په مړسته داکوړښښ پیل کی چی په لومړنی ښوونځی
﴿پرائمری سکول﴾ کی هلکان زیات سی اوٌ ښوونځے بیرته سم میانځنے
انګریزی ﴿مډل سکول﴾ سی اوٌ دا خبره روړښتیا سی : چی زړه ودانی
ځوک نوړےکوی + نوړ زړه به یار د. ښځه نړوی.

په لږ وخت کی پینځوړس ښپیته واړه راغونډ سوړ اوٌ په ښوونځی کی
دوړه اوړستادان سوړ. د. ښوونی دغه بره ښترواک وال چی راغی اوٌ دا بدلی یه

ولیدله نوهک پک سوولی ده‌ته خوڅپل د بلي کرائیر خپل چارو ﴿ خودغرض ﴾ نو کرانو ویلی وو چی د. دمے خاے خلګ د. لوستو لپواله نه دی. خو اوستادانو وورته ویلی وو چی داد. ده د. کوښښ پاے ﴿ نتیجه ﴾ دی نو که څه هم دغه وخت ماکامی کار ﴿ سیاسی کار ﴾ کاوه اؤ په کال ۱۹۳۰ کی یو وار جېل ته هم بیاتللی وم اؤ سرکاری خلکو به زما نیژدېکت اؤپېژاندنه د. خپلی نوکری تاوان ګڼله خودغه نېخ سری خپل په سرکاری رپورټ کی زما د. کار ډېره ستاینه لیکلے وه. اؤ هم داشان ده څوځله نور هم کړی دی. زه یو خواته ښوونځی له د. هلکانو په راوستلو پسی لګیاوم اؤ بلی خواته د. ښوونځی په واک والانو پسی لګیاوم چی ښوونځے بیرته انګرېزی میانځنے ﴿ مډل ﴾ کی اوتر هغو چی کم هلکان څلرم ووایی هغوته اړه ﴿ وظیفه ﴾ ورکی چی په کوټه کی پوره مخ لوست وکی. کمو هلکانو ته چی به سرکاری اړه نه سوه پیدا هغوته به ماله خانه خرڅ وورکاوه چی هلکان بېکاره نه سی اؤ د. هغوے په بېکاری نور خلګ د. لوستو څخه زړېدی نه سی. یادمی نه دی چی کله خو کال ډوه پس مستهرو یلسن. ښوونځے

یو وار لاندی مّیانځنے ( لویر مډل ) کی اؤ بیا مّیانځنے. خو زیات کړاو دا پېښس سو چی د. میانځنی ښوونځی د. ماتېدلو سره د. ښوونځی لوړی ( خالی ) ودانی. نورو سرکاری ځانګو ( محکمه جات ) واخیستلے اؤ چی مور بیامّیانځنے ښوونځے پرانست نو د. ښوونی د. ځانګی سره ودانی نه وے

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په پاے کې نوے ودانی جوړه کړله چی په پينځه ايکړه مځکه کي نيمه مږن ړرونو وېرياور کړله اوّ ځلرمه ښاغلی مامد ازم جان اوّ د ـ ډهغوے اکاګانو ورکړله اوّ يوه ځلرمه مو په زرروپی ابګړ وورله واخيستله چی پيسے په ږمږن ځپلوانو په بسپن (چنده) درټولی کړلے .څه وخت پس بيا زما ړاره ښاغلی مامد زمان خان کوښښ وکی بسپن يے وکړله اوّ د ـ اوچتو ټولګو ( هائی کلاسز ) د ـ کال خرڅ يے ورکی اوّ هلکانو ته نهم اوّلسم ټولګی دالته لوستل خوا زموينه يے په کورنی توګه (پرائيويټ) ورکړله دا سريښته هم څوکاله وه چی بيا سرکار سم لسم ( ميټرک ) کی اوّ اوس داشان چلېږی خو که د ـ سرکار رڼا اوّ مخ هرو مرو ښارو نوته نه واے نو د ـ کوټی په ځاے ګوليستان د ـ پوهنځی ( کالج ) ژيات وړوو ـ ولی په کلو کی کلی اوّ په ښارو کی ښار دی که څه هم د ـ ټول واړه تاسيل ( سب تحصيل ) ابادی نيژدے شل زره ده ـ چی په ۲۰ / ۳۰ ميله ويره هولکه کی ځواره واره په وړو وړو کلو کی پراته دی ـ لوے کلی يے ږمږن داوی چی نيژدے ۲۵۰ کوره اوّ ۱۵۰۰ آبادی لری ـ خو د ـ ډيره وخته څخه پکښی ښه سړکان تېرسوی دی ـ د ـ کوټی اوّ چمن شاهی پوخ سړکے داوړدوږ ـ ځوا په ميان کی تېر سوی ـ د ـ نوړو ځايونو سيوا ځپله په ګوليستان کی تانه ـ وړوکی تاسيل ـ ټپال ( ډاک خانه ) تار ـ ټيليپون اوّ درمانتون ښته چی که څه هم واړه واړه دی اوّ نوږ هم ژياتول غواړی خو څه ماته ګوډه ګوزاره کوی .

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ګټې اوّ اخیستې

ماوړاندې هم یو ځاے لیکلی دی چې څه
وخت زه ښوونځی ته تلم که څه هم د. تازی. پاړسو او پښتو پوره
لوستی وم خو په ژوند اوّشاا وخوا هیڅ خبر نه وم لغړ خپل د. کوړنی
هم نه د. کوږ په ژوند خبروم چې د. دین اوّ کوړنی د. بندښتو نونوم
وویاد. دینی کیتابوږد. ښووڼځی په شپوکی می لږ لږ شاا وّخوا نړی
ولیدله اوّ داچې د. پښتنو ژوند د. پښتنو الے ډېر ګرز بدلی ووا او لا
لګیا وو روز په روز ګرز بدی ذوے ژوانی د. پښتنو په ژوند بیا ډېری زیاتی
ننوتلی وے یو نښے که څه هم شراب لانه وو خو چرس بنګی اوّ
تاریاک (اپیم) په زیاته چرس ډېر زیات سوی وو. زموږ د. پلار په
وختو کی چې موږ واړه وو دانښے به په ځینو کلو کی یو یو سړی
کولے اوّ هغه به هم ډېر زیات ښکارندوے (رسوا) اوّ بدنام وو. زیاتره
به خوږ ډم مرییے یا خوږ ملنګ شانته سړے وو. کله کله به خوږ
خوان خان هم په اخته وو زموږ په کوړنی کی ډوه تنه خانان په اخته

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

وو.اؤپه کلی کی پینځه شپږ کسه ډمان ، مریان ، اؤ ملنګیان به یادېده خوچی موږ ښووونځی له تلو اؤ د.ښووونځی را اوزګارېدو . داکاربیا ډېر خورسوی وو .د. کلی په ځوانانو کی په سل کی نیژدمے لس به پهاخته وو اؤ په سل کی شل نور داسی وو چی کله کله بے نشه کوله.ګواچی باندی پېښی بهسوناګاری ﴿انکار﴾ یه نه کوله اؤس خو اروم چی نیژدمے هر ځوان سړی کله نه کله دانشیے کړی دی ډېر کم بهترمے بچ وی اؤ زیاتره پهاخته ﴿عادی﴾ وی .

بلهخورهؤ رانی بچه بازی وه.چی د.بازارو د.بے کوره ﴿مجرد﴾ اوپرهد ﴿ پردیسی﴾ کسب کړو. څه سپوا په ښووونځو اؤناپېښنه لاداچی په ماجیتانو ﴿مساجد﴾ کی خورهوه اؤ د.هغوځخه په کلو غرو اؤ باندو کی خورېدله .

اوستری او ترېولولویه ګټه می داومیندله چی د.ښووونځی په اوستری کال کی زموږ مشر اوستا په ښووونځی کی د.هری میاشتی پهاوستری روزیوهد غونډه پېل کړله چی په هغه کی به هلکانو.یادی کړی سندری ویلے .پیښپے ﴿ډرامه یا نقل﴾ اؤ.وینا ګانی بے کوپے یا بے خپری(Papers) اؤ اسی ﴿مضامین﴾ لوستل د.غونډی

مشر ﴿صدر﴾ لوړ اوستا وو. اوزه سکتروم په هره غونډه کی به ډېلی
غونډی کار اوهلکان وټاکل سوچی پلانکے به دا کار کوی هغه به
ټوله میاشت د. هغه تیاری کوله. په داسی یوه غونډه کی ماته پوړ
جیرګه ﴿جرګه﴾ باندی اسه وسپارله سوله. ډېری زوزی خوما څه
تیاری ونه کړله چی څه وبه لیکم وخت لا ډېر دی په اوستری هوته کی
چی می لیکل پیل کول په دمے پوړے سوم چی زه د. سره د. جیرګے په
سرینبته خبر هم نه یم. دلی دوری می تپوسو نه وکړل څه لیکلی
څیزمی پیدا نه کی چی په پوړے می کی څینی خلګ او اوستادان می
وپوښتل خوچا می داسی کومک ونه کی چی ما ښه څیری باندی
لیکلے واے هسی اکوپکومی خوښ نه وو. نو د. غونډی په زوزمی
وویل چی ما څپله اسه نه ده لیکلے ښتر اوستاد می وویل" چی
داخو هغه خبره سوله. که مکه کښی مے ینی سی نو به دین چیرته
وی پاته - چی ته سکتر یے خپل کار په ښه توګه نه کومے نو به نو
څنګه کارو کی ته یوه روپی ډنډ ﴿جرمانه﴾ یے" روپی خو می ورکړله
خو ډېر زیات شهید سولم او د. هغی زوزی نه می د. جیرګے لتون پیل
کی ښه می څان په پوه کی. ښبګری او ورانی یے زده کړمے د.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پخوانی پښتنی جیرګې اؤانګرېزی جیرګې بېلتون راڅرګند سو هم په دې ګربېړنه کی د. انګرېز د. سرکاری سریښتې ﴿نظام حکومت﴾ په ډېروړانو پوهـ سوم.اؤ په دې ورسېدم چی زموږ د. هیواد دپښتنون کام د. ټولوړانواوخوارو سرچینه هم دا انګرېزی سرکاردی پښتون څکه خوار ،بدکاره ،بې کاره ،ناپوهـ اوسپک دی چی ترانګرېزی سرکارلاندی دی اؤپه خوښه یاناخوښه د. انګرېزسرکارلارچلوی.اؤ دا کام به روزترروزی نورهم خوارېږی اؤوړانېږی .اؤپه هیڅ ټوګه سمبداېږی اؤ ودانېدا نه سی ترڅوچی د. انګرېزد .باچهی ونه وزی ولی د.ودی اؤښېګړی هرکارپه سرکار پوری اړهـ لری چی سرکارخپل اؤخوا خوری وی نوهله کامی کارکېدا سی اوچی سرکارپردې اؤد.کام د.ودی بېګانه وی نوکام به وده خوړ پرېږده روزترروزی لالوېږی هم داالتهون د.نورو شیانو سرهـ زماد.کامی ژوندپېلامه سوله .

ښکاره خبر نه یم چی څنګه خولا ډېر وړوکی وم چی په زړه کی می د.ښکارمینه پیدا سوله .په پېلامه یه څکه نه پوهېږم چی که څه هم د.کوړنی نورو خلکو به توپک اؤ وسلې ساتلې چا به ښکارونه هم کول.په زیاته زما د.مورپلارخوهغه وخت لا د.سرېلې

﴿آسټریلیا﴾ شخه انګریزی بوړی ﴿۳۰۲﴾ توپګان ، توپنګچے اؤ نوړی وسلے راوړی وے چی، په دے هبواد کی داشیان چالیدلی هم نه وو.د. کلی خلګو به ویل چی د.مامد هسن خان د.یوولس وزی توپک ګولی هرچیری چی وولے خپل په نوبنان پسی ګرزی اؤهر چیرے مچے پیدا کی باندی لګی .چا به وے چی د.دبوال په شا اوپه کوړ کی دننه هم سړے ولی .خو ژمور پلار نه ښکارکاوه نے هیڅ کله وسلے ساتلے یا ګرزولے ژمور په کور کی یو هغه توپک وو چی د. خولے له خوا به ډکیده اؤ یوه می د.مشرا کازړه توړ د وه .ماما ګانو به می ښکاروته کول خو ژیاتره د. تازیانو سپو زه لا وړوکی وم چی د. چرو کارتوس به می رانیول. اؤ د.ماما یابل تربور د.ښکار توپک به می وغونبت اؤ په باغونو کی به پوروړو مارغانو تکان کول .دومره وړوکی وم چی ژیاتره به خپلوانو توپک نه راکاوه چی ځان به په خوږ کے .د.بنوونځی په شپو کی می ښکاری اؤ د. ګولو توپکان واخیستل .مشر ورور می په شپږم ټولګی کی لا لوست پرینبوول د. کوراؤ مځکی کارے کاوه اؤ د.ځینو نورو خپلوانو سره یے د. تازیانو ښکار کاوه ژما د.تازی ښکار نه وو خوښ ما به د.توپک ښکار کاوه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کله به ځان له ټلم اؤ کله د. دوے ســـره. په ځپلوانو کی می ځینو
کسانو. سمایل جان اؤ د. هغوے مشرانو وروڼو هم د. ټوپک ښکار
کاوه د. کلی لوېدیځ او کوټب خواته نیژدے پوړ نیم میل وړمے وړمے
غونډۍ دی په هغو کی به سیسی ومے اؤ نیژدے پوړ شپږ میله د.
منځی. لوے غردی چی کوړک اؤ خواجمران یه هم بولی. هلته
زرکی اؤ غرسنی پسونه وو. د. سوهېل اؤ لمر خاته په خوا پوړ شپږ
اته میله د. اوبو اؤ میدان موړغان وو د. منځی د. غره په شاکی نیژدے
پوړ شل میله تر ربګه پوری دامان دی. هلته به هوسی اؤ سوپان وو
ژموږ د. کوړنی خلک ډېر ماړه اؤ لوے زمینداران نه دی. ایله ګوزارے
هومره مځکی اؤ باغونه لری او د. مځکی اؤ باغو پیداینبت هم هغه
وخت دومری نه وو چی د. اوس په شان خلکو موټران اؤ د. سواری
نوږشیان درلوډ. آس به هم چاچا درلوډ اؤ هغه هم په کوړ کی یو. که څه
هم موږ به تل آس درلوډ خو چی د. ټولو ملو به نه وو نو ما به هم آس نه
بیو اؤ ښکار له به پیاده پلی تلو. ژموږ د. ځاے د. ښکار وخت هم په ساړه منی ژمی اؤ
لومړی پسرلی وی. زیاتره به یخ واوره اؤ باران وو. ځکه به موږ پوړهـ د.
سپاهی شانته غټ پاخه اؤ درانه بوټونه پټی (پاپېجی) اؤ د. پنډجین (زین)

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خړی ﴿خاکی﴾ جامې ومې هرچا به خپل کارتوس د.ژوزی ازوغ ﴿
خوراک﴾ اؤ توپک وړه .چی ډېر به وونوپونیم نوکر به راسره ووچی
هغه به د.چایو لوښی اؤ خه لږډېر د.خوراک شیان را اخیستی وو.
ژموږ ښکار به دوه رازه وو.د.ژوزی ښکار اؤ د.شپو ښکار.د.ژوزی به
داووچی دشپې به په خلوړ بجې روان سو پوراووه بجې چی لمر به لا
نه وو راختلی د.ښکار ځای ته به موخان ورساوه .لمونځ به مو هلته
وکی چای به مو پخې کړې ناشته به مو وکړله اؤ د.ژمی پوراته بجې
چی زرکی به د.شپلو پیتاوی ته راولوېدې په ښکار به پیل سو.تر
غرمې به په لوړ وخوړوکی په زرکو پسی زیاتره په منډه منډه پې وو.اته
یا لس ټکان به هر سړی وکړل چی د.هر ټک سره به په منډه ستړی
اؤ په خولو ناوده سو.د.غرمې ځای به مو سره ټاکلی وو هلته به سره
راغلو .ډوډی به مو وخوړله د.ماپښین لمونځ به مو وکی چای به مو
وخوړله .زرکی به هم بیرته شپلو ته راولوېدلې بیا به پسی ولاړ سو.اؤ
تر پینځو بجو به مو بیا پینځه شپږ منډې اؤ د پیچومو او ژورو مزلونه
وکړل.پور پینځه به مو د.ماخیګر منځونه هورې وکړل اؤ د.ښکار د
.مورغانو د .باره سره به د.ماخوستن پر اته یا نه بجې به کور ته

راورسېدلو. داشان چې ډرمې څلور یا پینځه کالنې د. ناستې پاستې وبولې نو ډوولس ډیارلس کانټې به د. ډرانه باره سره په وردی کې د. بندو ډرنو اوږدو بوټونو سره په بیړه اؤ زیاتره په منډه مزل وسو چې نیژدې دېرش پینځه دېرش میله د. غره مزل سې زما په ګومان د. نړۍ هیڅ سپاهي مې هم نه کوي. خو د. ښکار په هوا د. ملو په ښیالي اؤ د. میني په خندا اؤ ویشتو «ټوکو» به وسو هم داشان د. سمې د. مورغانو ښاړو دوې ښکار هم د. پېش لمې څه ترتېره ماخوستنه مزل وونو د. سمې مځکې اؤ زیاتره د. وهلي «سادین» مځکې چې د. غره تر پېچومې پاته نه وو. دا رنګې د. هیلیو ښکار هم دغومره مزل ووتر لوړې اؤ زیاتره د. ښسرمې په ختړه کې

# د.ښپږ ښکار

د.ښپږ ښکار داوړچې څوتنه
مل ګرې به یو ځاے سره د څو ښپږ ښوړې یو کس ډوهٔ نوکران د.
اخلې پخلې ښیان .بیسترے اؤ خېمه به موږ ځان سره واخیستله اؤد
.کوره شل پینځویښت میله لرې به موږ په منځه کې یا د.منځې
هاخواته اؤ کله په دامان کې اوتاک ونیوچې ښکار به ډېروو.اؤ هلته
به موږ څو ښپې وکړلې اؤ هره ږوز به د.سهاره تر مابنامه ښکاروو.
دا ښکار به کله لغړ د زرکو وو کله به د.زرکو اؤ غرسنو پسو ډوا ړو
وو.کله به د.غرسنو زرکو اؤ سوپانو ډرو سره وو اؤ کله به د.هوسیو اؤ
سوپانو یو ځاے وو. کله به داسې هم ووچې ډوهٔ ډرے تنه به ولاړو د.
خوراک سامان اؤ بیسترے به موږ یو وړے د.چا په کور کلې کې به ډېرهٔ
سولو اؤ اخلې پخلې به هغوړ اله کاوه په دے ښکار کې به یوے خواته
له کوره د.ښکار تر ځایه تګ راتګ څو بچ سره څو ښکار به څو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خوږوزی پر له پیسې سوړ وروورو موږ د. ښکار په دمې مزلواؤ سختو
دومری اموخته سوچی کله به روږده په ژمی راغله نو موږ به په روږده
کی هم دغه ښکارونه هم هغه شان کول چی ډیر لوې سخون وواؤ
گومان می دی چی هیڅ لښکر به هم په دومری خواری چا نه وی
اموخته کړی چی په ژمی سیلۍ واوره اؤباران کی روږده په خوله
سهار ترمابنام د. توپک اؤ کارتوس سره په وردی کی مزل وکی په دمه
ښکارونکی به کله کله داسی هم پیښنه سوله چی مابنام تر سهاره
ټوله شپه به مومزل وکی، اؤیو وار خوما اؤ شمایل جان داد. دژستی
شپې مزل وکی سهار موپوړ ښکام کاړ د. خرگتو ښکارو کی تر
غرمې وینښ وو ېس د. غرمې یو سات بیده سولو په دغه وار موداناا
پیښنه ازموده هم وسوله چی بوړ پور ښنه شود په له ړ دم کی دومری خه
ر کتهی وویشتې چی کارتو س موهه م پاته نه سو اؤ تو په ک موهه م گرم سو.
دوې تږی وې . اؤ بو له راتلې اؤ موږ و یشتلې . یو سړې وورته ولاړ روږ غاړې
پړې کولیې . په دې کی لولږیز سپاهی مامدلال شمشوزې راغی. وې چی په
ماپسی یوسړې راروان دی یو ډیر تیار مروور سره دی. ماته د. غلا ښکاری
جینی راکه رزو لیې پکاردی . زموږ خوښه نه وه . ولی چی په خبر نه دې وواؤنه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

موږ چې هرو مرو به د. غلاوې هسې شک وو . موږ په ښکار پسې راغلي يو. هسې نه چې خوشې په جنجال اخته سو. اوس به ل دستي کارتوسونه راسره نه وو که شر سونو په څه مې کوو خوښیږي موږ ځه ګوري مې. سړې چې په لارې رانښکاره سو موږ د. ورایه لا ډېر پوروکي چې خودا دې خوار که هسې دې راخوار کړو چې ګوا موږ د. پسه خاوه ندان يو هغه چې موږ وليدو او توپک يه وليده پسه يه ايله کې مه نه يه کړه موږ پسه روان کې او تاک له موبلوت سپاهي هم راسره دې اوسپاهي يوازې نه سي بولا بهريږي. غرمه موږ بيده سو ماپښين چې راپاڅېدو هغه د. کورمېر مني راته وې چې ډېرکسان بره تېر سوا او داسي روان وو لکه د. چاپل چې وهي زموږ ګومان سو چې ګلکچي به ده پېړې اوپسه د. غلانه دې پورسپاهي موږ مينت وکې چې هسې دې په جنجال کې واچولو . ماښام د. ډوډۍ پور وخت لاندې په شله کې د. سړو ډېر غ سو. هغه د. کور خاوند وورولا سو تپوس تې وکې هغوی جواب ورکې چې هبو جان يم سړې راسره دې ډوډۍ غواړو .د. کور خاوند د. سپاهي څه بهرېدي وې دلته کښېنې ډوډۍ به درو ړو هغو وې نه دا ځای خراب دی. کور ته به ده ر ځو. راروان سو دلته سپاهي ېيري واخيست ولي چې هغه د. دارو خان د. کلي خلکو چې زياتره غله او ډاکوان وو او ده يه ډېر خله د. هغو موخبرې کړې وې د. کورمېر مه ن تې وې ېورما کالې برسته ن ډېروا چوه واخوک ناجوړه دي چې دې مي نه ويني . سړې راغله اتله س شه ل کسه وو .

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ګنېښنا ستهٔ خو را خوشاله وو ولې چې هسه ل ملېږے چې د. دوے وهه ل پور بانـدې وو هغه پور کوړ ورغلی وو اؤ سره د ـ څونوړ کسانوېه وهلې وو اؤ خپله بدله یه جینې اخیستلې وه په خبرو کې هبو جان وو ئیه چې نه ن می پور ګوجن خورې وایشولې . ګوجن د ـ اخه ګزو هغه پښبه ده چې موږ همیدزی هم په شریک یوډو غبی زی د. بـادین د. سباخه وو . ماته خپه ل د ـ تپې د. هو ډی اوپت له مخه دې خبری خونـدرانـه کې وې می هبو جـانـه ګوجن خو ډیر خلکـه دی. تـاخو یوهسه ل خوار وهلی دی. د ـ دوے سړی راپورته سو . وې هـا څوک دی د ـ ګوجن سیل ګرید ـ کوړ خاوند وو روښو وه م. چې د ـ نـاتو لا خان دی. سړی غلی سو ډوډی یه و خوړله اؤ ولاړ ـ کـله به داسی هـم پیښـه سولـه چې ملګری بـه ځـله چپ سو اؤ چاتـه بـه د. خور ک شے وله رسېدی اؤ ډرسته روز.ه په ناوه وو. کله به داسی پېښه سوله چې بوده به چپ سول یا به لږ وو نو موږ به ډېر ډروند بارهم وړی یو وخت ما . سمایل جان اؤ کودوس جان یو مړ غرسنے په ډوو تنو په واری واری نیژدے ډرمے خلور میله یووړی چی. ډوه ډبے منه وو یو بل وخت ما ډوه توپک یو ښکاری اؤ بل غوږ ین سره د.

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډواړو د. کارتوسو سهار تر ماښامه يو وړل په لارى مى ذرکى هم
وويشتلے پينځه ښپږ هغه هم ومے. اؤيوه ځوزداسى هم پيښنه شوله
چى په روڼړه د. هوسيو ښکار له تللى وو. په دامان کى مو د.
اؤغانيستان په خاوره کى د. جانو د. کاله پورناوړانو اوتاک وو. په
اوسترى ځوز سهاروختى موږ توپک وال په ښکار پسى روان سو اؤ
نوکرانو ته مو وويل چى تاسى خيمه اؤسامان راباركى پور شكام
کاڼ د ښاديانو شمسو زوپور كلى واړوى. موږ به هلته څه وخت
درور سېږو. ډرمے بجے چى زه اوتاک له راغلم حبر سوم چى د.
شريپے د کاله ناسرغيبى زى خوداے دے ويخښبى پورسامان ډاکه
کړمے دے اؤ د. سمايل جان ښکارى توپکے وړى دى. دغه ناسر د.
پوټى په سر کى پرروت وو چى نيژدمے ډوپلس ميله بيرته د. شاخواته
وو. زه اؤ سمايل جان بيرته پسى وګرزېدلو کوړلے ورغلو ښه مو
وشرماوه اؤ توپک موجينى راواخيست ښپږ نيمى اووه بجے به ومے د
- روڼه مات وخت نيژدمے وو هغه ډېر راته وويل چى اوس نه سى
تلا ے شپه راسره وكى سهار به ولاړ سى خوما وورته وويل چى ته
غل يې خواړه دى نارو، اؤ مورداردى اؤموږ ډرسته ځوز د. خوداے

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

دپاره روژه نیولې ده په ناروا خوړو یې نه ماتوو بیرته ترې راروان سو او
دا دوولس میله پوړ پېچومی مزل مو وکی. د. لسو بجو پس خپل
اوتاک له راغلو روژه مو ماته کړله. شپه تېره سوله او سبا له بیا روژه
ښکار او ډرسته روز د. کوړ پخوا مزل وو. په دغه روز ما او سمایل
جان په روژه چې هیڅ نه وی دېرش پینځه دېرش میله مزل وکی او
شل میله خو ډېر جلګ او تلواری ولاړو. خو دا به ووایم چې د. ښکار
په تولو ملوکی زه او سمایل جان میانه وو. تر موږ زیات خواری کښ
هم وو ښاغلی ایوب خان چې اوس په کابل کې دی په تولوکی په ښبنه ډېر
تېز وو. موږ یونه سو پسی رسېدا سو خو دامې ونه لیده چې دغه شان
تېز تر څو تلا سو. ډرسته ورز تلا سو که لږ وخت ؟

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د ښکار ګټې

د دغه ښکاره ماته ډېرې زياتې ګټې ورسېدلې
يوه. دا چې د بېکارۍ وخت به مې پوره مې بې تاوانه کار ولګېدی .
بله د خوټنو ښک خويه پوره لوستو او سره ورخپلوا نو سره مې
وخت هم تېرېدی ورمو هم سره ووت او مينه مو هم سره زياتېدله د.
ښکار د دغې ملګرې او ناستې پاستې څخه په وروسته ژوند کې
نورې ډېرې ډېرې ګټې هم را ورسېدلې .
دريمه دا چې د ښکار د دغه ژوند له مخې مې روغ واله ډېر ښه
وه خوارۍ کښې سوم. په يخ ، ګرمۍ ، لوږه ، تنده ، ستړيا او مزله مې
هيڅ باک نه وه يوه شپه مې داسې تېر کړې ده چې ډېر يخ وه او موږ
ټول پوره ګار بې خوني کړدې يا خيمې پراته وه دومره يخ وه چې په
بيستره کې تېک نه کېده په ميان کې موږ ډېر اور بل کړی وه او موږ
شاا وخوا چاپيره په بيستره کې پراته وه يوې خوا ته د اور تاو زيات وه
سوځولو بې او بلې خوا ته به يخ تنګولو ټوله شپه به موږ يو وار او بل وار ته مخ کړ چې مخ به

موا ورو سبخه نوشا به مو يخه سوله نو به موشا او رته كړله نو مخ به مويخ سوداسي موتوله شپه لټ پور لټ تېره كړله. بل وخت په نومې ځواني كي په ښكار كي د. شپې اؤ دس راباندي وا وو بنت. اؤ زمور ځوانه دا خوې روځي ني ځوانان به دستر مه د. كور د. خلكو، خپلوانو اؤ مشرانو په غلا لمبېده. نو زه سهار داوتا كه لري د. كرورې ناوره له ولا رم يخ زيات وو ناور خورا پېرړه يخې نيولې وو. يولس سېرهٔ هومري كاني مي د. سرنه اوچت كې اؤ په زور مي كنكل له پرېښو. ايله مات سو اؤ او بونه مې لارو سوله هم په دغه يخوا وبو كي مي ولا مبل اؤ ځان مي وچ كې راغلم اؤ په ښكار لګيا سوم.

خلرمه داچي په خپل كام اؤ د هغو د. مځكي په يوه لويه برخه كي بنه ولاسوم. سوونو كسانو سره د. هغوې په كر ديو. كوډلو سيبوونو اؤ د. ښكار په خيمو اؤ او تاكونو كي واوسېدم. د. هغوې د. ميني اؤ روشتو نولي ډک ژوند اؤ مېلمستيا وي مي وليدلې د. ژوند خواري تنګي اؤ بدي روزي مې سهي كړې اؤ د. هغو پېلامې مي ولتولې اؤ زده مي كړلې. د پښتنو په خواري اؤ بده روز خبر سوم يو وخت زه اؤ سمايل جان د. ښاديانو شمشوزو په كلي كي په ساړه مني اؤ تاك وو. دوې لا كړدي نه وې درولې هسي پورډكار پړاته وو

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

موږ ته پېلار د. کړدي يوه تاګي د. خيمې د. تجير رنګه شا اؤ خوا پردهٔ کې سره واروي ودراوه دومره يخ وو چې موږ په يوه تيلتک (برستن) اوډه شرۍ کې خوب نه سو کولاۍ د. شپې يو ځاۍ بيده سو اؤ ډواړه تلتکان اؤ ډواړي شړۍ موږ راباندي واچولې خو د. کلي خلګ نر ښځې واړه زاړه هسي پړاته وو. اؤ د. ډېرو سره مي مينه اؤ تګ راتګ پيدا سو. ځکه خو که څه هم د. کال ۱۹۳۰م څه تر کال ۱۹۵۸م پورې چې له ما ښکار پاته اؤ داتګ راتګ د. انګريز سرکار د. بندښتونو بندولو اؤ جېلونو له مخې پاته سو چې زه په کال ۱۹۵۸م کې اتويشت کاله پس د. کامي دورو لپاره دغو کلو اؤ کورو له ورغلم نو هيڅ ځاۍ زه نابلده اؤ بېګانه نه وم په هر کلي کې مي د. هغه وخت شيناخته اؤ اشنايان وو. ډېر مې مل ګړي سو اؤ راسره يه ډېر کومک وکې.

پينځمه دا چې په زرګونو کارتوس اؤ ګولۍ مې وچلولې د. توپک ويشته چې په پښتنو کې تل د. وياړ کار بلل سوی دی مې ښه زده کړل. دا د. خونداو ګټمېره ساتېرې نيژدمې لس کاله پس په کال ۱۹۳۰م کې هغه وخت راخخه پاته سو چې ما کامي کار پېل کې هغه هم د. زغم اؤ ټينګار (عدم تشدد) په وسله اؤ خپلې ټولي وسلې مې لرې کړې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# آزادی د .بدو مل ګری اؤ د. خوداے پاک کومک

ورروک والی د.

مور غبر خوروغ جنت ووچی په خپلو پښو روان شوم سر ګردان شوم. چی څه وخت د. کوره اؤ په کور کی د.خان له لوستو را ووتم .اؤ بنوونځی له ولاړم نو هرو مرو د. کوڅے .کلی اؤ تری د.هلکانو اؤ خلکو سره می ناسته پاسته اؤ اړیکے پیدا سو.د.هغوے په لوبو اؤ ساتیری وورکه شوم.په دے لوبو کی ښتی ﴿مردکی﴾ اؤ بډئی ووے اؤبل کرک بازی ﴿بټیر بازی﴾ وه.که څه هم زموږ په خوا دا ډرمے سره

---

له بدی یا بوجه ل

د.پسه د.شاد پښے هغه واړه هلته وایی چی ورون ﴿پتون﴾ اؤ پړ کے پورله پوری کوی.په کندهار او پښین کی واړه اؤ کله لوپان هم راز راز لوبی په کوی اؤ په زرګونو یه غونډی کړی وی په کلو یه ایښی وی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ژیاتره د.ساتېرې لپاره کېدمے. خومار ﴿جواری﴾ بهژیات نه باندی کېده .بېږی په ګټه ګټه کېدمے اؤیو پوښل به په پیسوخرڅېدلے نرخے د. نوروشیانو سره بدلېده یووخت بهموږ شل په پیسه اخیستے .بېیاوړو وړو کمېدمے چی پینځه دپیسے سومے.دا لږ خومارووخوبېیا بههم په خینولولبو کی لګه «جوت ، تاک»"یاتکی ناتکی" کی ترروپی ډوو پوری ګټه بایلات کېده. پهدمےلوبه کی بهواړه .نوی ځلمی.اؤکلهزاړه هم یوځایے یا بېل بېل لګیاوو.هم داشان بهتی ومےخینی لوبی بهپه ګټه ګټه ومے اؤپه خینوباندی پهژیاته پهمیدان باندی چی نیژدمے نیژدمے د. انګرېزانو د.بیلیټ ﴿بیلیرډ﴾ شانته وی به پیسے تړلی کېدمے په یو سر باندی چی نیژدمے پهیوه ګانته کی پوره کېږی څلوږ آنے تړلی کېدمے اؤداشان د.ژوزی د.روپی ډووخومار کېده. کرکبازی داوه چی کرکان ﴿مرزان﴾ بهمونیول .یا به موږانیول اؤبیا بهمو پهډېرو خوارو ساتل چی یوه پکښی داهم وهچی د.جنګ ترژوزډومےشپے وړاندی بهمویوه شپه اؤژوز خوب ته نه پرېښوو په لاس کی بهموګرزاوه ،ښوراوه، ژغلاوه اؤویښاوه.نوځودبه مږ هم وورسره ویښ وو. چی ډېر بد کړ اوبه وو.بله خواری یهد.نیولو وهچی

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ببل چلوونې وو چې هر يوه ډېر کړاوغوښت په زياته د. تور چې
اوکره شپه به مو د. غنمو په کښتو کې تور کشاوه چې چيرې به مرزتر
لاندې سونو به مورونيو خو هم به هر يو د. جنګ د. کارنه وو. ښځه ﴿
بيشبه ﴾ خو منځ له د. جنګ نه وه. واړه واړه هم ښه نه وو. زه په دې ټولو
لګياوم او ډېر پکښې مړنې وم خو خوښه مې يوه نه وه. نې خوند
راکاوه. ځکه چې په هره يوه کې څه نه څه تاوان او داسې چارې رامې
چې زمانه ومې خوښې لکه د. ناړه خلکو ناسته پاسته ناوخته
زياتره د. شپې وخت باندې تکېدل او زما د. سره خوې وو او اوس هم دې
چې د. شپې وختې بيد بېږم او سهار لمانځه
له پورته کېږم چې کله د سهار مونځ راځه پاته سي نو ټوله ورځ
بې سوره يم- په زياته «کرک بازي» چې هم ډلې پرې
پکښې جوړېدې هم ګوندي او دوښمنې اوهم به د. نشو او بچه بازي
لارې پکښې ومې خو ځکه چې مشر ورورمې هم راسره لګياوو. او
هغوې لوست پرې ايښې وو. او د تيا زيانو ښکارې کاوه سپې مې ساتل
د. هغوې د. سپو په نوکرانو او د. ښکار په ملو کې خينې ناوړه او
بدکاره خلګ هم وو او ځکه چې دا خلګ به مې شپه او ورځ د. وروره

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سره‌ناست‌وو نوړ‌زما که‌خه‌هم خوبن نه‌وو خو چاره‌ می‌هم‌جینی نه
وه هر خه‌چی‌می خان جینی کوت ښیا هم د.هغوبے په‌رنګ دومری
رنګ ښوم‌چی په‌سرکی په‌کرک بازی ووړکو ښولم اؤ بنه پکښبی
بوخت‌وم.چی خلکو به‌یوکرک ته‌ویښه «بیدار خوابی» ووړکوله‌ما
به‌ډوو ته‌ووړکوله.مابنام چی‌به‌کښبنبا انستم اؤ په‌ډواړه لاسه‌کی‌به‌می
یویوکرک واخیست د.اوبلولوبنی به‌می‌مخ‌ته‌کښبنبوو اؤ خنګوته
ډوه بالښتان ترسهاره به‌هم‌داشان‌ناست‌وم دکور کانو ښیے به‌می
په‌اولونودوے‌اؤ پور بالښت به‌می منډی ووړکوے. خو دادومری
کړاوبے‌خه‌ساتیری نه‌سوکبدلاے‌نوچایی‌اؤ چیلم به‌چالو وو.هم
په‌دمے‌لړ کی یو وخت دغومل کروراته وویل چی سرے چرس
وڅکوی نویه‌چورت‌سم‌وی‌اؤ خوب نه‌وورځی نوداشان می‌په
لومړی ځل په‌چیلم‌کی چرس وڅکول.دڅکولوپس‌می‌ترپایه
دمےکی رے واهه چی‌خه‌پازه دربانډی کوی خو خوندمے‌رانه‌کی
روستوهم دغه‌مل کرو په‌بېلو پلموبیو خلوړپینځه‌ځله په‌چیلم
کی راکړل کله‌په‌دمے‌چی سړے چرس وڅکوی نوهنګ هګور یاساز
زیات خوندوورکوی.کله‌داچی په‌مزله‌نه‌ښتړی کیږی.کله‌داچی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چوړیٔ سم وی خوشاله وی خوما چی به وڅکول هرځه یه می ځان سره
رے وواهه هغه ددوے خبره به ډروغ وه .لا به ماته څه ښوابدی اؤ
پښېمانی شانته راپیښه شوله د.دوے سپوا به ځلوړ ځله ما په ښپله
ښوبنه د.شمایل جان .کودوس جان اؤ نوړو همزولو سره چرس
څکولی وی خو پوړ مایه هغه د.ښوابدی بډید کاوه ـــــ اؤ هم دا د.
خودا ے میهربانی اؤکومک وو.څکه ما پڅ پښبوول اؤ بیا می کله هم نه دی
څکولی .هم داشان بنگی .ژموږ یو شپین بډیری مشر تربوړ په نشو
اخته وو.هغه ته چاویلی ووچی د.کوړنی ځینی ښوانان هم کله کله
بنگی جوړوی اؤ چینبی یه نو هغه یو وخت ډوه په ډوبی(دوړی) بنگی
جوړی کړی وے موږ ټول ترڅپلو زامنو پوری وړوبللو اؤ پیغے
راکړے بنه نشه سو.اؤ لکه د.بنگو نشه چی وی په خندا اؤ خوراک
سرسولو د .ماځیکره تر هغه وخته چی بیدپدلو خودا ے خبر چی
څونه می خندلی وی اؤ څو خوراک به می کړی وی .خو چی سهار
راویښ شوم.هغه شتړیا اؤ د.ځان ډڒد. څوڅماتی،کهالی اؤ ښوابدی
په ژوند کی په بل شی نه ده راباندی راغلے .دپر می بد راغله خوږ.
ملگرو همزولو اؤ ښپلوانو په ډله کی به می کله کله بنگی چیښلے

کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چې په ډوډه درې دوبې کې به څه لس اته واره پېښې سوې وې خو هر ځل بې ترخوندې خوندي او تر مینه پښېمانۍ راباندې ډېره وه يو وخت مې د. خو همزولو سره بنګې چیښلې وې چې په دې کې زموږ هغه ماسټر راغی چې موږ څلور وکسو ځان له نوکر کړی وو انګرېزي یې رابښوله خو په دغه روز زه دونه جیني ویرېدم چې تر یې پټ سوم او یوه بل نوکر ته مې وویل چې هغه ته ووایه چې نن جوړ نه یم لوست نه سم کولای دومره یره راباندې تېره سوله چې څه به درته وایم چې سهار له راپه خود سوم او دا خبره رایاده سوله ډېر و شرمېدم چې سړی لا هم هیڅ مې هیڅه ځپل د. نوکرنه دومره یرېږي او په دې پوې سوم چې په نشه کې سړی د. ځپله واکه وتلی وي او په ښه بد نه پوهیږي . نن خو دا کار دا څخه وسو سبا تر دې لا هم بد در څخه کېدلای سي او بل دا چې نشه د. سړي خویونه زړه ورتیا پوهي ، نهیر «تمیز» او درکونه لاندې کوي او سړیتوب خو هم په دې شیانو وي ګواسړے د. سړیتوبه باسي . څکه مې د. زړه له کومې د. توبو نشو څخه سخته توبه وایستله او دا شاګرد زه د. خو دلے په کومک د. پوهنی په میهرباني د. بدومل ګروډ. بدی ښوونی د. دے پازوا او د. نړی د. یو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ډرمې بدې شخه پس د. ازموده سره د.وسه ، څواني ، آزادي ، پیسو اؤمل ګرو بچ ښولم هم داشان مې مشروروړ اؤ زیاتره ځپلوان بچ سو خوارمان چې ډوهد درمې مل ګړي اؤ ځپلوان مو هم د.دغه وخته په نښو اختهسو اؤ لا اخته دي.زما خو د.نښو شخه دومره بد راغلي دي چې ځپلو بچو اؤتوړلو ځوا خوږ ته تل وایم چې هر څه چې کوي خو نښې ته چې نیږدمې ورنه سي ولي مالیدلي دي چې د. ازموینته پس هر سړې نه بچ کېږي ځینې په ازموینت ازموینت کې په اخته سي که اخیسته «عبرت» کول غواړي نو ډېر پښتانه ..نښو له لاسه لېوني ، نیم لېوني ، ځوار ، سپک ، ناجوړه اؤ خورنګ ګرزي د. هغو شخه اخیسته وکي .د. لوېدیځ «مغرب» وه خلګو ته مه ګوري . یو خو د.هغوې اؤ زموږ ژوند ډېر بېلتون سره لري.اؤ بل موږ د.هغوې د. نشیانو اؤ بې نښې خلګو بېلتون ګټه اؤ تاوان نه دي پر تله کړي خو تر کمه چې د.هغوې د. درمانیانو اؤ پوهو خلګو اړه ده هغوې هم د.نښو د.لاسه په ژړا دي اؤ دامني چې موږ ته نښو د.هري ځوا ډېر تاوان اړولي دي خو دا دې واکې چې د.پښتنو مشران. په زیاته واک والان «حاکمان» په دمې پوړې سي اؤ ځپل کام د. چرسو بنګو اؤ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پوهنه

تاریاکو «اپیم» د ـ بلا بچ کی کنی ژربه د. دمے نشو د. لاسه داساهو اوّسیال کام هم هغه شان سی لکه د. تاریاکو د. لاسه چی د. چین اوّ ایران خلګ سو.

[redacted]

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# مړانه (بلوغ)

که څه هم ځما روغ واله ډېر ښه وو خو زه مړانې ډېر پس ووهلم په اتلسم کال کې وم چې مړانې ووهلم . که څه هم د.نورو پښتنو رنګه لا يو څه ځيات ځمونږ په کورنې کې نو ووځوانانو ته مړو ښې ﴿جنسي تعلقات﴾ ښووول بندوو اؤ ډېر د.شرم کار ګڼل کېده. خو ځما يو ځوانه وخت ډېر سوی وو اؤ بلې ځواته د .دوه پوهی ﴿ فقه﴾ تازې کيتابو په لوستو تر نورو څه ځيات په دې لار پوه وم.اؤ د. ځينو کيتابو په لوستو په دې هم پوه وم چې د.دې واک ﴿قوت﴾ ساتل د.سړې د.روغ واله اؤ ښه ژوند لپاره ډېر پکاروی دا پوهې د. دين ځدکړه اؤ د. کورنې او پښتون والې بند ښتونه په دې لار کې ډېر په ښه راغله .تر دې ټولو ځيات دا شې په ښه راغې چې ځمونږ په کورنې کې يو سړې [redacted] په دغه وخت کې په بادپرنګ ﴿ آتشک﴾ ناجوړه سو چې د.چکلې د.رنډيو څخه اخيستی وو.هغه

وخت د.دمے رنځ درمان هم دومرې اسانه نه وو لکه اوس اوده هم پور وخت درمان ونه کړای شو د.دروغ شرمه یه دانه منل چې کنې مانه داسې کارسوی دی نو هر بدناجوړه سو په کلو پروت وو. په لغاندو «د. پښنو بغلونه» کې هر لوے مرغرې پیدا سو بیا هغه پاخه او سوری سو نیز دمے اته اولس اینچه تیو څه سو هر خرخومےوسو.مور دواړه وروڼه او خینې نور خپلوان به د.هغه د.ساتېرې لپاره ذرمے خلور ګانتے د.روزی او بیا د غومره وخت به د.ښیښے وورسره کښېناستو پتی «تاش» به مووور سره کاوه.پس د.څو کالو ایله د. مرګه بچ سو.یو ځل خود.ستر ګو دید هم کم سو د.جوړېدو پسے هم روغ واله سم نه سو که څه هم تراوسه ژوندے دی خو بنه روغ نه سو د. دمےسرې د.خوارو مادومرې اخیستنه وکړله چې که څه هم په نومےځوانۍ ښه روغ بدن هرو پیسو او آزادۍ سره د.درست هندوستان په ښارو کې کله یوازې او کله د.هر شان ملګرو سره ګرزېدم خو ترننه مې د.بد کارۍ د.ترټولو اسانه لارې چکلے زړه نه دی کړې. نه د.رنډې په کور کله ننوتلی یم .خپل په خوښه خوپرېږده مل ګرو او دوستانو به ناچاره کولم زارې بے راته کولے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ډېرې پیسې ېږي.خرڅ د پاره را کوم خو زه د.ټنګ ټکور د پاره هم تراوسه دغه کوټه د ننه سوې نه یم یو ځل چه سینداید رابات «حیدرآباد سندهـ» کې ځینو هیندوانو آرتیانو چې په بله توګه ست نه کړم نو په دو کهاؤ د.بل کار په پلمه یه د.چکلې کوڅې «ګلی» ته بوتلم اؤ یوه کوټه د ننه سو چې کنې د.چاسم سړی کوړ دی .اؤ ښکارېدی هم داسې د باندې څه نخښه نو ښانه نه وه خو چې زه تر چوکاټ «درشلې» ورغلم دننه مې ډرې ساز ګړي «ګامنې والي» رنډي ولیدمې اؤ داسي په هول پور شاراستوڼ سوم لکه سړې چې د ماریا جیناور د.سوړی راوغورځې مل ګروهې هم زیات کار راونه درلوډ.اؤ زه ځاې ته راغلم بل ځل تر مخک ښوړ «زلزله» ورانده ی د. کلې څوزلمو «شکور میزې دوې» په غیږ کې اوچت کړم اؤد.دمې زینې لې ورؤړم خود.خوداې لاروه چې په کوټه کې هغه وخت رنډي په چوبارو یامانو کې وې پوځ تنګې وې تریوه سړی بالا نه پکښې ځایده اؤ یوه سړی زه په زوړ خبژ ولاې نه سوم خو ښیا هم د.سراپه بازار په میان کې مولس پینځلس مینته زوروڼه سره ووهل.اؤ ما ځان جینې بچ کې .دا زما ببره اؤ شرم هم د.خوداې پاک میهرباني اوکومک

وو کنی د. انګرېز په وخت کی اوتراوسه هم د. چکلے تربدکاری اسانه کار هډو کېداے نه سی او بیا چی سړے نوی ځوان وی پیسے هم لری د. ځپل سر هم وی او لایه نور خلک هم نا چاره کوی ګوا سړے به په بدو پسی ځغاست او بل به ترے ګښښه. په ما پسی بد ځغاستل او زه ترے بچ سوم نو دا زما مړانه نه وه د. خودائے میهر وو. وما اُبرّی نفسی اِنَّ النَّفسَ لَاَمَّارَۃٌ بِالسُّوءِ

زه ځپل ځان نه پاکوم د. سړی هوا خوتل بدوته پارول کوی - ځوانی وه ځپل سری وه روغ واله وو. پیسے وے او وزګار او بے کاره وخت وو. شاا و ځوامو د. پښتنو د. بدکارو ډک ژوند وو خوداسی بدکاری بچه بازی او کاسیری به خلکو زیاتره د. ډول او سرپښی په تو ګه «بطور فیشن» په ډله کوله. او زما دا شان ډله او ازادی یوازی د. سمایل جان سره کېداے سوله چی نیژدے د روزی او شپے زیاتره او زګار وخت به مو یو ځاے تېراوه. خو د. بنه مرغه هغه هم پوهـ او دین دوسته سړے وو زیاتره به مو یو بل د. بدو را ګرزول. ځکه خو زه د. هغه ډېر بنه منم او تراوسه هم وور سره خودائے پاری مینه لرم خو زیات کومک د. خودائے پاک له ځوا وو چی زیاتر د بے زمور بدی نبیښے او کوښښونه نیمه ځوا کړل -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# بچه بازی

داوړانی زمونږ د ډوک والي په وخت کی لا لږ وه خو اوس ډېره زياته سوې او په ټوله پښتون خوا کی ډېره او خوره سوې ده. پښتون کام ته ډېر زيان په رسېدلی دی او لا لګيادی رسی. ما د پښتون خوا په بېلو غاړو کی لکه. کوټه، مستنګ، سيوی، بوړي ربوب، بنو، پېښور، مردان، د دې رنځ په پېلامو ډولو او تاوانو پسی ډېری کرېږنی «تحقيقات» کړی دی چی پوره ښکل ځای به راسی خو دامی وليده چی ځينی ليری غروڼه او ږکونه که جينی بچ وی کنی هر ځای ته خو چيرته د نری رنځ هومره او چېری د وبا په شان يو ځای په يورنګ کی او بل ځای په بل. لنډه دا چی دا کار زمونږ په خوا کی هم وو. لوېده داوه او دا چی د ښوونځو زلمی او د ماجيتانو او ستادان او د ماجيتانو بې کوره مولايان او شاګردان «طلباء» د يوه مخه په اخته دی او د پښتنو واړه په ډېر وړوک والی او ناپوهی

کې زیاتره دغوڅوو ډلوته د لوستو لپاره وورځې اوْد. پلار مور اوْ خپلوانو دا باوروی چې اخوند کاکا مولوی ساب او ساوزاده ساب خوښه اوْ پاک سړې دی زړې ته به مې لوست زده کوی .د. زوې پوړ ځائې یه دی خو هغه خوداې وهلی مېې وسه اوْنا پوهه وړوکی خپل د. باړاو هوس ښکار کی اوْ بیا دا شان دغه واړه چې زالوې سی خپله نور په دمې ولهوی .څکه دا رنګ لګیادی ځورېږی ما چې څه لټون کړی دی .د.ما جت په مولا یانو کی می ډېر کم له دمې بدو پاک لیدلی دی که څه هم هغه خلګ ووچې موریدان یې نیول اوْ خلکو به وزرګان منل دغه شان مخور خلک لاځکه بدوو چې کله به ځینو وړوکو خپل موراوْ پلار د ساوزاده په دمې شنده خبر کړل هغوبه د.شرمه اوْ له دمې بیری چې که وواپو سړې مخوردی څوک به زموږ وینانه منی چوپ به سو په پټه خوله مې خپل واړه د. لوستو بند کړل .اوْ ساوزاده کاکا به هغه شان خپل په بدو لګیا پاته سو .نور به څه وایم زموږ په خپل ماجت کی زما په وخت کی څلور ایمامان په دمې توړو خر ګند سول .یو ډوه خو په ماجت کی چالیدلی وو .یو پوړتېسن د. نورو مولا یانو سره په جنګ اخته وو چې هغوې د. ده

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هلک (چنې) بیولی وو اوسرکاري خلکونیولی او بندی کړی وو په اوستري سري زه داسی خبر شوم چې یو وخت زموږ په ماجت کي د مولا سره د هغه ورور هم اوسېده یوه ورځ ما په مولا پسی د . ماځیګر مونځ په ماجت کي دننه وکی چې مونځ وشو زه دستي راووتم . د مولا ورور دباندی پوړ لمانځه ولاړ وو. ماته دانا شوده او ناروا ښکاره شوله خو هغه وخت مې تلواروو تپوس مې ترې ونه کی. بیا چې مې د. نوروشاګردانو (طلباً) څه تپوس وکی هغوراته ووبل چې دا خو د ورور خوابدی دی لمونځ نه پسی کوی او چې مغه جمی ته مونځ وور کوی دے یوازی او بیل ځپل مونځ وکی خو دلته نیژدے چې خلکے ووینی . نوره مې خوابده شوله او تپوس مې وکاوه چې پوړ څه خوابدی دی خبر شوم چې پوړ هلکانو او بچه بازی په ماجت کی دغ، وخت خلوړ واړه چنې وو. په هغو کی د.یوه پوړ سر ډواړو ورونو څله خوړلی وو. زړه مې د بر شین سو خو هر څه سوچ چې مې وکی په څه چاره یه پوے نه شولم دا خواسانه وه چې دوے مې د . ماجته بشړلی واے او بل مولا موړ او ستلاے واے که څه هم کېداے سو چې نور ووړ ځپلوانو مې نه واے راسره منلی خو په دے پوے وم چې هغه بل به هم

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

داسي وي اۆ كه هغه خپله كور والا وي اۆ په دے بدونه وي اخته نو دا زلمي اۆ بے كوره ﴿مجرد﴾ شاگردان ﴿طالبان﴾ خو هرو مرو دي اۆ د. بده مرغه د. پښتنو جوماتونه ﴿مساجد﴾ به زمونږ د. اوږدے كامي مے بختي له مخي هم داشان وي چي تر څو تول كام را پاڅي په گډه اۆ په بنه او د. پوهني يه تو گه خپل د. كام ژوند داسي جوړ وي چي نه دا كار پاته سي اۆ نه خلك دے بد كار ته اړي و لري نو مي سهار له ډواړه ځاے له را وغوښتل ډېر مي ورټل اۆ امي وو رته وويل چي پسي اخلم مو ځكه نه چي دا هيله نه لرم چي بل به كني پاك پيدا كم واده وال مولا يان زياتره په خپل ځان له دے بدو لري وي خو لكه چي ما مخ كي وويل د. هغوے مے واده زلمي شاگردان اۆ زامن بيرته په هغه بلا اخته وي. چي د. مولايانو دا ژوند اۆ د. ماجيتانو داشان مي وليد نو ځكه ماجت له د. لمانځه دپاره هم ډېر كم وو رځم او خپل په وړو مي ديني اۆ تازي لوست نه دي كړي په ښوونځو اۆ كور كلي كے د. ژغورني كوښښ كوم خو چي تر څو تول كام ونه روزل سي يو تن يو كور يا يو كلي بچ كيدلاے نه سي چپ د. هغه چي خوداے پاكے خپل په زياته ميهرباني بچ كي د. د دے ډوولو مولايانو اۆ وستادانو ﴿ماستران﴾

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

سپوا هم د.کلواؤ بازارو زياتره ميے ودو خوانان په دغه رنځ کار اخته
وی خو زموږ د.خوا زياتره خلک چی واده وکی نو دا بد جينی پاته سی
خو ځکه چی يو خو هسی هم په پښتنو کی ښځی لږ دی بيا پردهٔ
کوی اؤ نارينه غيرت لری د.بد کاری سره د.مرګ بېره وی چی
زوړ غواړی چکلے اؤ دمی وی نه ودونه د.ولور .پوښ پسول کوراو
نورو خوشی اؤ ناروا دودوله مخی ډېر ګران او دهر چا په وس کی نه
وی نه د.دوو لاسو په خواری زموږ د.غاړی څوک پښتون واده
کولاے سی .ځکه زياتره ناروا کارونه غلا ، ډاکے ، شوکی ، د.
هندوستان سود.کوربزی د چرسو اؤ اپيمو سوداګری پښتانه
کوی چی د.ناروانه سيوا خوراګران اؤ ډارجن هم وی خو دوے يه ځکه
کوی چی ګټه يه ډېره اؤ دستی وورته ښکاری .

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د. بچه بازي ډولونه

بچه‌بازي د.بونيا دموډېر زوړ رنځ دی اؤ
په‌مّيانځنی ايشيا ، بوخارا ، تورکستان ، ايران ، اؤ پښتونخوا کی د.
زرګونو کلو راسی وه چی ښّپلی بېلی پيلامې لری د.بوخارا
درباړونه د.ماموت د.وختو غزنی اؤ دشېخ سادی د.شّپو شيرازيې
څو نمونې دی. ځکه دمې بېلاری ډېر ډولونه اؤ رنګونه اخيستی دی
ښّپل بېل پاخه اؤ د.ماتو وتلی دوډونه لری او ځار راز ونې داوو

﴿۱﴾ د.بېکوره ځلمو بچه بازي د.هلک سره مروښی .

﴿۲﴾ د.هلک ساتل نازول د.ښځې رنګه د.ځان سره په ځای
کی بيدول اؤ لوبول خو بد کاری نه ووړ سره کول .

﴿۳﴾ د.هلک ساتل ، نازول ، خرڅ باندی کول اؤ د.ډول په‌توګه
د.ځان سره ګرزول نور هيڅ کار نه په‌لرل .

﴿٤﴾ د.هلک ناچول اؤ تنګ ټکور يا ساز سرور په کول اؤ غزل په
ويل .

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

﴿۵﴾ د ناخوښو ځلکانو ډوله ډوله وې یو دا چې څوک ډم یو ځلک دی.
دغه کار لپاره ورو ځنې ځپل زوې ورور یا پرده ځلک او په پیسو یه
خلکو ته ناچوی لکه په کندهار ، کابل ، بنون ، پښبور ، مردان او
پښین کې چې وی او پلې هغه راز دی چې یه مستنګ ، سیوی ،
کوټه او کچې کې وی چې ډیر بداو سخت زیاتې وی هغه دا چې یوه
ډله زلمی زیاتره د یوه برابې سړی په مشری کی راغونډ سی یا ځپله
بل سازونه ، رباب ، ډولک ، باجه (هارمونیم) دربا (دائره) سارنګی دوې زده
کی یا د دمې لپاره څوک ډمان د ځان سره مله کی د چا ښکلی
هلک غلا کی په ځینی نغمو ، کنډوالو او لمبورو ﴿ټتلز﴾ کې
بندیوان وساتی د روزی پاره څوکی باندی کوی او شپې ټول سره
راغونډیږی او ناچوی یه د دمې هلک دا سخت او ناروا بند تر هغه
وی چې بیره یه راځی او د دوې په ګومان د ناچ د کاره وزی شپړ ته
یا لس کاله بیا نو که د دوې دا باور وی چې هلک که موږ ایله کو هم به
دې نه موږ چا ته ښیی نه به زموږ خبری کوی او نه به بدله راخخه اخلی
نو خوږوندې یه ایله کی هغه هم هله چې ځو ځو ځیلې د مرګ د
پاره تیار کی او مرګو باندی تیر کی هغه دا سی چې دا خبره جیرمې

ته‌واچوی چی مړے کوڅے ایله کو! اؤدا پړ بکړه وکی چی وژنوبے
ځرګنده ده چی هلک به‌ورته زاری خواستی کوی اؤلوړی چی زه
به هیڅ نه کوم نوښیاد-یوه په وینا خبره سباته پړبږدی سباله ښیا هغه
جرګه وی ـ ترڅو چی لاس یې وتړی ـ چاره وورته تېزه کی چی
غاړی دی پرېکوو. خو ښیایه سباته پرېږدی تر څو چی د.دوے
باور په کېږی د.دمے ناورینه سپوا په سرکی هم ډېر اؤپه‌واروواړو
ووهی چی دومرمے ویروی چی د.تښتی یامنډی اؤنارو چوړتے هم
د زړه څه وباسی کله به هغه څوکیدار یا د.ډلی بل سړے وورته
ووایی چی زه به‌دی پرېږدم کومک به‌درسره وکم که تښتے چی دے ښت
سی نو یه ډېر ووهی چی دومری ویر بږی چی ښیا په دے هکله پور
هیچا باورنه‌سی کولاے چی کنی دابه هم د.دوے سړے وی ـــ یا
یه‌نومړکی اؤمخ لپے ورک کی دا هم وایی چی ایله کوی یه‌تر هغه
وړاندی یه‌څوځو کسه‌وشرموی چی دے به‌د.دمے ښپله شرمه بږغ
نه‌سی کولاے دا خلک زیاتره د.خوارو اؤمبے‌وسه خلکو ښکلی
واړه زامن تښتوی.ژموږ په‌خوا کی د.ادرامان زوړ.کلی د.یوه
اوستاکار «پښ» زوے داسی یوے ډلی بوتلی وو.څو کاله پس

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژوندے راغی خو هیڅ بږغ بږوغ نه کوی چی چا بوتلی وم ما خپله هم ډېر وس باندی کړی دی هیڅ نه‌ښیی. وایی ما د. هغه خلکو سره بول کړی دی اوهغو له‌ماسره ډېره نیکی کړے ده چی ژوندے یه پرېښووم .

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ټنګ ټکور

ژمونږ په کلي کې د ډمانو ډوله ډزې کړه وو چې هغو به ټنګ ټکور هم کاوه او هلکان به هم ناچول د پښنين او چمن د ټولو کلو د ډرب ښاديو اوودونو کې به دوې سات تېراوه او کله کله به هسې د ځينو زلمو ډلې ساتېرې جوړې کې يا ځينو ځوانانو خانانو زما په ګومان په سرکې د ښيږې شل روپۍ ډوډۍ او چرس اخيستل خوړو ستې ټيا پينځوس روپۍ وې د ډمې نه سېوا چې به د کوړ والا خوښه وه او بده يې نه ګڼله نو به ناستو خلکو هم پيسې وروکولې دا به د وره بلله دمې سات له به مونږ ټول چې لا واړه وو وو رتلو ټلار خوځو خپل په ځاې کې ټنګ ټکور نه کاوه په اختر لا بله ښه روز چې به ډمان وورله راغله نو بنډارمې وركې .خو ماما ګان او نورو خپلوانو به مې ځايو کې سات تېراوه او مونږ به وورتلو چې لږ راغت سونو ډوډرمي کله کله په ځلې کې سات په تېراوه کله به د ګوټي يا له بله ځايه هم ډمان او ناچ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ګرهلکان راغله اؤ موږ به وورتلو ټنګ ټکور اؤ بدلوبے خوند هم
راکاوه زیاتره به د. خانانو په ځایو کی دوره ښده وله خوچی چیری به
دوره وه نو به ټنګ ټکورلږ اؤ دوره زیاته وه ځینی ځوانان اؤ ډلی به
سره ګرم سواؤیو د. بل په ښیالی مبے پیسے وورکومے. ډمانو اؤ ناچ
ګرو هلکانو به هم زیات کوښښ کاوه چی دوے لا ګرم سی اؤ په بیلو
چلوبے پیسے ترمے بوږدو لے اؤ دا به هم د. ډرامے شانته یو بیل سبل وو
دغه سات ته تراوسه هم زه ګښینم خوچی ښښ سم په خپله
خوښه. خپل په خرخ یا خپل په ځاے کی می په ښادی ښه زوزیا
اختر کی هم نه سات تیر کړی دی اؤ نه می خوښ دی، خو د. ځینو
نمایشی وزرګانو شانته جینی تښتم هم نه د. نورو لوبو په شان ےیوه
لوبه ګڼم. خود. ډمی ، رنډی سات اؤ ناچ می ډوه ځله په ووړوک والی
لیدلی دی پلار می لا ژوندے وو یو ځل مو په کلی کی د. یوه توربره
واده وو. ډمه یه د. کوټی راښتے وه ګډیدله موږ خپل د. سپین ږیری
نوکر سره ورغلو. اؤ بل ځل هم د. پلار په ژوند په کوټه کی په یوه واده
کی د. نوکر سره د. ډمی ناچ له ورغلو. بیا می نه دی لیدلی هسی هم
زموږ په کلو کی د. ډمو دود ډیر کم دی خلګے بدکارګڼی ـ زموږ کلی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

له چې د خانانو کلی دی. دغه یو خل ځمه راوستل سوې ده بیا تر اوسه چا نه ده راوستلې. نه می په بل کلی کې هم اروېدلی دی. په ودو او بنادو کې خلک زیاتره په خپلو لوېو اتڼ غېږي. او بدلو وخت اروی چې ډېر وی نو د هلک ناچ وی هغه هم چې زموږ د کلي ښځه ما او نورو زلمو خانانو د ځمانو اوږه لري کړ له نوا وس ډېر کم وي.

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ناټک

ناټک۔ د هیندوستان په ښارو نو اوْ کوڅه کی چی کله پیښ سوی یم نو ناټک له ورغلی یم اوْ تر اوسه هم وورځم اوْ داشان بایسکوپ یا سینما وه زیاتره د ملګرو د زړه لپاره می کوټ اوْ اوښې هم ګورم خو اوس لس پینځلس کاله به کېږی چی د بل چا سره نه یم تللی په کراچی کی می کله کله ښاغلی شیخ اودول مجید سیندی د خان سره بوزی هم داشان نور ټنګ ټکور ساز سرو زا وسات دی .
جینی تښتم نه چی پیښ سم اروې زیات بدے نه بولم په لوبو کې یو هلوپه ګنم . خو پسی تښتم هم نه اوْ نے لتوم تر دے چی د رپه لو خبرونه تل اروم خو کله په ډوے ډرے میاشتی کی داسی وی چی څه بدلی یا ساز ولګوم. زیاتره خو می کاروی یا په مرکه کی د کار خبری کېږی چی خبرونه بس سی نو رپه یو بنده کم خو دا ناپیښبه خبره ده چی نو ی لوستی اوْ ځوانان زیاتره د هیندوستان ساز اوْ بدلی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښوښوی اؤ ځینی خوړ لا د.لندن امریکې ساز ښه بولی ماته د.پښتو
هم ساز هم بدلی تر دې نورو ښه ښکاری یا کله کله د- میسر تازی
ساز ،اتڼ اود.اتڼ ډول اؤسورنا تر هر څه ښه راباندی لګېږی اؤ په
نورو سازو کی می سارنګ یا سارنګی ښوښ دی.یو ځل د.بمبي په
یوه سینما کی د.ختکو د.اتڼ ډول اؤ سورنا چی نابوړه (ناساپي)
د.یوه پیلم د.نمونې په توګه پېل سو.یو ځل په ایدرابات کی د.یوه
چړېه (فقیر) سارنګی اؤ یو ځل په ګولیستان کی د-غنی پېښوری
سارنګ ډېر ښوندرا کړی اؤ پور ژړه می څه ناپېښه شانته بړید
اثر) کړی دی چی د.هغه له کبله زه هغه هښمه (شان یا حال) منم
چی ځینو خلګوته د-ساز اؤ اواز په اروېدو پېښېږی کنی نه به می
منلاې - اؤ نور وختونه نو هسی ساتېږې اؤ وخت اړول وی- خلګ
وايچی د - کامی لښکر باجه چی د - هېواد کامی سوندره وای ډېر
ښوند کوی خو ما لادانه ده اروېدلې - د - انګرېز لښکر خو مو
کامی وونه - اؤ اوس می ژیاتره وخت په جبلونو کی تېرېږی اؤ
پوربدې ښوند لا نه یم پېښ سوی - به ل د - لښکر و د - باجې
سورونه هه م ته ر اوسه لا انګرېزی ووایله اوس څه کامی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سوړونه منه ل سوی اؤ پېل سوی دی کوندی وړی چی د ـ خپل کامی لښکر په باجه کی کامی سوېندره هم کله واروم ـ که می یادوای نوړ د ـ مولانامخفی هغه سوېندره به می دلته لیکله اؤ که می پیدا کړه نوړ لیکم یې چی خوتوړهدادی ـ

خوړدایه هغه ژوز به هم وی
چی زموږ به جهاز خپل وی

اؤ زه به خپل جرنېل پسېی یم ـ

کامی لوبی ـ اتڼ ـ هبنډه ـ خوسې ـ غبړ ـ اودوې می خپله ډېری کمی اؤ په ډېر وړوکوالی کړی دی ـ چی د ـ موړلا سره په لوستو اخته سوم راځه پاته سوې ـ خوتر ننه پوری چی نورزلمی دالوبی کوی ماته ډېر خوند راکوی اوژړه می ژوند په کوی ـ انګرېزی لوبی ـ پښې غونډ سکه (فټ بال) لاس غونډ سکه (والی بال) مېران ډبی (کرکټ) جالکے (بیډمنټن) جال غونډسکه (ټینس) ټوړل می کړی دی خوړ هسی د ـ ړکبدو (ورزش) لپاره کنی خوندې هیڅ نه راکاوه ځکه می پوهه هم ښه نه وه ژده ـ ـ

# وړاندی لوست اؤ ژماناکاری

چی په کال ۲۵ ـ۱۹۲٤ کی زه د ـ اتم ټولګی څخه اوړګار شوم ـ نو دا خبره پیدا شوله چی پکار دی چی زه وړاندی نور لوست وکم ـ ورورمی اؤ د ـ کور خلګو خو دا کار ژما په خوښه پرے ایښی وو ـ اؤ دایه راته ویل چی که نور لوست کوے نو هر څیری چی دی خوښه هلته ولاړسه اؤ هر څه خرخ چی لګی موږ یې درکوو خو تر دوے هم ژیات ژما او ستادان د ـ ښوونی د ـ خانګی واك والان (افسران محکمه تعلیم)ـ د ـ خانګی انګریز سپرنټنډنټ اؤ ښاغلی مولوی نجم دین د ـ ښوونځو ازمودګر (انسپکټر) د ـ تری (تحصیل) پلو (ضلع) اوولات (صوبه) واك والان په دے کی ډیر ټینګ وو چی ته هرومرو وړاندی لوست وکه.کوندی دا څکه چی زه په لوستو کی ډیر ژیات ښه وم نو دوے وے چی وړاندی لوست به هم ښه وکی ـ دوے دے ته تیار وو چی ماته سرکاری خرخ راکی ـ دے ته هم تیار وو

چې د ـ کوټې د ـ سرکارې ښوونځي په اوتاك (بورډنګ) کې ماته ځان له کوټه راکې ـ دې ته هم تيار وو چې ماپه پنجاب کې داسې ښوونځي له ولېږي چېرې چې تر اتمه پورې انګرېزي په دوهم کاله کې لوستله کېږي د ـ دې لپاره به دوه بېل ټولګي وو ـ ووړوکي او ستر ټولګي (جونير او سينير کلاسز) يې ورته ويل ـ داسې ټولګي هغه وخت د ـ پنجاب په ګڼو ښارو کې وو چې يو يکښې جيهلم هم وو ـ د ـ جيهلم يو درمانې ښاغلي ډاکټر احمد حسين په ګوليستان کې لګېدلي وو ـ هغه راته ويل چې هلته زموږ په کوږ کې اوسه ـ د ـ ښوونې د ـ څانګې واك والان او د ـ کوټې د ـ اوچت سرکارې ښوونځي (ګورنمنټ هاى سکول ) مشر اوستا ښاغلي شېخ اودول سمداو انګرېز مشر (پرنسپل) دې ته هم تيار وو چې ته ټوله زوز د ـ اوستادانو په کوټه (سټاف روم ) کې کښېنه او د ـ ښوونځي هر اوستاد چې اوزګار وو هغه به درته انګرېزي واي او داشان به ته په يوه يا دوه کاله کې د ـ اتم انګرېزي زده کې او پوره مخ به په نهم لسم کې ولوېږې زه که څه هم هغه وخت د ـ دوې ټولو د ـ ميهرباني او خواخوږي ډېر پا سواله وم او اوس هم يم ـ خو چې مابه له دوې نه تپوس وکې چې

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زه اته یا لس کاله نور انګرېزي لوست وکم نوګټه به مې څه وي ؟ نو هر یوه به راته ویل چې ښه نوکري به پیدا کې لوړے اؤ سر به سپے اؤ داسې نورې خبرې د ـ انګرېز نوکري خو ما پوره ځان پخوا لاناروا کړې وه نوځکه ماونه منل په دوړے کې هیڅا هم زه په دې پوړے نه کړم چې انګرېزي یوازې د ـ دې هېواد سرکاري ژبه لانه د ـ ټولې نړۍ ژبه ده اؤ په دې کې هر راز او چته پوهنه ده ـ کنې کېداے سې چې ماناګاري نه واے کړې خو هغه وخت ټولو خلګو د ـ لوستو هم دا یو مراد اخیست چې نوکري په پیدا کړي ـ نو داشان ماوړاندې لوست ونه کړل چې ماته ډېر ښه واروو اؤ باورمې دی چې هر څه چې مې غوښتلاے سرکار هم اؤ قرورمې هم راسره کومك کاوه ـ خو اوس هم چې پام وکم خپل ژوند اؤ د ـ زیاتره ډېرو لوستو خلګو دا سره پرتله کم اوډې ته وګورم چې زیاتره خلګو هله هم اؤ اوس هم د ـ لوستو مراد نوکري اوډ ـ پیسو ګټه بللې ده ـ نو اوس هم ارمان نه راځي چې ولې دې لوست ونه کړل ـ ببرېرم چې مې که لوست کړي واے نو کېداے سو چې هغه ټول بدخویونه ـ په ما کې هم پیدا سوي واے چې په زیاتره انګرېزي لوستو خلګو کې پیدا سې چې سرې ډېر خرخ اؤ ځکه د

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

- ډېرو پیسواړی اؤ مینه وی چی نه په نوکری اؤنه په نوکری اؤ په کام خرخی غلا اؤ په ایمانی سره رسېداے سی.کمی کام خرخی کام شرمی خوشامندی اؤ سپك کاروِنه چی ما د. انګرېز د . ځینو غټو دېسی نوکرانو لیدلی اؤ اروېدلی دی یا د . ځینو هغو خوشامندګروخلګو چی نوکران نه وو. لا د . کام مشران ګڼل کېده نو می د . لوستو پاتېده نه دی ارمان.وام نه چی داسی شے درخخه جوړ سوی واے .

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# زمینداری اؤد.مېوې سوداګری

د ـ ښوونځی نه د ـ اوزګارېدوپس می د ـ ورور سره خپل په لږ زمینداری کی د ـ زېرمی زخمی اؤ لږ ډېر د ـ لاس کارپېل کی د ـ بلوچیستان د ـ نوړو پښتنو رنګه زمور د ـ کورنی مځکه اؤ تول (جایداد) هم ډېر لږ وی د ـ نوړو ولاتو (صوبجات) یا د ـ بلوچیستان د ـ ځینو بلوخو وه زمینداری ته د ـ پښتنو دا هیڅ هم نه وی د ـ لوڼو (لوهانی) سردار خېلو د ـ ځلوړو پینځو کورو سېوا چی د ـ لورالاي د ـ پلو (ضلع) په دوکی تره (تحصیل) کی پراته دی ماته په تولو پښتنو کی لس تنه هم داسی زمیندار یاخانان نه ښکاری چی دوه سوه ابکړه ودانه د ـ اوبو مځکه یا باغونه به لری ـ اوچوبه (خشکاوه) مځکه ډېره ده خو د ـ ودانی پکارېه اوبه نسته.زمور دوارو وروڼو به ایله سه ل ابکړه اوبوسه مځکه وی چی پکښی د ـ شلو اؤدېرشو ابکړو ترمیان کله زیات کله کم باغونه وی ـ پوره د ـ مېوې به نیژدې پینځلس ابکړه وی شل یادېرش ایکړه به توره هر کال کرله کېږی ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# کنبیوغ یا بزګری

په برخه کښت زموږ په ځاے کی لغړ د ـ وچ برغنم اوربشی وی په دې کی مځکه اوبه ـ بوډه ـ بج (توخم) هر څه د ـ خاوندوی ـ کنبے خواری کاری اؤ پنځمه برخه وړی ـ غم (مالیه) هم خاوند ښندی ـ یا بیا په شین برکی ـ پالېز اؤسابه (سبزی) په برخه کری نیزدې نیم خاوند اؤ نیم کنبے وی ـ باغونه خاوندان په خپل خرڅ په مزدوړانو کوی ـ خاوندانې خالی زېرمه کوی په خپل لاس ډیر کم کارکوی ـ خو زما بېکاری نه وه خوښه ځکه به ما د ـ زېرمی سره د ـ مزدوړانو سره په خپل لاس هم کارکاوه ـ تر اوسه می هم دا خوې دی چی بېکاره اؤلیا مخ له نه سم کښېښستلاے که د ـ چا سره خبری نه کوم یا بل داسی کار چی په بوخت یم نو به هرو مروڅه لیکم یا بې لولم ـ ځکه می ډیر زیات کتابونه لوستی دی اؤ اوسے هم لولم ـ او ځکه چی د ـ پښتو سېوامی ـ پارسو ـ تازی ـ انګریزی ـ اوردو ـ سیندی اؤ بلوچی ژبی لیکل لوستل

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژده دی ـ نو په لوستو اؤ لیکلو ستړی کېږم هم نه چی په یوه ژبه ستړی سم نو بله راواخلم اؤ په دې بدلی می ستړیا ولاړه سی چی سړے په بلدسی نو د ـ سړی زړه او ځان (mind and body) دواړه مخ له د ـ وړو په شان ډېر په اسانه لوېېداے اؤ تېر و تاے سی د ـ یوه کیتاب په ځاے بل لیکل یا لوستل پېل کول یا د ـ یو کار په ځاے بل ته لاس اچول هم د ـ ستړی زړه اؤ ځان د ـ لوبولو اؤ تېریاستو یوه اسانه لارده بله لارې چوړت (Day dreaming) اورے (Meditation) ده دا ځان له یوه بېله دونیاده چی د ـ ساتېری اؤ مشغولابل هیڅ شے هم نه وی نو په دې هم ښه سات تېرېږی ما ځپل په ژوند کی چی زیاتره په جېلو کی د ـ هر چاؤ هر څه نه ګوښی تېرسو اؤ لګیادی تېرېږی له دغو دوو څه ډېر زیات کار اخیستی دی اؤ اخلمې ـ داکرښی د ـ هری پوړپه سترجېل کی پوړ یوولس نیمی بجې د ـ روزی هله لیکم چی د ـ اووړ بجو راسی می کیتاب لوست اؤ بیا می ډرې اوړدو اخبارونه ولوستل چی ښه کلك په ستړی سوم خو وخت لا تېرول غواړی د ـ ډوډی او خوب تروخته لا یوه نیمه کانته پاته ده اؤ بل ساتېرے یا چېری تله راتله نسته نومی په ناچاری لیکل

کـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

پېل کړل اوُ هغه ستړيا را ځخه وَلاړه ـ خير بيرته ځپلي ځبری له راځوځکه چي زموږ لغړ د ـ مځکو په ګټه ښه ګوزاره نه سی کېداے نو د ـ څه وخته د ـ کوړنی ځينو خلګو داکار کاوه چي ځپل د ـ باغو مېوه يې د ـ هيندوستان ببلو ښارو اوُ منډوله لېږله اوُ هلته به اړتيانو ووړله خرځوله داشان به هغه پيسې هم دوړے ته په کوړ کی پاته سوې چي په ځوابه د ـ مّيان خلګو د ـ ميوې هغووړو اوُ غټو سوداګرو ځوړې.چي زموږ باغونه يې په ټيکه اخيستل ـ وړو وړو ځينو دا هم پېل کړل چي د ـ ځپلو باغو سره يې د ـ نورو د ـ باغو مېوه هم په ټيکه واخيستله په دغو خانانو کی اوُ زما په همزولو اوُ د ـ لوړی سر په مل ګړو کی ځينو يوې ځواته ډېری ګټی وکړلې اوُبلی ځواته د ـ دوړے په ليدو کتو د ـ کلی اوُهولکې نورو ښتنو هم داکار پېل کی ـ اوُ نن د ـ بلوچيستان اوُ کندهار د ـ مېوې اوُسېری زياتره کار د ـ سيند د ـ آړته سره د ـ ګوليستان د ـ خلګو په لاس کی دی ـ اوُ په زرو خلګ په لګيادی ـ نو ما هم دغه کار پيل کی ـ ذړې خلوړ مّياشتی ښه پکښی اخته وم ـ کله د ـ انګوری باغ بلګ خربلګ کله مېوه پړے کول ـ پاکول په کوارو اوُسودوّ کی

بندول ـ ځیا ټېسن له رسول ـ ېېلو ښارو له لېږل ـ اؤ د ـ هغوکاتې ساتل د ـ خو سهاره تر تېره ماخوېستنه به لګیاوم ـ پینځلس ځپاړس ګانټې به می کارکاوه ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# ایدارابات(حیدرآباد)

په اګست کال ۱۹۲۵ کې وٚروړ ولېږلم ایدارابات له
هلته د ـ یو هیندو دلال (اړتی) بوړلچند په کوټې کې اوږ سېدم خٚپله
مېوه اوٚ د ـ نوږو خلګوپه‌زاتمږهیندو به په آړت خرخوله ما به پام
باندې کاوه اوٚ د ـ بازار د ـ ښه بدخبر به مې لېږه ـ څه د ـ پاسه
ډٚرې مٚیاشتي مې هوړې تېرې کړې اوٚ چې مېوه بنده سٚوله نو
مې په کراچي اوٚ د ـ سیند په نوږو ګنوښارو کې د ـ آړتیانو سره
خٚپلې کاتې پاکې کٚړلې ـ په دسمبر کې کوړته راغلم اوٚ بٚیا په
ښٚکار اوٚ کیتابونو لګیا سٚوم ـ چې څٚنګه د ـ ښووڼځي راووتلم اوٚ
په کاروبار مې پېل وکې نوږ سم دستي په دې پوړې سٚوم چې
انګرېزي ږېره د ـ کار ژبه ده ـ پې انګرېزي ژبې په دې هیواد کې
ژٚوند ګٚران وی ـ تار په انګرېزي لېږل رالېږل ـ رېل بیلټې اوٚ
سرکاري کار لیکل رالیکل په انګرېزي ووږ ـ نوږ سمدستي مې داپه
زٚړه کې جوړه کٚړله چې د ـ کاروبار سرھ ـ سرھ ـ به ګوزارې

هومره انګرېزی ژده کوم ـ چې ایدرابات له ورسېدم ـ یو څو
می د ـ هغه دوکان اؤ بازار د ـ خلګو څخه سیندی ژبه ژده
کړله اؤ ډېر ژر نیژدې په دره څلور هوتې کی می روانه کړله
هغه داشان چې خپله می هم تروسه وزانه ویجاړه سیندی ویله اؤ
نورو ته می هم ویل چې ما سره لغړه سیندی وایاست چې ژبه می
ژده سوله بیا به می ورو ورو سیندی اخبار کوټ نو لوست پې
ژده کړل ـ بل می د ـ ښار والی (میونسپلټی) د ـ یو
ګوجراتی ډاکټر څخه انګرېزی لوستله څکه چې د ـ ده اوردو اؤ
سیندی ډېره کمه ژده وه لوست اؤ خبری پې په انګرېزی
راښوولې اؤ ما ته لوست یادول اسانه هم وو اؤ خواری می هم
کښله نو می ژر دومره انګرېزی ژده کړله چې خپل د ـ کار
ریواجی تارونه به می لیکل لوستل چې کورته راغلم نو داسی
څوك نه وو چې انګرېزی می جینی لوستله ـ بیا پاته سوله ـ په
ایدرابات کی می ژوند د ـ هیندوانو سره وو ـ څلور پینځه تنه
مالیکان اؤ مزدوران هغوې وواو یوزه وم ـ د ـ روزی ډوډی پې
ټولو له کوړ پخوله اؤ د ـ شپې پې ورجی اؤ شنه سابه هلته په
دوکان کی پخول ـ خوپخول به چا هیندو ـ یوه هوته خوزه غلی

وم ـ نوی سړے وم په دونیا نابلده ما د ـ دوے ژوند ته کاته اوُدوے زما دے ته زه د ـ هیندوانو په ژوند اوْ د ـ نورو خلګو نه د ـ هغوے په پرهیز (چهوت چهات) هم ښه بلد نه وم خودامی لیده چی دوے به ماته او به خواره د ـ خپله لاسه راکول په دے هوته کے یو ځل نیم راته وهم ویل چی منګی له لاس مه وروړه اوبه به مونږ درکوو دا خبره زما خوښه نه شوله ـ خو هغه وخت می بزغ ونه کی ـ هوته پس چی لږ سره بلد شولو نو ما دوے سره راغوند کړل اوْ وورته می وویل چی دا شان خو زما اوْ ستاسی ګوزاره ګرانه ده ـ که تاسی زما په ژوند او ناسته پاسته کی څه ناپاکی اوْ ناخوالی وینی خو ماتے وښیاست اوْ که هسی تاسی د ـ موسلمانی له مخی د ـ مانه هاږ او پال کوی نوزه تاسی اوْ ستاسی دین یا دودته خوبدنه وایم اوْ نه تاسی ناپاکه ګنم نه درنه پال کوم ـ خو داراته سړی توب اوْ غیرت نه ښکاری چی ته به ما هیڅ پے هیڅه ناپاکه ګنے اوْ زه به درسره ګوزاره کوم ـ یا به دا پرهیز په میان کی نه وی د ـ سړو په شان به سره اوسو اوْ یا به زه ځان له خپله ګوزاره کوم ـ پوے نه یم چی ولی زما خبری ښیینی اوْ رشتیا وے اوْ که د ـ هغوے مشر بولچند ښه اوْ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پوهـ سړے وو اؤ کې داگومان سوچې دے ؤلاړ سی نو زموږ دوکان ته به تاوان ورسېږی ـ جوړه په دے وسوله چې پرهېز به پاته وی ؤړو ؤړو خبره دې ته هم راورسېدله چې پخلے به راله موسلمان نوکر کاوه ـ ټولو به خوړ خو چې څوک باهرنی مېلمانه به وو نو ېې هغه نوکر پیرو باله چې کنی هیندودی خو دا خبره پټه چیرته پاتېدله اؤ ؤړو ؤړو ډېرو نورو هیندوانو هم دې ته غاړه کېښوووله . د. مبوې د . سوداګرواؤ اړتیانو دادود جوړ سوی وو چې په دوېی د . ټول هیندوستان هندو اؤ موسلمان اړتیان کوټی اؤ چمن ته راتله اؤ په سوداګرو کی ېې خپل د . دوکانو پړې پېژانده (پروپیگنده) اؤ د . پیسو ورکړه راکړه ېې کوله اؤ په ژمی به سوداګر راتله او د . اړتیانو سره ېې خپلی کاتې پاکولے . په ووړی به اړتیان د . سوداګرو مېلمانه وو په ژمی سوداګرد اړتیانو ؤراندی به په د . هیندوانوزموږ سره مېلمستیا ډېر کړ او وو . هغوے به یا خو ډوډی خپله پخوله اؤ یا به موږ په بازار کی د . چا هیندو سره بندوبست ووړله کاوه اؤ داسی هم زموږ گوزاره د . دوے سره خوړ . دې پسی خبره اسانه سوله اؤ دا یوازی زمانه د . ټولوړو سوچی څوك له ما سره خوری چیښی د . هغه سره

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خوړم څکم اؤ چې څوک راسره نه خوری د ـ هغه سره نه خوړم اؤ زما خو په ټول ژوند کی د ـ هیندوانو سره هم دغه رڼو ووم ـ څکه راته هیڅ کړاونه وو ـ په هیندوانو کی د ـ پښتنو په هکله ډېری ناخواله اؤ دروغ خبری خوړې وې اؤ څکه هم هغوې د ـ پښتنو په هکله ډېر بدګومانه وو ـ زه چې میاشت دوې په ایدرابات کی واوسېدم اؤ ښه بلد سوم نو یو وخت د ـ دوکان په خلګو کی یوه راته وویل چې خان یو تپوس درنه وکم روښتیا به راته ووایې؟ ماوې ولی به نه وایم چبل داسه ته خو ما وینې چې زه دروغ جن سړې نه یم ـ وې هو څکه خودرڅه تپوس کوم ـ داراته ووایه چې ستاسی پښتنو رنګونه ولی داسی سره اؤ سپین دی؟ زه څه هبښه غوندی سوم چې دالاڅه تپوس دی؟ اؤ اوردې د ـ پوهنی خبرنی (علمی توجیهات)یووړته پیل کړې چې داد ـ یخ بادوبی (آب وهوا) برید دی اؤ زموږ هېواد اوچت اؤ غریځ دی ـ بیا مو خواړه داشانته دی.هغه زما خبری ته ښه غوږ نیولی وو خو چې ما خبره بس کړله اؤ ګومان می وو چې سړې پوه سو ـ نو جوړې سروخوزاوه وې "ګوره هسی دی روښتیا راته ونه ویل"ماوې "ولی څه چل دی؟ ماخو روغ روښتیا درته وویل"

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وې نه چي ماتېنګ کې چي نو روښتیا څه دي؟ نو یه راته وویل چي "د - پښتون چي بچے وزیږی نو هغه ګرزی ګرزی اوٌ د - هغه همزولی څوك د - هیندو بچے ّغلاکی اوٌ د - هغه خپل بچی سرې وساتی اووه کاله پس هغه د - هیندو بچے مرکی اوٌ د - هغه تیل وباسی اوٌ خّپل په بچی یه خوری.نو هغه داسی ښه په واك چاغ اوٌ ښایسته سی" په دې خبره د.هغه یوازی نه د.خولو ډیر پوخ باوروو خو ما ّورو ّورو پوے کّړل چي پښتانه داسی نه دی - هغوے خو د - سړی مرګ ډیر بدکار بولی - د - سړی خو پّریږدی هغوے خو د - ډیرو خارویو اوٌ زّیاتو مارغانو غّوښه هم نه خوری اوٌ کله به می د - پښتنو ډیر واړه ووړوښووړل چي ګوری د - رنګ اوٌ راز هغه ببلتوڼ دا واړه هم لری - یو بل وخت موږ څه کسان د - یو بل آړتی په ځاے کی ناست وو چي هغه کله د - چمن په ځینو کلو کی باغونه اخیستی وو اوٌ هلته اوسېدلی وو د - هغه ځاے څه نوږ د - پوهنځی (کالج) لّوستی هلکان هم ناست وو اوٌ هغه آړتی د - چمن د - کلو خبری کولې - نو د - پوهنځی (کالج) ځوانانو په سیندی ځینی تپوسونه جینی وکّړل - چي د - هغو څه دانښکاریده چي دوے پښتانه څه ډیر زنګلی ناپوه اوٌ زلنده (ظالم) خلګ ګڼل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ـ نو هغوې ته ما ډېرې خبرې وکړلې اوّ څه مينت مې باندې وکې چې تاسې په يورپ امريکه اوّ نوره دونيا خو ځان خبروئ نو داخېل د ـ هېواد په خلګو ولې ځان نه خبروئ.يو بل وخت هم په ايدرابات کې يو ځاے د ـ هيندوانو څه کامې اوّ اولسې ميله اوّ ناټك وو خو موسلمانان يه دننه نه پرېښوو ـ هيندوان د ـ يوې روپۍ په ټيکيټ وورتله کاروالانې نابلده وو خوک شناخته هيندو هم نه وو پکښې موږ څلور پينځه تنه ورغلو اوّ يو واك وال ته مو وويل چې موږ دا ستاسې ناټك ليدل غواړو هغه وې چې موږ خو موسلمانان بند کړي دي ـ ما وورسره څه خبرې وکړې چې دا خوښه کار نه دی په دې خو موسلمان اوّ هيندو يو د ـ بله پردې کبرې اوّ غج (عناد) يه زياتيږي ـ هغه راته وويل چې دې تماشې له زموږ ښځې راځي اوّ ځينې موسلمانان سپك خلګ وي خالي دې له به راځي چې زموږ د ـ زنانو سپکه وکې اوّ داسې نوري خبرې خو په پاے کې ست سو اوّ موږ يې پرېښوولو ـ موږ ورغلو سېل مو وکې په ميان کې د ـ مابسام د ـ لمانځه وخت سو موږ لمونځونه هم هلته وکړل ـ څه ـ د ـ ژواك (ثقافت ) ناټك وو تر ډېره چلېده سېل مووکې اوّ ترې راروان سو ـ لنډه دا چې زموږ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ـ کوړنی په دې سوداګری اؤ ژمونږ د ـ خلګو په هیند کی د ـ ګرزېدلو دا ګټه هم وه چی د ـ هیند خلګ څه نه څه په پښتنو اؤ د ـ هغوې په ژواك خبر سوږ ـ پخوا ډېر نا خبره او بدګومانه وو ـ د ـ دوې په دې نا خبری اؤ بدګومانی کی څه خوږ د ـ انګرېز د ـ هغی پړې پېژاندې (پروپیګنډې) لاس ووږ چی هغوږ به د ـ هیندیانو د ـ ډرولو د پاره په پښتنو پسی کوله اؤ څه دا هم وو چی لوستی اؤ پوهه پښتانه به ډېر کم په هیند کی ښوږېده ـ یا یې د ـ چا سره په ژیاته د ـ هغه ځای د ـ هیندوانو سره ناسته پاسته درلوده ـ ولی لوستو اؤ اوچتو پوهو پښتنو سوداګری کوله نه ـ ژیاتره به د ـ غرو ځینی زیره پښتانه په مزدوری یا څه نوره ګټه وټه پسی هیند ته تله یا د ـ ښبین کوټی اؤ اوغانیستان سودخواره به په هیند کی خواره وو چی د ـ پښتنو د ـ ژوند اؤ ژواك څه ښه رنګې د ـ هغه ځای خلګو ته نه ښوو ـ د ـ هیند د ـ سېل په وخت کی خوږ ځایه خو موږ دا هم ولیدل چی په ښارو کې یې ځینی د ـ سېل ځایو ته یا ځینی او چتو دوکانو ته هم پښتانه نه پرېښوو یا که به ورغلو نو هغوې به په سپکه راته کاته ـ ما به هر چېرې په داسی خبرو بدوږل اؤ په هواری اؤ سمه توګه به می هغه خلګ پوهول چی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

داخو سړيتوب نه دی  زياتره به هغوی پوی هم سو ـ بخښ پی
وغوښت اوّوی پی چی موږ چی وی تاسی هم سوږ ځواره پښتانه
ياست ډوه ډری کاله پس هم په دغه ايدرابات کی په ژمی يوه
روز ماځيګر موږ خلوږ پينځه تنه په بازار کی روان وو چی د ـ
شاپاله يوسيندی موسلمان راغی وی لالا د ـ سيند خلګ هم د ـ
نوږو کامو په شان پښتوږ ته پښتوږ نه  وايی يا آغا ووږته  وايی
اوّ يا لالا ـ په دی نيژدی تاږه کی يو بل پټان بندی دی ـ د ـ دی
ځای د ـ سنټر (سنټرل) جبل د ـ کريشتان سپرنټينډينټ نوکر وو ـ
د ـ هغه لوږ باندی مينه سوی ده اوّ ووږسره تللی ده کراچی له
موسلمانه سوی ده اوّ واده يه ووږسره کړی دی ـ اوس پوليسو
ډواړه نيولی دی بنديان  دی اوّ د ـ تاږی  انګرېز واك وال د ـ
ښځی پلار موږ اوّ پادری ووږته راويستلی دی چی پښېمانه يه کی
اوّ موسلمانان نه ووږېږېږدی په موږ کی هم د ـ پښتنو پت را
اوچت سو سم دستی تاږی له ورغلو هغه انګرېز واك وال مووليد
خبره مو ووږسره وکړله هغه وی چی زه خه ووانی نه کوم د ـ
ښځی خپلوان ښځه ليدلای سی اوّ راغلی دی وينی يه که تاسی
خپل سړی ګوری ليدای سی ـ موږ سړی وليد ـ ازيم خان

(عظیم خان) نومیده نوی ځوان پښتون وو د ـ ښځی د ـ پلار سره کوچـــوان او ســـپـدلی وو ښه ډاډه وو ـ اوْ زموږ په لیدو نور هم ډاډه سو ـ وې چی ښځه ټینګه ده لوسیتے اوْ پوه ده. خو چی پولیس پرے زور زیاتے ونه کی ـ وے نه بهروی د ـ دے څه چل وکی اوْ که کېداے سی زموږ لاس ګری (ضمانت) وکی ـ موږ چی د ـ ده نه راوتو ـ بیا د ـ ښار ډېر موسلمانان راغونډ سوی وو موږ هغه وخت هم په دے نه وو پوه اوْ اوس هم زه نه پوهېږم چی په دے کی د ـ موسلمانی یا ایسلام څه خبره وه ـ زموږ دپاره خو داپښتو وه ـ یو پردېس پښتون ګېروو ـ پوږ موږ ے کومك پوږ وو اوْ دغه پښتن ګلوی وه ـ خو سیندیانو داد ـ ایسلام ننګه بلله اوْ راسره ولاړ وو ـ د ـ هغو سره مو څه خبری وکړلے ـ نو بیا هغه انګرېز له ورغلو اوْ وورته مو وویل چی زموږ سره دایره ده چی پوردے ښځه به خوك زور زیاتے وکی اوْ وے یروی ـ موږ غواړو چی زموږ یو سړے دلته پرېږدے چی هغه د ـ باهر نه تر ورګی (کهړکی) دا ښځه وینی چی څوکے وهی ټکوی نه ـ اوْ بل د ـ دوے نه لاس ګری واخله ـ وے تاسی بے شکه خپل سړے دلته ودروی اوْ لاس ګیری یه زه نه سم اخیستلاے بالا اوسران بے اخلی ـ نو موږ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

یو سړے هلته یوړ پارهٔ ودراوه اؤ په وکیل پسی لاړو.هغه وخت په ایدرابات کی ډوهٔ ښه موسلمانان وکیلان وو. یو. نوړ مامد کازی اؤ بل سید میران مامد شا. نوړ مامد خوږ ویل چی زه په دے کی لاس نه اچوم دا د. ایسایانو اؤ اؤسرانو د. کوړ ښځه ده کلکټر اؤ نوړ انګرېزان په دے خوا بدوی. سید میران مامد شا چی وروسته بیا د. سیند وزیر اؤ د. اسمبلی مشر (صدر) وو اوس هم ژوندے اؤ زما دوست دی. هغه وخت نه سو پیدا.سهار وختی ولاړ اؤ د. ډواړو لاس ګری (ضمانت) وسو.په ورا (جلوس) مو د. تانږے نه راوایستل اؤ د. چا موسلمان کره مو بوتلل.چی دوے ډواړه اؤ زه په موټر کی کښېناستو اؤ خلګو د. الاهو اکبر ناره وکړله کـه ګوره زما په مل ګروږ کی ښاغلی ابدولاخان ډېر یے واکه ژړل.چی دوے مو ورسول//اؤ څه پیسے مو ورکړلے.نو موږ ترے واپس راغلو.لکه زموږ د. هېواد نوری د. کلو ښوونځی د. ګولیستان په ښوونځی کی هم موږ ته لغږ د. لوستو (کورس) کیتابونه لوستل کېده یا څه لږ ډېر هغه د. وړو پاړکی چی د. وختو راسی. د. ښوونځی په پاړکنځه (لائبرېری) کی پړاته وو. نو ما د. ښوونځی. په شپو کی د.

اوړدو څه کیتابونه نه وولوستی۔هلته می لغړ یو ښه کیتاب کتلی
وو۔ د ۔ انګرېزی اوخار پاړکے (رابن سن کروزو په اوردو۔ماچی
د ۔ مولایانو څخه کم پخوانی توسیرونه ۔ د ۔ دودپوهی (فقه) اؤ
ویناوو (احادیث) پاړکی لوستی وو په هغو کی ډېری خبری می
زړه ته نه لوېدلې اؤ په زړه کی می ډېر شکونه د ۔ دین د ۔
خوداے د ۔ کیتاب اؤ د ۔ نبی د ۔ ویناوو په هکله پیدا سوی وو
چاته می ږغ هم نه سوکولاے ولی شا اؤخوا څه پوه مولاهم نه
وو۔ د ۔ یوه دوو سره چی مه څه یادابښت وکی هغوے په پوه نه
وو لا په مابدګومانه سو چی باور (اعتقاد) دی خراب سوی دی
۔ توبه وباسه ۔ داسی خبری سړے په زړه کی هم نه جارباسی ۔
په دې سړے له دینه وزی ۔ د۔ چاله خبرو به داسی راښکاره
سوله چی هغوے خپله هم ترما لا زیات شکونه لری خوبې کښلاے
سی اؤنې ښکاره کولاے سی ۔ په دې کی ډېر پرېشانه وم هغه
د ۔ وړوك والی زیاتوب (نفل) نمونځونه ۔ اؤ په دین کی زیار
(ریاضت) دوے خو هر څه راڅخه پاته ووځه لمونځ روژهچی به می
کول هغه ته به هم شك وم چی څه کوم اؤ ځلې کوم ؟۔ ځکه چی د۔
وړوك والی څخه می داخوے وو چی د ۔ ژوند ۔ دین اؤ ژواك په

کار کی په څه دوړ يا خلګو بند نه وم کوم کار يا لارچی به می ځوښه سُوله هغه به می نیوله که به د ـ چا ځوښه وه که نه ؟ ما مخ کی هم ویلی دی چی ژموږ د ـ کوړنۍ خلګ څپل پوړ دوړ اوُ رؤ باندی ډیر کلك اوُ ټینګ وو ـ د ـ ټولو یو شانته ـ جامې وېښته ـ خواړه اوُ ناسته پاسته وه ـ ټولو به د ـ سروېښتان لوړ لوړ ساتل او د ـ غوړو سره یې پړیکول چی موړې څوړي بولو اوُ د ـ پیښور پښتانه ووړته پټی وای دا د ـ بونیادم د ـ ډیرو کامو د ـ نارینو پخوانې دوړ راغلی دی ـ نارینو به ډیری لوړ ډرنې بهاګوری (قیمتی) څولی په سرولې ـ اوُ هم دغه شان بګړی یې باندی تړلې ـ په ټوله کوړنۍ کی یوه سړی تر ماوړاندی د ـ سروېښتان د ـ انګریزانو رنګه پړې کړی وو ـ ټولو به هغه ډیر بدګاڼه ـ خوژما په دې دوړو کی ډیر نه وو ځوښ ـ اوُ راته ګران اوُزاوال جن ښکاریده ـ نوچی ایدرابات له وّلاړم هلته ګرمی هم وه او داجامې اووېښتان نوړهم زاوال جن سو ـ نو می وېښته لری کړل اوُ د ـ بګړی په ځاې می یوه سپکه شانته څولی په سر کړله ـ زه لا هوړې وم چی د ـ کوړنۍ خلګو می ډیره خوابدی ښکاره کړله اوُ چی راغلم نوڅه وخت ډیره هله ګوله وه خو ما

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پروا نه په کوله تردې چی پینځه شپږ کاله پس یوه شپین
ږیری تورېږه مېلمه کړم د - ووړی وخت ووګرمی وه ما ټوپی
کښېلې وه او چی ووړی ته کښېناستو نوهم ماخولی په سر نه
کړله - هغه وخت خو څه خبره ونه ښوله خو سهارمی هغه
تورېږه په کلی کی چاته ویلی وو - چی بیګا نه د - ووړی په خوند
پوه سوی یم اوڅه په ځان که ځپل ځاے می نه واے هیچرې به
هلته نه واے پاته سوی - ده په تورسر ووړی خوړله - خو ورو
ورو دا هر څه سوکه سو او اوس په ټوله کورنی کی نه د - چا
پګړی سته نه خولی او نه لخ سرګرزیده خوك بدبولی -

# سرسیدامد خان اؤ مولانا شبلی

چی زه د ـ ایدراباته راتلم زموږ یوه بل مشر توږبږه چی ښه لوستی اؤ پوه سړے وو۔ اؤتل یې کیتابونه لوستل اؤ ساتل نی چی ځنګه د ـ ښاغلی سرسیداهمد خان توسیر راغوښتی وو۔ زه چی راغلم هغه می ولوست ـ ډېرمی خوښ سو۔ اؤ د ـ خوداے د ـ کیتاب په هکله می ډېر شکونه په وختل اؤ لا ډېر ښه داسوچی د ـ هغه ځخه می پوردین باندی د ـ پوهی (عقل) له خوا پام کول اؤلتون ژده کی او بل می د ـ هغوے د ـ توسیره اؤنورو کیتابو ځخه د ـ اوردو او تازی د ـ ډېرو ښو کیتابو نمونه ژده کړل اؤ هغه می وکتل ـ په ښوونځی کی لوستل خو پرېږده موږ ته د ـ اوردو د ـ سترو لیکوالو اؤ پوهیتانو نمونه اؤکیتابونه هم نه وو راښول سوی ـ تردې چی د ـ کمو پوهیتانو (شعرا) اؤ لیکوالو (اهل قلم) پوهیتی(اشعار) یا لیکونه زموږ د ـ لوستو په کیتابو کی وو لکه ښاغلی ایغبال (اقبال) هغه هم موږ ته نه وو راښوول سوی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

چي خوږ دی يا دا چې نور کيتابونه هم ليکلی دی ـ ترڅو چې زه د ـ ښاغلی ايغبال په کيتابونو په کال ۱۹۲۹ کې خبر شوم ـ هله مې رانيول اؤ مې لوستل ـ اوس هم زموږ د ـ ښوونځو په زياته د ـ کلو د ـ ښوونځو دغه شان دی ـ لنډه دا چې د ـ دې پسې مې د ـ پارسی ـ تازی ـ اؤ اوردو د ـ پوهنې کيتابونه لوستل پېل کړل ـ اؤ ايله د ـ لوستو اؤ پوهنې په خوند پوه شولم ـ په دين مې ځان پوه کې اؤ خپل شکونه مې خپل په زيارو اؤ د ـ پوهې اؤ پوهنې په رڼا کې وکښل ـ ځکه چې ما خپل نوی باورونه (اعتقادات) چې په ځينو خبرو کې د ـ مولايانو اؤ وګړو د ـ باورو خخه ډېر چپ وو ـ پټول نه په مرکو اوغونډو کې به مې ځرګندی خبری اؤ خبرنی باندی کولې نو خلګو ته به ډېری ناپښبه ايسېدلې ـ اؤزياتی خبری يې راکی کولې چابه ښه ويل چا بد ـ خو زما پرې پروانه وه ـ ترڅو چې ترډېره لری لری دا آوازه رسېدلې وه ـ يوه ورځ په ځای کې ناست وم يو اخکزی مولا راغي چې نيژدې لس کاله مخ کې زموږ د ـ اوستا مولوی باران خخه لوست کول رسېدلی شاګرد ډېر ځيرك اؤ خواری کښ سړی وو ـ مولا امدی نوم وو کاکوزی وو ـ خو ورځې ماته تازی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کاپیه (کافیه) هم ویلې وه ـ دغه وخت په کندهار کې اوسېده ـ په لوېو مولایانو کېېشمار وو ـ ډېر شاګردانې لولول اؤ خورا اوېخار (مشهور) سړے وو ـ د ـ اټکل (منطق) ډېر کیتابونې یاد کړی وو اوبنه پکبنې روڼ وو ـ چې لادلې وو یو وختې ویل چې ډوولس کاله کېږی د ـ خوداے کیتاب (قرآن) می مخ ته نه دی نیولی ـ اؤ چې په مولا پسې پوړلمانځه ولاړیم ـ زه د ـ کازی (قاضی مسلم ) دورکوم ـ د ـ روغ بړ اؤ خیر خبر د ـ تپوس نه پس ده راته وویل چې زه نبغ د ـ کندهاره اوس اوس په دې ګاډی کې راورسېدم اؤ سباله بیرته ځم هلته می ډېر کاردی شاګردان به می بېکاره وی ـ ماووړته وې خیر دی ډېر وخت پس راغلی یې خو وخته دلې سه ـ بیا به ولاړسې ـ وې نه ډېر تلوار می دی هرو مرو به ځم ـنو ما تپوس ترې وکی چې خیر وو ځنګه راغلې ـځه کار دی وو اؤزه درله ځه کولاے سم ؟ وې کارمی ډېر تلواری دی اؤ هم د ـ تا سره دی ـ ما وې خیروایه ځنګه کار دی ؟ وې په کندهار کې می واروېده چې خوداے دی نه کوی ښتا باور (اعتقاد) خراب سوی دی ـ نو ما وې چې ما سره دوے بنه کړی دی ـ چې شاګردوم د ـ دوے ډوډی می خوړلې ده ـ نو

(WWW.KITABTOON.COM) کـتـابـتـون ټـولـنـه

ولاړ په سم څه کومك بهوورسره وکم که باوري روښتيا وران سوی وو پوه يې کم اؤ باور يې وورسم کم بل می هيڅكارنه وو. لغړ په دي پسی راغلی يم. زه ډېر هك پك سنوم. يوځو د. خلګو دي خبرو اؤ اوازو (افواه) ته چی خومری ژرتر خومره لری لری رسی اؤ بل د. دي سري د. ما اؤ د. خپل دين سره مينه اؤريشتنولی (اخلاص) ته. په خندا می وورته وويل چی ببغمه سه. د. خودای پاك په ښته والی. يو والی اؤ نخښو (صفات) کی د. نبيانو اؤ نبیﷺمبارك په استاذی کی اؤ د. خودای د. کيتاب په ريشتياوالیﺍﻭ په لويه ږوزاو بيا ژوند کی زما ښتا اؤ د. نورو موسلمانانو هيڅ ببلتون نسته. ببلتون په ځينو نورو خبرو کی دی چی په هغه سري له دينه نه وزی لکه ملايکی څه ځيزدی؟ جنت دوږخ څه دی؟ د. ګور زاوال به څنګه وی؟ د. نبيانو نا پيښه کارونه (معجزات) څنګه وو؟ په دي هکله زه د. ايمام غيزالی اؤ نورو ستړو پوهانو په شان هغه کيسي اؤ بودي نه سم منلای چی په توسير هوسبنی کی راغلی دی. چی په يوچو د. کانی څخه لويه ژوندی اوښه راووتله اؤ بيا دستی لنګه ښوله اؤ خپل د. ځان هومره بچي يه راوی اؤ داسی نوری خبری اؤ خپل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د ـ باور لپاره تر هر څه وړاندی ځپله د ـ سپین کیتاب (قرآن مجید) لاس نیوکی (اسناد) لرم ـ چی هغه ستانه دی زده اؤ لکه چی یو وخت دی ویل هم ـ په کلوړی پرانستی نه دی ـ کوړې ودان سړې پوه اؤروښتوڼی ـــــ وړ وه منل او نوړې خبره راسره ونه خبړله ـ بیا مو د ـ پښتنو مولایانو پوړ ژوند د ـ هغوړ لوستو اؤلولو (درس وتدریس) پوړ ګته اؤ تاوان خبری وکړې ـ پهر څه یه زما خبری ومنلې ـ په زیاته داچی که ګرد خلک هغو مره لوستی سی لکه په تاسی کی د ـ لوې نه لوې مولا ـ اؤ کتې متې هغه شان ژوندې سی هم د ـ دین هم د ـ دوڼیا لکه د ـ هغه لوې مولانو دا د ـ خوداې دوڼیا چلېداې سی ؟ وه نه اؤما وه که په یوه زوز موړ دا لوستی مولایان ټول مړه سو نو د ـ خوداې دوڼیا ته څه داسی تاوان رسبړی چی چلاوړې و دربړی ـ یا دین مخ له وړک سی وه نه ؟ نو ماوه ځپل پوړ ژوند پام راله کول پکار دی چی دا غټ کمې پکښې دی چی موړ یوپې ښې (غیر نافع) ټولګې یو اؤ داځکه چی د ـ نړی د ـ کاره ګټی اؤ د ـ پیدا ښیانو د ـ پوهنی مولاس اخیستی دی ـ شپه یه راسره تېره کړله سهار واپس روان سو اؤ دایه راته وویل چی په ده پوې

سٚوم چی خلګ په ّزیاته موړلایان ولی خبری درپسی کوی ؟ ته له دوړے څخه د ـ کام د ـ مشری اۏسمولوړ هیله کوڀے اۏ موړن دا کار د ـ وخته لا پّړے ایښی دی ّزموړن اوس ترټوړلو اوچت کار دا پاته دی چی شاګرد کیتاب راته کښیږن دی اۏ موړن کیتاب اۏ لمن (متن اۏ حاشیه ) سره ولګوو اۏ شاګردڀے په مّراد پوړے کوو ـ دوړنیا څه کوی ّخپله موړن څه کوو دغه شاګرد به څه کوی د ـ څه لپاره لّوست کوی په دڀے هیڅ کار نه لروړ اوٚ دا یاد لرهٔ چی تر خوړ د ـ موړلایانوړڅخه دا هیله ونه ّشلوڀے هغوړے به دی دوړښمنان وی ـ ّزما اۏ ّزما د ـ خینوړ ّملوړ دغه کار تر کال ۱۹۳۰م پوړری روان وو چی موړن به د ـ پښتنوړ روان ّژوند اۏّژواك که دینی وو اۏ که دوړنیاي ـ د ـ دوړے ّخواری ناپوړهی ـ بپکاری اۏپے لاری بدبلل ـ اۏ خلګوړ به موړن ناپپښه بندګان ګڼلوړ ـ په کال ۱۹۲۵م کی می په دوړبی ّخپل د ـ ّدووړ تنوړ نوړروړ ّخپلوانوړ سره په کلی کی څه باغوړنه په ّشپږن نیم زره روړپی په تپکه واخیستل مپوه موړ ولپږنله اۏ په څلوړر پینځه ّمیاشتی کی موړ ّدرڀے نیم زره روړپی ګّوا دووړلس سوه پوړر سړی وګټلڀے ـ په ژمی ّبیا ـ ښکار کیتابوړنه اۏیوه ّمیاشت د ـ هیندوستان د ـ ښاروړ سپل اۏ د ـ اړتیانوړ سره لیده

کاته اؤ هیساب کیتاب وسو۔ په کال ۱۹۲٦ کی می په ووړی خپل د ۔ ورور په ځاے خپل باغونه سنبال کړل څه لږ ډیر نور باغونه می هم په ټیکه واخیستل ۔ اؤ ووړسره می د ۔ ښوونځی د ۔ مشراوستا ښاغلی مولوی برکت الی څخه چی انگریزی لوستی خو نه وو خو څه لږ ډیره یه زده کړے وه انگریزی لوستل پیل کړل ۔ د۔ ووړی شپے وے ښوونځے به پوریوه بجه غرمه بند سو۔ ماپښین پور ترے څلور بجے به زه د ۔ هغوے کورته ورغلم ۔ د۔ پینځم اؤ شپږم انگریزی کیتابونه به می لوستل ۔ یادول ۔ لیکل اؤ ټکی (Spellings) به می سهی کول ۔ په دے میان کی یوے ځواته د ۔ اوستاد انگریزی زدکړه پورتمامیدو سوله اؤ بلی غاړی ته د ۔ لسم (میټرك) د ۔ ازموینی (امتحان) پاے (نتیجه) راووتله ۔ اؤ د ۔ هغوے په خپلوانو کی یو هلك وخوت (Passed) د ۔ دے هلك ژوند کم وو په پوهنځی (کالج) کے نه اخیست نو اوستاماته وویل چی دا هلك به سږ کال هرومرو بیکاره وخت تیروی ۔ ښه به داوی چی ته یوازی یا د ۔ نورو ملو سره دے نوکرکه سږ کال به انگریزی درته ووای کال ته به ته د ۔ اتم ازموینه ورکے اؤدے به پوهنځی (کالج) له لاړسی ۔ زما خوښه سوله هلك چی مامد شپی (محمد

شفیع) نومې وو اوس هم د ـ ښوونې په ځانګه کې نوکر اؤ د ـ اوچت ښوونځې (هائی سکول ) سّتر اوستا (هیډ ماسټر) دی مونوکر کې خلوښت روپۍ ډوډی مووړ کولې ـ ما ـ ښاغلی سّمایل جان ـ ښاغلی اسلم جان خوډاے دې وبخښی اوّزما کشر ماما ښاغلی مامد ایسا خان ته یې انګرېزی ویله ـ سهار د ـ ښوونځی (سکول) تروخت دمخه یا ماپښین د ـ ښوونځی تر وخت ۆروسته ولی چې زّما دغه نورو ملوڑلا په ښوونځه کې هم ڵوست کول ـ خو چې ډرې خلور. مّیاشتی تېرېدلې ما تر اتمه پورې انګرېزی ژّده کړله اوّ زّیاته می د ـ اوستا په وس کې هم نه وه نو مو ماسټر له جواب ورکې ـ د ـ ماسټر هم ډېره خّوابده سّوله اوّ د ـ سّتر اوستامی هم ـ وې چې داښه نه سّوله داهلك به بېکاره سی ـ خو چې مادا ورته وویل چې خبره داده چې ماخپل کاربوره کې اوّدے اوس ماته نورڅه راښوولا ے نه سی کنې ته ازموښت وکه نو هغه هلك د ـ اتم د ـ کیتابو څه په خّپل وس ډېری ګرانی پرچې جوړی کړّلې اوّ مشر اوستا می ازموینه واخیستله چې زّما زدکړه یه ولیدله نو یه زّما خبره ومنله اۆرانه خوابدی نه سو ـ د ـ دې پسی ما د ـ ښوونی د ـ ځانګی وه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

سټرواك وال ته درخواست ورکی چی ما د ـ اوږدو اتم (مډل) ازموینه په ډلانکی کال کی ووړکړه وه اوس یوازی د ـ انګریزی ازموینه هم وورکوم هغوی ځوښه کړله اوّ ما ازموینه ورکړله وختلم (پاس) د ـ مېوه سوداګری می کوله خو ځوښه می نه وه د ـ نورو خبرو پرته زما د ـ ناځوښی یوه پیلامه داهم وه چی په هغه ښپو کی هم د ـ اوس په شان به سړی هرو مرو ـ د ـ سرکار غلاکوله اوّ د ـ ریل وه نوکرانو ته به بړی وورکولې کنی نو ګټه نه سوه کېدلای ـ ولی چی د ـ ریل دودداسی جوړ وو چی که د ـ ریل نوکران پوړ هغه سم چلېدای نو سوداګرو ته یه ډېر تاوان رسولای سو ـ لکه دا چی د-کار وختي ډېر لږ وو ـ د ـ ماځیګر تر پینځو بجو ږاندی به که مال ټېسن ته ورسېده هغه به لېږل کېده کنی نو به سبا له پاته وو ـ اوّ تازه مېوه چی داشان پاته سوې وای نو یو خو تاوان کاوه اوّ بلې پوړ ټیسن چوکیداری غوښته نو هغو سرکاری نوکرانو به غلاکوله ـ ولی چی مال خو به دوی ته سپارل سوی نه وو ـ بله دا چی سرکاری لار اوّ دود داوو چی باړه یه د ـ پوړه توږل نه اخیستله د ـ لسو ـ شلو ډېر شو اوّ من دایه غوښته نو که یو پارسل به د ـ لسو سېرو نه یو

ډوډ یا ډرې سېره هم زیات وو د ـ هغه پې د ـ شلو سېرو باړه اخیستله ـ چې یو په بله کې (اوسطا) اته آنې کېدې یالاژیاتی ـ د ـ مېوې ټول پارسلان چې به لیږل کېده یاکوم د ـ بندولو سامان (Packing Meterial) بکسونه ـ کوارې وابنه اؤ رسۍ چې به د ـ باهر نه راتله په لار کې د ـ هغو تاوان پوره سرکار نه وو ـ پوره خاوند وو که بابوګانو به غوښت نو په هغه کې ډېر زیات وړانې کولاے سو اوکاو پې د ـ سره ترپایه به د ـ رېل ټول بابوګان اؤ واك والان اؤ د ـ رېل پولیس ټول سره شریکان وو ـ ځکه د ـ سوداګرو د ـ تاوان تپوس بره واك والانو اؤ پولیسو هم نه کاوه ـ نوموړ تر ډېره ځایه ناچاره وو چې دوے ته به مو بډی اؤ موکونه ووركول ـ په ټول هیند کې د ـ دې موك (رشوت) پخې لارې جوړې وې د ـ مېوې د ـ یوې ټوکرې ـ کوارې یا کوکې پوره لیږلو شپږ پیسې یوه نیمه انه وه ـ اؤ پوره اخیستلو (وصولی) باندی یوه انه ـ هم داشان د ـ پوره ګاډو نرخ هم ښکاره وو ـ د ـ نوکرانو ترمیان هم د ـ کوڅی نه د ـ ډوېژن تر واك وال (سپرنټینډنټ) پورې اؤ د ـ پولیسو د ـ هر چاونډی ښکاره اؤ وېشلی وه ـ چې موږ به دا پیسې ورکړې نو ښیا یوازی دانه چې

د ـ دوړے د ـ شره اؤ تاوانه به بچ وو ـ نوړه ناروا اؤ د ـ غلاګته
یې هم در اړوله ـ لکه دا چې د ـ مال تول (وزن) یې ـــ کم لګاوه
اؤ په هره بیلتې کې به د ـ سرکار یوه یا دُوه اؤ کله لس شل
روپۍ غلاکېدے ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د.پېریانانو از مودهٔ

د ـ دغه ماسټر څخه د ـ لوستو په شپو کی موږ د ـ ښاغلی مامد اسلم خان په کوټه (بیټهك یا حجره) کی یوهٔ خونه د ـ لوستو لپاره ببله کړې وه د ـ ژوزی به موهلته لوست کول ـ اؤ د ـ شپې به هم سره راټلو څه د ـ لوستو کار به مو کاوه یا به مو هسی په ګپو وخت اړاوه یا به مو په پتو (تاش) سات تېراوه ـ یوهٔ شپه داسی پېښه سوله چی زه راغلم په لوستو لګیا سوم ګومان می وو چی هغه نور مله به می هم د ـ نور کله په شان وروسته وړاندی راسی ـ زه په لوستو لګیاوم په وخت نه یم پوه سوی چی ګړی می وکتله څه د ـ پاسه یوولس بجې وې ـ اؤ د ـ ملو د ـ راتګ هیله نه وه دستی ماسره یره پیدا سوله چی نیمه شپه ده اؤته په دې ځای کی یوازی ناست یم که څه هم نه ما پېریان منل اؤ نه می پلار منل ـ خو په کور کلی کی لکه چی ماوړاندی ویلی دی د ـ پېریانو خبری به ډېری کېدې ـ کوندی د ـ وړوك والی د ـ

دې خبرو بڼريد وو ماته يودم د ـ پېريانو چورت راولوېده ـ راولاړ سوم اؤ په تلوار اؤ څه يره مي بتې ووژله اؤ ورمي پوړى كې راووتم اؤ كوړته روان سوم كوړ به مي ډوه ډرې پرلانګه وو اؤ د ـ كلي تنګه او په ولو كوڅه (ګلى) وه شپه هم تياره اؤ تروږمي وه ـ د ـ كوڅې پوړ لوړمړى وله چي راوګرزېدم ـ كه ګورم وړاندى پوړ ـ اؤيا اتيا ګامه ـ په كوڅه كي د ـ رېل اينجن ولاړ دى ـ چالو دى ـ پرشهارې هم خبږى ـ هك پك سوم چي دا څه دى ؟ د ـ رېل اينجن خو په سليپرو اؤ لپنه تلا ـ نه سى دا څنګه راغله ؟

بيا مي ګومان سو چي د ـ ريل به نوى د ـ سړك د ـ پخېدو اينجن (رولر) به وى ـ خو د ـ هغې هم دلته زموږ په كلي كي څه كار راته نه ښكارېده ـ پوې شوم چي هغه خلګو چي به ويل چي پيرې وى اؤتابه نه منل شي ناشي دا پېرې دى ـ يو وار مي پام وكى چي بيرته پوړ شامنډه كه د ـ ماما كوړمي نيژدې وو هلته ولاړسه ـ بيا مي وې چي په منډه له پېرى څنګه بچ كېداے سے ؟ خلګ خو واي چي هغه ډېر تيز وى ـ بل د ـ ماما د ـ كوړ وربه هم پورى وى چي ته هغوې خبروې اؤ هغوې ورلرى كوى.دے دي لاندى كوى ـ خبر نه يم چي په دې چورتو كي مي لږ وخت سوى دى كه ډېر خو په پاے

کی می زړه وکی چی هر څه چی وی باندی ووړځم. وورروان ښوم خوداے خبر چی څنګه ټلم تېزکه ورو ځود به ډېر وروووم ولی ځېل په پام خوزه سوچ مرګ له روان وم ـ خو چی نیژدے ورغلم ـ د ـ کادرلالا د ـ کوړ په وره کی اوښ ولاړ وو ـ خاوندے نزرو شمشوزے وورته پروت وو ـ اوښ د ـ کوړ دننه د ـ کوډلی پوړ سر پر تو لښتو څخه هغه پانی څوړے چی وچی سوی وے اؤ پر شهار د ـ هغووو ـ داشان ژمایری ـ سوچ وهم اؤ تیارے د ـ اوښ نه اینجن اؤ د ـ اینجن نه پېرے راته جوړکی اؤ که زه باندی راغلی نه واے بیرته پوړ شاتللی واے نوټوړل ژوند به می لووړی (لوړه یا سوګند) کولے چی ما پیریان لېدلی دی ـ ژموړ د ـ کلی په کوڅه کی د ـ رېل د ـ اینجن په رنګ کی ولاړ وو ـ ځکه چی د ـ پیریانو دا خبره د ـ ټولو موسلمانانو اؤ پښتنو په میان کی لانه ده غوځه سوے اؤنے ـ ناپوهـ مولایان اوټګان پیران غوځېدوته پرېږدی نو دلته خپلی اوپر دی څه نوړی ازمودے لیکم ـ کوندی ځینی پښتانه په پوے سی ـ اؤ د ـ خوداے د ـ دے کاره (قهره) چی هیڅ پے هیڅه یه د ـ تل په ببره (خوف) اخته کړی دی بچ سی ـ

(۱) ژموړ د ـ کلی خواکی پوریوه میل په شاړه کروندهـ (مېره) کی د ـ کلی ایدرهـ ده ـ "مومینانو ایدرهـ" یه بولو ـ د ـ کلو راسی به

داویل کېده چې د ـ شپې په دې ایدره کې ځیراغونه (بتۍ) وی کله اوچت سی ـ کله روان سی ـ لمرځاته ځواته ډوه میله بیرته یوه بله هدیره ده هغې له لاړسی او کله لمر لوېده پاله ځی هغه بلی ایدرې له ولاړ سی ـ اوچې څوك نیژدې ورسی نو ورك سی ـ ډېرو خلګو په ویل چې مورې ځپله ډېر ناشوېده رازونه لیدلی دی ـ دا پېریان دی اوْ یا د ـ هدېرې څوزبرګان مړی داناټك کوی ـ هر څه چې به مووورته وویل چې د ـ شپې د ـ اوریابتی لری نیژدې کوز اوپاس نه سی اندازه کېدا اوْنې څوا (طرف) اوځاې بنه ښکاری ـ چاپېره لس اته کلی پراته دی خلګ ځپل په کارو پسی تېرېږی اوْ بتی ګرزوی څو چا منل ؟ یوه شپه زموږ د ـ کلی څو تنه ځوانان خانان وورونلی وو دا تماشه یـــه کتلې وه اوْ سهارې په پوره باور ډېری ناشوېدی خبری کولې ـ اوْ داهم چې نن شپه بیا وورزو ـ ماښام زه اوْ مشر وورور می ځپل په ځاې کی ناست وو ـ یو نوکر اوْ د ـ کلی دوه کسان نور راسره ناست وو ـ زموږ د ـ ځپلوانواو ځوانانو هغه ډله په کوځه کی تېره شوله موږ تې هم ږغ راوکی چې تاسی هم راځی موږ وې تاسی ورځی موږ درپسې یو ـ چې دوې لاړ موږ د ـ کلی یوه سړی ادرامان بادېزی ته لال ټین بتی اوْ یوه شری ورګړله اوْ نوکر باور غیبی زی ته مو د ـ تیلو (باکس) ډبې ورکی اوْ وورته مو

وويل چې په بله لار ؤلاړ سې په مېرهـ کې دابتې بله کې کلے ښکاروی ـ کلے په شړی کې پټوی اؤ د ـ يوه ځايه يه بل ځاے ته ؤړی ـ کله باکس هم ووړسره لګوی ـ ؤروړمی زه اؤ هغه بل سړے د ـ خانانو په ډله کې ووړسره کښېناستو ـ ؤروړمی مخ کې کښېنوست زه د ـ شاپاله په اوسترو کسانو کې ـ لږ دم پس چې هغه زموږ سړی بتی بله کړله ـ په سړو کی ږغ پيدا سو چې هغه دی هغه دی ـ چې هغه به بتی پټه کړله دوے به وړه ګوره څنګه يو دم پنا شوله داېے پېريانو بل څه شے کېداے سی ـ يو ځل چې هغه بتی په لاسو کی د ـ سرنه اوچته کړله زما ځواکی يوه سړی ابيدوﻻ خان راته ويل چې ګوره سهارېے ټيا خلګ نه منی څومری او چته شوله د ـ بازار تر ګښس لا هم ډېره لوړه ده ـ لږ آن پس هغه زموږ سړی ناساپه په زوره کړيکه کړله چې "يا سخی" بس په سړو داسی يره راغله چې روړو يو يو د ـ مخ نه شاته کېده اؤ زياتره له مانه شاته سو اوزه چې ؤراندی شاته ناست وم مخ کی پاته شوم يو چرسی سړے ګوړ ادرامان په يو واړه دېوال د ـ پاسه ناست وو چې داړغے واړوېده د ـ دېواله لاندی راپرېووت وبے توبه می ده اوس نو ټيا وله که د ـ يوے روپۍ په چرسو نشه سم "ـ په دے کې زموږ يو مشر تربور "مامد تاهير خان " ولاړ سووے خوك راځی چې پسی

لاړ سو اودرك ولګوو چې داخه دی؟ مشر ۆروړ مې وورسره تیار سو چې څه چې څو ـ دلته دانوړ خلګ راټول سو چې څه بلا اخیستی یاست ـ په سترګو وینی په غوړو اروی چې روڼا کوی کریکی باسی اۆتاسی وورځی اجل مو راغلی دی که څه ؟ راځی راځی چې ځوکوړته بس دی هغه دی وموليده چې پېریانان دی ـ اوټول کوړته روان سول ـ موړ ډرې تنه پاته سولو چې موږ په دې بله لار درځو ۆړاندی مو څه کار دی ـ اوروان سو لږ وورنیژدې سو چې هغه ښېل سړی راوبولو چې راځی بس دی سړی لاړ ـ لږدم پس هغه سړی ښېله راغلل اۆ ډېر سهم جن رازې جوړ کړی وو ـ شړی یوه پورسر د ـ پګړی رازه پیچلې وه اۆ د ـ ډوارو پګړو څې وورله لکی سازه کړې وه چې هغه بل د ـ شاپاله نیولې وه باور مې دی چې لکه ځنګه چې دوې جوړه کړې وه که لږ دم ۆړاندی پوړ هغه یرېدلو کسانو په دې رنګ کی راغلی وا ے د ـ ډېرو به زړه ډوب سوی وو ـ سهار له کلی ټول په دې خبرو پك وو اۆ هر چابه ویل چې د ـ خودا ے ډېر لوې میهردی چې پېریانانو تاوان نه دی در رسولی خود به په دې خښمبدلی وی چې تاسی د ـ دوې لټون کـــوی ـ بـپـږمـــې بـــیـــه بژدی مـخـې کـــوی مـــې زهیر وی کنی تاوان به دروړسېږی ـ خو ژما یوه توربره

کـتـابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)

ښاغلی مامد تاهیر خان ویلی وو چې نې پرېږدم نن شپه بیا پسی
ځم توپك راسره ؤړم اوټك باندی کوم ـ هغه زموږ سری ادرامان
بادیزی چې دااراوېدلی وه د ـ هغه سره یره پیدا سوې وه ـ چې
کنی روښتیا به داسړې ماښام ږزی وکی هسی نه چې د ـ ټوکی نه
بوکه جوړه سی نو ورغلی وو اؤو ورته یه ویلی وو چې" نه بتی ښته
نه پېریان مه پسی وزی مه ږزی کوی بېګازه وم دوې لېږلی وم "
بیا هم هغوې نه منله چې هغه خېل په تېلوړلی خت (قمیض)
وورښکاره کړی وو اؤ نوری نخښې وورته ویلی وې نو هله د ـ
هغوې زړه ته لوېدلی وو۔
(۲) زما مشر ؤروړ خان اودوړ سلام خان اؤ یو تربوړ اودوړ
کوډوس خان د ـ کلی نه باهر په بازار کی یوه شپه د ـ چا مېلمانه
وو ـ وایی چې موږ واپس کوړته راتلو په هدیره کی مو ډوه ډرې
خیراغونه ولیده ښوړېده اؤګرزېده ـ په کلی کی خو د ـ دغو
خیراغونو خبری وې نو موږ وې چې خو درکې لګووچې داخه
دی ؟ ډواړه روان شو چې نیژدې ورغلو که ګوړو ږېر سری
راغونډ سو اؤ لیکه لیکه (قطار قطار ) ودرېده لکه د ـ ټمانځه په
وخت۔ؤروړ می وایی چې په کوډوس جان خونه یم خبر زما زړه ته
بېره ولوېدله چې په روښتیا ـ یاخو پېریانان دی اؤ یا لکه هغه خلګ

چې وايي د ـ هديرې مړي راپاڅېدلي دي اوُ څه پرامه کوي ـ خو
موږ يو د ـ به ل له شرمه راواپس نه سو وور روان وو ـ هغه سړی
لږ دم وروسته بيرته ځواره سول ـ اوګرزېدل چې ښه وورنيژدې
سولو د ـ څيراغ په روڼا کی می د ـ ځپل کلی يو سړے ډوه
وپېژانده اوُ زما لا دايه ګومان ډی چې پېريان دی خو لکه هغه خلګ
چې وايي د ـ سړی په ښه سوی دی ـ چې وورورسېدو ژموږ د ـ کلی
خلګ وو په کلی کی څوك وړوکی ناوخته مړوو ـ اوُ ځپلوانو پام
کړی وو چې څه پې سهار له ايږدو او سبا خان اوُ نوږ خلګ د ـ
کاره باسو اوس پې ښپه په ښپه پټ کو ـ

(۳) موږ لاواړه وو د ـ کوټی يوه غټ سړی زوے له ژموږ په
ځواکی واده وکی د ـ ښځی پلاراوُ وروږ ژموږ د ـ اوستا مولا شبر
مامد اشنايان وو تله راتله به ـ ښځه چې لومړی ښپه د ـ ميړه
کوړته وروستله ـ اوُمېړه يه په کوټه وورسره دننه سو لږدم ګانټه
نيمه پس بيرته راووت وے چې ښځه بېهوښه ولوېدله ناروغه ده ـ
د ـ کوړښځی نرچی ورغله ښځه بيهوښه پرُوته وه ـ وے چې "
پېريانونيو لے ده" تر سهاره دا شان وه ـ سهار له ښځه لبونی وه ـ
وے چې پريانو لبونی کړے ده د ـ ښځی اوُ د ـ مېړه ډواړی کوړنی
د ـ څينو پيرانو موريدان وو اوُ پېرياناڼے منل ـ پيران راوبلل سو ـ دم

- چو - تاویز (تغویذات) بوکونه (وظیفې) کوړی اؤ توتکې پیل شولې - خو ښځه ښه نه شوله - خو میاشتی پسې پلار کورته راوستله - دلته ښیا باباګان - زیارتونه اؤ پیران سو - ډوې ډرې هوتې پس ښځه جوړه شوله څه وخت دلې وه ــبــــــیرتې د - مېړه کره بوتله - خو چی څنګه د - مېړه د - کورغولی ته دننه شوله سم دستی ښیا بېهوښه او لېونی شوله - چی ښیا یه د - پلار کره راوستله ښیا جوړه شوله - اؤ چی د - مېړه کره به ور غله سمدستی به ښیا لېونی شوله - دا شان څو کاله وه - پلار یې زموږ څاےته‌راته اؤ داخبری یې کولې ډېر په زهیر اؤ پرېشانه وو توڼلو خلګو منل چی پېریان دی اؤ یا جادو بل څه کېداے سی چی د - پلار کره جوړه وی اؤ د - مېړه کره د - ووړتلو سره لېونی سی - څو کاله پس ښځه جوړه شوله اؤ د - مېړه کره اوسېدله - دا خبره د - خلګو اؤ زموږ هېره شوله - یو وخت د - ډېلی ډوه ځوانان درمانیان (طبيبان) زموږ د - یوه مشر توربره مېلمانه راغلی وو - موږ ځوانانو به ښکارله بېول اؤ په کلی کوړ کی به ووړسره ناست وو چی د - مېلمنو وخت واوړی د - دې ډوو هلکانو پلرونه - هکیم خلیلو رهمان اؤ د-هغه ورور چی خلګو به د - ډېلی تبیبان (طبيبان) بلل - د- ډېرو کلو څخه په دوبی (اوړی) څلوړ پینځه میاشتی کوټی له راتله د - خلګو درمان یې کاوه اؤ په

منی به بیرته ټله ـ په خلګو کی ډېر اوږخار اوُ زمونږ د ـ مشرانو سرهے دوستی اوُ د ـ درمان لاروه ـ یوه ژوز مو د ـ دهے ځوانانو مېلمنو سره چی ځپله هم درمانیان (اطباء ) وو ـ د ـ رنځ اوُدرمان خبری کولے اوُ د ـ نامردی اوُ د ـ هغه د ـ درمان خبری راغلے په خبرو خبرو کی هغوے راته ووېل چی د ـ ګوټی د ـ پلانکی غټ سړی زوے پلانکے نامرده دی اوُ زمونږ پلار اوُ اکا (تره) په درمان کوی ما چی دا واورېده سم دستی می هغه د ـ ښځی وه لېونتوب ته پام سو ـ چی بلهڼه می پسی وکړله ـ په هغه ټوله خبره کی پېریان مېریان ناجوړی یا لېونتوب هیڅ نه وو ـ خو په لومړۍ شپه چی څنګه ښځه د ـ مېړه په نامردی خبره سوهے وه دا سوچے کړی وو چی د ـ دهے سړی سره خو ژوند تېرول ګران دی دا چل به جوړ کم کوندی می پلار په ایله کی اوُ د ـ زاوال اوُکړ اوُ د ـ دهے ژونده بچ سم ـ خویوهے د ـ مېره پلار ډېر غټ اوُ مخور سړے وو ـ اوُ د ـ ځینو نورو پښتنو رنګه یه دا خوشی ګومان وو چی ښځه ایله کول کنی بداو ته ردهے هه م د ـ بد نامی کاروی ـ چی سړے ځوانه ښځه ټول ژوه ندونامرده سړی ته کښېښنوی اوُ بل د ـ ښځی پلار هم څه د ـ دهے لاری سړے وو چی پښتنه ښځه چی یو وار واده شوله نو هر ډول چی وی د ـ مېړه په کور کی به ګوزاره کوی کنی د ـ پلار

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نیکه ږیره یه خریله کېږی - بل یې دا هیله هم وه چې کوندی په درمان به ښه سی چې د - ښځی هیله وختله نو په ناچاری د - مېږه په کوږ کی پاته شوله -

(٤) زما په نیژدې خپلوانو کی یوه ځوان هلك نوی واده کړی وو - یو وخت په ژمی سهار وختی موږ می خوړا ے دی ښه وږسره وکی راته وې چې د - پلانکی خوني له د - شیپې روی راغلی دی - روی ژموږ پا له د - پیریانوپیل راز دی ویل چې داخو پیریان نه وی-وی خو ځوك پښتنه ښځه خو په هغوکی د - چا پیر یا پیری په کومك د - شپې هغه ټول واك پیدا سی چې په پیری کی وی لکه دا چې په بندودروازو ننوتلا ے سی - پوړ ټوړو کلاګانو اوړی - بېړو لږو لږو ځایو له په سوو میلونه په ډېر لږ وخت کی ټلا ے سی - د - شپې په کوږ (شېران) باندیسپرېږی د - خلګو کوړو له ځی خواړه خوری او یروی یه او چی کله خښم ورسی نو یه د - ښې تربېه (غتېه) کوته زړه راوباسی او وې خوری- زه چې ورغلم هغه سرې لا بیده وو - د کوړنو ږخلګ او هغه ښځه په خونه کی وو - په نفری کی اوربل سوی وو - چایی پخې سوی وې نیمه چاینکه لا پاته وه د - لاندی (وچی) غوښی پخې سوی وې - او ځه پخې اوږې غوښی - او ځه لږ تری د - نغری په غاړه پراته وو - هغې ښځی ویل چې مېږه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

می راغی اؤ بیده سو ـ زه لا ویښه وم چی د ـ خونی د ـ بند ورکی (دریچه ) څه ډوله ښځی رادننه سولې ـ زه ویرېدم چی کنی غله دی مېره به می ویښاوه خو چی ورته می کاته ښځی وه یوې شوم چی روی دی ـ لانوره هم ویرېدم ږغ می نه سوکولاے اؤ نه ښورېداے سوم ـ خو د ـ تیلتك څه می وورته کاته ـ یوه اوربل کی اؤ هغه بلی سندوخ چی جندره وو لری کی ـ غوښی چایی ـ بوره اؤ لوښے راواخیستل ـ بس زه بیا ببهوښه سوه یم یا بیده سوه یم سهار چی راپا څېدم د ـ کور خلک می خبر کړل اؤ دادی تاسی هم راغلاست ـ خبری اتری وسولې اؤ په دے کی هیڅ شك پاته نه سوچی داکار د ـ روو دی ـ خیر سوی دی چی نورتاوانے نه دی کړی ـ سمسوك (یو بوټی دی)دی پیدا سی په خونه کی دی ماښام د ـ هغه لوګے کېږی اؤ په خونه کی دی پړوت وی ـ ولی د ـ هغه د ـ بوے څه د ـ روويد کېږی اؤ نه باندی راځی ـ زه ولاړم څه وخت پس بیا راغلم اؤ هغه ښځه می ځان له وپوښتله چی سهار خوری ما پردہ وساتله ږغ می ونه کی ـ خو اوس روښتیا راته وایه چی چل څه دی ؟ کنی زه دی مېره ته وایم چی روی موی هیڅ نه دی ـ دا کاردی ماینے کړی دی ـ هغه به هرو مرو درڅه خوابدی سی تاوان به درپیښ سی که روښتیا راته وایې نوزه درسره بول کوم چی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هیچاته به نه وایم اوښتا هر مٔراد چی وی زه به درسره کومك کوم ـ هغې وېے لوړه (قسم) راسره وکه ما وکړله نو هغې راته وویل چی ته خبرېږې چی زما مېږه د ـ ښپې ترڅوولسویوےبچېد باندی په کوټه کی د ـ همزولو اؤ دوستانو سره ناست وی بیا کوړته راځي اؤزه تر هغه وخته په خونه‌ی‌یوازی پروته یم ـ زه یوازی بېربېږم هم اؤ د ـ مېږه داناوخته راتګ می خوښ هم نه دی ـ خو د ـ شرمه رغ هم نه سم کولاے خلګ به وایې د ـ مېږه سرے دونه مینه ده اؤمېږه به می هم خوابده کی چی ته ماخېل د ـ خوښی باسپے په دے چل می خان له پلمه جوړه کړله ـ چی زه بېربېږم یوازی په خونه کی نه سم بیدېدلاے نو خود به می مېږه وختی کوړته راځی ـ ما هم وورسره کومك وکی د ـ ښځی هغه مٔراد ـ د ـ سره سو اؤ بیا زما په ژوند ژمون په کلی کی روی نه دی پېښی سوی خو په ښا اؤ خوا کلو کی چی د ـ پیرانو اپے دی لادا خبری تر څه وخته کېدلې ـ

(٥) د ـ ۳۸ ـ ۱۹۳۷ ؛ه‌پس د ـ اسیتکلال اخبار د ـ خورو لو د پاره په کوټه کی اوسېدم یو پنجاپے سرکاری اوسروو ـ زما سرے ناسته پاسته هم وه ـ د ـ ښاره د باندی د ـ آسود ـ میدان (ربس کورس) سره اوسېده ـ په ښار کی رغ سو چی د ـ دغه اؤ سر پور کورکانی اوری ـ خلګ ورغله ـ پولیس راغله خو هم د ـ ښپې اؤ هم د

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

- ژوزی پې په کوړ کی کانې اوړېده - کله په غوږلی اؤ بڑانډه کی اؤ کله د - خونو پوړ سر -

دےخپله پوردوره تللی ووِ - ښځه او بچې یه کوړ ووِ - ډرمے ژوزی دا کار روان ووِ اؤ هیڅ درکے نه لګېده چی ډبری د - کمی خوا راځی - اؤ نه بندېدلے ډریمه یا ځلرمه ژوز د - هغه ډریور چی ده په ځه کار پسی د - دورمے نه رالېږلی ووِ - راغی - اؤ خپلی کوټې ته راغی چی د - اؤسر د - کوړه باهر خو ووړسرهـ جوړ خته وله - لږ وخت پس خبرو سوِ چی ډریور د - اؤ سر د - سابیس کوړته د - هویلی د - چادر وِ تر سوړی کتلی ووِ - په دغه وخت کی د - کوټې تولی ودانی د - زلزلے له مخی د - زړوِ چادروِ وے - چی ژیاتره به سوړی پکښې ووِ - اؤ د - سایس ښځی چی مېړه یه هم پوړ دوره تللی ووِ - د - خپل کوړ د - غوږلی نه چی د - اؤسر د - کوړ سره جوغت لګېدلی ووِ - کوړته کانې ویشتل - اؤ چی هغه ونیوله ښوله کانې بند سوِ - ما چی ځه نوړ لټوِن پسی وکاوه - خبره دا وه چی د - دغه اؤ سر ښځی داغوښت چی په ښار کی واوسی - اؤ د - مېړه یه دانه وه خوښه اؤ د - ښاره باهر دغه ځان له مېنه یه د - ځان پرده بلله - نو دایه د - ښځی چل ووِ - چی دا مېنه پېریانی اؤ ډرنه[ل] .ښکاره کی

---

[ل]په کوم ځاے کی چی پېریان وی ژمونږ خلکے دروند(آسیب زده ) بولی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اوْ پلمه په سازه سی چی بلی مېنی له ؤلاړ سی -

(٦) ژموږ په شا اوْخوا کلو کی هم یو ځاے دؤه داسی د - کاڼو اوړېدلو خبری پېښی سوی دی - د - هغو کوړو خلګو به دے ته پام وو چی ځیل د کوږ پوربنځو دی شك وکی خو چی ماېدے پلټنه وکړله هغه به د - کوږ په ښځو کی د - چا کار وو اوْ هغې ـــ به ځه دروند مراد لاره - لکه چی خوداے پاك هم د - میسرد - واك وال (عزیز) په خوله وایی - " انَّ کید کُنّ عظیم" بېشکه ستاسی چل بازی ډېره لویه وی -

ماوړاندی لیکلی دی چی پلار می دی خوداے وبخښی هغوے هم پېریان داسی نه منل لکه څنګه چی زیاتره موسلمانان اوْ پښتانه یه د - ټکانو مولایانو اوْ پیرانو په خوله منی اوْ چی د - هغوے لپاره لا د - وخته ډېر دروغ خبری د - نبی او مبارك د - وینا وو په نامه جوړی سوی دی - لکه دا چی پېریان ډېر نا پیښه واکوڼه لری - د - هر چا په بڼه کېداے سی سړے ناجوړه کواے اوْ جوړه واے سی - د - ځینو خلګو سره مینه اوْدوښمنی کوی - اوْ کټه یا تاوان ووړاړوی - تردې چی د - ځینو زنانو سره مروښی هم کوی اوْ بچی یه هم جینی پیدا کېږی[۱] - هغوے هم په دې لار کی ډېر لټون

---

[۱] و- ګوری د - بیهکی (بیهقی) وینا وی

کېږي وو اؤ ځېلي ازموده يه لرلې چې تل بې ويلې که څه هم زه د ـ هغوی په ژوند کې ډېر وړوکی وم خو دا خو خبرې مې پيـــادې دي اؤ دلتې ليکم ـ

(۱) هغوی وې چې زه به زياتره د ـ ما خوستن د ـ مانځه پس څه وخت په ماجت کې ناست وم اؤ څه به مې ويل اؤ ناوخته به کوږته راتلم ـ زموږ د ـ کلي د ـ لوی ماجت غوړلی (دايره) د ـ اوس په شان هله هم ډېر لوی نيژدې دوه سوه گزه ـ ارت اؤ اوږد وو يوې خواتې کوروته دي او دروغاړوتې ببلي ببلي لاري اؤ کوڅې دي ـ د ـ پښين د ـ ټولو ماجيتانو رنگه يه د ـ غوړلي دېوال ډېر اوچت نه دی ـ اؤ د ـ تگ راتگ لپاره دروازه نه لري ـ د ـ دروازې د پاره هري خواته يو کنډو وی چې دوه درې لرگي يه داسې پکښې جارکړي وی چې سړی پښه تراړ ولاـــــې سی اؤ ځاروې نه سی پوړ را اووړ بستلای ـ پلار مې ويل چې يوه شپه د ـ ماجته ناوخته کوږته راږوان سوم شپوږمی وه خو څه زړه ـ نه پوره تياره وه اؤ نه پوره روڼا چې د ـ ماجت هغه کنډوله رانيژدې سوم چې زموږ د کوږ په خواوو اوژه به تل باندې تلم راتلم ـ په کنډو کې يو داسې شې ولاړ وو چې ما چېرې ليدلی نه وو ـ ـــه ســــــې وو ـــه ځاروې وو ـ ووښپين اؤ څه شانې ځاروې ته وو ـ وړو وړو يه

څه ږغ هم کاوه‌او ښورېده هم ـ هك پك شوم چې دالا څه دی؟ سم دستی مې پام د ـ پېریانو خواته ولاړ ـ بیا مې ږغ باندی وکی چې څوك یې ؟ څه شی یې؟ خو څه جواب نه وو ـ ډېر وبېرېدم خو بله لار مې هم نه وه ـ باندی راروان شوم چې راغلم د ـ کلی د ـ پلانکی سړی شپینه خره وه ـ ماجت ته د ـ را اووښتو د پاړی د ـ مخ ډوی ښې د ـ کندو تر لرګو را اړولی وی خو د ـ شاښې یې نه شوی رااړولای ـ

نه پوه مخ تلای شوه نه پوه شا اوٌ داشان باندې ولاړه وه ـ ستمی یې تی غوړونه اوٌسرې څو ځول ـ اوٌلتی تکولی کومك مې وورسره وکی اوٌ بیرته مې د باندی واړوله ـ

(۲) پلار مې وی چې بله شپه د ـ ماجته ناوخته راروان وم ـ په لار کی لوی لوړ توتان وو ـ تردې لاندې چې راغلم د ـ رنګ (تلی) اوازمی تر غوږ سو ـ چا پېره مې وکتل څه نه ښکارېده ـ خو ږغ وو ـ چې زه به ودرېدم تلی به هم بنده شوله خو چې زه به روان شوم ـ ږغ به بیا پیدا سو ـ ویرېدم اوٌ ښه مې باور سو چې پېریانان دی ـ کوړته راغلم شپه تېره شوله سهار خبر سو چې بېګا د ـ کلی د ـ پلانی خان ښکاری باز ایله سوی وو شپه یې په دغه توتانو کی تېره کړې وه په ښوکې رنګ وو سهارې پیدا کی اوٌوې نیو.

(۲) وې چې پلانکې پير چې په دې ډېر او ځار وو چې د ـ پېريانو ناجوړه جوړوي ـــــ اوْ ډېرې بوډۍ بې خلګو کولې ـ ماوورسره اشنايي جوړه کړله ډېره خسمانه مې وکړله خرڅ مې باندې وکې چې ښه رانيژدې سو نو مې وورته وويل چې ته روښتيا راته ووايه چې داخه دې ؟ وې ځې کوې پرې يه ږدم خو چې ما تينګ کې نوست سو وې ډوې نمونې بې دروښيم خو هله چې زما تر ژونده به چاته نه وايې ـــــ. ما بول وورسره وکې نو يه داډوې بوډې راته وکړلې پلار مې دې خوداے وبخښي هغه به ډوارې کولې خو زما يوه هېره ده هغه بله داوه ـ

ويلې يو وخت يو تپې اوْ کلې له خلګو راوستم چې د ـ خوشبو راسې يوه ښځه پکښې ببهوښه ناجوړه پروته وه. ښځه نمې راواده سوې وه اوْ د ـ واده په کجاوه (د ـ اوښ پالکې) کې ناجوړه سوې وه ـ زما داخوے دې چې پوړ ناجوړه دم کوم نو زه اوْ نا جوړه به يوازې يو ـ د ـ خونې وربه پورې وې او هيځوک به نيژدې نه وې ـ چې زه اوْ رنځوره سره يوازې سولو نو ما وُروُ وورته وويل چې رنځوره خونه بې- ځان دې په هسکار ناجوړه اچولې دې ـ دا چل پرېږده ما ته روښتيا ووايه چې څه مراد دې دې ـ زما درسره لوږه ده چې ستا کومك به کوم هرمراد چې دې وې چې هغه د ـ

سره سی ـ څه وخت پس ښځی راته وویل چی زما په خوږ سرګنی (ښخرخیل) کی دادوړدی چی د ـ نوی واده سوی ښځی پیغلتوب (بکارت ) به هرو مرو په ځاے وی که داسی نه وی نو یه بدکاره او بدنامه ګڼی او وژنی یه ـ زموږ پخوا اوس هم په براهویی بلوچو او ځینو پښتنو تپوکی داد وړښته ـ د ـ پیغلتوب د ـ کتوچل داوی چی لومړے ځل چی مېره ښځی له ورسی نو ځان په یوه نوی شپین دسمال پاك اووچ کی او سهار له دغه ګنده ځپل د ـ کوړنی وښځو ته ورکی هغوے یه وګوری چی د ـ پیغلتوب نخښی نو ښانے باندی وی نو یه د ـ ټول کلی و ښځوته په ویاړ (فخر) ښکاره کی کنی نو د ـ ناوی بدبختی راسی ـ تپوسونه جینی کېږی وهل ټکول وی څوکے مړه هم کی زما پیغلتوب نسته څکه می دا چل جوړ کړی دی چی په څه لار د ـ دمے ازمویښته بچ سم.ما وے ښه ته بیرته هغه شان ناجوړه سه زه به څه چل وکم ـ چی باهر راووتم د ـ ښځی وه خوږ سر خیلو ته می وویل ـ دمے ښځی د ـ موږ د ـ پیو سره اووه پېریانان تېر کړی دی او هغوے د ـ دمے په بچه دانه (رحم) کی ځاے نېولی دی ـ ولی چی په بدن کی هم دغه ځاے اوزګار پاك اوخوندی وو ـ خپاوس چی داواده ښوله نو هغه ځاے اوزګار پاته نه سو ـ په هغه کی به بچی پیدا کېږی ـ هغوے وایی چی موږ له اوس وتل په

کاردی اوُ څکه چی د ـ دې ښځی سره موږ هر وخت په ارام تېر کړی دی ـ نو موږ دې ته تاوان رسول نه غواړو ـ موږ خو به د ـ بدن تریوه نه یوه سوړه وزو اوّ تر هره سوړه چی وزو څه نه څه تاوان به وه هغه لار ته رسی ـ که تر خوله وزو دا به ګونګی کېږی اوغاښ یې لوېږی ـ که تر پزه (پوزه) وزو یزه یه لوېږی یا چیتېږی ـ که تر غوږو وزو هغوې کڼېږی ـ که تر سترګو وزو ـ داړندېږی اوُ که د ـ بوٌلو تر لاروزو پېغلتوب یې ماتېږی ـ څکه موږ دانا جوړه کړله چی څوك پوه اوزبرګ سرې راسی اوُ موږ د ـ هغه په خوله د ـ دې د ـ خپلوانو خوښه واخلو چی هغوې کوم تاوان ته غاړه ږدی ؟ چی موږ پور هغه لارووزو اوُ ښځه جوړه سی ـ خلکو په خپلو کی خبری وکړې اوُ لکه چی زما ګومان وو د ـ پېغلتوب وه تاوان یې غاړه کښېښووله زه بیا راغلم اوښځی ته می وویل چی کار دی وسو ـ هغه راپوڅه ته ښوله دوې ټول خوشاله سوماتې خپله شوکرانه (فیس ) راکړله اوُ زه جینی راغلم ـ هغه بله هم څه داشانته خبره وه ـ

زما د ـ خپلوانو اوُ د ـ پلار د ـ دې ټولو ازمودو څه داښکاری چی داد ـ پیریانو خبری چی خلکې کوی چی زیاتره خو د ـ خپلی څه ګټی له پاره یاد ـ چاپیر په وینا او د هغه د ـ پرمې پېژندنې لپاره دروغ وایی یا څه چل ول وی چی وراندمې زه څه نمونې لیکمه

اۇ ځینی پکښی روشتیا هم وایی چی مورن داسی ولیده اوٚ داسی مو ولیده ـ دا ټول یا خو د ـ چاښځی یا نارینه ټګی اوٚ چل وی لکه په بره تېرو سوونموونو کی د ـ ځینو ښځو ټګی یا ژما اوٚ د ـ ۆرور جوړ کړی هغه د ـ بتی ناټك چی د ـ کلی په نیژدې پینځو سو ځوانانو زړو ړوستو اوٚنا ړوستو کسانو دا ومنل چی دا پېریانان دی ـ اوٚ ډېر ځله د ـ سړی د ـ خپلی بېری اوٚ ﮨﮯ ځایه سوی اټکل کاروونه وی ـ چی اوښ نه اینجن وورته ساز کی ـ خو خلګ ټرې ویرېری اوٚ پوره یه ٓنه ګوری چی په روشتیا اینجن دی که نه ؟ ټرې منډه کی په ځاې یه ږرېږدی لارټرې چپه کی یا کله د ـ ډېری بېری ببهوښه اوٚ پر کاله ولوېږی ـ اوٚ سهار له لوۆړی کوی چی په دا ځپلو ښتر ګومی داسی داسی ځیزولید ـ اوٚ د ـ ده وینا روښتیا هم وی ولی هغه وخت چی ده لید خو په روښتیا یه اینجن ګڼله اوٚدې ټرې وتښتېده دا خو ده ته نه ښوه ځرګنده چی ژما ګومان چپ وو ـ هلته اینجن نه وه اوښ ولاړ وو دا خو به ده ته هله ځرګندېدله چی ده ژره کړی واﮮ اوٚورغلی واﮮ ښېﮯ کتلی واﮮ چی اینجن دی که نه ؟ لکه ما ـ ژما رور کودوس جان اوٚ پلار چی می وکړل ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د.پیرانو اؤ د.هغوړد. ایجنتانو ڎروغونه

(۱) ژما مشر

تربوړ ښاغلی اودوړل غپوړ خان وایی چی په ګوړلیستان کاریز کی می خوړسر (ښخر) چی مرکیده هغه شپه زه هم هوړے وم - سهار می د - خوړسر تره (مشر اکا) وړوړ راته وویل چی بیګا خوړمری د - خوړداے میهربانی وه چی لیوړنےساوزادہ (صاحبزاده) چی د - ادرامان زوړ د - کلی اوړخار پیروو - دلے وو - ماوړے ولی ؟ وړے هغه وایی چی څه وخت دے - مرکیده د - ساه د - اخیستوړلپارےد - زاوال پریشتے راغلے چی ما ولیدلے وورسره په جنګ ښوم چیداخه دی ؟ زه دے پیژنم نیك سړے وو هغه می بیرته خوړداے پاك ته واپس کړے اوداسی څو ځله وسوړ چی په پاے کے دے ماته وباخښه - اؤ د - میهر پریشتو په ساه واخیست -

(۲) په کوټه کی د - کاسیانوړ کلی چی پخوا په کلا کی بند وو - د - دے کلا په دروازه کی یو ملنګ پروړت وو - ډیر ګنده او ښخا د - کلی ښپی به ترے چاپیره پراته وو - پیزوړ نوړ مېده اؤ په کلاکے

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

یوه ښځه وه دوې به بی بی بلله ـ ژمونږ د ـ کلي د ـ اوخار پیر بابك لور وه ـ ژما خاله په کاسیانو کی واده وه ـ چی کله به زه د ـ مور یا د ـ انا سره ـ په وړوك والی د ـ خاله کره ورغلم نو هغوې به د ـ دغی ښځی کره ټلې ـ یو وخت زه هم وورسره ورغلم ـ هغې وې چی تاسی څه پوې سوی یاست که نه؟ بیګا خومری ډرنه (آسیب زده) شپه وه ـ ډېری بلاګانی او پېریانان پور دې کلی راغله په دروازه کی پیزو ملنګ وورسره په جنګ سو خو هغه کمزوری سو او پېریانان تر راتېر سو ـ زه ویښه وم اودس می کړی وو ـ ما چی ولیده چی تر ملنګ را تېر سو نو ما څه د ـ خودای نمونه ویل پېل کړل دوې می تر شاکړل خو بیا یه زور راوکی زه هم وورته کلکه ښوم ـ ژما خاله تې وې ـ خودا ې ښته ـ د ـ نور چادو مره اندېښنه نه وه راسره ـ ښتا راسره ډېر غم وو چی که ژما تر کور وورتېر سو هسی نه چی دې ته څه تاوان ورسوی ـ جنګ جنګ خو په پای کی پور دې ویرېدم چی راباندی زور ورکېری ژر ژر می کوچنی (ورې) بی بی ته ږغ کی ـ دایه ټړوروه ـ چی هله ژر لاس مخ (اودس) وکه اوراسه ماسره کومك وکه ـ هغه چی راغله نو مووګرزول اولږ آن ووروسته سهار سوټکی خوب می نه دی کړی ـ

(۳) ژمونږ د ـ کلی ځواکې د ـ سید لاجور په کلی کی سید رېز

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

مامد یوسړے دی اوس هم ژوندے دی ـ په خلګو کی په ډېرو ـ بدو ډروغو ـ جواری اؤ بچه بازی او خار دی ـ دغه رېز مامد خو کاله ؤړاندی په ژمی د ـ هغه کلی د ـ ډوو ډرو کسو سره سیند (سنده) له تللی وو اؤ هلته یه خان پیر اودانوړ کسان موریدان ټراشلی وو ـ ډېری پیسے یه پیدا کړی وے چی راغله هغه ملوپے خبری کولے چی داسی به مو ډروغ د ـ پیریانو خبری کولے اوَ د ـ سید رېز زوړ (کرامات) به مو خلګو ته بیانا وه اؤ هغو به ده ته پیسے ووړکولے ـ اؤ غوری زیری ډوډی ګانی ـ

(۴) دغه سید رېز ؤروسته په ایم ای ایس کی په ګولیستان کی د ـ میستری نوکری پیدا کړله تنخا یه هم ښه وه اؤ په چل ول یے د ـ مرمت د ـ مزدورانو په نامه ښې پیسے پیدا کولے ـ ژمور په کلی کی سید مامدین نومی یو لیونے وو ـ بس د ـ دے لیونی د ـ ؤزرګی (ژبرګی) خبرے پېل کړے ـ سختی لوؤړی یے کولےچن مامدین آغا داسی ناپېښه (معجزه یا کرامت ) راښکاره کی ـ نن می دا جینی ولیدل ـ ان تردے چی په ډاګه یه ویل خپله یه ماته هم وویل چی د ـ کلی پخوا کی یو ښپے مړوو ـ ډېری ژوزے سوی وے ښخا سوی وو ـ بدنے ؤروست سوی اؤ خله ټو بدلی وو ـ یوه ژوز لیونی ماته ویل چی دغه مړ ښپے په پټو کی بډکه په شا یه درواخله ـ ما چی

راواخیست لړ سات پس ښېي ژوندـــــ ے سو ما چی پړېښوو روان سو په مخه وّلاړ ـ دغه لېونے چی مړ سو ـ سید رېز د ـ ګولیستان اوُ اودولا خان د ـ شاهی سړك په غاړه ښخ کی اوُخه کوټې موږ یه باندی جوړی کړلے زیارمنټ‌ترے ساز کی خلک نر اوُښخی وورځی اود سید رېز اوُ د ـ هغه د ـ کوړنی د ـ پاره دوکان ټرے ساز سو.

(۵) مولا نیم (نعیم) د ـ ادرامان زوی د ـ ساوزادهـ شاګرد (طالب ) او بالکے (خدمتګار) وو ـ زموږ اوستا مولا شبر مامد له به راته زه لاوروکی وم یو وختې مولا شبر مامد ته وه چی "شبر کاکو چی ده ساوزادهـ ته خوداے خومری زوږ وورکړی دی ـ اوُ خومره پاکه کوړنی خوداے پیدا کړے ده ؟ دے اوُدکوږ نوږ خلک خو پړیږده هغه ترتولو کوچنے (وړوکی) زوے ـ کرو آغا ـ هغه ژوز ژما په غیږ کی په ماجت کی ناست وو ـ یوسپل چوغکی چیمچینی راغلے اوُد ـ غزترونه لاندی کښېنستې ـ دے ژما د ـ غوځی نه وورولاړ سو یوه هم جینی وانه لوتله ده یو خوږ دانے‌ترے ونیولے اوُ په لمن کے ماله راوړے یو ساتے لوبی په کولے اوُ بیا یه پرېښوولے ـ

(٦) د ـ ښین د ـ توری شا د ـ کلی یو ښین ږیږی سړے وو ـ زموږ د ـ ماماځاے له به راته اوُ د ـ پېریانو څه ناشوږدی خبری یے کولے ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هغوی لکه چې څه مانه ـ ډوډۍ یې وورکوله ـ اؤ په ښه شترکه یه وورته کاته ـ ماښام چې یې ډوډۍ وخوړله د ـ دسترخان ټول هډوکي یې راټول کړل اؤ یو نوکر ته یې ورکړل چې د ـ کوټې ـ (اوجرې) په هغه پلانکي کوټ کې واچوه داژما د ـ آس دانه ده سهار له به هغه هډونه هلته نه وو ـ ده خو څه نه ویل خو په کلي کې یو بل چرسي سړی انارګول کوټار (قصاب) یه موریدوو هغه به ویل چې ده له د شپې کاریان راځي دی باندې شپو رسي په هولکو ګرزي ـ اؤلو ورې یې کولې چې ما دا هر څه لیدلي دی ـ زما د ـ مامي د ـ مرګه پس دغه میان چې غم رازی له راغي زما د مخه یه د ـ هغه وشپین سری مور ته ویل" تر مرګ څه وخت د مخه ماوخان ته یوه غبرګه ډېر بهاګور غمي (جواهرات) اؤ پېروزې وورکړی وې چې زما شاپېری د ـ کوه کاپه (کوه قاف) ماله راوړی وو نی چې دوی هغه څه کړل ؟" چې سړچ دروغ وو ـ ولی زما د ـ ماما نه څه غمی پاته سوی وو اؤ نه پیسې ـ د ـ هغوی په کوړ کی د ـ مرګ پور وخت د ـ ګوړکېن هومره پیسې هم نه وې هسې هم په ټول ژوند کی به هغوی تنګ اؤ پوړوړی وو.

(۷) هاجی اؤدول غپار خان د ـ ګولیستان کارېز یو وخت زما ډېر اشناې اؤ مل ګری وو وروسته خو بیا هغوی سرکاری سړیسو اؤ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژماپورسرمے ـ د ـ سرکاره د ـ میاشتی اتیا روپی تنخا اؤ "خان سابی"
واخیستله چی بیان یے وروسته راسی دے د ـ ادرامان زوړ د ـ ساوز اده
موریدوو ـ یووختے ماته ویل چی راسره ته هم زما د ـ بیرلاس ونیسه
ماوړے چی خبره خودی بده نه ده خوته ما د ـ موریدی په گټه پوهه
که اؤ بیا د ـ دغه سړی په ښښگړے ؟ لکه د ـ موریدانو خوے چی وی
ده هم راته وویل چی " زه به تاځه پوهه کم چی زما پیر ته خوداے
خومری زوړ وورکړی دی ـ ته راسره موریدے سه نوبے ځپله
ووینے ماوړے" بیا هم تا چی څه لیدلی وی په هغه می خبرکه "وړے زه به
ډوړے خبری درته وکم ته د ـ هغوے څه اندازه وکه ـ یوه دا چی یو
وخت زه اؤ خوکسه نوړ د ـ پیر سره د ـ هغه په ماجت کی ناست
وو ـ د ـ مجك د ـ کلی هاجی پلانکے د ـ لیری راښکاره سو ـ پیر
چی هغه ولید و خښمیده بدے وورته وویل اؤ لـــکرمــــے ـ
(همسا) د ـ وهلو د پاره باندی راواخیستله موږ جینی ونیو اؤ
تپوس موږ ترمے وکی چی ولی څه دی ؟ پیروے چی دے ځپلی ښځی له
په کالو (حیض) کی ورغلی دی ده " اؤ بل دا چی یو ځل ده
ماځیګر یا ماښام د ـ لمانځه پس د ـ پیر سره د ـ هغه په ماجت
کی ناست وو ـ هلکه (حلقه) مو کوله ـ پیر د ـ جومات په مېراب
(محراب) کی وو اؤ موږ څوکسه باهر ترمے چاپیره ناست وو ـ سروړ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نه موپېټ کړی وو (بوك مو وهلی وو ) لږ سات پس ما د ـ پټوتر
چاك ورته کاته پیر په مهراپ کی نه ښکارېده ـ لږ سات پس چی می
ٔبیا وکاته ناست وو"ـ ماوې دا اوستری خبره خو اسانه ده ـ ولاړ
سوی به وی بیرته به راغلی وی ـ اؤ هغه لومړی خبره خو د ـ پیر د
ـ تکی یا پې لاری نخښه ده ولی دا خو د ـ خوداے پاك په وینا (آیت )
پوړ سوې ده چی په پټوپې خودایه بل هیڅوك خبر نه وی ـ پاته
شوې ٔدوې خبری یا خو د ـ پیر د ـ هغه سړی د ـ ماڼې سره داسی
لاروه چی هغې به د ـ مېړه په دې پټ کار خبر کړی وی اؤ یا به د ـ
هغه سړی سره د ـ مخه لاجوړه (سازش ) کړې وه چی زه به داسی
ووایم ته ږغ مه کوه نوړ خلګ بهٔزما وزرګی ومنی "ـ
(۸) ٔزما ماما هاجی موسا خان د ـ بغداد د ـ پیر اودوڵ سلام آغا
موړید سوی وو ـ چی به کٔوټه کی اوسېده ـ خؤمیاشتی پې د ـ
ٔلمانځه پس پوړ سر پټو واچاوه څه پې ویل اؤ سر پې خو څاوه وې پې
پیر سبك (سبق ) راکړی دی هغه پخوم یو وخت کٔوتی له ٔتللی وو
چی واپس راغی هغه چموڼې نه کول ـ چی تپوس موجینی وکی وې
"موریدی می پٔرېښوولهٔ"ـ موږ وې څه له وې یوه ٔروز ما ٔپښین پیر
راته ویل راڅه چی ٔولاړ سو ٔزما د ـ شبخماندا برمېله زه ـ یو خلیپه
(اسسټنټ) اودوڵ هك اؤ څه کسان نوړو ورسره ٔولاړو ـ ماځیګر سو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د ـ ځمانځه وخت سو مادمه ته کاته چې تول به د ـ پیر سره مونځ کوو ـ خو پیر ناست وو چې ډېر ناوخته سو نو زه ولاړ سوم ځېل مونځ می ځان له وکی اوُ پیر ترپایه ځمونځ ونه کی زه ډېر شك من سوم ـ خلیپه له ورغلم ومې می پیر څه له مونځ ونه کی ؟ هغه راته وویل "داسی تېوسونه سړمه نه کوی پیر خو مونځ له وّلاړ سی په مکه کې وکی اوُ بیرته راسی هغه ته خوداے ډېر زوړ اوُ لوېه برخه وورکړمه ده د ـ لوے ځوان ځمسے (نوسے ) دی موړ ځواران د ـ هغو په کارو چېری رسېداے سو" ماما می ویل ړغ خو می ونه کی

خو زړه ته می دا خبره ونه لوېدله اوُ پوے سوم چې داتوله ټګی ده پیر اوُ خلیپه په ګډه خلګ تېر باسی مال ترمے وهی اوُمزمے په کوی خکه د ـ موریدی بېزاره سوم ـ تردمے پوری می دااوسنی پیښه رایاده سوله ـ

په کال ۱۹۵۸ کی یوه ورځ په کوټه کی ماځیکر ځېل د ـ دوست ډاکټر جاېر درمانتون له په څه کارپسی ورغلم ـ ډاکټر د ـ چا رنځور په کتو اخته وو ـ زه باهر کمرمے ته ننوتم چې دے اوزګارسی نوېې وینم په خونه کی یو ځوان سړے یوازی ناست وو ـ ډېر پاك سه اوُ ډرانه انګرېزی کالی (جامې) یه اغوستی وو ـ خو په

سرے د ـ تازی خلګو په شان پوړ تور کې خولی سیځنی[۱] غونډی چیل تار تړلی وو پوره شوم چی سرے تازی دی ـ

لږ آن پس یو بل سرے راغی اوٌ هغه په پاکه پښتو وورسره وګړیده ـ نو ما تپوس ترے وکی" تاسو د ـ کوم ځاے یاست ؟" "زه د ـ کابل یم" لنډه دا چی سره و موپیژانده سرے د ـ کابل د اوښار بغدادی پیر سید مامد حسن چی نکیب (نقیب) سابے باله زوے شہر آغا وو چی ښپله هم لوے پیر دی د ـ دغه بره اوډول سلام جان آغا ورارہ دی ـ پلارے هم څه وخت په کوټه کی وو ډېر موریدان لری ـ لوسټے په لندن کی کړی دی اوٌ د ـ باچا په کوړنی کے واده کړی دی ـ ده هم زه و پیژاندم راتر غاړه ووت روغ برمو وکړل ـ تپوس می ترے وکاوه چی څنګه راغلی یے؟ وے چی دمے له راغلم چی د ـ پلار اوٌ اکا څه ملك اوځایونه می په کوټه مستنګ اوٌ نوړو ځایو کی پاته وو وے می چی هغه خرڅ کم" ـ ماوے چی "نو دی خرڅ کړل" ؟ وے "نه د ـ خلیپه اوډول هك زوے چی پخوایه پلار

---

[۱] سیځنی هغه پړی ته وایي چی کټ مټ د ـ تازی چل تار رنګه جوړوی اوٌ زموږ د ـ خوانیځی چی ماشوم په اوږی (اودږی) کی تړی نوبه د ـ پاسه باندی اچوی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ژمونږ سړے وو اؤ زمونږ د ـ خواښې د ـ دمے مال کار کاوه اؤ ښيا به زوے وو هغه وايي "زما پلار په دمے مال شريك وو زما برخه رابېله كه ښيا ځپله خرڅه كه" ـ زه وايم "ستا پلار نه دی شريك ټول خلك خبر دی ـ كمشنر ته مي ووېل هغه هم څه نه كوی وايي په مېانځگړی (عدالت ) كی نالبست وكه زه هغه نه كوم ولی هغه وخت اؤ خرڅ غواړی دغه دی ستاسی په هبواد كی دومری ژباتوب راسره كېږی" ماته دغه د ـ ماما اؤ ځيني نوری خبری رايادی شومے ماومے كه دی خوانه بدېږی د ـ خليپه د ـ زوے خبره ډېره چپه هم نه ده ـ د ـ دمے مال په گټه كی د ـ هغه پلار هم لگيا خو وو ـ اؤ هسی هم ستاسی سړے دی څه گوزاره خو وورله پكار ده" ـ د ـ سړی زما خبره خوښه نه شوله ـ ومے "نه نه د ـ ده ـ د پلار هيڅ برخه نسته" ماومے "خير هغه ستاسی ځپل كاردی" ـ چی راووتم په باز اركی مي د ـ خليپه زوے وليد چی د ـ نوی زمانے لوستی اؤ ځيرك ځوان دی خبره مي وورته وكړله هغه ډېر خوشاله سو اؤډېرمے وخندل ومے "زه خو هم دغه وايم چی زما پلار لږ كار دوے له كړی دی ؟ اؤ خانه ته لومړے سړے يې چی داروشتيا خبره دی وورته كړمے ده" په دمے خبره كی لاناشوده داوه چی بله ورځ ښاغلی شېر آغا راته ووېل چی هغه ورځ د ـ ډاكټر جا پر د ـ ځاے په پېښېدو اؤ ناسته كمشنر خبر

سوی وو او هغه ماته وویل چې ته دلته سیاسي کارونه کوې؟" ماوې خیر په ماپسې داتورسرکاری خلګ تل ترې چې که زه چېرې د ـ اوْغانیستان د ـ چاسړی سره په ژیاته د ـ چانامتوسړی سره ووینم نو د ـ دوې ګومان سی چې دوې د ـ سرکار یاهېواد د ـ وْرانی لپاره څه جوړه (سازش) کوی اوْ زما څخه د ـ دې هیڅ چاره نسته ولې چې " د-بده مرغه " زه تر پاکیستان وْراندی د ـ انګرېزانو د ـ سرکار د ـ هېواد د ـ خېل واکې د پاره په جنګ وم د ـ هغوې سره می نه لګېدله اوْنه میوورسره جوړه وه ـ اوْ هم د ـ انګرېز د ـ دوښمنی له مخې می د ـ موسلیم لیګ سره نه لګېدله ولې چې په موسلیم لیګ کې هم ژیاتره د ـ انګرېزانو پاللي موسلمانان وو اوْ هم هغوې به موسلیم لیګ چلاوه د ـ هغه وخته څخه سرکاری خلګو ـ پولیسو سی ـ آی ـ ډی اوْ نورو ښکو میانو (مخبر اوْ جاسوس) دا خوې نیولی دی چې په ماپسې ښترګه وْری اوْ څکه چې څه روښتیا تاوان نه مومی نورا پسې ډروغونه ترې ـ کله د ـ پښتونیستان پلمه وی کله د ـ اوْغانیستان که څه هم دوې په دې ښه خبر دی اوْ پوهېږی چې په پاکیستان کې دننه د ـ پښتونیستان په نامه یو ولات (صوبه) جوړول یا غوښتل نه بدکار دی اوْ نه څه ناروایا تور (جرم) دی ـ دا خو یوه تواریخی اړیده ( Histroical Urge ) که نن وی که سبا

جوړیږی به دوے په دے هم ښه خبر اؤ پوے دی اؤ که نه وی نو
وورله خبرېدل اؤ پوهېدل په کار دی چی زه د ـ اوغانیستان د ـ
خلکو اؤ نوکرانو سره ځکه ټله راټله اؤ ناسته پاسته لرم چی هغوے
ډیاتره پښتانه اوډما کام دی ـ چی هغوے په ماښه انګېری نوزه
ځنګه مخ ترے واړوم اؤ ځکه هم چی دا څه بد ـ یا بندکارنه دی اؤ
نه څه توړ (جرم) دی ـ که څوك خوابدی وی‌که خوشاله دازه تر
هغه وخته نه سم پرېښووا ے چی د ـ هېواد په دود (قانون) رواوی ـ
پاته شوله دا خبره چی زه به د ـ هغوے سره د ـ سرکار یا هېواد د
ـ تاوان څه جوړه کوم نو په دے هکله ډماتېر ژوند د ـ دوے په مخ
کی دی که ما خپل هېواد خرڅولاے نو ښه اؤ غټ ګیراك (ګاهك)
خو انګرېز وو ـ چی په دے نن واك والانو اؤ مشرانو کی‌ډیاتره د ـ
هغو ساتلی اؤ پاللی خلګ دی چی موږ د ـ انګرېز سره د ـ هیواد د
ـ خپل واکی جنګ کاوه په دوے کی ډیاتر و د ـ انګرېزه پیسے اؤ
تنخا ګانی اخیتسے اؤ د ـ هغه چوپړے واهه ـ که ما خپل هیواد
خرڅولاے نو انګرېز چی دوے ساتل او پالل زه به هم ساتلی اؤ
پاللی واے د ـ بدګومانی خو څه چاره نه وي سېواد ـ دے چی دوے
دی خپل کار کوی زه به خپل کوم ـ که په دے لار کی دوے پورماڅه
ډیاتے وکی لکه چی روان دی اؤ تلے کوی نوزه به په جوړه ژغم تر

هغوچی دوے پوهېږی یا خوداے پاك څه لار جوړوی زما په وس کی خوبل څه نسته ـ

(۸) د ـ اوْغانیستان په سکاوی شوړش کی چی څه وخت غازی امانولا خان د ـ کندهاره پوړ کابل یرغل وکی اوْ بیا د ـ غزنی څخه یوروپ ته لاړ اولښکرے بیرته واپس سو نو د ـ جنګ اوْسکاوی لښکر د ـ زوړ زیاتی په هکله به ډېری ناوړه خبری راتلے ـ موږ به اروېدے اوژړه به مو ډېر په بدېده ـ ځکه چی په دے لښکر کی ژموږ د ـ تری اوْ چمن هم ډېر اخکزی اوْ نوړ خلک تللی وو ـ اوْ هغوے به ورو ورو واپس راتله ـ لار خو پوړ چمن وه ـ نو موږ څوتنه همزولی خپلوان به کله کله په لاری کی چمن ته ولاړو اوْ هلته به مو د ـ تازه راغلو کسانو څه خبر اخیست ـ په چمن کی د ـ میوے یو کندارے دلال (آړهتی) هاجی نوردین کاکو وو ـ د ـ موږ سرے پیژاندګلوی وه ـ په ختهه غیلجی وو ـ اوْ په دغه وخت کی د ـ کابل اوْ کندهار غیلجیان کم اوْ د ـ دے ځاے یے ـ کوره غیلجیان زیات ـ د ـ دورانو باچهانو د ـ دوښمنی له مخی د ـ سکاو په باچهی خوشاله وو ـ په ناخبری کے داهم ګومان وو چی سکاوکنی غیلجے دی ـ دغه نوردین کاکو یو وخت زه ځان له ګوښه کړم اوْ ډېری لو ورے راته وکړے چی بده می نه ده دربانددی پېرزو ـ تاسی دا چمن له ډېر ځی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اۋ راځي هسی نه چی څه تاوان درپیښ سی - ماوې تاوان به څنګه راپیښیږی ولی موږ خو څه بدکار نه کوو - څېل د پښتنو ورونو خبر اخلو اۋ په دې ځان پو یوو چی څه به ووږپیښیږی اۋ پوږ مخ به د - اۋغانیستان څه کیږی؟ اۋ زموږ سرکار انګریز خو په دې خبره‌بدنه وړی - وې نه د - سرکار د - خوانه وایم هسی وایم چی تاسی خوانان اۋ د - نوی زمانې خلګ یاست او داسی خلګ تل د - امانولا خان خواخوږی وی تاسی خو خبرنه یاست هغه بله ړوز بلانکې اخون زاده راغلی وو سختی لو وړې کولې چی خو ړوزی وړاندی زما وروړ د - کابله راغی هغه وایی چی یو وخت سکاو په دربار کی ناست وو راولاړ سو - باهر وُلاړ ۀیو ځاے څه توره مځکه وه هغې ته ودرېدی - غوایی اۋ سړی یه‌راوغوښتل اۋ په هغه کې هل وچلاوه - چی مځکه ماته سوله - نو یوازی د - یوه سره تر بله یکښی وُلاړ - بیا یه موږ ته وویل چی تاسی ورسی وګوری په دې مځکه کی زمایل وګوری موږ چی ورغلو په میان کی د - ده پل وو اۋ په یوه اۋ بله خوایه شل شل پلونه نوړوو - نو بیا ده وویل چی د - ما سره غیبانه مړونه مله دی امانولا یا بل خوك زما مخه ځنګه نیولاے سی - نو هسی وایم چی د - دې سړی سره خوداے مل دی اۋ د - چاچی خودا ے اۋ غیبانه مړونه مله وی نو د - هغه دوښمنانو ته هرو مرو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

تاوان رسی ـ هسی نه چی تاسی پکښی دل نه سی ـ

(۱۰) په کال ۱۹۵۲ کی چی زه د ـ پاکیستان سرکار د ـ پینځو کالو
د ـ بنده پس د ـ کوټی د ـ جېله ایله کړم نو د ـ کوړ پوړ لاری می د
ـ کوچلاغ د ـ هیندو د ـ چینې سره څه د ـ زیارت یا مکان شانته
ودانی ولیدله ـ د ـ ملګرو می تپوس وکی چی دا څه دی وې دلته یو
نوی چرسی پیر اړه جوړه کړې ده ـ څو وخته پس چی زه د ـ
ناجوړی درمان له بیا کوټی ته راغلم نو د ـ نورو ګڼو کسانو سره یو
سړې میرا جان می هم لیدوله راغی ـ چرسی ملنګ شانته سړې
وو ـ څه ډېر لوستی نه دی خو ګښته دی ښه پوهه اوْ څه سیاسی
شودبود هم لری د ـ پښتو ښه اوْ پوره ویان (بدیه ګو اوْ پوړ ګو )
پوهیت (شاعر) دی ـ که د ـ پیری موریدی په کشاله نه واے اخته کېدے
پښتنو میرابو د ـ پرانس اولسی (عوامی) پوهیت (شاعر) جوړسوی
واے هیڅ شك نه وو ـ نورو خلګو څه لېونے شانته باله اوْ د ـ ناستی
پاستی پې ځان پیچه خو ماته ښه پوهه سړے ښکاره سو وړو وړو
سړی ځان رانیژدے کاوه هره ورځ پې خېل د ـ پیرزوړ راته وایه ـ
تردے چی وې پې د ـ ټولی نړی واك د ـ هغه مړه په لاس دی چی
څلی (قبر) یه د ـ هیندو د ـ چینې په څواکی د ـ غره پوړ سر د ـ
پخوا څه لا وو ـ اوْ په ژوندو کی هغه زما و پیر ته واك وورکړی دی

چې لاندې د ـ چینې سره دانوی مکان جوړ کړی دی ـ اوْ هلته یکښی ناست دی ـ دا سړے اوْ د ـ ده پیریووخت سیلون اوْ هیندله په سوډیسی ټللی وو ـ اوْ هلته یه دغه چل پېل کړی وو ـ راته وے پے "پښتونیستان جوړیږی ژما پېر هم په دې کارپسی رالېږل سوی دی ـ ښتا کار سر سوبل وار هیڅوك تانه سی بندی کولاے اوْ نه په لاس کی کړی دراچولاے سی ـ خو بس چی ته یو وار ژما د ـ پیر سره ووینې اوْ هغه واك درکی نو خبره غوڅه ده" ـ مابه وورته خندل خوده ژوز په روز پوردې خبره ډېر زوړ کاوه چی ته ژما د ـ پیر لیدوله ورسه ـ پلانکے سردار می داسی ورووست پلانے نواب اوْ واك وال داسی وورله راغله ـ زه خبر نه یم چی روښتیا وو که دوروغ خو کېداے سی چی روښتیاوی ولی دغه خلک خو هم ژیاتره خپل د ـ ځانه نا اوْمېنده اوْ خپل د ـ بدو کارو په ډاروی اوْ دا غواړی چی خوك په دم اوْ چو دوے ته جنت وورروکتی ـ د ـ پاکیستان گورنر جنرل ښاغلی غولا مامد به په لاهوړ کی د ـ داتا دربار له وورتی ـ اوْ د ـ هغه وه ملنګانو ته بے پیسے وورکولے چېری چی تر ټول پنجاب ژیات ـ چرس ـ بنګ اوْ اپیم کارېږی اوْ خرڅېږی اوْ د ـ جهان هر څه بد کېږی ـ پروند ۵۹ ـ ۱۰ ـ ۹ می په اخبار کی لیده چی د ـ ګولړې د ـ ټلین (عرس) لپاره د ـ راولپینډی ډیپټی کمشنر د ـ پلو (ضلع)

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ټول دوترونه بند کړی دی ـ خو زه د ـ دې نوی چرسی پیرلیدوله
څکه نه ورغلم چی داسی بیا د ـ نوړو خلګو وورته مخه کیږی ـ

مابره ـ د ـ پیرانو اوْ پیریانانو په هکله دا خبری څه ډېری
اوْ زیاتی څکه ولیکلې چی زما په ګومان د ـ موسلمانانو په زیاته د ـ
پښتنو په سلوکی اتیا برخی خواری اوْ تاوانونه د ـ دغو ډ ووخبرو یا
باورو (اعتقادات) اوکارو څخه پیښیږی ـ دا باورونه سرې بې
هیمته اوْ بیرندوکی کی ـ په کار کی یورهره لار په بیره کی وی ولی
چی سرې دا ومنی چی د ـ خودایه پاکه چپ اوْ د ـ ښکاره پیلامو
سپوا نوړشیان لکه پیریانان اوْ خلګ لکه پیران هم زما د ـ دین اوْ
دونیا په کارو کی لاس لری اوْ هر کله چی وه غواړی د ـ مانه بت اوْ
زما تروس دباندی په داسی لارو چارو زما دین دونیا کوړ اوْ
روغواله ته تاوان اړولاې سی چی زمې هیڅ چاره نه سم کولاې
اوکه دوې خوښ سی نوړبې څه کړاوه هره ګټه رارسولاې سی نوړ د ـ
سړی د ـ ځانه لاس وخیژی ـ د ـ خوداې لار چی څرګنده خو ګرانه
ده ـ د ـ مال اوْ د ـ سرډار پکښې دی اوْ خواری غواړی جینی پاته
سی ـ چا پیرته څه پیسې وورکول اوْ د ـ هغه په وینا لغړ په خوله خو
واره د ـ خوداې نوم اخیستل د ـ دین اوْ دونیا د ـ ګټې اوْ د ـ پیریانو
څه د ـ بچ کیدولار وګڼی اوْ د ـ دین اوْ دونیا په تاوان کی ولوبیږی.بیا

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

نه د ـ خوداے په ناروا اړوی اوٌ نه د ـ خلګو اوٌ د ـ خوداے په لار یا
کامی کار کی څه ځواری ته اړی ګڼی ـ ما خو ځپل په ژوند کی دا
هر څه لیدلی دی ـ داسی کسان می هم لیدلی دی چی د ـ دونیا هر
څه بدېے کول د ـ خلګو مالونه یې په ناروا بړو اوٌ موکو (رشوت)
اخیستل د ـ انګرېزانو ښکومیا (جاسوسی) اوٌ خسمانه یې کوله سو
د یې خوړ د ـ سرکار په کومك یې پور خلګو په نوکرو اوٌ جرګو کی
ډېر ژیاتی کول ـ شرمول اوٌ ځوارول یې خو د ـ چا پیر به ډېر پوځ
موریدوو اوٌ ځپل د ـ ناروا ګټی نه یې څه پیسے ځپل پیرته وور کولے ـ
هغه پیر یې هم هغه په ناروا ګټلی پیسے اخیستے دے یې د بدونه
ګېشه اوٌ نه یې ټوکه لا یې ښتایه درهاوی یې وورته کولے اوٌ لمساوه
یې ـ داسی می هم ولیدل چی ټوله ژوز به ډرست ژوند په ډېرو اوٌ
تېرو بدو اخته وو ـ بلا ناروا مالونه یې ټولول اوٌټول کړی یې وو خو
پینځه واړه لمونځونه یې هرو مرو په ماجت کی په مولا پسی کول اوٌ
د ـ لمانځه وروسته به هم ناست وو څه یې ویل اوٌ بیا یې پور لاسو
چوکړل اوٌ هغه لاس یې پورټول ځان تېرکړل ـ تل به لیری لیری
ژیارتوله تلل ـ کله کلندرله کله داروله کله ګولړېے اوٌ کله تونسے
له د ـ کوړ د ـ ځنګه او ځپل په کلی کی یې خلک په لوره اوٌرنځ مره
کېده ښځی او نر به لځ اوٌ یې کوره اوسېده هغو ته یې هیڅ نه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وړوکول ترمې چې ښځه مزدوري ږي په ښه توګه او پوره نه وړوکوله خو خپو خپو واره به مکي له ټله دا څکه چې دايه باور ووه چې هج دی وکي نو هر څه بد چې دی کړی دی د . هغو پاك شوې څکه چې چاټک به وړښوولی وو چې د . خوداے پلانکے نوم دومره واره اوډا شان ووايې نو بس هر څه بد چې دی کړی وی هغه به دروبخښل سی . او پلانکے زيارت يا پلانکے پير خوږکے مسی چوکړل بيا هر څه بد چې دی کړی وی خوداے پاك هيڅ هم نه سی درکولاے او دا خبره خو هر څوك ليداے سی او وينی به چې زياتره پښتانه خپل ناجوړان درمانتون (هسپتال) يا درماني (طبيب) له هله راوړی چې په هغه کی د . ژوند هيڅ هم پاته نه وی ولی . ډېر وخت خو دوے په زيارتو او بابا ګانو ګرزوی او د . ځلو خاوری (خوږدمې) يا د . مو لايانو کوډی او ټوټکے (تعويذات) په کوی . چې رنځے زيات اوږوخ سی تر درمان تېرسی او په رنځوړ کی څه واك پاته نه سی نو هله دوے درمان په کوی . ځينی مولايان او باباګان خو دومری ناپوه وی چې دا هم وړته واي چې تر څوزه خپل کوښښ کوم هيڅ بل دارو او درمل به نه په کومې . نور خو پرېږده د . ښترګی رنګه نازك ځاے او څرګند څوږ د . درمانتون په ځاے د . يارو کارېز سيدانوله وړوړی چې ناړی (توکاني) پکښی وړتوکی پاے په دا چې په

زرگونو پښتانه ژانده سي اوْ چي ښترګې د ـ کاره ووزی نو ملله د ـ کوټې او خار ډاکټر ها لیند له ورسی.دا ټول زمور د ـ کامی ژوند لوړے تاوانونه دی ـ تردے چي په سم ښښین کی چېری چي خوداېي هم او په کمی او کښت کروندہ په زیاته باغونه اوونی ښخوا دېری کمی وہ اوس خو ځه بندونه کارېزونه اوْ کوهیان جوړ سوی دی ـ خلګ وہ سایه ـ مېوه اوْ هر ښنه بلګ ته اړوو ـ خو خوداے خبر چي کوم تک یا ټکانو دا خبره پکښي خوره کړے وہ چي په کوړ کی په ونه نه لګوی د ـ ونی سره پېریان راځی د ـ کوړ خلګ ناجوړه کېږی اوْ مړی دا خبره تردے انده خوره وه اودہ چي د ـ ښښین په کلو کی یوه ونه هم نه وه ـ تردے چي په کال ٤٥ ـ ١٩٤٤ کی زما مشر وروړ خان اودول سلام خان په ډېره خواری د ـ ادرامان زو د ـ کلی او خار پوه لوستی سرے ماسټر اودول هکیم د ـ خو کالو د ـ ناستی پاستی خبرو اترو اووینا پس په دے ست کی چي خوونی په کوړ کی ولګوه ولی نوری اوبه چي نه وی د ـ کوړ د ـ چیښلو په ځاه هم خوونی کېدا ے سی د ـ کابلی توتانو خوښه پیوندی نیهالانې د ـ ځانه ورکړل ـ هغه یو وړل وہ لګول اووہ چي ښه ښنه دي اوْ لوېېږی خو د ـ کلی اوْ کوړ خلګ ټول راځه خوابدی دی او وای چي تاوان به در رسی بچ کېداے نه سې خودے ټینګ وو چي دا خوشی

خبری دی د ـ بده مرغه څه وخت پس د ـ ده زوے ناجوړه سو اوّ بیا دے ځپله هم رنځور سو د ـ کلي اوّ کوړ د ـ خلکو خبره باندی ښېره ښوله لاپے ډېر ډېر وورته ویل تردے چی دے واي "په پاے کی زما هم کړکه وښوله اوّ هغه ونی می وکښلے " هر سړے اندازه لګولاے سی چی که دا خوشی با ورنه واے اوّد ـ ښبین په هرکوړ کی یوه یوه ونه واے چی د ـ اودس په اوبو هم کېداے سی ـ و خلکو ته د ـ مال د ـ روغ واله اوّ-د هیواد وه باران بادوبی (آب وهوا) ته په تېر پینځوس یا سل کاله کی خومره ګټه رسېدلے واے د ـ ونو څه داکّرکه اوّ ببره په تولہ پښتون ځوا کی په زّیاته په هغه سرارو مېرو (خشکاوه) اوّ خوشکاوو کی ځوره ده چېری چی ونی ډېری په کار دی دالاځه کوړے ما خو لیدلی دی اوّ هر خوګےبیدلاےسی چی زّیاتره پښتانه ځلمی د ـ پېریانانو د ـ ببری د ـ مابسامه پس د ـ کوړه یوازی نه سی وتاے نه د ـ شپےځان لـه په کوړه کی پړیوتاے سی.ما خو په ځپله کوړنی کی داسی په ړیره ځوانان لیدلی دی چی د ـ کلی په ولدو لارو کوخو کی د ـ شپے د ـ یوه کوړه بل ته یوازی نه سی تلاے اوّ نه ځپل د ـ کوړ د ـ یوے خوړنی څخه بلی ته ننوتاے سی زما ځپل کشر ماما ښاغلی مامد ایسا خان به سری مابسام د ـ کوړه زمور ځاے ته راغی چینه لس بجے به ځله ځوړېدو نو به یوازی ځپل

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کوړته بیرته نه سوڅلای زه خو به وورسره په جنګ ښوم پوپا وه به
می اوډی ته به می تیاراوه چی ببره یه ورکه سی اوورته به می وی
چی هیڅوك به نه درسره ځی که مړی هم یوازی به ځی خو مشر
وروړ به می وی پړی یه زړده ناچاره دی . کله یی نوکر وورسره
کی کله به خپله وورسره ولاړ.دا یوازی ایسا خان نه وو زما باور
دی چی هر پښتون زلمی چی نور نه وی نیم ۵۰ ٪ ایسا خان
دی . د . کوم کام ځوانان چی دا شان وی هغه په دونیا کی څه
کولای سی ؟ اوډا تول د . دغو ډووپاورو (اعتقادات) پاې دی . او
هم د . دغو څخه ډېر بداوناروا کارونه پیدا کیږی او د . دی به
پردهـ کی ډېر بد اوناروا کیږی . د. رووپه هکله ماوړاندی ویلی دی
چی دا به د . کلی هولکی پښتنی ښځی وی چی د . شپی به ګرزیدی
وی به هم ځوانانی ولی داپی هم ویل چی د . ښځی یو غاښ هم
ووزی‌نو بیا نه سی زوی کیدای ځکه چی به د. چا ښځه د . شپی د .
کوره باهر ونیوله ښوله یا به چا ولیدله اووه یی پیژاندله نو هغی به
ویل چی زه په خپل وس اوواك نه یم وتلی زه روی سوی وم نو خپلو
انوپی د . مخ ډوه غاښ وورووکښل چی بیا نه وزی او دا پلمه یه نه
وی چی روی سوی وم.زما مشر اکا (تره) د . کلی یوه ښځه دغه
شان پیژاندلی وه او خپلوانو غاښ تری کښلی وو . اوس اوس به

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

تېره هوته ٥٩ ـ ١٠ ـ ٤ په اخبارو کې د ـ کراچي يو خبر راغلی دی
چې هلته چا ځواني ښځې خپل په خوسر (سخر) نالښت کړی دی
چې دے د ـ شپے ماله راغي بدکاری په راسره وکړله خو سرمے هم
ناګاره نه دی خو وايي چې هغه زه نه وم په دغه شپه ما د ـ خوداے
پاك څه جلالی نوم ډېر ياد کړی وو ـ کېداے سی چې ځوك پېرے
ځما په بڼه سوی وی اؤ داکارمے کړی وی ـ کوم خلك چې په پېری
کی داواك منيچې د ـ سړی په بڼه کېداے سی اؤداهم چې د ـ ښځی
سره مړوښی هم کولاے سی اؤ کوی يه لکه په سلوکی د ـ اتيا
کسوموسلمانانو اؤ پښتنو چې باور (اعتقاد) جوړ سوی دی نو هغه
څنګه دمے سړی ته دروغ جن ويلاے سی ـ اؤ که دے روشتونی و
منل سی نو به په کام کی څه هم ونه سی يو وړکوټی پاے پې داوی
چې هيڅ سودا هيڅ ګواهی هيڅ بوڵ (وعده) اؤ هيڅ واده (نکاح) په د ـ
شکه وتلے نه وی.هر ځوك به داويلاے سی چې هغه خوزه نه وم ځما
په بڼه به ځوك پېرے سوی وی ـ خوداے پاك دی ټوڵ موسلمانان په
ځياته پښتانه په دمے پوے کی چې د ـ دوے د بيخ د ـ ختو لويی پيلامے
هم د ـ دوے دغه ډوه باوره دی ـ اؤ د ـ دغوباورو توخم هغه
دروغونه دی چې د ـ نبی موبارك د ـ وينا وو (حديث) په نامه په
سووکاله وړاندی لا جوړ سوی دی اؤ ښه ښه کيتابونه په ړك دی ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# سرکاری دوترونه اؤ واک والان

مامخ کی هم ویلی دی

چی زه چی د ـ ښوونځی راوتلم د ـ ژوند په یوه لار هم نه وم خبر ـ سرکار څه وی ـ هېواد څه وی ؟ اؤ په هېواد کی څه لګیادی کېږی ؟ په دې زه هیڅ خبر نه وم چپ د ـ هغو خبرو چی په کیتابو په ژیاته په دینی کیتابو کی می لوستی وې چی یو خو ژموږ د ـ ښوونی (تعلیم) د ـ سریښتې کمې وې

اؤ بل ژموږ د ـ کوړنی ژوند هم په دغه وخت کی داسی وو چی موږ اؤ سرکار یا سرکاری واك والانو هیڅ کار هم نه سره درلوده ـ نالښتونه اؤ جنګونه لکه ما چی وړاندی ویلی دی په دغه وخت کی ژموږ په کوړنی کی وونه ـ غم یا مالیه پوړ موږ نه وه ـ ځکه زه د ـ

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سرکار په دوترونو د ـ هغوے په کارو واك والانو اوُد ـ هغوے په لارو چارو هيڅ خبر نه وم اوُنه مى کله څه اړيکے وورسره راغلى وو ـ په دے وخت کى مى د ـ اودولا خان د ـ کلا يوه خوړ اشناے همزولى چى ڤروسته مى ښيا د ـ خوسر کشر وروړ هم وو ـ ښاغلى لال مامد خان چى ډېر پوه اوُ ژوندے ځوان وو راته وويل چى راځه چى اوغانيستان له په سبل ڤولاړ سو ـ پور آسوبه ڤولاړ سو اوُ يوه ڤياشت ڎوڡبه د ـ کندهار په ولات (صوبه) کى وګرزو ـ زما خوښه سوله ـ خونى چى څنګه که څه هم هغه وخت اوُ اوس هم زموړ د ـ غاړى خلګ به ڒياتره اوُغانيستان له ڀے تيوسه تله اوُ راتله نه دلته چاپوښتل اوُ نه هلته ـ خو موړ ڎواړو دا خوښه ګړله چى پاسپوړټ به اخلو روښتيا داده چى خومرى زما ښترګى دغه پاسپوړټ پڒانستے اوُ زمے د ـ هبواد او کام په بده ڒوز خبر ګړم اوُ وورته پام مى کړ ـ دومرى نه د ـ مولا په ڤولوڼو او په ښوونځى کى پڒانستى وے هغه داسى چى زه اوُلال مامد خان ڀښين ته راغلو اوُ په درخواست ليکونکى (عرائض نويس) مو د ـ پاسپوړټ درخواستونه وليکل ـ اوُ يو د ـ بل لاس ګرى (ضمانت) هم هغه پور درخواسټ باندى ليکايي خلوراڼيڅ (پاولے) ليکلى وو خو وايه خيستلے روپى روپى‌دېوان هريچند اى ـ لے ـ سى له مووروړل ـ هغه بيرته راګړل

چی لاس ګیری په تاسیلدار (تحصیلدار) لاس لیك (تصدیق) کی هغه
له چی راغلو پېژاندو سړے وو ۔ کارمے راوکی موږ د ۔ هغه سره
ناست وو چی سید سولتان الی هو روم زے راغی څه کار پے وولړ
دم پس د ۔ تاسیلدار مونشی وے" آغا ساب چاکو (چاقو) درسره
شته ؟" هغه وے "هو" وے" لږمے راکه پکارمی دی" هغه ورکی مونشی چی
کار په وکی بندمے کی په جېب کے واچاوه ۔ ښاغلی سید د ۔ موږ
سره سم راولاړ سو ۔ زما ګومان وو چی چاکو یه کنی هېر سو
دباندی می وورپه یاد کی ده وخندل وے هغه ولاړ ۔ زما په ګومان د
۔ لسو روپو ډېر ښه چاکو وو ۔ چی درخواست مو راوړ ای ۔ امے ۔
سی لاس لیك کی ۔ وے انګرېزی بابوتے ورکی هغه له چی راغلو هغه
وے ډاکټر لے یو سی ۔ ډاکټر له چی راغلو هغه ډوه توری ۔ د ۔
ښترګو رنګ اوٚ دړه (قد) باندی ولیکلے اوٚوے پینځلس روپی راکی ۔
ما شل روپی ورکړے لال مامد خان می شاته ولاړ د ۔ بل چا سره په
خبرو وو چی ما درخواستونه راواخیستل اوٚ ډاکټر پاته پینځه روپی
راکولے هغه ولیدلے چی ۔ راباهر سو وے "ډاکټر د ۔ څه پیسے درکړے" ؟
ماوے ولی تاونه لیدلے پینځلسے واخیستے اوٚ پینځه یه راکړے ۔ وے
"درځه ؟" اوٚ ډاکټر له وور دننه سو ۔ وورسره په جنګ سو اوٚ هغه
پیسے په بیرته جینی واخیستلے چی راغلو بابو درخواستونه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

واخيستل چې سبا يا بله ژوز بې ولېږم ګوتې له اوْ هغوے به پاسپورټونه يا درولېږى اوْ يا به مو وغوارى اوْ درپې کی-مّياشت نيمه تېره شوله چې په کوټه کی مو تپوس وکی درخواستونه نه وو راغلی - چې پښين له ورغلووے "مونږ لېږلی دیّ - ای - اے - سی ته مو وويل-هغه تپوس وکی که نه خو په پاے کې وے"خير دی که هغه وړک سو بل درخواست راکی" بیا چا بلدسری راته وويل چې هغه ډاکټر چې کومی پيسے غوښتے - هغه د - دوے ډرو واړو موك وو چې تاسی هغه نه دی وورکړی-پاسپورټ چیرته دی - هغه داهم راته وويل چې دا خو يوازی نه دی دابډی به تاسی ډرمے خلوږ ځايه وورکوی - د - پلو (ضلع) په دوتر کی - پوليسو ته اوْ پلانکی ته - په دمے ميان کی مې د- پښين د - جرګے تماشه په لومړی ځل وليدله چې يوه خبره پکښی دا وه چې د - جرګے ټول ملکان يو ځاے ناست وو - ای - اے - سی چې به اوزګار وو هغه به هم ووکنی نوږ به د - هغه سريښته داروو چې يو سوږ ږيری پنجاپے وو شاجی پې وورته ويل - ډېری خبری به پوږته سولے خو غوخښدمے يا پېشېدمے ډېری کمی - ژياتره به خوك سږے يا شاهېد نه وو راغلی يا به نه وو خبر سوی - بلی جرګے ته به پاته وے اوْ شاجی به ډوارو پږو (فريقين ) ته پور يوه وږکوټے خيره (کاغذ) د - بلی جرګے ژوز (تاريخ) وورولیکله اوورته

ږې وې " ډوې ډوې روپۍ لیکاي راکی ژیاترو به په پټه څوله ورکړې
خو چا به نه وورکولې.

وې بېّ نې لرم یا څه بله پلمه بهانه وکړله یا پې وې چې دالسمه
پېښی ده چې زه څم راځم خرځونه کوم تاسی ګواهان نه راولی یا
هغه ډلانکې سړې اؤ ډوې ډوې روپۍ لانوړی له ما اخلی - نو شاجی
به خبښم سو ډېر بداوښېکی ښېوری پې د - ای - اې - سی د مخه
وورته وویلې. اؤ یا به د - هغه سړی د - کام د - جرګې غړی ملك
راولاړ سو - وې پې"لېونې پې د - شاجی لیکایي نه وورکوې هغه ښتا
یا ښتا د - ډلار نوکر خونه دی چې تاته ړوز درلیکی". پیسې پې
جینی ورکړې که به هغه وې چې نې لرم نوپې د-ځانه ورکړّې چې ډیا
پې کوړ راکې - ځینی خبری پښ هم ښوې اؤغو ځی هم.په جرګه کی
لغړ ډوه ډرې غټ یا لوستی ملکان وو چې هغو به څه ویلاې سو یا
به ای - اې - سی اؤ شاجی غوړ وورته نیو خو د - هغو خبرو به هم
څه ځاې نه نیو اؤ کېده به هم هغه چې به د - ای اې سی خوښه وه یا
د - شاجی چی دا ـبـډی موکوږنه اؤ پې تېوسه ړوز می ولیدله د -
پاسپورټه خو ببزاره ښوم هڅو درخواست می ورنه کی ژړه می وو
چې پې - پاسپورټه به څم لکه نوړ خلک خو ډیانی چی څه پښښه
ښوله هغه د - ټک پرېږ (اراده اؤ تجویز) مو هم پرېښو -

# د.هیواد مینه اؤ پښتنی پت

مامخ کې ویلي دي چې
زموږ کورنی د ـ اؤغانیستانه راغلې ده اؤ داهم چې نیکان مو د ـ
سووړنو کلو راسی د ـ اؤغانیستان په سرکار اؤ دربار کی پوړغتو
ځایو لګېدلی وو ـ اؤ د ـ هغه هیوادې ډېره خسمانه کړې ده ـ ځکه
به د ـ دوې تل دا ارمان وو چې بیرته اؤغانیستان له ولاړاے ـ دا مېنه
مو پرېښولاے اؤ هلته ابات سواے یو ځل زما مشر اکا (تره) امیر
ادرامان خان ته درخواست کړی وو خو هغه نه وو منلی ـ بیا امیر
هبیولا خان ته درخواست سوی وو اؤ هغه هم نه ومنل ـ ماما می
ښاغلی مامد الی خان خوداے دې وبخښی امیر امانولا خان ته د ـ
هغوے د ـ باچهی په لومړی سر کی په پټه بیا درخواست لېږلی وو ـ
هغوے جوابووړکړی وو چې زه به خپل د اېلچی (سفیر) څه تپوس
وکم ـ خو په دې میان کی هغوے مړه سول ـ د ـ هغوے د ـ مرګه
پس یو وخت د ـ ګولیستان واړه تاسیلدار یو اشتهار رالېږلی وو ـ
چې د ـ اؤغانیستان سرکار خپل ټول زاړه شروني (پناه ګزین

پرېږدی که خوك راځی ـ اؤ وورسره د ـ انگرېزی سرکار یو خت
هم ووچی مورږ د ـ هیچاـ پورتلو نیوکه (اعتراض) نه لرو ـ داسی
خلک به بیا د ـ دې ځاے استوگندی نه منل کېږی ـ موږ به کوږ اؤ
کوږنی کی پوره خبره ډېر سوچ وکی د ـ ځینو خوښه وه چی ولاړ
سو ـ خو زما نه خوښېدله که څه هم هلته مو ډېری مځکی کوږونه
چی د ـ کرو ږونو روپیو وې سرکاری سوی وې اؤ لا تر دغه وخته د
ـ سرکار په لاس کی وې اؤ هیله وه چی بیرته راکړی واے اؤ داسی
نوری گټی خو زما په زړه کی د ـ دې هیواد اؤ د ـ دې ځاے د ـ
خلکو مینه وه اؤ په ځان اؤ ځپل خوداے می باور وو چی د ـ لوری به
نه مرو ځکه مو د ـ تگ کهانده پرېښووله ـ هغه روز اؤ داروز جبلونه
خواری د ـ سرکار زور زیاتی اؤ لوری هر څه راباندی راغلے خو بیا
می کله هم د ـ هیواد د ـ پرېښوو اندېښنه زړه ته نه ده تېره سوې ـ
یوازی اؤغانیستان لانه د ـ هیند د ـ وېشه پس چی زه بېه په دې پوے
وم چی د ـ موسلیم لیک د ـ گوند خلک اؤ د ـ هغو دوستان
اؤلارښووونکی (صلاح کار) انگرېزان واك والان چی لا په دې هیواد
کی ډېروو اؤ موسلیم لیگیانو د ـ موسلیم لیک سرکار په هغوے ډېر
باور کاوه اؤ د ـ هغوے خوله تے ډېر کتل ـ به هیڅ کله موږ پښتانه په
ارام پرېږدی نه که زه هیند له تللی واے نو هلته ماته ښه ژوند

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

رسېداے سو ـ که څه هم زه د ـ وېشه پس هم په لوړی کال ډوه
څله د ـ هغه ځاے د ـ کام دوستو موسلمانانو (جمعیت العلماء
وغیره) په وینا اوْ د ـ هغوے د ـ ځینو ډرنو کارو لپاره هیند ته وّلاړم
اوْ هلته څه دا شان خبری هم وسولې چی بیان یې وّروسته راسی ـ خو
ماته هیڅ وخت هم د ـ هیواد د ـ پرېښوولو اوْ په هیند کی د ـ اوسېدلو
اندېښنه هم نه ده راڵوېدلې ـ

سره د ـ دے چی ما خّپل په خّوښه اوْ د ـ ډېره سو چه پس د ـ
دے ځاے خاوره څّپله مېنه وګڼله اوْ جوړه می کّړله خو پښتنی یت اوْ
د ـ پښتو اوْ پښتنو مینه می هیڅ وخت هم د ـ زّړه نه ده وتلې اوْ هر
کله چی د ـ اوْغانیستان د ـ خلګو څه کار په ماسوی دی کړی می
دی اوْ چی کله می داګومان سوی دی چی په هلته ټلوزه د ـ هغه
ځاے د ـ پښتنو په ښه وورټلاے سم نو تیار سوی یم ـ لکه د ـ امیر
امانولا خان په جنګ کی یا بّیا د ـ ښاغلی نادر خان اوْ د ـ هغوے د
ـ وّروڼو په جنګ کی خو کله به انګرېز سرکار په بند اوْزوړ
راوګرزولم اوْ کله به په څه بله پلمه پاته سوم چی بیان یې وراندی
راسی ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# غازی امانو لاخان

خوداے دې وبخښي ولي نه ن پوړ

۶۰/۴/۲۷ـ چې زه داخپه ل لیکلی د ـ هرې پوړ په جېل کې دویه م

ځـــــل ګوړم په اخبار کې خبر راغی چې هغوے په پردېس کې

ځپه‌ل‌خوداے ته ورسېده په دې خبر ډېر خواشینی شوم‌اؤ توله ژوز

می زړه بد ووړ ـ اؤ په دې کې می رے واهه چې د ـ ښاغلی اومر خدء

راپه هسی‌نزهر هغه چا چې د ـ موسلمانانو لپاره څه کارکړې دی ـ

د ـ تورې د ـ پوهنی یا د ـ روزنی اؤ خسمانے هغه دې پے بخته کـام

خوار کړی دی ـ وژلی یه دی یا یه شرلی دی اؤ یایه‌په‌جېل کی

اچولی دی اؤ چا چې دوے ډروهلی دی یا یه پوړ ـــــ سرټکولی

دی هغه‌یه خپـه‌ل باچهان مشران اؤ ښاغلی منلی دی ـ ماوړاندی

هم ویلی دی چې د ـ اؤغانیستان د ـ خپل واکی جنګ زموږ په خلګو

کی ډېر ښور اوژوند پیدا کی ـ د ـ جنګ پس د ـ غازی امانولا خان

د ـ لړو ښیو باچهی ته هم پښتنو ډېر په مینه کاته اؤ په زړوکے یوه

غلے شانته هیله وه چې د ـ اؤغانیستان د ـ خپل واکی اؤ ودانی سره

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

بهٔزموږ دا د ـ مّرييتوب شّپې اوّ ؑروزی هم بدلی سی په دې پوې نه
وو چی کامونه خّپل په مږو ؑزيارو اوٌخّپل د ـ بچو د ـ تودې وينی اوُ
ځوانو په ښندلو آزادېږی ـ اوّ نه لا په دې پوې وو چی که څه هم د
اوٌغانيسان اوږلس په دين په خټه او په ژبه ؑزموږ شريك اوٌ ورونه دی
خو د ـ خاوری اوٌ هېواد په وېش موږ د ـ ډېره وخته د ـ انګرېزانو
زوږ چل اوٌ بډو اوٌ د ـ پښتنو ناپوهی اوٌ پې خبری داسی ځله بېل
کړی یو چی د ـ هغوې خّپل واکی ؑزموږ خّپل واکی نه سی کېدلاې
موږ به لا خّپله خّپل واکی په خّپلو مږو د ـ انګرېزه ګټو ـ

(WWW.KITABTOON.COM) كـتابـتـون ټـولـنـه




کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د.غازی امانولا خان

# د.یورپ دوره

امیر امانولا

خان د ـ یورپ دروې له د ـ چمن پور لار راغی په ٻښین کی تېر سو او کراچی له ولاړ ـ د ـ هغوې د ـ یوې ورزی دغه یانه هم زموږ پور خلګو ډېر ښرید وکاوه ـ په کمه ورز چی دوې چمن له راتله ـ د ـ کوټی څخه تر چمنه په زرګونو ښتانه د ـ چمن په ښار کی راغونډسوی وو ـ څوك خو لا د ـ چمنه سپین بولدك له تللی وو ـ ما هم ځان چمن ته رسولی وو ـ ولی ګومان دا وو او سرکاری بندوبست هم دا شان وو چی هغوې به خپل د ـ خاوری څه سهار وختی پور اووه بجې چمن ته راځی او ځینی خلګ به په سرکاری پا سوږ ـ چمن ٹیسن ته وورځی وینی پې او دستی به دوې خپل په ښل (سپیشل ) ټرین کی سپرېری او کوټی ته به رسی ـ په لار کی به هیچېری نه ایسارېری موږ د ـ کوږنی ګڼ خلګ چمن له ولاړو.شپه

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

مو هورمے وکړله ـ پاسونه مو پیدا کړل د ـ شپے ټوله شپه باران وو سهار هم یخ وو هم ختې وے اؤ هم اوریز اونری ځاځکی وو ـ د ـ خلګو د ـ جوش دا شان وو چی خپله زما مشر وُرور چی په څه کار پسی کوټی له تللی وو اؤ د ـ مور سره چمن له نه ووراغلی د ـ هغه ځایه ناوخته د ـ کوټی د ـ ځینو ملګرو سره په لاری کی راروان سوی وو اؤ د ـ شپے د ـ کورك په غره کی لاری ووړکریا به سومے وه نوده اؤ ملو په باران یخ اؤ ختو کی اوکره شپه په دیکو لاری د ـ کورک پور پیچو مورا خبژولےوه اؤ سهار وختی به ځان راورساوه. ناوخته وو بل پاس نه پیدا کېده ما خپل پاس دوے ته ورکی اؤ خپله د ـ ښاغلی کازی اودول ازیز خان خوداے دے وبخښی ـ ای ـ اے ـ سی سره پے پاسه تېرشولم د ـ اؤغانیستان د ـ پولی څخه تر ټیسنه پوری د ـ سرك په دوارو غارو پوجی سپاهیان ولاړ وو ـ اؤ د ـ هغوے شاته په زرګونو پښتانه. چی څنګه د ـ باچا موټر تر ټاك راواوښت ـ خلک د ـ واکه ووتل پوج اؤ پولیسے به مخه واخیستله اؤ پور موټر راګوره سو ـ ناپېښه جوش ناری اؤ چیغی یه جوری کړلے اؤ ټوله لار چی نیژدے دړے نیم میله ده د ـ هغوے موټر وروورود ـ خلګو په میان کی راته. چی ټیسن له راورسېده دلته د ـ انګرېزانو سپاهیانو یوه پرك (دسته) سلامی (ګاړ آف آنر) ورکی د ـ

هغوې تر راتګ څه وخت وړاندې د ـ ګورګانو داپرك چې راغى اؤ ليكه (قطار) ودربده په څټوکې بوټونه څه لږل سوى وو ـ نو د ـ هينكې بنګيانو يوه ټولي راغله اؤ په پاكو ټوالو (توليه ) يې د ـ دوې بوټونه پاك كړل ـ ما چې داوليدل ډېره مې خواشنه سوله اؤ دالته ناست ناست دې چورت واخيستم چې داولي موږ پښتانه اؤ هينكيان دومره سپك يو په كار خوداووچې نن د ـ پښتنو دې پښتون باچا ته د ـ خپل پوچ كندك سلامي ووركولاې كه هغه نه واې نو هينكې خوواې ـ داڅه دى چې سلامي انګرېزان وووركوى اؤ هينكيان ولاړ دى د ـ هغوې بوټان پاكوى دا ټول ژموږ اؤ د ـ هيند د ـ مرئتوب باې دى ـ په دې چورت كې دومره ډوب وم چې نه مې د ـ توپو ډزو ته پام وو اؤ نه هغه زركونه خلګو ته ـ چې په دې كې ټول خلګ ولاړ سو نو هله زه په دې پوې سوم چې باچا راورسېدى هغوې مخ كى د ـ سپاهيانو ټولې وكوت اؤ بيا راغى ژموږ مخ ته پورڅو ګامه ودرېدى تپوسې وكى چې تاسى پښتانه ياست په پښتو پوهېږى ؟ ګومان مې دى چې څه يه ويل غوښت چې خلګو يې څه سريښتې خان خان له بېلي نارى جورى كړلې ـ نو هغوې رانه تېسن ته روان سول ـ خپل د ـ خلګو په دې يې سريښتې كاراؤناخواله روږمى ډېره خوابده سوله ـ زړه مې غوښت چې پكار خودا ـ وو چې ژموږ د

ـ ټولو له ښوایوه سړی هر کلے وورته ویلی واے اؤ د ـ هغوے جواب مو اروېدلی واے اؤ په یوه آواز مو خوښاری کړی واے ـ که څه هم تر دغه وخته مانه په څه ډله یا ګوند کی کارکړی وو اؤ نه می د ـ بل چا کامی ډله یا ګوند (تنظیم) لیدلی وو ـ خو یاد می دی چی هغه ډرسته ښوز اؤ خوښوزی نوری می زړه ډېر بدوو اؤ دغه جوړت راسرهـ وو چی ښموږ دابده ښوز به ښنګه او کله بدلېږی ؟ کوندی ښاغلی مولانا مامد اکبر خان مخپی به هم ښپله او ښاره سوندره ـ

خودایه هغه ښوز به هم وی

چی ښموږبهجهاز ښیل وی

یه څه داسی غم اؤ اندېښنه کی ویلے وی ـ

غازی امانولا خان چی د ـ چمنه ښیل یه ښیپشل ګاډه کی روان سو نو یورلاړے تر کوټی پوری په ښیاتره ټپسنانو اودولا خان کلا ـ ګولیستان ـ بوستان ګاډی درولے وه ـ راکوز سوی وو ـ اؤ د ـ هلته ولاړو پښتنو سرے ښترے مسے اؤ خبری کړی وے ـ ښکه ښموږ هغو خلګو چی چمن له تللی وو ډېره پښېمانی وکړله چی که خبرواے

نو ښځه به مو په هغه ګڼه ګوڼه کی ځان اچاوه دلته به مو ښځل پوړ کوړ په ښه توګه هر کلے کړی واے ـ د ـ دوے دے مینی اؤ سریتوب پوړ پښتنو ډېر بړید کړی وو ـ په ټمیاشتو خو به هر ځاے دغه خبری کېدے ـ تردے چی اوس لا هم خلګ د ـ دغی یوے ژوزی خبری ډېری په خوند اؤ مینه کوی ـ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

## مولانا په زړل ما موډ (مخپی)

ژه د کام په غم ژوندے یم
دغه غم می په زړه تل وی
په ځګر سوے له دے یم
سر کښې اوړ می دے نه بل وی
خوّد ابه د اسی وخت به راشی
چی زمونږ جهاز به هم وی
لکه باز به په هوا شی
په ترخو اوبو به سم وی
رهل به هم زمونږ پیدا شی
تا ربه هم په هر کهٔ ډم وی
زه به خپل جرنیل پسے یم
په دښمن به د اوکه ول وی
زه د کام په غم ژوندے یم
دغه غم می په زړه تل وی
په ځګر سوے له دے یم
سر کښې اوړ می دے نه بل وی
اے زما ننګیالے کامه
وخت د ننګ اوۀ د سپالی دے
د دونیا په ډاګه آمهٔ
نن هر کام په دا وولی دے
چی خپل کام نه کړے بد نامه
نن هر کام په ننګیالی دے
خوّد ابه مرله دے پخواوی
چی می بل ته کام خبجل وی
زه د کام په غم ژوندے یم
دغه غم می په زړه تل وی
په ځګر سوے له دے یم
سر کښې اوړ می دے نه بل وی
زما هوتکی دی د وینی
د وتن په مینه رنګ وی
غوّبنه پوست می په ربښتنی
جوړ د کام په نام ونګ وی
په روشتبا پښتون زلمی یم
زما کار پښتو اوۀ ننګ وی
تل دی مر هم زه په دے یم
د ادی تل می په زړه ښکول وی
زه د کام په غم ژوندے یم
دغه غم می په زړه تل وی
په ځګر سوے له دے یم
سر کښې اوړ می دے نه بل وی
خوّد ابه د اسی ژوندن راکړے
چی می زړه کښې غم د کام وی
دوه ستړګی می غم ناکے
په دی غم صبا مابنام وی
راکښې درد د اسی پیدا کړے
چی وجود می بے آرام وی
په دې غم کښې لیونے وی
د اسودا می د زړه مل وی
زه د کام په غم ژوندے یم
دغه غم می په زړه تل وی
په ځګر سوے له دے یم
سر کښې اوړ می دے نه بل وی

عئ قدم عئ عامه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# واده

په دغه کال می واده وکی ـ زما په خوښه می وروړ اوُ موړ په اودوِلا خان کلا کی د ـ غازی اودوِلا خان په کوړنی کی د ـ شبر جان خان نور سابره (صابره) راله وغوښتله ـ روښتیا داده چی واده می کاوه اوُ ومی کی ـتر ډېرو کلوِ زه د ـ واده په مراد نه پوهِ وم اوُ نه چا خبر کړی وم ـ بس ټولو پښتنو ځوانانو به ودونه کول نوِ ما هم وکی یا ښیا دا چی مولا کاکا راښوولی وو چی واده د ـ نبی موبارك روُ (سنت) دی اوُ په دې د ـ نبی اومت ډېرېری ځکه ډېره گټه (ثواب) لری ـ اوُ ډېر ځرگند مرادې داراښوولی وو چی په دې سړے د ـ بدو اوُ بېلار وړاگرزی گوا مرا د مې مړوېنی (جنسی تعلقات) راښوول سوی وو ـ خوزه په دې لارهم مخ له نا بلده وم ـترد ے چی کلې د ـ خوسر کره په گردنو بوِتلمه نوکه څه هم زما د ـ مرانی (بلوغ) څلوړ پینځه کاله سوی وو د ـ یو ویشتو یا دوه ویشتو کالو وم خو زه په هیڅ خبر نه وم نه می د ـ چا څخه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

تېرېس هم کولاے سو په ناچارۍ مې تر روانېدولو آن وړاندې د - مشر نوکر اودول کادر لالا سپين سرے ښځه ځان ته کوښے راوبلله اؤ په ډېر شرم مې ووړته ووېل "چې تاسې ما په ننواته بياست نو څه خو مې خبرکې چې هلته به څه وي ؟ اؤ زه به څه کوم زه خو په هيڅ پوه نه يم-" هغه هم ډېره وارختاشوله د - لومړۍ شپې څه خرڅند دوډونه په راوښوول چې دابه کوے اؤ دابه کوے اؤ په پرده پرده کې څه مات ګوډ په خبره پوے کړم - اؤ دا شان زه د - ژوندون تر ټولو ډرانه اؤ پاخه کارته تيار شوم -

ژمون په تېره او کورنۍ کې دغه وخت د - واده دودونه ډېر زاره وو - خپل پور وخت اؤ د-هغه وخت د - خلګو سره به خودور اؤ ښه سوی وي چې دومره خلګو په ګډه خوښ کړې وو خو زما په ګومان ژمون د - وخته سره نه وروو اؤ نه څه ښېګړے پکښے پاته وه ځکه ما ډېر وس وکې چې دادودونه بدل کم اؤ ځينې مې بدل هم کړل خو ځينې رابدل نه سو او د - هغو په هکله په ناچارۍ د - خپلوانو په خوښه ولاړم -

د - واده په هکله د - چنغول اؤ چنغلی (هلك اؤ انجلی يا زوم اؤ ناوې) څخه مخ له هيڅ تېرس نه کېده بس خو مشرانو به سره جوړه کړله اؤ واده به وسو - روښتيا داده چې کم خلګ واده لغړ د

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ـ مړوبنی زوړزات اؤ د ـ کوړ د ـ خسماڼے لپاره کوی یا د ـ کوړنی بهیر اؤ تپے د ـ غښتو (سیاست ) لپاره لکه ځموږ د ـ غاړی ځیاتره پښتانه چے کوی نو هغوے له هم دا دوډ ښه اؤ د ـ ښیے دی ـ ولی په دے کی خو کوړنی ښه یا رنګ.که څه هم ما دلته لیکلی ده اؤ ډیر خلګ په ځیاته نوی ځوانان پوړدے ډیرزوړکوی خو ځما ځپله ازمودہ داده چی د ـ ښځے نه څه تله ښته اؤ نه د ـ میړه اؤ ماینے په ژوند کی داشے څه ډیر کار لری ځما ځپله دغه لوړی ښځه چی ځما ډیر ښه اؤ خوږ ژوند ووړسره تیرېده د ـ پښتنو او ځموږ د ـ کوړنی په تله ښایسته نه وه ـ خو دا ځیز ځموږ تر میان رانه غی هم دا شان ځموږ په کوړنی کی ځینی نوړ کسان ووړ چی د ـ هغوړ ښځی به خلګو بدرنګی ګڼلے ـ لکه ځما مـــا مـــا شـــــاغلی موسا خان.ښاغلی اودوړ کادر خان.ښاغلی اودوړ شکوړ خان خوړ ـ دوے ژوند ډیر ووړ سره خوړ اؤ د ـ مزے تیرسوخو روړنه پاکی (نسل.رنګ-روپ-تربیت اؤ عفت) ځوښول په کاروی چی په هغوړ تر ځوان هلك مشران ښه خبرېدا ے اؤ پوهېدلا ے سی ـ خو نن سبا چی پښتانه زلمی اؤ ځجوړی لوستی سو اؤ د ـ واده ځرادهم څه نه څه بدل سوی دی په دے روکی څه بدلی پکار ده ـ اؤ داسی لار غواړی چی نه خو د ـ یوړپ اؤ امریکے رنګه د ـ پے لاری ډکه آزادی وی اؤ نه د

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

ـ پښتنو زاړه بندبستونه۔څه نه څه بونیادونه ایښوول په کار دی چی په هغوی کی دننه د ـ هلك اوٌ نجلیٍ خوښه ازاده وی لکه هغه چی په تازی ووړته سٔیال ګلوی (کفوفت) وایی ـ دا چی د ـ ډوارو کوړنو چوچ دوړ اوٌ دوخت (معیار زندګی رسوم او طرز زندګی) یو شانته یا سره نیژدے وی ـ څرګنده ده چی د ـ ډیر براے اوٌ اوچت ژوند وال کوړنیٍ ښځه په خوار اوٌ ساده ژوند وال کوړ کی نه سی اوسیداے ـ نه د ـ بے پردے کوړنیٍ ښځه په پردے وال کوړ کی ګوزاره کولاے سی ـ هم دا شان هغه بله خوا ویـخو ما تر واده لا ډیر وړاندی لغړ د ـ ذات کوړنیٍ اوٌداسی خبرو پوړ بونیا د خیل د ـ واده څاے خوښ کړی وو ـ اوٌ موړ وروړ دوے می په خبرو خبرو کی په خبر کړی وو ـ داهم وه چی ما په ووړوك والی چی د ـ یو ولسودوولسو کاله وم د ـ دغه انجلیٍ یودید لیدلے هم وه۔هغه دا شان چی موړمی د ـ دغه کوړ یوه بله نجلیٍ د ـ مشر وروړ لپاره کتله اوٌ زه هم ووړسره ورغلیٍ وم ـ اوٌ دا نجلیٍ می لیدلے وه هغه د ـ وروړ ګوزده خو می ونه سوله خو زما هغه د ـ ووړوك والی چوړت سرته ورسیدی ـ څرګنده ده چی هغه وخت زما داخوښول د ـ مړوښیٍ په مراد نه وو اوٌ نه کیداے سو ـ لغړ هغه کوړ اوٌ د ـ کوړ خلک می خوښ سول لکه د ـ لسو دوولسو کالو د ـ هلك خوښه چی وی اوٌ

کېداے سی ـ

ژمونږ خلګو به د ـ خوږ اوْ لوږ پوږ سر د ـ ولور په نامه پیسے اخیستلے- دادوږ هم راته ښکاری چی په سر کی به د ـ ښېګړی لپاره پېل سوی وی ـ هغه دا شان چی د ـ غړو رېګونو او نوږ پښتانه څه ډېر ودان خلګ نه وو ـ لکه چی اوس هم نه دی ـ نوږ چا چی به واده کاوه ژیاتره یے نوی کوږ هم جوړاوه اوْ څه نوږ دودونه ډوډی موږی به هم وے اوْ د ـ دغه کوږ د لږ ډېر سامان اوْ دودو د پاره یے خپل خوسر ته څه پیسے وورکولے کټ مټ هغه شان لکه د ـ بی بی پاتیمے د ـ واده پوږ وخت چی پاك رسول ــــ د ـ ښاغلی الی خد ژغره په خرڅه کړله اوْ خوښے (د ـ واده ډوډی) اوْ د کوږمات ګوډ سامانے په وورکی ـ چی وروسته موسلمانانو په ډروغو د ـ جهېز نوم ورکی اوْ د ـ هیندوانو دوږ چی لور خوږته یے ډېر څه وورکول یه پېل کی چی د ـ هیند سیند اوْ پنجاب د ـ موسلمانانو ببخ په وخوت ـ د ـ پښتنو په دے دوږ به دا ازمودہ هم وښوله چی هلك څه د ـ ګټی وتی هم دی که نه ؟ خپل د ـ کوږ ګوزاره به وکی که هسی د ـ مړوښی باږ په مخه اخیستی دی او پړدی لوښی خوندی غواړی ـ په خوارو پښتنو تپوکی لاتر اوسه هم دادوږ په دغه شان دی ـ ډوه ډرے سله روپی ولور وی اوْ هغه د ـ نجلی موږ اوْ پلار د

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ـ هغې په جامو ـ پسول او د ـ کور په ورېشبر (سامان ) خرڅې کې ـ
خو لکه څنګه چې تل په جهان کې هرښه دوړ هم وړو وړو وړان سی
زما په شپو کې د ـ پښتنو دادوړ هم ډېر وړان سوی وو ـ ولور
وزرو ته رسېدلې وو ـ زياته برخه به د ـ ښځې خپلوانو خوړله ـ لا
دا چې په سرکې يې وټاکله چې دومرى زرونه به زه خورم ـ دې ته يې
خوراکې ويل ـ او دومره به په لوړ خرخوم ـ د ـ دې نه سبوا د ـ
نارينو او ښځو د ـ بېشماره دوړو په نامه ـ په خوشې يې ښې او
ډېرو جامو او پسول به په زرګونو روپۍ خرڅېدلې ـ داسې ډېر او
بهاګور شيان هم جامې هم پسول وو چې په ژوند کې به يو ځل ډوه
هم په ښه نه وو خو جوړول يې او پيسې يې باندې لګولې ـ ولور د ـ
ډرو زرو څخه ترځلو ښتو زرو پورې اخيست کېده او دا هم نه چې
خوار سړى به خپل د ـ پردې لپاره اخيستې نه ـ چې خومره به بدا ـ
وو هغومره يې د ـ لوړ او خوړ ولور زيات وو او دايه د ـ وياړ خبره
جوړه کړې وه چې پلانکې لوړ خوړ په دومره ډېر ولور ورکړله ـ
زما د ـ مشر وړوړ واده زما د ـ خوسر د ـ خوړ سره هم څکه وښه
سو چې هغوى لس زره روپۍ ولور غوښت ـ نو ما دا خبره هم
خرګنده کړې وه چې زه خو به يا ولور نه وړرکوم او که وړرکوم نو
ډېر لږ ـ څکه مې ډوه زره ولور ورکې چې هغه وخت تر ټولو کم

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ووړ هم داشان می جامے هم ډېری لږ اؤ د ـ ګوزارے هومره ورکړلے اؤ نوړ دوړدوړنه اؤ خرخوړنه هم‌ـد ـ پسوړل په هکله خوړ می وویل چی زه دا ځیز مخ له خوړشی اؤ ناروا ګڼم ـ خوړ په دے می خوړسر راسره ډېری خبری وکړے اؤ چی ما ووړته وویل چی ته ښه خبرے چی په ریواجی پسوړل پېزوان نته ـ ټیکوړنه ـ خال ـ اوړی ـ وښی ـ بنګړی ـ بازوړبند ـ پاے زېب ـ ګوړتکوړ شستوړ ـ همېل ـ ګلوړبند چمکلی لښتوړ اؤ اوېزوړ کی یوشے هم نن سبا ښځی نه پوړری کوی ـ همیے جوړکی اؤ پے کاره ړراته وی ـ ړبیا یه یا خوړ بیرته مات کی نوی شیان ړرے سازوی اؤ یا یه خرخوی اؤ تاسوړ پوه یاست چی دا شان یوازی د ـ جوړولوړ مزدوړری نه سی تاوان زرهم چی د ـ زرګر تر لاس ووزی نوړ نیم په نیمه پاته سی ـ داشے تاسی ړما اؤ ړخپل د ـ لوړ په ړخوښه ړپرېړدی کوړے ودان هغوے هم پوے ړشول اؤ ټینګه یه ونه ړکړله اؤ نے لوړ ړبیا وړراندی داشے وغوښت سېوا د ـ یو ړدووړ ریواجی ځیزوړنوړ ـ

دا هم دوړ دووړ اوړس هم چېری چیری لا پاته دی چی د ـ کوړزدے (کوړزدن) سرهه پے دینی کاوین (نکاح) وتاړه ـ اؤ څه وخت پس پے د ـ یو بېل دوړد په توړګه ـ ړنجلی له څه جامے ماہے راوړے (دے ته پے د ـ ننواته جوړه ویله) څه ښځی اؤ نارینه به ووړسره راغلهِ اؤزوړم پے د ـ خوړسر (ړسخر) کره راووړست ـ مابسام پے ښځه اؤ خاوند یوځاے ړکړل

ـ مېلمنو به شپه تېره کړله سبا له به هغه نور بيرته لاړ زوم اؤ د ـ هغه يو ياڅوه همزولی مل ګری به دالته پاته شول ـ ډرے شپے به تېری کړلے نو به لاړ ـ دے دودته ننواته ګردنی اؤ پښه پړانستل وايي ـ د ـ دے پس نو زوم د ـ خوسر کره خپلی ښځی له هر وخت راتلاے سی چی زړه يه غواړی هغومره شپے ژوزی تېرولاے سی ـ دادود هم پخوا د ـ دے ښېګړی اؤ ناچاری لپاره به پېل سوی وو ـ چی ځوانانو به د ـ کوژدے پس هغه لږ ډېر ولور د ـ ډوولاسو په خواری ګاټه اؤ پوره کاوه اؤ واده يې کاوه نو لکه د ـ ښاغلی موساپېغامبر کلونه يې باندی ولګېده ـ اؤ په دے مېان کی به د ـ هلك اؤ نجلی دومره اوږد بېلتون د ـ خپلوانو خوښ اؤ پېرزونه وو ـ نو يې دالاروورله جوړه کړله.بله داښېګړے پکښے وه اودا چی کمه نجلی چی خپل کور کلی اؤ خپلوان پرېږدی اؤ يو دم به په يوه ناليدلی اؤ نا بلده کور اؤ خلګو ګډېږی چی په هغو کی يو هم سره د ـ هغه ملګه چی داپسی ځی اؤ پور مخ يې مېره وی زياتره ښځونه ليدلی وی نو کتلی وی نو په دے چل به که نور نه وو د ـ هغه يوه سرِی سره ښځه بلده شوله چی پور مخ به وورته ډېره اسانی وه ـ خو زما دادود هم نه وو خوښ ولی يو خو د ـ ولور لپاره هغه ځنډ چی به پخوا کېده اوس نه کېده يا ماته دا اړی نه وه ـ اؤ په هغه بله

کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښېګړې زه نه پوهېدم  یا مې پروا نه په کوله چې هغه زما نه وه د ـ
بل بنده وه ـ نو زما ځېل چاري (خودغرضي) داغوښت چې ژرترژره
واده وسي ـ خو دلته مې خوسر خوداے د وبخښي ټينګ سو اؤ وې
چې دا خو ته زما اؤ زما د ـ کور ښپکه کوے ته ګواپه ما او زما په
کور اؤ مېلمستیا ښه نه انګېرې لغړځپل د ـ ښځې سره دی کار دی
اؤ غواړے چې ژرتر ژره دی داړی (غرض) زما له کوره وخيژی اؤ
د ـ دې دوړ په هغه بله ښېګړې اؤ د ـ ځپلې لور په ګټه اؤ سوواني
هم پوے کړم ـ ځکه ما هم په ناچاري اؤ ماته ځوا غاړه کښېښووله ـ
اؤ يو کال د ـ خوسر کره تلم ـ ښځې مې مورنه درلوده ـ نه مې د ـ
خوسر کره بل ځوك وو ـ ذوې ورې  خوښينې (ښيني) اؤ يو وړوکی
اخښي مې وو ـ خوسر مې بله کوزده  کړې وه وروستي واده هم
وکی نو یه هله ماته واده راکی ـ  د ـ خوسر اؤ خوسر ګنې سره
ښه ولدوم په زیاته د ـ هغوے د کشر ورور ښاغلی لال مامد خان
سره خوداے دې  وبخښي چې د ـ وړاندی نه مې لا ډېر خور اشناے
وو د ـ روزی به مې د ـ هغوے سره ډېر ښه وخت اووښت اؤ د ـ
شپې به د ـ خوسر کره وم ـ داګوا زمور د ـ خلګو واده وی اؤ واده مو
هغه وی چې د ـ پنجاب خلګ ووړته "رخصتي" وايي چې ښځه د ـ
پلار د ـ کوره د ـ مېره کره راسي چې واده مې وکی که څه هم

کتابتون پوهنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښځه مې ډېره خوښه اؤ راباندې ګرانه وه - خو ځکه چې د - واده په بل مراد نه رسېدم پې مروښې اؤ نه مې په ښځه تردې بالا ځان پوې کړی وو - نوزه اؤ دا سره د - ډېره نزد يکته هم ډېر سره لیرې وو - په میان کې مو یوه ډېره پېرړه پردۀ وه - چې سره د - غوښتو اؤ کوښښه ما نه شوه لیرې کولاے - ولې چې زه د - سره په نه پوے نه وم چې داپردۀ څه ده اؤ زما زړه غواړي څه ؟ په دے میان کې مې د - کال ۱۹۳۰ په شپرلې يو زوے وسو چې ما یه نوم سیپه دین (سیف الدین ) ځکه کښښودچې د - کال ۱۹۲۹ د - کانګریس د - لاهور په اوځاره غونډه کې چېرې چې هغوے د - پوره خپل واکې (مکمل آزادی) پرېڼ (تجویز) وکې اؤ ما په لومړې ځل د - سیلانی (وزیټر) په توګه پکښې ګډون کړی وو - زما تر ټولو د - ډاکټر سیپه دین کیچلو (سیف الدین کچلو) وینا خوښه سوے وه دغه هلك څو ورځې پس مړ سو - اؤ څو میاشتې پس بیا مور دواړه وړونه اؤ نور ملګرې بندیان شولو - زما اؤ د - ټبر ترمیان دغه بېګانګی او بېلتون تر ډېره وو ځکه چې ما دے ته نه د - بېل اؤ خپل واك سړې په توګه کتلی وو نه مې دا هیله وورته وه چې دا زما د - ژوند د - هرې لارې ملګرې اؤ کومکی کېداے سې نه مې څه داسې خبرې وورسره کړې وې اؤ نه مې کولې - دے هم د - خپلې ځان

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خوښي (خودداري) له مخې څه داسې کار یاوینا نه وه راته کړې چې زه په دې پوې سوی واې اؤ نه چا او ستایا بل زه په دې پوې کړی وم.

خو خو کاله پس چې زه ډوه ډرمې څله جېل ته وّلاړم راغلم نو ښی چې څنګه په دې پوې اؤ خبر سوم چې دا هم زما د. ژوند کارو اؤ مراد په ژیاته د. آزادي د. جنګ سره یوازې دالانه چې همدردي لری په خوښه یه خپل کار ګڼي ما د. خپلې لاری نه ګرزوی دا هم راسره کړ اؤ تېرول غواړی ولی چې دې به هم په خپله خوښه د. خامتا زیرې جامې اچولې چې هغه وخت زمونږ په ښځو کې ډېر نا پېښه کا روو اؤ تر خپلې پوهې پورې پې د. کلی په ښځو کې کار کاوه. نو زما او د. دې تر میان هغه پرده لیری سوله اؤ د. مروښې ځاې د. ملګری مینې ونیو. اؤ ژوند مولا نور هم سره خوږ سو. باور مې وو چې که د. هېواد د. آزادي په لار کې زمونږ وه ښځو ته اړی پېښه سوې واې نو دغې مېړه مخې اؤ بهادري ښتنې به هم په دې لار کې پور هیڅ سر په نه وه کړې. خو ارمان چې د. کال ۱۹٤۰ په دوبې دا بهادره ښتنه په نری رنځ ناجوړه سوله اؤ د. کال ۱۹٤۲ په شپرلې. زما د. ډېر کړ اؤ اوږد. هغه وخت د. ټول چالو درمانه سره د. خورلسو کالو د. ملګری پس

له ما د ـ تل لپاره ښځه ښوله ـ

اؤ ماتے یوه لور ولی اهد ښځمه (ولی عهد ښځم ) اؤ ډوه زامن امد خان اؤ مامد خان نوښانی راپاته دی - د - دے سره زما د - ژوند زیاتره ښپے په جېلونو کی تېري ښولے یا د - کوره لیری د - کامي کار په منډو ترنډو-ژموږ تر ټولو ښے ښپے اؤ خوږه مل ګری د - دے د - رنځ د - ښپو وه چی دا کوټه کی د - نری رنځ په درمانتوږ (سینټوریم) کی وه اؤ زه هم د - ایستکلال اخبار د - چلولو لپاره په ښار کی وم د - ژوزی د - کاره پس به زیاتره د - ښپے زه درمانتوږ له وورتلم ښپه به می هوږے تېروله اؤ سهار به د - ډاکټر کوږوپادانم په موټر کی چی د - دوے واړه پے ښووونځی (سکول) ته راوړل - بیرته خپل کار له راتلم - درمانتوږ له ښاره پینځه میله لري وو - ژموږ اخبار هم په تاوان چلېده اؤ تاوان پے هم ما د - جېبه ښانده - پوږ کامي کارمي نوږ هم خرځ کېده اؤ د - دے پوږ رنځ مي په سینټوریم کی هم ځکه مي لاس ډېر تنګ وو اؤ تر درمانتونه د - تلو لپاره مي د - ژوزی ډرے روپۍ ټانګے ته هم نه ښوے وورکولاے ځکه به هره ژوز د - ماځیګر د - ښپږو بجو اؤ د - ښپے د - لسو بجو تر مِیان هر کله به اوزګار ښوم پلی دا پینځه میله د - بروری پوږ پېچوږمي ختم اؤ ځان به می دے ته رساوه - اؤ د - سهار اؤ ماښام

هغه لړدم په زړه پوري خبري اوّ د - دې خوشالی اوّ د - زړه داړ به
می د - دې مزله اوّ ښتریا په وړاندی او لجه ګټله زموږ د-ژوند
څوړو اندازه هر پښتون له دې نه لګولاے سی چی په خورلس کاله
کی موږد-دوووختو په چپ هغه هم یوساتکے نه یو ځله خوابدی سوی اوّ
نه دې چېری زه خښمولی یم - یو وخت زه کوړته راغلم موږ می
دوړی پخوله زموږ په کوړ کی نوږ اخلے پخلے ټول د - کوړ زنانه
کوی خو د - دوړی پخلی له ښځه مزدوړه وی اوّ چی کله مزدوړه
نه وی یا نا جوړه ماجوړه وی نو هغه هم د - کوړ زنانه کوی دا خپل
په خونه کی وه سرے وینځلی وو هغه یه جوړاوه - ماله خښم
راغی چی دا کار خو به تاکاوه - بل ځل داوو چی د - پښین یوه
سړی خپله ځوانه لوږ په مستنګ کی یوه ډېر ښپین ږیری سړي ته
ووړکړے وه - څوکاله وسو هغه نه ودوله اوّنے ایله (طلاق) کوله - خو
سړے نالښت باندی کړی وو - خو هغه هم لکه څنګه چی په
انګرېزی میاغځ کرو کی د - دېوانی نالښتو کاروو ډېر وخندېدنے
پېښي کېدله اوّ نه غوځېدله نو یو وخت هغه سړے ماله راغی چی ته
د - کلات وښاغلی خان ته ووایه د - چاچی د - هغه زوم نوکروو چی
ووړته ووای مادی نه کړوی یادی خپله ښځه واده کی اوّ یادې
پرېږدی - په دې کی چا داخبره جوړه کړې وه چی دے دا ښځه د

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

- هغه میره ځخه ایله (طلاق) کوی اؤ ځپله یه ودوی وتلی پښتانه خو د - بل کار خوداے یاری یا د - پښتنوالی لپاره نه کوی چې تر څو یه څه ځپل مراد یا گټه نه وي پکښېـدا خبره زما د - ښځې تر غوره رسیدلې وه ډېری ژوزی پس چې زه کورته راغلم اؤ ماښام دننه ورغلم - ښځمه - ما به دا په دے نامه بلله - خوابدے وه چې ما و پوښتله تر ډېره خوږغ نه کاوه خو چې په پاے کې خبره راته وکړله چې ما اروېدلی دی ته بل واده کوے - زما دی توبه وی ماتر ننه د - چا دومری خښم نه دی لیدلی - که می هر څه وورته وویل چې دا دروغ دی خو زړه ته چېری لوېده - لگیاوه د - ښځم خبرے کولے اؤ د - ذووښځو پور بدوډی (برای) او بوډری (نقصان) یه داسی پو رهـ اؤ دیوهی وینا (تقریر) راته کاوه چې زه دے ته چورت اخیستی وم چې خودایه پاکه د - دے سادهـ اؤ ناڵوستی پښتنې دادومری خبری څنگه زدهـ دی چې زموږ په گومان د - کډ ژوند (سوشالوجی) د - پوهانو کار دی چې زړه یه تش کی اؤ زما په ناکاری یه لږ لږ باور وسو نو یه بس کړله خو بیا یه هم دا کلك پیشرو (الباش) راکی چې ما به د - نورو ښځو رنگه نه کښې چې ښتا د - دویم واده سرهـ به هم یې غمه د-ژوند ترخې شپې تېروم په خوداے درته لووړم اؤ خبر وم دی چې که ته هم بیا ځوره کوله

وخوړے اؤ یا یے غمه ښپه تېره کے ما پخواهم تریوه ژیات واده نه ښه باله اؤ نه د - موسلمان د پاره روا - خو په دغه ژوز چی می د - دے داخښم اؤ د - هغے زړه - مراد اندېښنے اؤ لمبے (نیت - مقصد - تصورات اؤ جذبات) ولیدلے نو می نور هم باور تېنګ سو چی دویم واده ناروا - ډېر سخت بد کار اؤ پورښځو یے اندازه ډېر ژیاتے دی ددے نورو ښوځو یو سره د - دے داوستری بهادری ډېره خوښه سوله چی لکه څنګه چی ما وړاندی ویلی دی هغه وخت ژمونږ خلګ په ژیاته زنانه په پیرانو باباګانو ژیارتو کوډو (تعویذات) اؤ پېریانانو ډېری اخته وے - خودا ے پاك د - هغه کړه اؤ واك رنځ - مرګ روغتیا اؤ دارو درمل به د - ډېرو لږو خلګو په یادوو هر څه چی وو یا پېریان وویا پیران اؤ ځلی هغو خلګ ناجوړه کول اؤ جوړول ژیاتره به ښه پوه نارینه چی په خوله یے ویل چی زه دا ښیان نه منم هر څه د - خودا ے په لاس دی" - واِذا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ" - خو چی کله به رنځور سو نو به بیرته روان وو په ښتانو اؤ خلو به ګرزېدی چی تپوس به موتړے وکی چی دا ولی ؟ ځان له یے پلمے جوړولے چی ځیلوانو اؤ زنانو تنګ کړم خوایه بدوله ماوے څه خوښی کار سمی د - دوے د - زړه لپاره یے وکم خو دابهادره ښتنه که څه هم دوه نیم کاله په نری رنځ رنګه سخت

رنځ اخته وه چی هغه وخت یے درمانه (لا علاج) رنځ اوْ د مرګ ډویم نوم وو خو تر پایه یه د - خوداے پاك د - واك اوْ کړو ( قدرت اوْ تقدیر) څه باور ونه ښوړېده نے ماته کله وویل چی څه کوړی یا خوردے به وکم اوْنے څپله کله وکړل اوْ په ډېره بهادری یه د - مرګ تر ژوزی ځان ورساوه - خوداے پاك دے ښه بدله ورکی - ژما ټبر په نری رنځ څنګه اخته شوله زه هیڅ په پوے نه یم خو درمانیان وایی څکه چی د - دے مور په دغه رنځ مړه وه - دے هغه وخت لا دارنځ اخیستی وو اوْ دغه وختے زوړ باندی وکی څکه زه د - خپلو بچو تل په کال دوه کی ایکسرے کوم چی وام هسی نه چی دوے هم له موره اخیستی وی - خو ناپېښه رنځ دی ژما څوانیے نیژدے شل کاله وړاندی مړه وه دا شل کاله روغه جوړه وه بچی یه راوړه اوْ ناسا په یه یوه ژوز وینه باکی کړله نو ډاکټر وویل چی د - دے مړه خور (نرے رنځ) دی.په دے میان کی یو کار بل دا هم وو چی ژموږ په کوړ کی دا ډرے څلورځله ښکاروی (نمونیا) وو هله - خبر نه یم چی دغـــه ښکار وی د - مړو خوړو د - لاسه وو چی د - دے یه ځان کی یه پخوالاځاے نیولی وو اوْ که مړه خور د - ښکاروی له لاسه پیښ سوولي په ښکار وی کی هم سړی زخمی سی ژما په ګومان په کار دی چی د - ښکاروی درمان خالی د - تبی - درد - اوْ بوخی تر

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

ښلېدو پورې نه د - سړی تر ښه پاکېدو پورې وسی چې په ایکسرې ښکارېدای سی -

# یادګار

- که څه هم ژمونږ په کورنی کی د - مړو هیڅ رواج نه وو خو بیا هم یو په یادګار جوړول اوساتل نه وو دود - خو ژما تل دا ژړه غوښت چی خپل د - ګرانو څه یادګار به جوړوم - د - پلار د - مور او د - بیګمی کله به می ګومان سو چی یوځ خلی (قبر) او پوړ هغه څه لیك به ښه وی او کله به می د - ټولو پوړ ګوړ څه ماجت ودانی خو ښه سوله کله څه او کله څه خو چی کله می ځینی پښتو پارکی لیکل پیل کړل نو می دا خوښه سوله چی یو یو پارکے یے په نامه کم نو دا به ښه یادګار وی - ځکه می دا کیتاب د - دغی پښتنے په نامه کی چی د - هغے مینی ژغم - خسمانے او یے داغه پښتنوالی ژوند راته خوږ او د - ژوند لارہے راته اسانه کړله -

# د پښتنو سادګي

- په کال ۲۸ - ۱۹۲۷

کې د - اوغانیستان له غاړی یوه آوازه(افواه ) راخوره شوله چې د - چیرګانو په نسو نو کې ماران پیدا سوی دی او لالګیاډی پیدا کېږی - اوٌ په دې چرګان مړی خو څه ژوزی پس چې مارې په خېټه کې غټ سی اوٌ که په دې میان کې هم څوك د - دوې غوښه و خوړی یا هګی نو هغه هم مړی - په پلانکی ځای کی دومره خلګ جېنی مړه دی اوٌ د - پلانی سړی د - کوړتوړ خلګ داسیمړه سو - اوٌ دا خبره پلانکی پیر اوٌ پلانی بابا ته په پټو (غیب) کی څرګنده شوله کنی ټوړ خلګ به مړه وو - دا خبره دومره خوره شوه چې د - سمی د - غرو اوٌرېګو - لوستی اوٌ نالوستی پښتانه د - یوه مخه که نه وو په سلوکی ۹۵ په دې تېرواته اوٌ زړه ټې ولوېدله د - چرګ غوښه یې نه خوړله نه اګی چی چرګ یې ناجوړه سو اوٌوبه مړنو یې ډېر په یره یره واخیست او مځکه کی یې ښخ کی ځینو شرابو (حریض) خلګو یه په خرخلاو پیل وکی - د - ډووړو یو په ځای چې هغه

وخت د - چرګ بڼاوله یې په ډوډ خلور انې وورکاوه خو چا به نه کاوه په سلوکی به یو کس نیم چېری وو چی دا خبری یې نه منلې او چرګان یې اخیستل او خوړل - ناپوهه خلک خو پرېږده ښه پوهه خلګو به هم چرګ وکوټی (ذبح) نس یې ډېر په پام او ښېره څېری کی او لګیا به وو لړمون او کولمې یې شنلې - د - بده مرغه د - چرګ په ګېډه کی یوه وړه ګولمه وی - او کله د - چرګ د - مرګه پس هم یو سات هغه ښوری بس چی داپې ولیدله د - ښوبنو پوهانو به وارختاسو - دا اوازه نیژدې ښېر میاشتی لا زیاته ګرزېدله او بیا ورکه سوله خو په دې یه څوك پوه نه سو چی دا د - کمی خوارالله چا خوره کړله او څه مرادې درلود - خو کال نیم پس چی په غازی امانولا خان پسی پیرانو او مولایانو په هم دغه شان دروغو خبرو اولس رااوچت کی او اوغانیستان پښتنو خیل په لاس تالاترغه کی د - کوروړنو روپیو او زرونو کسانو زیان وسو - نو به څینو پوهو کسانو ویل چی دغه د - چرګانو خبره هم انګرېزانو او د - هغو ایجنټانو د - دې ازمودې لپاره خوره کړې وه چی پښتانه د - پیرانو او مولایانو په خوله څومری غولیدلای سی -



بابا ے پښتون

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د. غازي امان‌الله خان جنګ

# اوږما لومړې بند

په کال ۱۹۲۸ کې چې غازي امانولا خان د - یوړ په د - راښتو
نېدلو سرهٔ سمدستی د - اولس په ناپوهی اؤ د - پیرانو مولایانو اؤ
ځینو غټو اؤ سرانو په دروهٔ (غداری) له کابله کندهار ته راغی اؤ
لشکرې ټولاوه چی پور کابل یرغل وکی. نو د - ځینو پیرانو اؤ
مولایانو د- ناخوښی اؤ هوړی سرهٔ د - خلګو په ژیاته د - بهو
ځوانانو زړه د - غازی امانولا خان سره وو خو ژیاتره خلګ په
ژیاته مخور اؤ ماره خلګ انګرېز د - ښوره اؤ ژونده اچولی وو د -
هغوې د - ژوند مراد خو د - ای - اې - سی اؤ پولیټیکل خوشامندی
پاته وې اؤبس - باور می دی که څوك مشر سرې ولاړ سوی وای نو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ډېر خلک وه هر ړنګ کومك ته تیار وو - د - کوټي اوُ ښښین د - پلوه لغړ خو تنه اڅګزی ځوانان د - غازی امانولا خان کومك له وُلاړ په هغو کی هم څه د - سریانامه سړے نه وو چپ د - یوه ښاغلی ګوړ نزر مامد ملېزی اڅګزی چی د - اوغانیستان د - خپل واکی په جنګ کی هم تللی وو ښه د - نامه کاروڼے کړی اوُ انګرېزانو ته غتې تاوانونه اړولی وو۔بل ښاغلی سید مېرالی شا ښادیزے وو - چی دے هم د - خپل واکی د - جنګ غازی وو زه که څه هم د - شلو یو ویشتو کالو ځوان وم خو ځکه چی په کورنی کی ډېر کشروم دا هیله می نه وه چی د - کورنی مشران به می ملګری وکی - نو یوازی می د - ځان سره دا جوړه وکړله چی زه به وُلاړ سم اوُ به یوله به ځوزوزی تېری کم نو نور خلک که د - چاړړه غوښت به خپله ځان راورسوی په کور کلی کی می هیچا ته رغ روغ نه ووکړی تردمے چی خپل مشر وُرور می هم نه وو خبر کړی - توپك کارتوس اوُلس زره روپی می برابری کړمے آس مو وو - د غرمے دومے بجے می آس راروان کی چی زینے کم نو به روانیږم ماښام به داوغانیستان وخاوره ته ځان ورسوم - په دمے کی می یو تربور ښاغلی ابیدولا خان چی ځوان اوُ زمونږ د - لاری اوُډلی سړے وو په مخه راغی وے څه کومے ؟ ما دروغ نه سو وورته ویلاے وے می هسی

آس زينوم - خبر نه يم چي څه ژما په رنګ رازکې څه چل وو که
څنګه د - هغه څه شك پيدا سو راته ټينګ سو چي روښتيا به راته
وايې - په پاے کی ما لوز ترے واخيست چي نن ژوز به چا ته رغ نه
کوے - اوٌ ټوله خبره مي وورته وکړله - هغه وے چي دومره آن راته
وګوره چي زه هم توپك راواخلم اوٌ آس راولم زه دی هم مل يم -
دے ځپل کوږته په توپك اوٌ زين پسی لاړ اوزه ځپل کوږته ده چي
زين اوٌ توپك را اخيستی دی - د بده مرغه که د - ښه مرغه يه ښپين
ږيری پلار په مخه ورغلی وو - او تپوسے ترے کړی وو - ده هم
ډروغ ورنه وو بللی خبرے وورته کړے وه اوٌ څوښه (رخصت) يه
ترے غوښتی وو - هغه وورته ويلی وو چي څوښه مي ده : نه دی
راګرزوم خو ښه به داوی چي تاسی ډواړه يوازی نه سی ولاړ دا
نوږ ځپلوان اوٌ همزولی هم ورغوی که درسره تله نو به يو ځاے
روان سی - پلار اوٌ زوے ډواړه ماله راغله ټيا ډرے سره د - يوه
بل توربره ځاے له ورغلو هغوے هم ډوه ورونه تيارسو ژما مشر
وروږ ما ته وويل چي ته به کوږته پاتېږے اوٌ زه به ځم ماوے زه خونه
پاتېږم - هغه وے زه هم نه سم پاتېداے - نو کوږ به پوږ خوداے
سپارو ډواړه به ځو خو چي يو خبرېده هغه تيار وو - په کلی کی ږېر
جوش پيدا سو - ټيا ټوِل د - يوه بل مشر توربره ځاے له ورغلو - د

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

- هغه یو زوړ تاسیلدار وو دغه وخت پوړ چوړتی وو بل زوړ یه راسره تیار سو هغوړ وویل چی تاسی په پټه څه له ځی - انگریز سرکار خو تاسی نه بندوی هغوړ په دې جگړه کی د - چا پره (طرف داری ) نه کوی نه څوك بندوی د - چمن خلگې نه کړل بند اؤ د - پیښور خان اودول غپار خان (باچاخان) یه هم نه دی بند کړی چی سبا به کوټی ته رارسی اؤ په رېل کی به چمن له ځی - موږ خبر نه وو چی هغوړ یه سباله پوړ سیوی نیولی وو اؤ واپسې جوکمابات له رسولی وو - که تاسی پټ وّلاړ است نو کبداړ سی چی پاته خلگو ته کړاو اؤ تاوان پیښ سی اؤ که په ښکاره وّلاړ سی نو به د - شا اؤ خوانورو کلو خلگ هم درسره وّلاړ سی - زه په سرکاری کاروناولده هم وم اؤ د - خلگو جوش هم ډېر زیات وو - د - دوړ خبری هم څه چپی نه وې - څکه ټول وّلاړو اؤ د - گولیستان وه نایب تاسیلدار ته مو خبر ورکی چی موږ سبا سهار روانېږو سبا سهار وختی د - هغوړ سرړ راغی چی د - پښین ای - اړ - سی راغلی دی تاسی راسی - موږ چی ورغلو ټول کشران مشران د - کوړنی شپاړس کسه چی ډرې څلور پکښی د - اؤیا اتیا کالو سپین ږیری هم وو ای- اړ - سی د - پښین د - جرگې څوتنه مشران غړی هم راوستلی وو - هغوړ وې چی تاسی مه ځی د - سرکار دانه ده

خوښه ښتاسې تګ يوازې ښتاسې تګ نه دی که تاسې ؤلاړاست نو به د - هره ځايه په زړګونو خلګ درسره ؤلاړ سي اؤ دا شان به د - سرکار د - کار نه درلوو لو رؤ (غيرجانبدار پاليسي) پاته نه سي اؤ ټول خلك به وايې چې دوے د - ځپلې غاړې په زرګونو خلګ ولېړل خو مونږ سره د - ښپين ږيرو مشرانو اؤ هغه تاسيلدار توَبره ټينګ وو چې ځو اى - لهے - سى ومے ښه دى راځې د - پوليټيکل سره په کوټه کې خبرى وکى لارى يه راوسته اؤ مونږ ټول په خوښه وورسره ؤلاړو - پورلارى چمن ته روانه ګاړى (ټرين) چې د - يارو پور ټيسن ولاړه وه زه ورغلم په ټولو ړبو کې وګرزېدم اؤ تپوس مى وکې خو د - باچا خان درك نه وو - هغوے يه په دغه ړوز سهار وختې پور سيوى کوزکړى وو -

# د . پولټيکل سپک کار

پولیټیکل ایجنټ وینګېټ نومیده

انګرېز وو - ای - اې - سی وړاندی ورغلی وو چی زمونږ لاری د - بنګلې مخ ته ودرېدله اوّ مونږ راکوز سولو بنګلې ته وورو روان سو - یو سپین ږیری تره مو وړاندی وو زه اوُ سمایل جان وورپسې وو په دې کی پرنګې د - بنګلې دباندی مخی ته راووت - یو سپې وورسره وو په زوره ناری وهلې چی "کم دی هغه هلکان " اوّ سپې یه راباندی ورغاوه سپی رامنده کړل زه اوسمایل جان وورو‌ړاندی سو خو سپی لکه چی د - پرنګی نه زیات سرېتوب لاره خه کاره راونه درلوده اوبیرته په شاشتونږ سو په دې کی پرنګې هم راورسېده - څه شرمینده سو اوّ کې د - سترګو دید کم وو د - سمایل جان په مخ باندې لاس وواهه وې دا خو څوانان سړی دی هغه واړه هلکان کوم دی - تره می وورته وویل چی د - هلکانو خبره نه ده مونږ ټول یو - پوره نه یم چی ای - اې - سی چپ پوهه کړی وو چی واړه هلکان دی اوّ کې داد - هغه خپل سپک کار لپاره پلمه جوړه کړله - سړې

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه


دستی بدل سوِ ټولو تہ لاس ورکی ښترے مسپے یه وکړله - بنګلے ته
سره ولاړو - د - ماښین څلور بچے به وے پرنګی وے چی زه څه کار
لرم د باندی ځم تاسی به چایي وڅی ښی نو به زه هم راسم بیا به
خبری کوو - دے ولاړ مورلے چایي د - بازاره راوغوښتے لمونځونه
مو وکړل - ناوخته ماځیګر دے راغی مورِ خوګسانے وورِوغوښتلو -
په خندایه ویل زما مولوے تاوان وکاوه - ما د - چا سره د - ګاپ
لوبه ایښے وه چی ورغلم پام می ښتاسی په خو اوو لوبه اوّ ذرے
سوه روپی می بایلوِلے - مورِ وے خیر دی چی دا خبره غوڅه سی
روپی به مورِ په انداز (چنده ) درټولی کو - په ښه توګه اوّ سرِه
سینه ډیری خبری وښولے خودے ټینك وو چی تاسی مه څی اوّ مورِ
هم ټینګ وو چی مورِ څو اوّتاسی په سمه داواك نه لری چی مورِ
خپل د - کام د - کومك اوّ خسمانے څه راګرزوی دا موهم ووړته
وویل چی خیر دی مورِ به جنګ له نه ځوپے وسلے به لغړ د -
خسمانے (خدمت) لپاره ولاړ سوِ خوپے منله په پاے کے وے دالته نو
د - ماښام د - ډوډی وخت هم نیژدے وو چی زه ښتاسی دوښمن
نه یم بده می نه ده درباندی پیرزو نوړ څه خوِ نه سم درته ویلاے
خوِ دادرته وایم چی دومړی وګوړی چی امانولا خان د - کندهاره
ووّزی چی څه پیښیزی هله به تاسی زما په خواخوړی پوه سی که

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون پولنه

تاسی نه منی نو زه بله چاره نه لرم چی تاسی په پولیس لاین کی کښېنوم نو ستاسی خوښه ده څه وایاست-مونږ وې مونږ هم ناچاره یو کښېنو به.خان بهادر بازګول خان پولیس انسپکټر په راوغوښت مونږې بوتلو شپه مو د - هغه په کوړ کی تېره کړله سهارې پولیس لاین له بوتلو - ځان له بارکې راکی - یوه روپی سړی سرې خرڅ راکاوه.لیدلوله چی به مو څوك راتله نې ګرزول - مونږ پې هم یو یو ډوه کسه چی به د - چاکار وو ښار ته پرېښوولو - سبا له د - اودولا خان د - کلا ښاغلی ادرامان خان هم راغی وې چی دوې ناست دی زه هم ورسره کښېنم نو هغه په هم راسره بندی کی - دالته مونږ ۲۸ شپې تېری کړې - غازی امانولا خان سره د - لښکره د - کندهاره ووت که څه هم نیژدې خلوېښت زره لښکر ورسره غونډسوی وو خو خوندې نه وو - مشران اؤ مخور پښتانه نه ورســــره وانه څو ورزی پس په لاره کی ځینو غیلجیانو تپوسر واخیست اؤ د- شاپاله یه لار باندی بنده کړله د - چمن او پښین د - خلکو کمه غوږته چی د - ګوړ نزر مامد  په مشری کی روانه وه هغه یه د - اوبو په پړاو کی په یوه کلا کی کلا بند کړله - نو مونږ هم نوره ناسته پې ښې وګڼله اؤ پوې سوچی پرنګې خبر وو چی څه به پیسبری لاس ګری (ضمانت ) موورکی اور اووالو مونږ لا په کوټه کی بندیان

(WWW.KITABTOON.COM) کـتابـتـون ټـولـنـه

وو چی سردار الی احمد جان د - پېښور په لاری کوټې ته راغی اوْ کندهار له وّلاړ هلته د - غازی امانوﻻ خان د - تلو پس سکاویانو وینو کابل ته بوت اوّ مړه کی - څه ژوزی پس غازی امانوﻻ خان هم د - چمن په ﻻر واپس راغی موږ ډېر خلک د - ګولیستان ټېسن له وورته راغلی وو - چی ګاډی راتله خلک پولیسو د - ټېسنه راوایستل خو چی ګاډی ودرېدله اوْ خلکو غازی امانوﻻ خان ولید چی په بنده ګاډی کی په یوه بنین شانته خت (قمیض) کی د - خّپل وړوکی زوے سره ناست وو - نو بیرته پوړ جنګلو وور واوښتل اوْ د - هغوے پوړ ګاډی راتوړل شول خو هغوے نه څه ږغ وکی اوْ نه وورله راوﻻړ شول - ډېرو خلکو ژړل چاناری وهلے په دے کی د - یوے بلی ګاډی څه د - پلټنی شپاهیان سره د - توپکو راولوېدل اوْ د - ګاډی او خلکو تر مّیان لیکه (قطار) ودریدل اوْ خّپل د - انګرېز او سر په وینا یه د - توپکو برچے ولګولے وه خلکو ته سمی کړلے اوْ باندّاروان سو څوك خو خوږ نه سو خو خلکے د - ګاډی څه راپوړ شا کّړل اوّ د باندے راوایستل غازی امانو ﻻ خان د - پښتنو دا جوش اوْ بے وسی تر پایه کسله خو په خوله یه هیڅ ته دی ویلی په زړه کے ګوره چی ارمان کاوه او که بے ویل چی د - نامردہ کام سره هم دغه وړدی چی پوړ وخت څان نه خبروی اوّ پو هوی اوْ بیانو لکه ښځی زاړی -



بابا ے پښتون

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

# د. غازی مامد نادرخان جنګ

- که څه هم ژمونږ د -

خلګو په ژیاته د - اځګزو ژیات ژړه د - غازی امانو لا خان سره وو اوْ په دمې هم ښه پوهه وو چی که غازی مامد نادر خان په جنګ کی سوبه ومیندله نو بیا غازی امانو لا خان بیرته هیڅ کله نه مغوے راولی نه راتلاے سی او نے راتګ ورهم دی ولی د - هیواد کمو خلګو چی د - هغوے سره ډروه کړے ده یا یه کومك نه دی وورسره کړی هغوے به هیچرے دمے ته غاړه نه کښېږدی چی دوے دی بیرته راسی اوْ که راهم سی نو به هبواد کی به جنګ اوْ خواشینی تل روان وی چی تاوانی خبره ده -د - ډیرو خلګو دا هم پوهخ ګومان وو چی د - غازی مامد نادر خان سره انګرېزان هم لاس کوی چی د - پښتنو ناخوښه خبره وه - خو چی په اوْغانیستان کی پے د-سکاوی غلو لاری چاری کتلے نو په دمے خوښ وو چی خوك پوهه سرے د - واك واګی په لاس کی واخلی څکه چی څه وخت

کتابتون پوهنه (WWW.KITABTOON.COM)

غازی مامد نادر خان اؤ د - هغوے ښاغلو ؤرونړو په اوغانیستان کی
ځان وینو اؤ پور کابل یه د - یرغل تیاری وکړله نو دلته اخکزوړ هم
د - ځپله مخه یا د - انګریزانو په کومك سرواخیست یوه غوټه یه
جوړه کړله اؤ په بولدك کی د - پښتنو اؤ ځاری کوټوالی پلټنی د -
ځوانانو اؤ د - هغوے د - مشر ښاغلی مهردل خان سرے جوړه
وکړله بولدکے وینو اؤ پور مېل باندے د - کندهار،راغلی سکاوی
لښکر مات کی - او د - کندهار ښارے کلابند کی - بیا یه د - څه
جنګه پس وتیو اؤ د - غازی مامد نادر خان ؤروړ ښاغلی سردار
مامد هاشم تے وشپاره چی د - ښارد - نیولو اؤ جنګو ځوړزوزی
پس د - پیښوره د - چمن پور لاری ورغی - د - اځګزو د - دے
لښکر مشران یو ژموړ د - کوړنی د - ارزبېګی نیکه د - کاله د -
ګولیستان د - کلی ښاغلی مامد انور خان ووچی ژما د وړایه اؤ د
- ښاغلی ایوب خان سکنے اکاوړ - بل د - بادین زوړ اځګزوړ او ځار
ملك زکوم خان اؤ دریم ژما اوستاد ښاغلی مولوی باران کاکوړے
وو - په دے پلا که څه هم زه د - هغه بل چل په لاس ګری لا بند وم
چی اوغانیستان له به نه ځم اؤ نه به د - هغه هېواد په کوړنی جنګ
څه کارلرم خو ما تیاری وکړله چی ځم به دستی پیسپے راسره نه
وے اؤ چی تر ځو ما د - پیسو بندوبست کاوه جنګ خوړسو اؤ زه
پاته سولم -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د بلوڅیستان شان

په دې وخت کې ځېله په

بلوڅیستان کې د - انګرېزی سرکار سرښته هم هغه زړه د -
سنډېمن د - وختو راچلېدله د - خلګو په زیاته د - ځایي خلګو د -
سرکاره سره هیڅ کار نه وو - نه په کلو کې نه په تره (تحصیل) پلو
(ضلع) یا ولات (صوبه) کې د - ښوونی (تعلیم) کار هسی د -
نامه لپاره وو اؤ هغه هم په ښارو کې د - بلوڅیستان په نورو پلوو
(اضلاع) خو زه بلد نه وم خو د - کوټې په غونډ پلوکی یوه
سرکاری اوچته ښوونځه (ګورنمنټ های سکول) په کوټه کې وه اؤ
یو اوردو میانی ښوونځې (ورنیکلر مډل سکول) په ګولیستان کې د -
پښین چمن په ښارو کې لومړی ښوونځی (پرایمری سکولز) وو هم
داشان په شومار پینځه یا شپږ لومړی ښوونځی (پرایمری سکولز)
په ځینو کلو کې وو هغه هم زیاتره د - چا خان ملك د - ډرو خلورو
ورو - لپاره اؤ دې له چی اوستاد (ماسټر) یې د - ملك لږ ډېر د -
لیك لوست کار کاوه - د- انګرېز سرکار تر اوستری کاله پوری د -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ښوونې (تعليم ) خرڅ تر ډوه ډرې لکه بالا نه سو - پوهنځۍ (کالج) په تر پايه جوړ نه کې - د - ښوونځو اؤ پوهنځو (سکولز اؤ کالجز) د - شاگردانو لپاره ځينې اړې (وظيفې) وې خو د - هغه اړو (وظايف) پرته چې د - ځايي (لوکل ) خلکو لپاره ټاکل سوې وې ( مخصوص ) اؤ زياتره به د - اوردو ژدکړې لپاره وې نوړې ټولې د - اوس په شان د ـــ نو آبادي (ډومې سايلډ) په نامه پر دو په زياته د - پنجاب خلکو اخيستې که څه پاته وې نو هغه هم د - چا ملك يا سردار اؤ نواب وزامنو ته رسېدله په د باندينو هيواد کې د - لوستو لپاره يوآړه د - ډيلي سرکار د - هغو ولاتو لپاره اښې وه چې تر ډوې لاندې وو (Centerally Administered) اجمير-کورگ اؤ بلوچيستان په وارې وارې پې وورکوله خو په اؤ يا کاله کې دا اړه د - بلوچيستان وه چا ځايي (لوکل ) هلک ته و نه رسېدله - لغړيو ځل د - يوه مامدزي پښتانه اې - اې - سي ورور سردار مامد همايون خان واخيستله په لندن کې ډاکټرې ووېله اؤ چې راغی نو کابل ته ولاړ اؤ اوس هم هلته ډاکټر دی - هم داشان د - دارو درمل (Health) چاروه - په کوټه کې درمانتون وو - بيا پور دېرش ميله په پښين کې بل پورشل ميله په گوليستان کې اؤ بل پور دېرش ميله په چمن کې -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# جرګه

د - خلکو اوَ سرکار تر مّیان یکی یوُاړیکے جرګه وه چی

ټول غړی یه د - سرکار دره‌ولی اوُ زیاتره د - لیویز و سرکاری نوکران او د - کلو ملکان وو - د - جرګے غړیتوب د - وړو اوُ غټو سرکاری اوَ سرانو په خوښه وو - او هغوے به هم سړی ته د-هغه په پوهه خوے مخوری د - خلکو سره رو هیڅ ته نه کاته یا خوږے د - نیکت (میراث) په توګه د - پلار په ځاے زوے دراوه اوُ یا هغه خوشامند ګرچی د - وړو او غټو واك والانو هر رازخوشامندی ئے کولے.چا به ښکومیا (مخبری) کوله - چا به بډی او ډوډی وورکولے اوَ چا به لا د - نورو خلکو څخه بډی وورله ټولو لے چا به لا ښځی اوُ هلکان هم وورله پیدا کول د - جرګو په دے غړو کی ځینی ښه لوستی اوُ مخور سړی به هم وو خو زیاتره یه نا پوه نالوستی بد اوُ خوشامند ګروو - د - جرګو غړو ته به د - جرګے لپاره هیڅ رنګه خرڅ یا ګوزاره نه وورکوله کېدله - خو سرکاری اوُ د - خوشامندو کار ئے دومره وو چی ټول ژوند به د - ښېله کاره اوُ ګټی باندی وتلی وو - په میّاشت کی یوه هوته خو به د - جرګو د پاره هرو مرو د -

کوره لری په تره (تحصیل) کی اوسېده - چی کور یې نیژدې وو ښځې له به کورته تله کنی هورې به په بازار کی ځپل په خرڅ اوسېده - کله کله به لا ځینی مخور خلک بل پلو (ضلع)لهم ببلو (سپیشل ) یا ګډو (جاینټ) جرګو له تله د - تګ راتګ اوْ هلته اوسېدو خرڅ یې ځپل وو - ځکه به د - زیاتره غرو ګوزاره د - نالښتیانو بند خلګو (اهل مقدمات) اوْ یا ځپل د - کلي او تپې په شوکه وه - اوْ اوس هم ده - پور خلګو په ځینی ناروا تورې جچې اوْ غمونه ایښی وو - چی یو پکښی داوو چی د - کلي د - هری ښځی په کوزده د سمال یا ننواته اوْ واده کی به زوم څه پیسې - پخوا پینځه روپۍ وې اوس لس دی - ملك ته وورکولې داپې ملکانه بلله د - واك والانو لپاره اوْ د- هغو پور نامه یې په جګړو کی بډی اخیستلې ځکه چی په کلي یااولس کی به جګړی نه وې نو دوې په هسکار (قصدا) کوښښ کاوه اوْ خلک یې یو بل ته پارول اوْ سره جنګول د - کلي یا اولس هر سړې چی به د - چا په نالښت یا جګړه کی راګېر سو نو به واك والانو ځپل په خوښه کنی د - ملك په خوله د - پېښېدو (حاضری) یاروغی جوړی لاس ګری (ضمانت) ترې غوښت یو وارمیانی (عارضی) یا انتریم (Interim) اوْ بل وار په پاې کی پوخ د - ډروکا لو پور دې هره لاس ګری(ضمانت)یاد-هغهپور لاس لیك کولو (تصدیق) لیکلو اوْ منلو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(منظوری) به ملك اؤ د - واك وال مونثيانو پيسې اخيستلې - كه څه هم په نامه خو ټول كار د - ټاك د - تورو (قانون جرايم سرحدی) تردوړ لاندی كېده چی ټول جهان ته څرگنده ده چی نه دوړدی اؤ نه څه د-سريتوب لار - خو په دې وخت كی په بلوچيستان كی دغه بدنامه دوړهم نه چلېده د - واك والانو ښوښه چلېدله يا ښيا د - هغوې د - دلالانو اؤ خوشامند گرو جرگه بازانو - په جرگو به د - خلگو د - خپل ميان زياتره پرېكړی (فيصلې) په جوړه (راضی نامه ) كېدې ځكه چی واك والانو ته به د - هغو منل گران نه وو - نه به چابره نالښت (نگرانی ) كاوه نه څه بل څه خودا جوړی به هيڅ كله هم د - ډوارو پرو په ښوښه نه وې لكه د - پښتنو خپلی جوړی چی وی - دابه د - زور اؤ ناچاری جوړی وې - هغه داسی چی كه څه هم د - ټاك د - تورو په دوړ (قانون جرايم سرحد ) كی جرگه د - پرېكړی (فيصلې) واك نه لری جرگه لغړ پړ اؤور ټاكی - پرېكړه واك والان كوی - خو دغه وخت به هر څه پرېكړه جرگه بازانو كوله كه د - مال (ديوانی) نالښتونه ووكه د - شر اؤ جگړو (فوجداری) ټوله پرېكړه ړند (جرمانه ) بند (قيد) شرمانه بدله (عوضانه ) هر څه به جرگو كول.اؤ ځكه چی لكه كېرو پرنگې چی خپل په پاړ كی "پټانان" كی ليكی د - سركار رؤ (پاليسی) د - ملكانو كومك اؤ مرسته وله نو

(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

هر چا ته څرګنده وه چې سرکاري واك والان كه غټ دي اؤ كه واړه په سل كې ۹۵ د - جرګې خبره مني ولې دا هغوے ته اسانه هم وه هسې پے باندي وليكل "راے جرګه منظور هے " د - جرګې پرېکړه منم يا " مجهے راے جرګه سے اتفاق هے " زما هم د-جرګې پرېكړه خوښه ده - كنې نو خوبے اوږده پرېكړه ليكله ټولې خيري (كاغذات) پے كتل اؤ د - خپلې پرېكړې پيلامے پے ليكلے.نو جرګې يا د - جرګے هغه غړو چې په دغه بېله خبره كې پے لاس يا كار درلوډ - يا د - هر چا خپل د - كلي اوټپے ملك به وه هغه ډلې ته چې تاواني كاوه وويل چې زموږ پرېكړه خو داده چې ته پرېيے اؤ دومره ډنډ او بند درله ايږدو كه تاسي خپل په ميان كې جوړه كوي نو نن به موږ درته وګورو كنې سبا له موږ خپله پرېكړه كوو - هغه چې به هر څه ناري بوغې وكړلے - اؤ څولې بے وګرزولے خپلې لاس نيوكې (ثبوت ) پے وويلے خو ملك كا كابه د - هغه بله څه خپله اؤ د - واك والانو موټې مخ كې لا اخيستے وه يا به د - واك وال د - خوښې څه ناچاره وو ميانځ (انصاف) اؤ لاس نيوكو (ثبوت) ټے چېرې كاته په سلوكې نيوى خو به هغه سرے ناچاره سو اؤ داسي جوړې ته بے غاړه كښېښووله چې سوچ تاوان پے وو - زياتره چې پے د - شر يا جګړو په شخړو (فوجداري دعويات) كې يا د - سركار په توړو كې پوړ چا د - ډنډ

اوٛ بندغت باندې هم واړاوه یا یې داسې خرګند بد ووړسره وکړل چې بېړېده به چې بره واك والان یې ونه منې یا به سرې څه مخور شوخ یا پوه وو اوٛ ځکه به د - ملك ملکانو یا واك والانو خوښ نه وو اوٛ زیات یې تاواني کاوه نو چې څومره سزا یې ووړته په څواکی وه د - هغې نه یې دوٛه پته اوٛ ډرې پته ووړته واوروله اوٛ بیا یې ووړسره په دې جوړه وکړله چې ښه دی که ته پوردې ګوته لګوې چې دا پرېکړه زما خوښه ده او منمې (منظور) نو به موږ شا ساب دېوان ساب سردار ساب خان ساب چوهدری ساب یا ملك ساب دوې به هر واك وال په داسې نمو یادول - ته ښتا پور ځاې څواست وکو یا دومره روپی راکه چې ورې کونو به دی سزا نیمه یا ډریمه کی - اوٛ داشان یې هغه د - لسو کالو په بندوبېراوه اوٛ په ډوه ډرې کاله یې په څوښه ست کی - د - بالانالښت اوٛ د - واك والانو د - سرګردانی روٛیې بند کی - د - زوړ د- دې جوړو د - جرګې د - سریښتې اوٛ د - ټاك د توړو د - دوړ (قانون جرایم سرحد) د-چلاو پاې داوو چې نه خو به خلګو ته مٛیانځ (انصاف) ورسېده لکه په اسلامی یا انګریزی دوړ کی او نه یې سمه جوړه وښوله لکه په پښتنی دوړکی ځکه به د - خلګو تر مٛیان بد نه سو وٛرك اوٛ لایې نور هم غج سره ولوېدی اوٛ د - یوې ښخړی د - بدلې اخیستو لپاره به څو نوری جګړی پیدا شوې -


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

داسی به نا لښتو نه ورز تر ورزی زیاتېده اؤ د - جرګه بازانو اؤ واك والانو مزې وې - په پښین اؤ کوټه کی نالښتو نه دومری زیات سو چی سرکار هم دې ته اړ سو چی څه چاره یه وکی اؤ چاره یه داوکړله چی د - نالښت خرچ (کورټ فیس) په څو پټه زیات کی نو د - سرکار هم یکښی مزې سولې دا څو په کوټه او پښین کی وو خلګې څه سم د - بدو بېزاره بازاری اؤ سوداګر شانته وو په کمو ځایو کی چی خلګ لا زیږه پښتانه وو - لکه چمن بوړې اؤ ږوب هلته خلګو د- سرکار اؤ جرګې په ځاې څپل په لاس بدله اخیستله سرکار او جرګې له به هله راتله چی جنګو نه مړی اؤ ټپونه به وسو هغه به هم زیاتره نه راتله پراری به ښول او نوږ یې هم د - هیواد د - کام اؤ د - ځان په تاوان پېل وکی ښیا به کله د - سرکار په لاس کښېواته اؤ نا پښبه اوږده اوږده بندونه پینځوس شپېته اتیاؤسل کاله یې واخیستل اؤ په جېلو کی به پړاته وو اؤ کله به سرکار تنګ سو په روغه یې راوستل هغه تېر میانځ (انصاف) یې هم ورکی - نوږ یې هم څه ګوزاره تنخا مځکه یا پیسې ورکړلې چی لا به بده وه ولی چی یوه به دا پرده پیدا کړله - نو د - لسو نوږو به دې څواته پام سو -

داهم د - جرګې یو دوډ وو چی چا مخور زوږور ملك خان یا د -

ملك ملګرى به په ډروغو د - چا په مال مخکه شرم يا بل څه نالښت
وکى اؤ خبره يې مخ له نه پورې بدله نو هم به جرګې يا ځينو جرګه
بازانو څه نه څه د - هغه بل نه ووړواخيستل - وې يې هو نالښت خو
يې ځايه دى خو مشر سړے دى اوسې نالښت کړى دى څه پرده
خو په کارده دا شان نالښتونه به ملکانو خپله هم کول اؤ په خپلو
ملو اؤ سړو يې هم کول د - چا د - ناچاره کولو بله لارېې داوړ چې
پرېکړه يې نه کوله په کلو به خلك تله راتله اؤ خرڅونه يې کېده په
پاے کى يې د - ملك وخبره ته غاړه کښېښووله -
په کلى کى چى به څوك مور سرشوخه يا پوهه سړے پيدا سونو
هغه به يا د - ملك بندګى کوله پيسے يې ووړکولے کنى نو يې به راز
راز تنګاوه نالښتونه يې باندى کول خلګ يې ووړته پارول جګړے يې
ووړسره کولے اؤ ووړته پيدا کولے - او چى کله به هغه ډېر تنګ سو
او د - کلى به ووت د - باندى يې خپل په مځکه باندى مېنه جوړوله
نو دے ته به هم ملك کاکانه پرېښوو اؤ سرکار به هم د - ملك مل وو
چى بله پلمه به نه وه نو به ملك دانالښت باندى وکى چى که داشان
خلګ ځله ځى نو زما کلى ورانېږى اؤ زما ماجت ته تاوان رسى زه
اؤ دانور خپلوان بيا ماجت اؤ مولانبه نه سو ساتلاے دغه شان يې
سروپايه نالښتونه به هم په کلو چلېده - اؤ هغه سړے به د - نوى
مېنى د - جوړېدوبندوو اود - ملك وزوړزياتى ته به بانده ناست وو -

كـتابـتـون ټـولـنـه (WWW.KITABTOON.COM)



بابائے پښتون

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د.جرګې غړي اؤ ملکان

څنګه خلک وو- اؤ د -

سرکار اؤ واك والانو سره څنګه رؤ وو اؤ هغو څه وورسره کول دا ډېره اوږده خبره ده زه به لاندې يو څو داسې نمونې وليکم چې زه ځاني په خبريم نوره اندازه دې هر سړے ځېله کوی دا خبری لاهم زياتره اوسنی دی چې کرنل پارسنز اؤ نورو انګرېزانو په جرګو او سرکاری واك والانو کی ډېر سمے راوستلی وو اؤ په هولکه کی څه نه څه کامی (سياسی) ژوند پيدا سوی وو - تردې وړاندی خولا خبره نوره هم بل شانته وه -

۱- يوه سړی په څه پلمه په روپا ژوز ډوه کسه وويشتل مړه يه کړل - منلې هم خو د - تری ای - اې - سی يه لوړے کاوه اؤ دايه خوښه وه چې دے مخ له بچ سی اؤ هغه مړی خوشی ولاړسی - تپاس (تحقيقات ) وسو خبره جرګې ته سوله يومړی د - څه زوروری پښې سړے وو - اؤ په جرګه کی د - هغې پښې ملك هم وو - د- خلګو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ګومان ووړ چې سړے به بچ نه سي که نوړ نه وی نېکه (خون بها) به هرو مرو باندی واچوی - خو جرګے په ګډه (متفقه) هغه سړے ښپين (برئ) کې - ای - لې - سی زما پېژاندوے ووړ يو وخت مې ځان له تپوس ترے وکې چې په دے مې پوے که چې دا کاردی څنګه وکی - په ژياته د - هغه مړی د - پښے ملك دی څنګه ست کې - وے دا خبری پړپړده ته سياسی سړے يے ښامے په اخبار کې وليکے - دغه وخت ما کامی کار پيل کړی ووړ اوّ د - پنجاب په اخبارو کې به مې ليکل - ماوے "څه خير دی نه به ليکم" اوّ د - هغه په ژوند مې نه ليکلی دی اوّ نه مې چاته ويلی هم دی وے "ښتا به ګومان وی چې ما به هغه ته څه زاری خواستی کړی وی يا به مې څه پيسے ووړکړی وی خو ما هغه ته په خوله وينا هم نه ده کړے - لغړ دومره کار مې وکې چې يو وخت هغه ملك دوتر ته راغی اوّ د - نوړ کله په شان کښېنوست نوما خپل سريښته دارته وے چې ته هغه د - سيوی د - دربار د - خلاتو (انعامات) ځيری (کاغذات) راوړه هغه چې راوړے ماوے "وګوره چې دے ملك له مو څومره ښپاربښت کړی دی "؟ "وے دېرش روپۍ " ماوے "نه دالړ دی د - ده دا پينځوس که په دے وينا يا بدلی د - هغه څه ګټه هم ونه ښوله ولی زما ښپاربښت وړاندی لابره تللی ووړ - خو بس په دے غوله هيله ملك

(WWW.KITABTOON.COM) كـتابـتـون ټـولـنـه

په هغه جيرګه کې ځما پور خوښه ولاړ اؤ هغه سړے په شپين کې هغه نوړو ملکانو چې دے وليد چې خېل د - ښپے مړي ږږږدي نو د - هغوے څه کار وو چې بله پے کوله "-

۲ - هغه وخت اؤ اوس هم که څه سرکاري کاروي که نه د - جرګے ژياتره غړي سهار تر ماښامه په سرکاري دوترو کې ګرزي يا د - ورو اؤ غټو واك والانو سره ناست وي - ترده چې د - لسو او پينځه لسو ميلو څخه هم ځان رارسوي کوچلاغ د - کوټي څه ژيات کم پينځلس ميله دي تر هغه ځايه پوري د - ټولو کلو ژياتره جرګه بازان هره ژوز سهار ځان دوترو ته رسوي اؤ ماځيګر وايس ځي -

۳ - د - ګوليستان د - نايب تاسيلدار په دوترکي کوړسي نه وه يوه کوړسي په پالتو درلوده اؤ څواکي په يوه د - خزانے پېتي وه اؤ روژانه راتلو وال جرګه بازان ډوه وو نوهر يوه به داوس کاوه چې ځان وړاندي راورسوي اؤ کوړسي ونيسي کنې نو به ډرسته ژوز د - خزانے پوړپټي ناست وو -

٤ - په هوته کې يوه ژوز به پوليټيکل ايجنټ اؤ يوه ژوز ښتر کمشنر (چيف کمشنر ) د - خلګو سره ليده په هغه ژوز به ژياتره جرګه باران راتله اؤ ناست به ووکه پے کارووکه نه خوتر هغو به ناست وو چې هغه واك وال به تللي نه وويا پے جواب نه وو وورکړي

چي بس دی ؤلاړسی نوړ خلګ نه ګوړم - چا به وليدځ اؤ د - چا به
هڅو په هوټو وارنه راتی - په دې هکله د - چمن د - ملك سرتيپ
خان ملېزی داټوکه ډېره او خاره وه چي وايي دغه ملك سرهٔ د -
نوړو ملکانو د - پوليټيکل ايجنټ ليدو ته ناست وو ډېر وخت تېر
سو د - دوې وارلانه وو راغلی هغه پرنګی يوسپې درلوډ چي کله به
کوټې ته دننه ورغی اؤ کله به راووت ملك سرتيب خان وويل "چي
خو دايه د - دې سپی هومره توږ (قدر) هم نه لرو ګوړه هغه
ښايسته پې تيوسه ځی راځی اؤ موږ د - سهاره راسی ناست يوچي
کله به موغواړی"په دې هکله به دوې يو د - بل سره لج اؤ کست هم
کاوه هر څوك چي پې ؤړاندی و باله هغه ګواډېر ارزمن ګڼل کېده -
ه - انګرېزانو واك والانو به کله کله د - ليدو کتو پس چاچاته څه لږ
پيسې هم ورکړې دا خو به نو لويه او لجه ګڼله کېدهٔ - د - پاکيستان
واك والانو په ژياته ښاغلی کوربان الی خان دغه دوډبند يا کم کی -
خو د - ملکانو لا غوله هيله وله ډوهٔ ډرې کاله ؤړاندی ښاغلی
ميزودين (معيزالدين) کمشنر چي ملکان اؤ سرداران يه ښه پېژاندل
اؤ د - دوې د - دې ناکاری هيلی څه ډېر تنګ وو هغه يو وخت ماته
وې " چي يو ملك می ليدوله راغی چي ما تپوس جيني وکی چي کار
لرې"؟ نوړ کار خو وو نه وې "خپل الاونس له راغلم " كه څه هم دا

ځما کار نه وو خو ما کلرك راوباله چې د - ده پیسې ورکه خوړے
بیا هم ناست وو ما ووړته وے نور کار دی شته وے" ساب زه چې به
انګریزانو له راغلم نو هغوے به د - تنخا یا الاونس سره ماته لس
روپۍ نورې هم راکولے" ماوے هغه د - څه لپاره ؟ وے" ځما د - بڅرهتو!!
سرې څو راغت بریت ساتلی وو زه ډیر تنګ شوم چې دے ته څه
جواب ورکم خو ځغم مې وکی اؤ ووړته مې وویل چې ما سره د -
دے لپاره پیسې نسته هله سرے ولاړ" -
٦ - دغه ښاغلی میزوډین (معیزالدین) کمشنر د - وډی
(ترقیات) د - کار لپاره د - سرکار په وینا ځینی کمپنۍ جوړې کړی
وے اؤ لکه له سره چې په بلوچیستان کی د - سرکار دوه اؤرۏ
راغلی وو - داکارے هم د - جرګے د - غړو په لاس ووړکړی - وو -
کمشنر یوے کمپنۍ ته چې د - کوټی‌شپږ ښاغلی نامتو اوښه ماړه
ملکانے غړی وو ویلی وو چې ما سره د - او په ځور (آبپاشی.
Irrigation) د-ودی لپاره خلوراتیازره روپۍ دی تاسی وګوری چې
داپه څه کار باندی ولګوو چې ځیاته ابادی اؤ اولسی (عوامی) ګټه په
وسی - څه وخت پس هغوے جواب ووړته لیکلی وو چې داپیسے دی
وه موږ شپږو کسو ته ځورلس زره سرې سر راکړے سی چې
موږ څپل په مځکو کی نل کوهیان (Tube Wells) په وکاږو -

۷ - گسټرل نومی د - کوټې يو انګريز پوليټيکل ايجنټ وو په کال ۱۹۳٦م کې يو وخت ماته وې چې "خان هسې زړه مه چوه په بلوچيستان کې لا داسې خلک نسته چې اولسې سرکار به وچلوی - د- دې ځاې په مشرانو خلګو کې لا د - اولسې ژوند پوهه راغلې هم نه ده - دا ګوره زما پايری ده - ښپږ.هوټې وړاندی چې ته ماته راغلی وې اوْ ځينی اولسی کارونه دی ماته ويلی وو د - هغه پسی ماته سل کسه نور راغلی دی اوْ ما د - هر يوه د - ليدو مراد اوْ کار هغه وخت ليکلی دی - ګوره د - ټولو سره مې ځانی ليکلی دی - خان ساب پلانکې خان بهادر پلانکې سردار پلانکې او ملك پلانکې هر يو چې راغلی دی زما تنخا زما تکاوی او زما نالبست يا درخواست يه په خوله کې وو اوبس"ماوې - "داخوتاسې زما د - خبری مرسته کوی چې داکم خلک چې تاسې وړاندی کړی دی دا اولسی مشران نه دی اوْ نه د- اولس غم وورسره دی او په کمه تورګه (طريقه ) چې تاسې دوې وړاندی کړی دی اوْ څنګه خلک مو د مخه کړی دی - د - هغې پاې (نتيجه) به هم دغه کېدله -

۸ - په کال ۴۲ - ۱۹۴۱ د - سيوی يو ای - اې - سی زما ډېر خوږ دوست وو - د - هغه ځاې د - يوه غټ سړی اوْ د - جرګې د - مخور غړی وورسره جوړه نه وه - يو وختې څه دروغ نالبست هم

باندی جوړ کړی وو ماڅه ملامت کی چی دادومری بنه اؤ ښوا
خوړی واك وال دی اؤ تاداسی بدووړسره وکړل خو ښیا ؤروسته
سره خوشاله وو ـــ دغه جرګه باز څه کامی کار هم کاوه او د -
سیوی اؤ نوړو ځایوڅخې یو اخبار هم ایستی - یو وخت ما له راغی
او ډیره ګیله یه راته وکړله چی ګوره هغه ښتادوست ای - اے - سی
د - ما سره دومره بدوکړل ماوے څه ؟ وے چی ته به خبریے چی په
سیوی کی د - سرکاری چهاونی د - کار مزدورانو څه هړتال شانته
کړی وو اؤ پولیسو داریوټ کړی وو چی په دے کی زما لاس وو -
زه په کوټه کی خبر ښوم نو سیوی ته روان ښوم چی پولیتیکل وو
نیم اؤ ښپل ځان ووړته پاك کم-پو لیټیکل د - سیوی څه هر نای له
ښللی وو زه هوړے پسی ؤلاړم هلته چی زه ووړورسیدم پولیټیکل اؤ
ای - اے - سی د - نوړو خلکو سره د - ډاك بنګلے په مخ کی ولاړ وو
چی زمے ولیدم پولیټیکل اؤ ای - اے - سی ځان له لړ بیرته سره
وډریده څه خبرے کولے ښیا پولیټیکل ښپلی بنګلے (ریسټ هاوس) ته
روان سو اؤ ای - اے - سی زموږ پخوا راغی اؤ ماته وے چی
پولیټیکل وایی زه دے د - ژغوړنی (saftyact) تردوډ لاندی نسیم - زه
ډیر ویریدم اؤ په پولیټیکل پسی د - هغه بنګلے ته روان ښوم چی
ځان لے وونیم اؤ پوه یه کم چی ما څه بد نه دی کړی خو هلته هم د

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

- بنګلے مخې ته څه کسان ورسره ولاړ وو زه یوے غاړی ته په څه بوټو کی پټ شوم ماوے " پټیدے ولی ؟" وے " ماوے انګریز دی خښمېدلی دی هسی نه چی بددرته ووایی اؤ یادی ووهی د - خلګو د مخه می شپك نه کی چی ځان له وی نو پروانه لری هر څه چی وایی اؤ کوی واك وال دی - ډېر ساټ زه هلته پټ وم چی خلګ لاړ نو زه ورغلم خبر می ورکی هغه دستی وغوښتم اؤ هیڅے هم نه راته وویل او نه راڅه خوابدی وو - داټوله خواری شتا دوست راباندی تیره کړله-زما ډېر زړه باندی وسو اؤ ډېر چورت یو ورم چی داخواران په څه بلا اخته دی اؤ څومره د - سړی توبه خالی سوی دی ؟

٩ - په کال ٤١ - ١٩٤٠ کی د - بلو چیستان انګرېز ایجنټ مټکاپ زما اخبار "ایستکلال " بند کی ما خبره د - هیند د - اخبارو جرګے (آل انډیا نیوز پیپرس اېډیټرس کانفرنس ) ته وړاندی کړله او بیا مو د- بلوچیستان د - اخبارو د - جرګے یوه جرګګی (ډیپوټیشن مټکاپ له بوتی چی ورسره خبری وکو - یوزه یو میسټر جهانګیانی -دسټېټمین د - کوټی خبر اوو (نامه نګار) ورغلو اؤ یو د - سیوی یو جرګه باز چی اخبارے درلوده اؤ زمون د - جرګے غړی وو ورغلو ډوے ګانټے موخبری وکړلے چی زیاتره ښے ګرمی خبری وے - دا جرګه باز غلی ناست وو څے نه ویل په پاے کی ناساپی ولاړ سو چی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زه څه وايم - لاسې پور ځيکرونيول وې ساب ته خو زمونږ مورونډلار
يې تاته خوداې واك دركړى دى مونږ به خو دتېروزو اؤ ته به موپوهلار
ګوې كه څه بدهم سوى وى اوس بس دى ته بخښښ وكه اؤ
داشانى نورى خوشى او ښيكى خبرى - څرګنده ده چى مونږ د
واره ډېر خوابدى سولو چى دې سرى څه وكړل اؤدامو هم وويل
چى د - ده دا خبرى د - ځان له خوادى زمونږ څه اړى وورسره
نشته او هغه انګرېز هم وويل چى هوزه هم پوې يم چى دا خبرى نه
د - بخښښ دى اؤ نه په بخښښ غوځېرى دا خو د - ګرمى اؤ نه
ګرمى خبرى دى كه ښتاسى اخبار د - دوده (قانون) چپ روان وى
زمې نه سم بخښلاې اؤ كه نه ماته دروغ ربوټونه راغلى اؤ اخبار چپ
كار نه وى كړى نو د - هغه بندول بد كار دى بيرته يې پرېږدم - مونږ
چى واپس راتلو نو د - هغه جرګه باز څه خوابدى وو اؤ ژرژر د -
هغه نه وړاندى راروان سو خو دباندى هغه راپسى رغ كړل چى
راورسېدى وې"زه پوهه يم چى تاسى خوابدى ياست خو تاسى
دومره سختى خبرى د - لاټ سره وكړې چى زه هلته ناست ياست
پرېدم چى دوې خوبه بنديان كى اؤته سلابلا وور سره دل سوې
ځكه ما بچاو په دې كى وليد چى څه خوشامندې وكم نو كوندى
خبسم به نه كوى - زه ناچاره يم ما خپل په ښيبته كاله ژوند كى هيڅ

كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کله هم دا نه وولیدلی اوٌ نه می اروېدلی چی رایت سړے دی انګرېز واك وال په زّیاته بّیالاتې ته وایی چی ته ګّرم یې ناروا اوّ زّیاتے دی راسره کړی دیٰ - دوړ (قانون ) داسی دیٰ اوّ دا شان نه دی - موږ خو په دے پوهېدو چی دوړ (قانون) وای هم د - انګرېز واك وال وه وینا ته اوّ د - هغه وه کاراوکړوته - د - خلګو د - مالی ودي اوٌ ودانی لپاره هم هیڅ نه کېده که څه هم په نامه د - سرکار ټولی څانګی وے د - اوبه خور (ایریګېشن) څانګه د - کروندے (زراعت) څانګه د- څارو یو د - روزنی (وترنری ) څانګه د - څنګل څانګه ټولی وے اوّ په لکونو روپی د - هغو پور تنخا ګانو دوترو دوے خرڅېدے هم خو د - خلګو لپاره چا څه کول نه هو د - خلګو د - مځکو غرو مندو څنګلو اوّ څارو یو د - بربادی کار ښه په بیره اوّ روڼا ۯوز روان وو - چی هیڅ نه وی د - انګرېز په شپو او د - پاکیستان په تېرڈو ولس کاله کی لغړ د - کوړك له غره اوّ د - هغه د - لمنو د - خودایی (قدرتی) څنګل څه د - اځګزو پینځوس لکه لاژیاتی د - مېوے (میوه دار ) ونی په ښارو اوّ کلو کی د - ښولو لپاره ووهلی ښوے چی ونه یا خنجك وورته وایی اوّ مېوه یه ښنے بولی د پیستے د - زاته ډېره ښه مېوه ده - اځګزی یه تراوسه د - چلغوزو په شان هم ښیی اوّ په ببل ببل رنګے میدوی پخوی اوّ د - کتڅ (انګولی) یا ډوډی په توګه یه خوری-هری

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ونی به د ــ خوسپېرو ځخه تر لسو خانی ځنوپوړی مېوه کوله اوسپے په غرو کی سېر په روپی اوْ په بازارو کی سېر په ډوے روپی خرڅېږی.هم دا شان د - کاکړو او بلوڅو د - غرو ځنګلونه بربات سوي د - ځنګل څانګه (Forest Department) هم وه - اوْ سرانے هم وو اوْ نوکران هم - دوږه هم وو او هار یا بند بښتے هم وو خو د - خان او د - ښارو د - اوږد - اړی لپاره یے سترګی پټی کړی وه.تر څو چی ځنګلو نے بربات کړل اوْ د - خلګو اوْ د - هغوے د - څارویو وه روزی او د - هبواد وباران او مځکه تے تر شمار تېر تاوان واړاوه د - خلګو زیاتره ګوزاره یا په کر کر ونده وه اوْ یا په مالداری د - کرکرونده لپاره که څه هم په لکونو میلونه ښه او ودانه مځکه وه باران او واوره هم ډېره کېده په غرو مندو (خوړونو) لوړو او چوړانو کی په زرګونو خوږایی (قدرتی) چینے اوْ ډېری او به بهېدے خو انګرېزی سرکار خپل په وخت کی د - کښتګر د - ودی لپاره څه ونکړل.تر سرکار خلګو خپل د - یامه په څوکه اوْ کوښښ ډېر زیاتی مځکی په کوهیانو بندو او کارېزو ودانی کړلے اوْ که هغه بند ښتو نه لانه واے چی د - سرکاری سریښتے د - ځنډ او د - ملکانو د - بدو اوْ زور زیاتی له لاسه به په هره نوے ودانی کی یو پور بل د - خوښی اوْ یے سرو پایه نالښتو په رنګ کی هرو مرو پېښېده ـ لابه خلګو نوری

ودانی هم کړی وه د - کوټی په غونډ پلو (ضلع) کی سرکار په اتیا کاله کی یو د - هنی تنګے تړلی وو - یو د - پښین د - شبوواله وه چی د - نوزاوبه یے په تالاوو کی دروله اؤ یو هم په پښین کی خوشدل خان بند وو - د - هغو هم د - وبش سریښته غم اؤ کار دومری یے سریښتے اؤ پوربیو ولاړوو چی زیاتره به خلک د - خپلو مځکو او ودانی بېزاره سو - خو که سرکار غوښتاے یا اوس وغواړی په کوټه پښین اؤ چمن کی د زرګونو کوهیانو سره په سوونو لوے اوواړه بندونه تړل کېداے سی اؤ په لکونو ایکړه شاړه مځکه اباتېداے سی د - ځنګلونو د - یے کېدو سره چی غرونه او مځکی لڅی سوے نو رودونه اؤ مندونه ډېر اؤ تېز سو ځکه د - کوټی پښین بوری او ږوب په لکونو ایکړه نبے او ودانی مځکی او بویو وړے اؤ چوراڼے کړے خو سرکارے غم ونه خوړ- په کوټه کی تریوه لوے انګرېز اؤ سرلاندی د - کروندے ځانګه هم وه اؤسران اؤ نوکراڼے هم وو خو لغړ د - کوټی د - راڼی باغ اؤ سرکاری بنګلو لپاره د - خلکو د - زمکو اؤ باغو سره د - هغوے هیڅ کار هم نه وو-تردے چی په ګولیستان کی چی د - باغو اؤ کروندے له مخی تر ډرست ولات (صوبه ) پینخوس کاله وړاندی وو خلکو په لومړی ځل د-کروندے واك په کال ۱۹۳۲ کی ولید-نواب موستپا (مصطفے) نومېده بیرسټروو د - کروندے څه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

لږ ژدکړه (ډيپلوما) يې په لندن کې کړې وه او چت کلاس ون اؤ سروو - بيا ؤروسته په پاکيستان کې د - مهلمستيا (Protocol)واك وال سو اؤ اوس لکه چې چيرې ايلچي (سفير ) دی - د - پښين د - ای - اې - سی سره راغلی وو د - سر خانانې سره راوغوښتل په يوه باغ کی وورسره ولاړ وو خبرې وورسره کولې چې څه وخت زه ورغلم نو که څه هم دې سم هيندو ستانې سړې وو پښتو يې لا هم لږ لږ ژده وه خو ده به ځپله خبره ای - اې - سی ته په انګرېزی کوله اؤ هغه به خلګو ته په پښتو ويل هم دا شان د - هغو جواب.دا د - هغه وخت د - سرکاری واك والانو نمونه وه د - ای - اې - سی انګرېزی ښه نه وه ژده خبره به ترې ؤرانه سوله ځکه ما وورته په انګرېزی وويل چې " سړې خو ماته هينګې (هيندوستانې) ښکاری نو ځله د - موږ سره نبغی ځپل په ژبه خبری نه کوی.دا خو څه باچهی چلول نه دی چې واك وال به وينا (حکم )کوی اؤ خلګ بې ؤری.دا خو د - زميندارۍ کار دی چې سره پوهه سو سړی دؤاړه څه شهيد سول اؤ په سرکی په اوردو او بيا په پښتو خبری وسوې ځای له سره ؤلاړو چاپې وچيښلې اؤ پور مخ دغه سړې زما اؤ زموږ د-کوړنی خوږ دوست سو اؤ څه د - ؤدی کارونه يې هم وکړل د - مليزو سل ايکړه انګوری باغ دغه سړی د - ډېره کړاوه پس ده هغه ځای د -

زمیندارو لپاره جوړکی ولی د - ښنین سیول اؤ سرانو به یه کار
وور خراباوه.کله یې د - مځکی خاوندان ووړته لمسول اؤ کله یې
نوری بندی ووړ اچولې تردمې چی په پاے کی باغ د - موندہ تاك (په
کوّرد کی د - ونی یا نیهال رنګه ولاړ تاك ) په ځاے د - جهوو په
پخوانی یې نیمې توګه جوړ سو اؤ نیژدمې یوه لسمه تاکان پکښی
ولګېده د - جوو د - جوړېدو تېکه یه د - ښنین د - ای - امې - سی په
لاس وه چی د - پیښور د - شمېلا کلی څوك میان خېل وو هغه پیسې
پکښی وخوړلې اؤ کارمې وّران او جاړ کی چی بیا په کلونه سمېدی -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# د مالدارۍ بې غوري

چې زه وړوکی وم زمونږ ـ په

خپل کلي او شاوخوا کلو کې ډېر کورونه داسې وو چې ټوله

ګوزاره او کار یې د ـ مېږو ساتل او خرڅول وو ـ په سو و نومېږي

یې لرلې ـ ټول کال یې هغه څرولې ـ نیژدې په پینځه میله کې هم د

ـ غره هم د ـ سمی او هم د ـ ځنګلو ډېری نښې اوږ شوږي وه.

ډرست کال به په یوه نه یوه کی د ـ ګوزارې هومره واښه او خاشې

وې او دې خلګو به ځېلی رمې وور رسولې او پکښې پرولې چې کله

به ډوکال (قحط) پېښ سو نو یې رمې د ـ اوغانیستان په سیمه کی

رېنګ له ورسولې او کله یې په وسه پسې بورې او ږوب له هم بوتلې.

هم د ـ دې خلګو له مخې به د ـ کلي ټولو خلګو په پسرلي څه لږ

لږ مېږي واخیستې شیدې یې وخورې ورې به وساتل وریې به وارولې چې

وچې به سوې اوروږنه یې ګرانه سوله نو یې د ـ دغو مالدارانو په

لاس ورکړې هغو به په لږه مزدورې خپل د ـ مېږو سره ووړله

ښوونه - چې تر کال به ووتې اوّ لنګی به سونه نوښې وورله راوستې.
داشان به په هر کلی کی په زرو مېرې وه اوّ خلګو ته به په کال کی
ّشیر ّمیاشتی د - خّپله توله پّرېوانه شیده رسېدلې د - غّوښې لپاره
ېې خّپل ّوری درلود اوّ وری ېې خّپلی وه چی د - هغو ځه ېې د -
کوږ ډېر شیان په اسانه جوړول - کوړسی (د - کّراستی یو کوټ
شانته جامه ده چی ډېره ګرمه وی او هم - له دې پشتو توری نه د -
انګرېزی - کوزی "Cosy" جوړ دی چی مّرادې ګرم دی اوّ تی کوزی
Tea Cosy چی زّیاتره هم د - کّراستی (لمسی) felt نه جوړوی هم د
- دې نه وتی دی) کراستی (لمسی) واښکی (بیاستی) جوالونه (د -
وړی نه جوړی بوړی) غونجان (د - وړی جوړه لوپی بوجې چی د -
ترنګن په ّ شان پّروړ (لوس) دوې پکښې وړی) د - لاندی ایستو
(فرشی) کمبلی (پشمی دری) خورجینان واګی دسترخانانونه
اوږینګی ېې زّیاتره د - خّپلو وړیو وو او د - پروتی په کالو - تیلتك
نالی اوّ بالښتانو کی ېې هم د - مالو چو په ځاے ډکولې - خّپلو ښځو
ېې ّوریشلې چی ېې اندازه ډېری ګټی یه درلودې ځکه د - خلګو
ګوزاره ډېره ښه او سوکه روانه وه.خو د - انګرېز د - راتّلو سره
ّورو ّورو دغه کار مّخ په ځوړسو اوّ چی زه رالوېدم په پینځلس شل
کاله کی نیژدې ّمخ له بند وو ځکه چی نوې وّده یا د - ځارویو دارو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

درمل خو ړېږده انگرېزی سرکار خو د - پښتنو خپل زور دوړ هم وران کی - پخوا د - پښتین اؤ اوغانیستان د - غاړی ټول خلک یو شانته پښتانه وو - یوه دوړوو یوه خوے وو یو شانتے وسله او غوړه وه.یو په سرکار وو او یو شانتے مشران اؤ کشران وو نو ځکه چا پور بل باندی په ډاگه زیاتے نه سو کولاے اؤ نے تردو د پښبه اروڵاے سوله د-هر چا خپل هار اوپر کور ( Reservearea ) او خپلے اورشو اؤ اوبه خوروو چی په هغه بل چا د - دوے پے خوښی کارنه‌سو ده‌ڵوولاے خو چی انگرېز سرکار راغی په پښین کی د - خلگو ځه وسلے بندی سوے د - پښین خلک د - خپله پښتنی دوده او خپلو مېتو بند سو اؤ د - دوه په ځاے سرکاری میانځگرو اؤ نالبستوته اړشول او د - اوغانیستان د - غاړی خلک یوازی دا لانه چی خپل په سیمه کی په وسله ازاده وه.دلته یه هم سرکار خپل د - سیاسی مرادو لپاره تر ځایی خلگو زیات لوړے کاوه - ترکی اؤ اخگزی مالداره به په پراخه پښبه او په خپله خوښه راتله اؤ اوس هم راځی د - دوه غاړی او رشووی پے وخت پے وخته پووله.اؤ هغو به د - دوه ځاے خلک خپلو او رشوگانو ته نه پرېښوو - شوکی اؤ غلاوی پے جینی کولے اوډاکے پے باندی اچولے که به دلته چا د - ترکی یا اخگزی مالداره سره خپل پور اور شو غال (جگړه) وکړله نو سرکار به هم د - دوه

ځاے خلګ نیول بندیان کول اؤ په لاس ګروي (ضمانت) کي تړل چي شربه نه کوي اؤ د - اوغانیستان خلګو ته مبے هیڅ نه ویل نه يې وسلے جیني اخیسیېے - دا شان یوې خواته د - دې ځاے اؤ رشوګاني په ډېره اؤ يې وخته پوواله ستړي او شاړي سوې اؤ بلي خواته خلګ هم په ډېرو شرو اؤ تاوانو ستوماله سول اؤ د - زرګو نو خلګو داګتمېره کاربند سو - د - خاروېو د - وډي اؤژغوړني خانګه (Veterinary Department) وو لوے لوے اؤ سراڼے ول په ځینو ښارو کي يې درمانتون هم وو اؤ ډاکټران هم.خو د - چا مالدار د - خاروېو سره نه هغوے ډېر کار لاره اؤ نه خلګ په خبر هم وو ژیاتره د - انګریزانو د - سپو اؤ رېس د - آسویا د - ښار د - ټانګو د - اسانو اؤ ګوجرو د - خاروېو درمان يې کاوه اؤ ځپلي تنخاوي يې اخیستې -

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

# سوداګري اؤ نوکري

د - انګرېز تر وخت وړاندي د -

هېواد زياتره سوداګري اؤ سرکاري نوکري د - پښتنو په خپل لاس کي وه اؤ د - پښين زياتره خلګ سوداګر وو - زموږ د - خپل کلي يوه ځنډه (محله ) تر اوسه ټټي بولي چي د - سوداګرو ګودام يا ګنج (کاروان سرا ) ته وايي دلته چي کوم خلګ اوسېده هغوی به د - هيند اؤغانيستان چين اؤ ايران سره هم د - وچي اؤ هم د - درياب په لار سوداګري کوله اؤ ډېر ودان خلګ وو داسي هم د - پښين نور کلي وو خو چي انګرېز راغي سوداګري که څه هم ترپخوا زياته اؤ ځه اسانه هم شوله چي انګرېزانو لاري ګودرنو (شاهراهين) بولان دوی پړانستل اؤ د - لار و غله غدوی يه ورك کړه د - بولان بروهي کوردان (د - الاډينا ډله ) اؤ مري بلوڅ چي تل په لاري وهلے او پښتانه سوداګر په شکول انګرېزانو د - بدرګه ليوېزو په ماجيبونو اؤ تنخا ووست کړل - خو د - سوداګري رنګ اؤ رازبدل سو د - اوښو د - کاروان ځاے ريل واخيست اؤ د - رانيولو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اۋ خرڅولو ځاے - ایجنسیو اۋ ټیکوونیو - د - ځانی کوښښ اۋ تګ راتګ په ځاے ډاك بینك منی آرډر دوے روان سو چی د - پښتنو لپاره د - سرههم نوی اۋ ناولده وو ښیا د - انګرېز داتر ټولو لوے ژیاتے هم وو چی هغوے په بنګال مدراس ډیلی بمبي سیند اۋ نورو ولاتو (صوبجات) کی خو خپل سرکاری اۋ د - سوداګری کار - واره دوترونه اۋ د - ژدکړی (تعلیم ) سریښته د - هغه ځاے د - خلکو په خپله ژبه پرېښوولی خو چی پنجاب زوه (صوبه سرحد) اۋ بلوچیستان ته راورسېده نو نه خو د - خلکو خپله ژبه پرېښووله اۋ نه د - وخت چالو ژبه پارسی غوره کړله اۋ د - خپلو ناپاکه اولسی (قومی) مرادو لپاره چی یو پکښی داهم وو چی د - دے هولکے اړیکے (تعلق) د - ایران اۋ اۋغانیستان څخه راپرے سی.ولی تر دغه وخته لا ایران اۋ اۋغانیستان. د-دے خــــاوری زیـــا تــره بــر خــــه خپـــلــه بــلـــلــــه دلتے د - هیند نوے ژبه اوردو چی تر دغه وخت په ټول هیند کی هیچرے هم سرکاری ژبه نه وه.دا ژبه یه د - دویمی سرکاری ژبی (ورنیکلر) په توګه روانه کړله څکه د - سرکار اۋ بازار ټول کار یا په انګرېزی سو اۋ یا په اوردو چی ډواړی د - پښتنو لپاره مځ له نوی وے انګرېزانو خپل د - کار چلاو له د - هیند اۋ سیند نه د - ځان سره نوکران اۋ سوداګر راوستل یا هغوے خپله

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

راغله.چې ځینې موسلمانان وو او ځینې هیندوان او سیکان.دا شان د - ځایي پښتنو لاس د - انګرېز د - سپېره راج له مخې خپل د - خاورې د - سوداګرۍ او نوکرۍ هم وخاته.او ورو ورو یې ګوزاره ډېره تنګه شوله د - کرکروندې کار خو څه پخوا کم وو د - مالدارۍ ګوزران لکه چې مې وړاندې وویل ورک سو او سوداګرۍ او نوکرۍ دا شان پردو لاسو ته ولاړه پاته شوله مزدورۍ هغه یو خو زیاته وه نه او که وه زموږ خلک چې سوداګر او مالداره وو یې بلد هم نه وو.نې کوله او نې کولای شوله.بل بیا دغه مزدورۍ خوارۍ هم د - انګرېز سرکار د - سریښتې له مخې هر څه چې به وه په ښارو او بازارو کې به وه او زموږ خلک په کلو او غرو کې اوسېده.چې ښاروته یې رسېده هم ګران وو - بیا د - انګرېز سره سم د - هیند او پنجاب وړی اولس هم راروان وو چې د - هغه ځای نوکرانو او سرانو او ټیکه دارانو به راوستل او پوره کار یې لګول د - پښتنو او بلوڅو لار به ډېره کمه وورته کېدله.تر ټولو لا زیات بندېخ دا هم وو چې پښتنو او بلوڅو دانوی مریتوب (غُلامی) دومره ژر او یه هله اسانه منلای هم نه سو او د - زیاترو خلکو د - انګرېز کار یا نوکرۍ نه خوښه وه او نې ځان ته روا بلله - یو پول دینې ناروا او کامې ننګ وورته ایسېده - که څه هم د - دې هر څه سره د - انګرېز کار

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د - ځایی خلکو به مرستی اؤ لاربنوونی چلېداے نه سو - اؤ د - دے لپاره سندېمن اؤ د - هغو ملو په ډېره چالاکی د - لېویز د-نوکری لومه جوړه کړل اؤ د-هېوا د زیاتره خپل چاری غټان په زیاته د - بلو خوسرداران یه پکښی راګېر کړل.او ځاے په ځاے یه د - هېواد په غټانو اؤ مخورو خلکو کی ځینی لوستی اؤنالوستی خلک په ځینو نورو نوکرو ست کړل خو د - هیند اؤ پنجاب کم خلک چی له دوے سره په سرکی راغلی وو هغوے هله هم د - انګرېز د - نوکری په ګټه اؤ خوندېوے وو اؤ هر چا به د اوس کاوه چی خپل خلک د - کور که نه وی د - کلی یا د - پلو (ضلع) خلک به راواسته اؤ ځایول به - په دے کار کی د - دوے خپل تر مینځه هم سیالی (کشمکش) روان وو کله د - هیندو موسلمان په رنګ کی اؤ کله د - پلو (ضلع) اؤ ولات (صوبه) په نامه.اؤ د - بلوچېستان د - ځایی خلکو سره هم چی هغوے ته بیا دا ټول د باندینی خلک تر دے چی د - پېښور ځینی پښتانه نوکران یو وو اؤ کوښښ به کاوه چی ځایی خلک څه غټه اؤ د - کار یا اسانه دؤتری اؤ ښاری نوکری ونه مومی - داسیالی کله پېل سوے وه په دے خو زه نه یم خبر خو چی زه رالوېدم دا کار ښه په زور روان وو او ځینی ځایی نوکران چی وړے وړے اؤ د - کلو نوکری به میندلی وے لکه د - لومړنو ښوونځو ماسټری (پرایمری

کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ټیچرۍ) د - بوړګانو ډاکټرۍ وټرنرۍ د - لېویزو مونشیتوب (لیویز محررۍ) یا چیرته وړه کلرکي (جونیر اسسټنټ) یا وړه تاسیلدارۍ نو هغوے به د - پړدو واك والانو له ببوروژړل دغه نالبنت ېیا ورووسته ډېر ژیات سو چی بیان ېے وړاندی راسی -

ځکه چی د - پخوانی ېښین پښتانه ژیاتره سوداګر وو اؤ په هیند کی څه نه څه ولدهم وو نو کله چی په خپله خاوره کے ګوزاره ودرېدله نو ځینی پکښی د - روزۍ په تلاش کی اؤ غانیستان له ولاړل چیری چی د - مالدارۍ سوداګرۍ اؤ نور ژوند بخوانے پښتنی رنګ لا په ځاے وو په ژیاته ېیا هغه وخت چی امیر ادراهان خان هزاره وو هل اؤ د - هزاره جات مځکی چورا۔وژ ګان - ګیزو اؤ خلج - مځکے پښتنو ته وورکولے نو د - دے ځایه ژیاتره د - چمن اخګزی د - ړوب کاکړاو څه څه د - ېښین اؤ کوټی په زرګونو کوړونه په کډه هوړے وولاړل اؤ هلته ابات سول چی ماجریے بوړلی۔ هم داشان بلوڅ سیند ته ولوېده۔دا وخت د - بلوچیستان پښتانه اؤ بلوڅ ژیات لا دوے برخی په اوغانیستان اؤ سیند کی اوسی - اویوه ذریمه لا هم کم خپله په بلوچیستان کی پاته دی ځینی خلګ په پخوانی شناخت هیند له وولاړل۔خو هلته هم د - ژوند رنګ بدل وو اؤ هغه د - دوے سوداګری خو نه پکښی چلېدله - ځینی خو په نوړو

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کارو اخته او هوړې پاته شول - ځينو چې لږ ډېرې پيسې پې درلودې
د - اينسان زات تر ټولو زړه د وکانداری موڼجاريتوب د - پنډيتوب
(پهېری) کار پېل کی څه لږ ټوکی (کپړه) پې په شاګرزوله او
خرڅوله څه پيسې پې خپلې وې څه به دوکاندارانو مال په پور ورکی
ورو ورو پې وه اړو خلګو ته په اناوت اوډېره ګرانه بيه په پوروور کی.
او بيا پې هغه پيسې د - نالبته او سرکار په ځای په شر جنګ او
جګړه کښلې - په دې لړ کی ځينو يو نوی روزګار پکښی پېل کی
چې نه په موسلمانی روا وو او نه په پښتو - خووړی نس بلاوی.هغه
دا چې په کلو او ښارو کی پې وډېرو تنګو خلګو ته يا ځينو بد خر څه
او بدکاره شرابی جواری کسانو ته لږی پيسې لس شل روپی يا
کله ډېری هم سل دوه تر لږو شپو پوری په ډېر ګران سو د -
وورکولې - يوه روپی د - مياشتی په څلور آنې يا دوې آنې سو د - چې
د - کاله پور سل څلور پينځه سوه روپی سی.يو څو به د - دوې
پيسې لږ وې بل پې پوروړی (مقروض) زياتره لځ لغړ اووړی خلګ
وو- بيا پې سود ډېر زيات ناروا اوله دوده چپ (غير قانونی ) وو نو
به دوی د - پيسو د - کښو لپاره سرکار له نه تله.په چل ول يا زور
زياتی کنځلو شرمولو او ووهلو کوټلو پې خپل سود اوسر بوداوه -
دا کار که څه هم د - پښتنو دبدنامی او ناروا وو او څه ډېر د - ګټی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هم نه وو خو د - ځپل هیواد تر ځواره ځواری ښه وو - ځینو ځینو خو به ډېری پیسې هم پکښی وګټلې خو په سل کی یو یا دوه هغه هم ډېر په کوم سیلون یا کولمبو کی زیاتره به داسی وو چی به کلو لس اته کاله به ورک وو او ایله به پینځه شپږ زره روپی جوړی کړې بیرته به راغله.دلته به کال نیم تبرکی واده ماده به وکی یا به څه مېنه کوړه وو هله پیسې به تمامی شوې او بیرته به روان وو.ځینی به سل کی لس اته به داسی هم وو چی شل پینځو یشت او دېرش کاله به ورک وو او څه به پیدا نه کړل خو ځکه چی به ځپل هیواد کی هیڅ ګوزاره هم نه وه نو داکار ډېر دوړ سو تردې چی د - ښین او کوټی د - زیاتره کلو به ټول ځوانان په دغه کار پسی ورک وو او تر شابه لغړی زنانې سپین ږیری او واړه بچی پاته وو ځکه نو څه لږ ډېره ودانه ځکه کارېزونه یا اوچو به (خشکابه ) چی پاته وه هغه به هم د - خاوند او مزدور له نېستی نوره هم شاړه سوله یا به چوړان سوله -

# د - انګرېزانو اؤ

# نوړو واك والانو ژوَ

هر واك

وال اؤ سرکاری نوکر که انګرېز وو اؤ که هینکے یا پښتون دا ښېل واك اؤ کار باله چی ځاے یے ځایه ے خلګو ته که ښواروو که بډاے - بدویل اؤ وهل ټکول یے دیسی خلګ خو پرېږده یا واړه نوکران انګرېزان اؤ غټ غټ اؤسران چی ډېر به ووږ (قانون) بند خلګ وو هغوے هم چی بلوچیستان له به راغله نه یے خوله په واك وه نه لاس یډېل اؤځری خو د - هر واك وال خوے وو-دے خو کسانو به خلګ په ښېل لاس وهل ټکول هم - کرنل ډيو څه وخت پولیټیکل ایجنټ اؤ بیا د - ګورنر جنرل ایجنټ هم وو-کرنل ټرنچ کمیشنر وو زما په مخ کې په ګولیستان کی ژموږ سپین ږیری اکا ښاغلی هبیولا خان یا هبو خان په دے په سوك وو اهه چی هغه له ده سره خبری کولے اؤ یولاسے د - کوټ په جېب کی وو - بل وخت هم دغه ټرنچ د - ګولیستان په بازار کی هسی راروان سو اؤ چی کوم دوکاندار یا په دوکان کی ناست سړے به وورته ولاړ نه سو - پسی به دننه ورغی

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اؤ په سوکانو اؤ په لتوبې واهه چې ولی ولاړنه شوله - لا زه ډېر وړوکی وم په کال ۱۹۲۱م اؤ د- هغه نه ژوستو کرنل ستیوارټ د - کوټې پولیټیکل وو بدویل اؤ لاس لګول خو ږبره وایی چې چپراسی بې سهار د - وخته پورمېن باندی ګټی (ډبری) وورته ایښوولې او هغه د - ژوزی خلګ په ویشتل.ژما له مخه په کال ۱۹٤۷م د - هنی ملك سمند خان یاسین زی وه ښاغلی پنډت جواهر لال ته چې هغه وخت د - وختی سرکار ستر وزیر اؤ وزیر خارجه وو اؤ زه د - هنی د - ملکانو سره د - هغوې د - اولو په هکله د - کوټې د - انګرېز اؤ سرانو د - زیاتوب د - لاسه نالبست له ورغلی وم.خپله خو له ښکاره کړه چې داغابنونه هم پور دغه اوبو باندی یوه پخوانی پولیټیکل په خپل لاس په وهلو وهلو راوایستل د - پېښور د کازیانو څوك موزیر ای - اې - سی تېرسوی دی چې خلګ بې په کچاری کی په غنوټکول - هم دا شان مامد رپیك خان څوك دورانې ای اې سی سوی دی په ګولیستان کی به تل وړکوټې (نایب ) تاسیلدارو.خلګ وهل ټکول اؤ شرمول اؤ چې کله کله به چا غیرتی پښتانه جواب ورکی لکه ښاغلی هاجی یوسپ ادرامان زی نو هغه بې په جېل کی بند کی اؤ په څه خوارو بې بیا خان بچ کاوه -

زه ووړو وړو په دې ټولو خبرو پوې سوم اؤ د - خپل کام اؤ

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هېواد په دې بده ږوز مې ږېره ډېر شين وو که څه هم په دې هم پوې وم چې د - دې ټولو خوارو پيلامه د - انګرېز ښپېره بدمرغه پرده اوّ ناروا سرکار دي چې د - خلکو سره نه هيڅ ځوا خوږي لري اوّنې غم خوري د خېل د - باچهي سوداګري اوّ د - هيند د - ساتلو لپاره يه د - پښتنو دا مځکه نيولې ده او نور هيڅ


کار هم نه په لري دغه وخت ږمونږ د - غاړي پښتنو د - اوغانيستان خېل واکي په جنګ او بيا په شورش کې ډوه ډرې کامې جنګونه کري وو اوّ څه وسله هم په لاس ورغلې وه د - انګرېز سره خو هسې هم نه لګېد له ځکه ځيني ويښ مولايان اوّ نور مخور خلک په دې ګومان کې وو چې که مونږ جنګ پېل کو نو انګرېز به هم د - سکاو په شان ووهو اوّ خېل هېواد به ترې واخلو خو ږما هيڅ وخت هم دا خبره ږړه ته نه ده لوېدلې اوّ چې چا به راسره خبرې کولې ما به نه وورسره خوښوله.يو ډوه جوشي مولايان خو مې په ډېر وخواروله دې لاري واړول چې مخ له دې ته اړ م وو چې بس خو جنګ پېل کووکه مره سو شهيدان‌يواوّ که مو ګټه وکړله غازيان يو. ولي اوغانيستان چې د - خېل واکي جنګ‌د-دغه انګرېز سره کاوه نو هغه کني د - مونږ نه زيات زوږور وو کې ږياته وسله درلوده چې مونږ هسې جنګ پېل کونو د - اوغانيستان خلک اوّ سرکار هم دا

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شان نوړ پښتانه به هرومرو د-پښتنو په ننګ راسره درېږی - اوْ
انګرېز دا ډوولس سوّه میله پښتنی پوله نه سی خوندی کولاے-که
څه هم په پښتو اوْ د - یو پښتون لپاره د - دوے خبره څه
ډېره بده نه وه خو زه په دے پوے وم چی د - اوْغانیستان د - خپل
واکی د - جنګ وخت بل وو اوْ اوس بل وخت دی - اوْ د -
اوْغانیستان آزاد اولس چی خپل ځانی هیواد باچهی اوْ باچا یه د
- سوونو کلوراسی درلود اوْ ژموږ تر میان ډېر بېلتون وو چی دالانه
بل می مشر مو د - سره نه درلود-د - کامی مشرانو یه ځاے د -
انګرېز درولی ملکان راباندی ولاړ وو - اوْ د - هغو د - ژوند
مراد د - انګرېز خوشامندی چوپړ اوپیسے جوړی سوی وے - د -
اولس اوْ هیواد د - ویښولو او وډی (ترقی ) له پاره یوه غوټه خوداے
پاری خلګ په کار دی چی یوے خواته اولس په خپله خواری بد
مرغی اوْ ناپوهی خبر کی اوْ بلی خواته سرکار د - خلګو په اړی اوْ
ناچاری خبر وی.چی کله داسی غوټه جوړه سی اوْ اولس ویښ سی
- څه پوه سی اوْ څه وډه وکی نو بیا به هرو مرو سرکار هم د -
خلګو د - خوښی جوړېږی.کے خپل وی که د - بل پورداسی کام بیا
ځوك په زور باچهی نه سی کولاے که هغه انګرېز وی که به ل ځوك -
ځکه ما د - انګرېز سره جنګ خو پرېږده هیڅ رنګه اخته کېده نه

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

غوښت دا هیله مې لا هم وه چې که مونږ د - کام د - ښښګړی کار
پېل کونو کوندی سرکار اۆ سرکاری خلګ به راسره کومک کوی اۆ
که کومک راسره وهم نه کی نو مّخ ته خو به مو هیڅ کله نه دربږی -
که دغه وخت د - بلوچیستان په سرکاری خلګو کی څه پوهه اۆ د -
سّد سړے واے یا هغوے داغوښتاے زه به په ډېره اسانه یا سرکاری
سړے جوړسوی واے اۆ یا څه ډېر نرم لا خوشامند ګر کامی سړے
واے خو زه او سرکار ډېر سره لری وو اۆ د - خوداے پاك دانه وه
خوښه -



بابا ی پښتون

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# د کامي کار اؤ لوړې اؤ کم خرچي ترون

زه هغه وخت په دې پوې نه وم خواوس چې رے وهم يا زړو تواريخو اؤ ډېرو اينساني نمونو ته ګوړم دامي باور دي چې کامي کار اؤ لوړه اؤ کم خرڅي څه خو دايي (قدرتي) تړون سره لري ولّي په دغه ډوه ډرے کاله کي چې زما د - کام اؤ هيواد دے بدي ړوزی ته پام وو اؤ يوهے خواته به مے پيلامے (اسباب) لټول بلي خواته به مے په چاره کي پام کاوه اؤ دے ته به مي چوړت واهه چي ماله څه کول پکار دي نو هيڅ پے هيڅه نه ډ - څه بچت لپاره اؤ نه د - څه ديني ګټي (ثواب) لپاره هسي به مي روژو اؤ لوړه ته هوا کېدله کله به مي خواړه کم کړل کله به مي په مياشتو د - يوړی کتخ (اينګولي) اؤ نورو پښتني خوړو په ځاے مېوه يا مند کي (nuts)خوړل اؤ کله به په شپو شپو نهار اؤ په روژه ګرزېدم. که څه هم مي نه هغه وخت د - پيسو بچت اؤ تولول خوښ وو اؤ نه مي په ډرست ژوند دا کار

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کړی دی په ژوند کی می خپلی اؤ کامی په لکونو روپۍ خرڅی کړلے خو د - سبا غم می په هیڅ وخت کی نه دی کړی نه می په ژوند چېری زر روپۍ هم دوے میاشتی یو ځاے د - ځان سره ایښی دی - هر څه چی می میندلی دی پور ملو پور ړله اؤ خپل د - ژوند پور مرادمی لګولی دی - اؤلا یه لګوم د - خرڅ هر کار چی راپېښ سوی دی - چاره مے کړے ده لومړے په ځان اؤ په خپلو پیسو اؤ چی هغه به نه وے نو د - نورو غوښتی دی چر اؤ بسپن می کړی دی - خپلی پیسے می لغړ د - ګټی اؤ پیدایښت (پیداوار) څه لا نه تول می وورله ګرؤکړی یا خرڅ کړی دی که څه هم تل می داسی ژوند کړی دی چی د - خلګو په ګومان به د - ډېر ماړه سړی وورتی-خو ما خپل اؤ د - مشر ؤرور تول (جایداد) تر نیمایی زیات خرڅ کړی اؤ ګاڼه کړی دی-په دُرست ژوند د - پوره اؤ ډېره پوره اوزګار سوی نه یم نن هم زه اؤ ؤرور نیژدے یو ل پورور ل یو - لا دوخته مو زامن اؤ بچی په دے پوے کړی اؤ رسولی دی چی خپل ژوند به په خپله جوړوی موږ به چی ډېروی نو لوست درباندی وکوڅه تول (جایداد) یا پیسے به مونه درپاتېږی - سره د - دے تولو هم د - پښتنو او موسلمانانو د - وری خوے هیل کر اؤ سراښ (حریص) ژوند اؤ د - پیسو د - مینی له مخی د - دے تورو بج نه سوم چی د

- هیندوانو پیسې خوړی له اوغانیستانه پیسې خوړی او هیچاوه دې ته ونه کاته چې که پیسې مې مراد واے یا مې ټولو لاے او ګټلاے نو خو تر هر چا د - انګرېز او سرکار سره پیسې ډېری وی او راکولې یه هم چې پور مخ پې بیان راسی او زه تل د - هغوے سره په جنګ وم اولایم - خو خیر خبره داوه چې که څه هم د - پیسې ټولول مې خوښ نه وو خو په دغه وخت کی مې پور ځان.کور ټبر.جاموو او د - کور اوسامان پیسې لګول مخ له زړه نه غوښت د - ځان او د - کور ژوند مې دومره ساده کی چې یو وخت کورته یوازی وم ورور مې نه وو - له پزی مې وینی روانی سولې نه ښدېدې یو مشر تربور ښاغلی مامد تاهیر خان مې راوباله چې درمانی (ډاکټر) راوغواړی هغه چې راغی ژما په خونه کی لغړه بوریا (چټایی) هواره وه - او یو لخ کټ پړوت وو - او زه د - کرباسو پور تولایی لاندی د - نغری پور غاړه [redacted] د - کر باسو جامې او یو چادر مې اغوستی وو- په خونه کی د - خانانو.کور په شان نه غالی وې نه کورسی - نه کور بچې نالی او بالښتان وو نه څه نور لاندیستونی (فرش فروش) او نه څه د - ښایست او رایښت لوښی او نور شیان - هغه وخت خو څه نه وویل په درمان مې لګیاسو خو بله ژوزې ځان له راته وویل چې د - ځان سره دومری سختی پکار نه وی دا

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

اسهابي (اصحابي) ژوند په دې زمانه کې نه چلېږی - خو ما وورته وې چې زه څه وکم په وس مې نه ده.زړه مې نه غواړی هم په دې ژوند کې خوښ اوّ خوشاله يه م - داشان مې خپله ښځه - موږ- وروړ - اوّ د - کوړ نوړ خلګ هم راته چوړت اخيستی وو چې دادې لا څه کوی.هم په دې وخت کې مې ښکارپرېښوو اوّ خپلی ټولی وسلې د - ښکار توپك مې لری کړل.زياتره به ځان له په باغ کې ناست وم يا به د - کلی خواکی غونډو ته وختم او چوړت به مې واهه.چې د - چا سره به ناست وم خبری به مې هم د - کام اوّ د - هيواد د - بدی روزی کولې اوّ د - هغه د - چارې -

[redacted]


(نوړ په بله کاپی زما ژوند نمبر ۲ کې دی)

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د. بابایے پښتون لپاره ډېرى ستونزى په بند کی هم ۆړاندى وېے. لا به داسی ووایوچی د. هغوے د. زوررولو اۆ الو ته لو( پر ښا نولو)لپاره ډ ول ډ ول خندونه جوړپدل. لکه داچی چغدى ( کاغز) بے لانه وور کاوه. لا بے لږو ور کاوه. هغه هم په شمار. د. دغه پاړ کی د. لیکلو دپا ره یه هم په ۆشمېرچغدى وور کړى دى. اۆد. جبل چاروا کی د. دېے کاپی په ہاے کی لیکلی دی چی د. دېے کاپی ڈوه سوه ۆشپېته مخه دی اۆخپل موهراۆ لاس لیک یه کړى دى

( غنۆ )

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه


Certified that this copy made contains 260 (Two hundred and Sixty) pages

[illegible signature]
10/5/60

Superintendent Central Prison
Haripur, Hazara

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)